# إمعان النظر

# في

# منهج أدعياء السلفية المعاصرة

## د عصر سلفي دعوه کوونکو تګلارې ته ژوره کتنه




مؤسسة العزائم الإعلامية

بسم الله الرحمن الرحيم

# إمعان النظر في منهج أدعياء السلفية المعاصرة

## د عصر سلفي دعوه كوونكو تګلارې ته ژوره کتنه




شوال ١٤٤٥هـ ق

الطبعة الأولى

# فهرست

## مقدمه

الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ، ومن يضلله فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيراً، أما بعد: فقد قال الله عز وجل: وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا [سُورَةُ النِّسَاء : ١١٥].

وعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَرَقَتْ الْيَهُودُ عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِينَ فِرْقَةً فَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ وَ افْتَرَقَتْ النَّصَارَى عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً فَإِحْدَى وَسَبْعُونَ فِي النَّارِوَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَتَفْتَرِقَنَّ أُمَّتِي عَلَى ثَلاثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَثِنْتَانِ وَسَبْعُونَ فِي النَّارِقِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ هُمْ قَالَ الْجَمَاعَةُ [ابن ماجة: ٣٩٨٢] وفي روا ية: ما أَنا علَيهِ وأَصحابي، والحديث حسن بشواهده.

د علماوو په جامه کې راښکاره شوي ځيني عملاء چې د اسلام تحريفول او مسلمانان د صحيح مسير څخه خطا کول غواړي؛ خپل فاسده افکار د سلفو په منهج سره تعبيروي، که څه

هم له دغو عملاو څخه ځيني د سلفو سره د ايمان په تعريف کې د توافق دعوه هم کوي خو په حقيقت او عملي تطبيق کې ورسره مخالف او په ډېرى اصولو کې مرجئه او جهميه ؤ پسې تللي دي، دغه ناکاره گمراه شوي علماء چې خپل ځانونه د سلفيانو په نوم نوموي؛ په حقيقت کې سلفيان نه بلکې د دې زمانې مرجئه او د مشرکو طواغيتو غلامان دي، دوی د سلفيت نوم يوازې د هغه چا لپاره د شعار په توگه کاروي څوک چې په ځينو معلومو شعائرو کې د سلفو په اقتداء بسنه کوي که څه هم په نورو ډېرى اصولو کې ترې خلاف وي، خو داسې نه ده، د سلفو منهج او تگلاره ډېره روښانه ده او له هېڅچا پټه نه ده، د دغه حق منهج لپاره د دين امامانو خپل سر، مال او وينه قربان کړې، جېلونو ته تللي خو د وخت طواغيتو او نورو گمراه ډلو ته نه دي تسليم شوي، په دين يې معامله نه ده کړې او نه يې هم منهج تحريف کړی، بلکې د حق دښمنانو ته يې غاښ ماتوونکی ځواب ورکړی، او دا لړۍ به تر قيامته جاري وي ځکه نبي عليه السلام فرمايلي دي: **لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي قَائِمَةً بِأَمْرِ اللهِ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ أَوْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ ظَاهِرُونَ عَلَى النَّاسِ [رواه مسلم: ٣٥٥٥]**.

ژباړه: زما له امت څخه به همیشه یوه ډله د الله تعالی په حکم کلکه پاتې وي، هغه څوک به ورته ضرر نه شي رسولی چې د دوی مدد پرېږدي یا یې خلاف کوي تر دې چې د الله تعالی امر (قیامت) راشي په داسې حال کې چې دوی به په خلکو غالب وي.

نو په همدې اساس غواړو چې د دې زماني د ځینې ناکاره علماوو له خوا نشر شوې یوه رساله چې د "المنهج المتفق علیه" په نوم ده؛ د بحث او څېړنې لاندې ونیسو، دغه رساله چې د پاکستان خیبر پختون خواه د اهل حدیثو شورى ته منسوب علماوو چې نومونه او شصتونه یې په یادې رساله کې موجود دي؛ له موافقې وروسته د ابو عمر عبد العزیز نورستاني په لاس د دیني مدارسو تعلیمي نصاب لپاره ترتیب شوې او نشر شوې ده؛ ځینې منحرفو عقایدو او اصولو ته په کې د سلفي منهج نوم ورکړل شوی او دا هڅه په کې شوې چې د سلفو پاک منهج د عصر مرجئه، جهمیه او د آل سلول د بچو په ګنده څېرو کې راڅرګند کړي، نو له همدې امله اړینه وه چې د سلفو منهج څخه دفاع وکړو او د هغوی صحیح عقیده خلکو ته روښانه

کړو او هم د دغو تش په نوم سلفیانو له پلیتو عقایدو څخه پرده پورته کړو بإذن الله.

## ځیني مهمې یادونې

مونږ په خپلو لیکلو کې د راروانو خبرو د اهتمام هڅه کړې:

۱ـ د کتاب متن راوړل او بیا یې شرعي تحلیل کول.

۲ـ د یاد کتاب خطا مسایل په قران، حدیث، د امت په اجماع او د سلفو په صحیح فهم سره ردول.

۳ـ د موجوده عصر د ځینو هغو علماوو اقوال پیش (وړاندې) کول چې سلفي عقیدې ته منسوب دي او دوی یې خپل مشران ګڼي، که څه هم په دغو علماوو کې به ځینو دوه مخې پالیسي اختیار کړي وي او په حق منهج به تر اخره کلک نه وي پاتې شوي، خو د قول ذکر کولو نه به یې تزکیه غرض نه وي بلکې غرض به مو یوازې دا وي چې له خپل کور څخه ورباندې هم رد وشي.

۴ـ د بحث لاندې راوړل شویو(متنازع فیها) مسایلو کې د دوی اقوال او عقاید د مرجئه وو د اقوالو او عقایدو سره پرتله کول او د سلفو منهج په کې روښانه کول.

۵ـ مونږ په خپلو لیکلو کې د حق پلټنه کړې او له چا څخه متاثره نه یو او نه هم د چا مقلدین یو او دا خبره به لوستونکو ته ځای په ځای ثابته شي ان شاء الله.

او په اخر کې له الله عز وجل څخه غواړو چې د افراط تفریط څخه مو وساتي او د حق لیکلو او عملي کولو توفیق راکړي امین. وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.

# بدء المقصود بتوفيق الله المعبود

له مقدمې وروسته اوس مقصود ته راځو نو وايو:

## د حاكميت مسئله.

د رسالې ليكوال د توحيد د ډولونو په اړه ويلي دي:

**و أقسام التوحيد ثلاثة: توحيد الربوبية، توحيد الألوهية، توحيد الأسماءوالصفات. فمن زاد قسما رابعا توحيد الحاكمية، وجعله أصلا مقدما علي جميع اصول الدين فهو مبتدع [المنهج المتفق عليه ص ٧].**

ژباړه: توحيد په درې ډوله دی: توحيد ربوبيت، توحيد الوهيت، توحيد الأسماء والصفات، چا چې څلورم ډول ورسره زيات كړو چې توحيد الحاكمية دی او هغه يې داسې اصل وګرځاوه چې د دين په ټولو اصولو يې مخكې كړ نو بدعتي به وي.

دا يې اول پاټكی دی چې په دې سره د خپلې فاسدې عقيدې تهدآب ږدي، څكه توحيد؛ د ولاء براء، كفر بالطاغوت، جهاد في سبيل الله، تضليل، يا عدم تضليل، تكفير، ميراث، محبت، مدد، ولايت او مشرۍ صحيح كيدل يا نه صحيح كيدل،

د چا سره اوسېدل او د چا سره نه اوسېدل، دعاء، بد دعاء، د نکاح حلالوالی یا حرمت، د ذبیحې حلالوالی یا حرمت، وروسته پسې لمونځ کول یا نه کول، ټکس ترې اخستل یا نه اخستل، جنازه یې کول یا نه کول، د مسلمانانو په مقبره کې یې خښول یا نه خښول او داسې نورو د ډېری شرعي احکامو بنیاد دی؛ په دغه بنیاد کې چې کله ګوتې ووهل شي نو احکامو کې یې په اسانۍ سره ګوتې وهل کېږي ځکه ځومره امتونه او ډلې چې هم ګمراه شوي دي نو اصلي لامل یې دا و چې په توحید الوهیت کې یې جګړه کړې که څه هم توحید ربوبیت یې منلو، نو د یادې رسالې لیکوال او ورسره مل پلاوي هم د خپلو اصلي مشرانو په څېر په توحید کې جګړه شروع کړه او د توحید له څلورم ډول څخه یې انکار وکړ، چې توحید الحاکمیة دی، هغه چې د توحید الوهیت عملي ترجمه بلل کېږي، او دغه څلورګونی ویش یې بدعي وباله، خو دغه انکار یې په دوه قیوداتو بنا کړی: یو قید یې دا ویلی:" **فمن زاد قسما رابعا"** چا چې د توحید په ډولونو کې څلورم ډول زیات کړ. او دویم قید: "**وجعله أصلا مقدما على جميع اصول الدين"** او بیا یې د توحید دغه ډول د دین په نورو اصولو مخکې کړ، مقصد یې همدا

جوړېږي چې د توحيد دغه ډوّل به مستقل نه شمارې او نه به يې د دين په نورو اصولو مخکې کوې که چا دواړو يا احد الأمرين ته راتګ وکړ نو بدعتي به وي. اوس د دې خبرې وضاحت ته راځو:

**اول قيد:** چې د توحيد څلورم ډوّل يعني توحيد الحاكمية زياتول او وروسته وربانديې د بدعت ټاپه لګول؛ د دې په اړه مونږ وايو چې د توحيد دغه ډوّل خو ستاسو ډېرو مخکښو علماوو هم منلی دی ځينو د توحيد مستقل ډوّل شمارلی او ځينو د توحيد الوهيت يا توحيد في العبادة په ډوّلونو کې شمارلی، د ګواه په توګه يې عبارتونه او حوالې رانقلوو:

۱ـ شيخ عبد السلام رستمي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل تفسير [احسن الكلام اول جلد صفحه: ح] کې وايي:

**(ج) توحيد د عبادتونو او اطاعتونو: د دے درے قسمونه دی ـ (۱) توحيد فی العبادات (۲) توحيد فی الدعاء (۳) توحيد فی الحکم (يعنی تحليل او تحريم).إنتهی بلفظه.**

**بيا وروسته په تفصيل کې يې وايي: (۳) توحيد فی الحکم : مراد ترېنه حکم تشريعي دی مطلب دا دی چه عقيده ولرې چه شرع جوړوونکی الله تعالیٰ دی د هغه حلال به حلال او د هغه حرام به**

**حرام ګڼو چه د هغې خبرمونږ ته رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم را کړی دی۔ (احسن الکلام ج/۱ صفحه: د).**

۲۔ امین الله پشاوري په خپل کتاب [الفوائد ۲ /۳۸۱، الفائدة:٤١] کې توحید پنځه ډۆلونو ته وېشلی دی: ۱۔ توحید الذات، ۲۔ توحید علمي خبري، ۳۔ توحید الأسماء والصفات، ۴۔ توحید العبادة، ۵۔ توحید الحاکمیة. او بیا یې په عقلي ویش سره شلو ډۆلونو ته رسولی دی. نوموړي توحید الحاکمیة؛ د توحید مستقل ډۆل شمارلی دی لکه هغه ویلي دي:

**هـ - الخامس : توحيد الحاكمية :**

**ويسمى توحيد التشريع أيضًا : وهو إفراد الله تعالى بالحاكمية والتشريع فالله تعالى له حق التشريع والحكم. قال تعالى : ( إن الحكم إلا لله ).ا.هـ[الفوائد۲ /۳۸٤، الفائدة:٤١]**

ژباړه: پنځم: توحید الحاکمیة دی چې توحید التشریع هم ورته وایې: دا دې ته وایي چې الله تعالی په حاکمیت او قانون سازۍ کې یوازې ګڼل، نو الله تعالی ته د قانون سازۍ او د فیصلو حق حاصل دی، الله تعالی فرمایې: واک د فیصلو یوازې الله تعالی ته دی.

نو دا د هغو شخصيتونو څرګندونې وې چې د پاکستان او افغانستان زياتره سلفي داعيان يې په مشرۍ کې اختلاف نه لري او نه ورباندې کوم عيب وايي، نو ستاسو د وينا په اساس دوی هم بدعتيان شول ځکه چې په توحيد الحاکمية يې قول کړی! که وايئ چې مونږ خو توحيد الحاکمية د دين په نورو اصولو مخکې نه ګڼو نو د دې څه معنا شوه آيا د توحيد الحاکمية د مضمون او معنا څخه انکار کوئ؟ که انکار ترې کوئ نو له دې څخه خو بل غټ کفر نشته ځکه چې د الله تعالی حاکميت په ډېرو آيتونو کې ثابت دی، او که يوازې د نوم څخه يې انکار کوئ او وايئ چې مستقل نوم ورته ورکول نه دي پکار او نه يې هم د مستقل ډوَل په توګه شمارل پکار دي بلکې د توحيد الوهيت او ربوبيت په ډوَلونو کې يې داخل ګڼئ او په معنا او مضمون يې اقرار کوئ يعني د الله تعالی حاکميت منئ او د غير الله حاکميت نه منئ نو بيا دومره سخت انکار ته څه ضرورت چې دلته مو ورباندې د بدعتي ټاپه ولګوله ، په وروسته احکامو کې مو ورباندې د خوارجو ټاپه لګولې ، مباح الدم مو ګرځولي او د الله تعالی د حاکميت څخه انکار کوونکي يا هغه خلک چې دغه وظيفه ځان ته

ثابتوي هغوی مو معصوم الدم مومنان گرځولي!! خو ستاسو د دغه طرز څخه داسې جوتېږي گويا چې تاسو د توحید الحاکمیة د مضمون او معنا څخه انکار کوئ ځکه مو ورباندې وروسته ډېرې خطري مسلې تفریع کړي دي، دا مونږ منو چې توحید الحاکمیة د توحید مستقل ډؤل نه دی بلکې د توحید په دغه ذکر شوو درې ډؤلونو کې داخل دی، یعني په دې اعتبار سره چې یوازې د الله تعالی حکم عملي کول او غاړه ورته اېښودل عبادت دی؛ په توحید الوهیت کې داخل دی، او په دې اعتبار سره چې یوازې د الله تعالی لپاره اختیار د امر او د حکم دی؛ په توحید ربوبیت کې داخل دی، او په دې اعتبار سره چې د الله تعالی لپاره حَکم او حکیم نومونه ثابت دي او حُکم یې صفت دی؛ په توحید الاسماء والصفات کې داخل دی، نو مستقل یې نه گڼو خو له دغه عام او شامل مضمون یا معنا څخه یې انکار نه کوو، او نه هم هغه چا ته د مبتدع نسبت کوو څوک چې یې من باب الإصطلاح مستقل ډؤل شماري او دغه ویش تعبّدي نه گڼي او نه پرې د ثواب اراده لري، خو چې څوک یې د معنا او مضمون څخه انکار کوي نو هغوی د قران په راروانو آیتونو کافر گڼو چې الله عز وجل

فرمايي: ﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ﴾ ﴿وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا﴾ ﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ﴾ ﴿وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ﴾ ﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ﴾ ﴿فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾ ﴿فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾، او كه محض د اصطلاح په درجه کې يې هم نه منئ او بدعت يې ګڼئ نو بيا خو بايد چې د توحيد الأسماء والصفات اصطلاح هم بدعت وګڼئ ځکه چې دا هم وروسته رامنځته شوي او داسې نور ډېر اصطلاحات چې اهل علمو په دين باندې د پوهې لپاره ايجاد کړي دي بايد چې بدعت يې وګڼئ او له تولو څخه يو شانته انکار وکړئ! خو داسې هېڅکله نشئ کولی او چې نه يې شئ کولی نو مجبوراً به له خپلې بې ځايه سختۍ څخه لاس اخلئ او يا به هم په خپل جهل او عناد ټينګ پاتې کېږئ او د دغې انکار له امله به يې د مضمون او معنا څخه هم انکار کوئ چې دا ستاسو د حال نه بعيده نه ده که چېرې حق ته رجوع ونکړئ.

او که په مونږ دا اعتراض کوئ چې تاسو ولې د حاکمیت موضوع ته دومره زور ورکړی چې د دین په نورو اصولو یې مخکې کوئ او دا مو د تکفیر ذریعه گرځولې؟ نو مونږ وایو چې هېڅکله مو په دې مسئله کې افراط او تفریط نه دی کړی او د دین په نورو اصولو مو نه ده مخکې کړې بلکې د دین د نورو اصولو تر څنگ مو د الله تعالی د حاکمیت مسئله هم منلې او په کومه اندازه کې چې ورته په قران او حدیث کې دعوت شوی په هماغه اندازه کې ورته مونږ هم دعوت ورکوو او د سلفو د صحیح فهم نه په کې تجاوز یا خلاف نه کوو ان شاء الله، او وروسته به دا خبره په دلایلو هم ثابته شي چې د حاکمیت په مسئله کې چا د قران او حدیث د صریحو نصوصو، د امت د اجماع او د سلفو د صحیح فهم څخه خلاف کړی دی آیا تاسو کړی دی که مونږ کړی دی دا مسئله به په خپل ځای کې واضحه شي ان شاء الله. خو مونږ که په ځیني مقاماتو کې د حاکمیت موضوع ته ډیره توجو کړې وي نو لامل یې همدا دی چې دا ډول توحید ستاسو غوندې خبثاوو بیخي ورک کړی دی مخکې به کله نا کله ستاسو په ځینو درسونو کې دا توحید د ربوبیت او یا هم د الوهیت په ضمن کې بیانیدو خو اوس یې

نو بيخي نوم ورک شوی دی او عوام مسلمانانو نه مو د دی د اصل د ورکولو کوشش شروع کړی دی نو ځکه مونږ د دې اهتمام زیات کوو ځکه نن جنګ په همدې دی، ربوبیت خو کفارو هم منلو د الوهیت او اسماؤ صفاتو هم منونکي شته اګر چې نه منونکي يې هم ډير دي خو د حاکمیت منکرین ډیر دي او بیا جنګ په همدې دی ځکه که دا ومنل شي او وپيژندل شي او حاکم شي بیا د توحید ټول ډولونه عملي کیږي دا توحید په ټولو ډولونو مهیمن دی نو ځکه يې د الأهم فالأهم قاعدې په اساس اهتمام لازم ګڼو، او د توحید د دې ډول په تاکید زمونږ غرض د توحید د نورو ډولونو دفاع ده چې له دې پرته په هغو باندې عمل نه شي راتلی نو د دې تعریف نه د هغو تعریف کامليږي چی دا خبره په صحیح ناصحانه علم لرونکو باندې پټه نه ده، ګنې تاسو چې ځان ته سلفيان وایاست او د توحید د دغه درې ډولونو دعوه هم کوئ؛ په تاسو کې ډیری داسې کسان شته چې په حاکمیت کې بیا طاغوت ته فیصلې وړي چې په دې سره د توحید د دغه نورو ډولونو منلو دعوه هباء منثورا ګرځي د داسې کسانو او د غالي صوفیانو او سیفیانو تر منځ هیڅ توپیر نه پاتې کیږي یوازې دومره چې هغوی په توحید فی الصفات

کې مشرکان دي او دغه طاغوت ته فیصله وړونکي په حاکمیت کی مشرکان دي.

فسوف ترى إذا انکشف الغبارُ أفرس تحت رجلك أم حمارُ

## د حاکمیت د موضوع اهمیت.

اوس د زیات وضاحت لپاره وایو چې د حاکمیت موضوع د ژوند د ټولو چارو سره اړیکه لري بلکې د حاکمیت موضوع د دین د مفهوم تر څنګ د دین د ټولو اصولو سره اړیکه لري لکه کلمه د شهادتینو او د هغې له شرطونو سره، د توحید او د هغې له ډؤلونو سره چې توحید ربوبیت، توحید الوهیت او توحید الأسماء والصفات دي او د ایمان د عناصرو؛ دې ټولو سره جوره اړیکه لري چې اوس یې په لنډه توګه دلته د موضوع د مناسبت له وجې ذکر کوو:

## د ژوند د چارو سره د حاکمیت اړیکه:

حاکمیت د ژوند د یو اړخ سره اړیکه نه لري بلکې د ژوند د ټولو اړخونو سره اړیکه لري ځکه چې حاکمیت دې ته وایي چې ته الله تعالی په خپل ټول ژوند کې حاکم وګڼې هم د عقیدې، عبادت، سیاست، اقتصاد او معاملاتو په اړخ کې، هم

په انفرادي او اجتماعي اونورو اړخونو کې، هم په داخل د جومات کې او هم د جومات څخه بهر؛ په دې ټولو کې الله تعالی حاکم وګڼې او د هغه د حکم سره سم چلند وکړې، له دې امله څومره پیغمبران چې هم راغلي دي؛ یوازې په عبادت یا روحاني چارو کې یې ارشادات نه دي کړي، بلکې د ژوند په ټولو چارو کې یې ارشادات کړي دي او خلکو ته یې د الله تعالی حاکمیت بیان کړی لکه الله عز وجل فرمايي: كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وٰحِدَةً فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ [سُورَةُ البَقَرَة : ۲۱۳]،

ژباړه: په لومړي وخت کښې ټول خلك په یوه لاره روان ول (بیا چې دې وضعې دوام ونکړ او اختلافونه رامنځ ته شول) نو الله تعالی پیغمبران ولیږل چې په سم تګ زیري ورکوونکي او د انحراف له نتیجو څخه ویروونکي ول، او له هغو سره یو ځای یې حق کتاب ولیږه، تر څو هغه اختلافونه چې د حق په باب د خلکو تر منځ راغلي ول فیصله کړي.

د دې آيت په تفسير کې امام طبري او نورو مفسرينو د ابن عباس رضي الله عنهما اثر راوړی دی چې په هغې کې دي: **كان بين نوح وآدم عشرة قرون، كلهم على شريعة من الحق، فاختلفوا، فبعث الله النبيين مبشرين ومنذرين،[رواه الحاكم في المستدرك ٢/ ٥٤٦، ٥٤٧ وقال: "هذا حديث صحيح على شرط البخاري ولم يخرجاه" وو افقه الذهبي].**

ژباړه: د نوح او د آدم عليهما السلام تر منځ لس پېړۍ وې، چې ټولو د حق قانون پيروي کوله، خو اختلاف يې وکړ، نو الله تعالى پيغمبران راولېږل زېرى ورکوونکي (منونکو ته)او وېره ورکوونکي (نه منونکو ته). په دې حديث کې د شريعت کلمه په عقيده، احکام، اصول او فروعو دلالت کوي يعني په دغه موده کې ټولو خلکو د الله تعالى حاکميت مانه او د ژوند په ټولو اړخونو کې يې ورته رجوع کوله.

او په بل آيت کې الله تعالى فرمايي: لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا [سُورَةُ المَائِدَة: ٤٨].

ژباړه: موږ ستاسي څخه د هر يوه لپاره يو شريعت او يوه عملي تګلاره ټاکلې ده. "**شرعة**" قانون او نظام ته وايي چې د

ژوند ټولو اړخونو ته شامل وي. همداراز د تورات په اړه الله عزوجل فرمايلي دي چې پيغمبرانو به ورباندې فيصلې کولې:

إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ [سُورَةُ المَائدة : ٤٤].

ژباړه: يقينًا مونږ تورات نازل کړ، په هغه کښې لارښوونه او روښنايي وه، ټولو پيغمبرانو چې د الله تعالى د حکم تابع و؛ له هماغه سره سمې فيصلې کولې. او نبي عليه السلام مونږ ته د بني اسرائيلو په اړه خبر راکړی دی فرمايلي دي: **كَانَت بَنُو إسرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الأَنْبياءُ، كُلَّما هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ**[متفق عليه].

ژباړه: په بني اسرائيلو باندې د پيغمبرانو واکمني وه، کله به چې يو پيغمبر وفات شو نو بل پيغمبر به د هغه ځای ناستی شو.

نو دا ښکاره دلايل دي چې د حاکميت موضوع د ژوند ټولو اړخونو ته شامله ده او تر يو اړخ رابنده نه ده ځکه پيغمبرانو خو يوازې د عبادت يا عقيدې په اړخ واکمني نه ده کړې بلکې د ژوند په ټولو اړخونو يې واکمني وه.

## د دین د مفهوم سره د حاکمیت اړیکه:

د دین اطلاق په حق او باطل دینونو دواړو باندې کېږي ځکه چې دین هغه طریقې، نظام یا سستم ته وایي چې انسان ورته د ژوند په چارو کې رجوع کوي برابره ده که حق دین وي او که باطل وي ځکه چې الله عزوجل د کفارو باطل دین ته هم دین ویلي دي فرمایلي دي: وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْءَاخِرَةِ مِنَ الْخَٰسِرِينَ [سُوَرَةُ آل عِمرَان : ٨٥].

ژباړه: له اسلام څخه پرته چې هر څوك كوم بل دین غوره کړي، هېڅكله به ورڅخه قبول نكړای شي او په آخرت کې به هغه ناكام او زیانمن وي. نو د اسلام نه غیر بل دین ته هم دین ویلی شوي دي كه څه هم باطل هم وي. او الله عز وجل د یوسف علیه السلام په اړه فرمایي: مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ [سُورَةُ يُوسُف : ٧٦].

ژباړه: د هغه دا كار نه ؤ چې د پاچا په دین (یعني د مصر په پاچاهي قانون) كښې يې خپل ورور نیولای وای. نو دلته هم د مصر د پاچا قانون ته دین ویلی شوي دي كه څه هم باطل دین و. او همدا راز الله عز وجل فرمایي: وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونِيٓ أَقْتُلْ

مُوسَىٰ وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ [سُورَةُ المؤمن/غَافر: ٢٦].

ژباړه: (يوه ورځ) فرعون خپلو درباريانو ته وويل: ما پرېږدئ، زه موسٰی وژنم، او دی دې خپل رب ته غږ کړي. زه وېرېږم چې دی به ستاسې دین بدل کړي، یا به په هېواد کښې فساد راولاړ کړي.

په دې آيت کې هم الله سبحانه وتعالی د فرعون د ژوند نظام او قانون ته او هغه څه ته چې فرعون به د خپل ژوند په ټولو چارو کې عملي کاوه، هم په سياسي او اقتصادي چارو کې او هم د عبادت په چارو کې؛ دغو ټولو ته يې دين وويل، سره له دې چې بطلان يې ښکاره دی.

او د بخاري په روايت کې چې عايشه رضي الله عنها په کې د نبي عليه السلام او د ابو بکر رضي الله عنه د هجرت قيصه رانقل کړې په هغې کې د دوی د لارې دلال يا رهبر عبد الله بن أريقط په اړه وايي: **وهو علَى دِينِ كُفَّارِ قُرَيْشٍ**، **[أخرجه البخاري: ٢٢٦٤]**،

ژباړه: او هغه د قريشو کافرانو په دين و.

نو په دې حديث كې د قريشو طريقو، قانون او نظام ته دين ويلى شوي دي چې يوازې د عبادت اړخ په كې مراد نه دى.

سيد قطب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دې خبرې په تائيد كې چې وضعي قوانين دين دى، حاكمول يې د غير الله دين حاكمول دي؛ د خپل تفسير په [اووم جلد ص: ٢٠٢٠] كې وايي: **"هذا المدلول القرآني الواضح، هو الذي يغيب في جاهلية القرن العشرين عن الناس جميعًا. سواء منهم من يدعون أنفسهم مسلمين وغيرهم من الجاهلين! إنهم يقصرون مدلول" الدين "، على الاعتقاد والشعائر، ويعدون كل من يعتقد في وحدانية الله، وصدق رسوله، ويؤمن بملائكته وكتبه ورسله، واليوم الآخر والقدر خيره وشره؛ ويؤدي الشعائر المكتوبة داخلا في" دين الله "، مهما تكن دينونته بالطاعة والخضوع و إقراره بالحاكمية لغيرالله من الأرباب المتفرقة في الأرض. بينما النص القرآني هنا، يحدد مدلول"دين الملك"، بأنه نظام الملك وشريعته؛ وكذلك"دين الله"، فهو نظامه وشريعته. إن مدلول "دين الله" قد هزل و انكمش، حتى صارلا يعني في تصورالجماهيرالجاهلية إلا الاعتقاد والشعائر؛ ولكنه لم يكن كذلك، يوم جاء هذا الدين، منذ آدم ونوح إلى محمد - عليهم صلوات الله وسلامه أجمعين -؛ لقد كان يعني دائمًا: الدينونة لله وحده، بالتزام ما شرعه، ورفض ما يشرعه غيره، و إفراده - سبحانه - بالألوهية في الأرض، مثل إفراده بالألوهية في السماء؛ وتقرير ربوبيته وحده للناس: أي حاكميته**

**وشرعه، وسلطانه وأمره. وكان مفرق الطريق دائمًا، بين من هم في دين"الله"، ومن هم في"دين الملك"؛ أن الأولين يدينون، لنظام الله وشرعه وحده، وأن الآخرين يدينون، لنظام الملك وشرعه، أو يشركون، فيدينون لله في الاعتقاد والشعائر، ويدينون لغير الله في النظام والشرائع؛ وهذا من المعلوم من الدين بالضرورة، ومن بديهيات العقيدة الإسلامية تمامًا" اهـ..**

ژباړه: د قران دغه ښکاره معنا د ټولو خلکو نه د شلم قرن په جاهليت کې ورکه شوې ده برابره ده که څوک ځانونو ته مسلمانان وايي او که د نورو جاهلي دينونو دعوه کوي، دوی ټولو د دين معنا په عقيدې او په شعايرو پورې رابنده کړې، او دوی هغه خلک د الله په دين کې داخل ګڼي چې د الله د يووالي او د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رېښتنوالي عقيده لري، او د الله په ملايکو، کتابونو، رسولانو، په ورځ د آخرت او په تقدير د خير او شر ايمان لري،او فرض شوي شعاير ادا کوي؛ که څه هم د الله نه سوا د نورو مختلفو معبودانو تابعداري هم کوي او په حاکميت يې اقرار کوي. خو قراني عبارت د "دين الملك"معنا؛ د پادشاه په قانون يا نظام کې رابنده کړې، او همداسې د "دين الله" معنا يې: د الله په نظام يا قانون کې رابنده کړې، خو د "دين الله" معنا اوس کمزورې شوې او اهميت يې

کم شوی دی تر دې چې د موجوده ټولو جاهلیت والاو په تصور کې یې له عقیدې او شعایرو پرته بل څه مقصد نه راځي خو لیکن داسې نه ده په کومه ورځ چې دا دین مونږ ته راغلی، د آدم او نوح علیهما السلام نه تر محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پورې، د دې دین همېشنی مقصد دا و:چې یو الله ته غاړه اېښودل په قبلولو د هغه احکامو چې الله رالیږلي دي او په پرېښودلو د هغه قوانینو چې بل چا جوړ کړي دي، او الله تعالی په الوهیت سره په زمکه کې یو ګڼل لکه څنګه چې په آسمان کې په الوهیت سره یو دی، او خلکو ته د یو الله تعالی ربوبیت ثابتول یعنې د الله تعالی حاکمیت،او د الله تعالی شریعت، قدرت او امر ثابتول. او هغه خلک چې همیشه لپاره یې مینځنی لاره انتخاب کړې د هغه خلکو تر منځ چې د الله تعالی په دین عمل کوي او د هغو خلکو تر منځ چې د پادشاه په دین عمل کوي؛ نو اولني خلک خو د یو الله تعالی قانون او شریعت ته غاړه ږدي، او وروستني خلک د پادشاه قانون او شریعت ته غاړه ږدي یا د الله تعالی سره برخه دار جوړوي، نو دوی (یعنې منځني خلک) په عقیده او شعایرو کې د الله تعالی مني او په نظام او قوانینو کې له الله تعالی څخه سوا د بل چا مني، او دا

خبره د دين له ضرورياتو څخه ثابته ده او د اسلامي عقيدي له ښکاره مسايلو څخه ده. ا. هـ.

شيخ احمد شاکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ په "عمدة التفسير" دويم جلد ص: ۲۱۳ کې وايي: **هذه القوانين التي فرضها على المسلمين أعداء الإسلام السافرو العداوة هي في حقيقتها دين آخر، جعلوه ديناً للمسلمين بدلاً من دينهم النقي السامي؛ لأنهم أوجبوا عليهم طاعتها، وغرسوا في قلوبهم حبها وتقديسها والعصبية لها، حتى لقد تجري على الألسنة والأقلام كثيراً كلمات تقديس القانون، قدسية القانون، حرمة المحكمة وأمثال ذلك من الكلمات التي يأبون أن توصف بها الشريعة الإسلامية وآراء الفقهاء الإسلاميين.**

ژباړه: دغه قوانين چې د اسلام ښکاره دښمنانو په مسلمانانو مقرر کړي دي، دا په حقيقت کې بل دين دی چې د مسلمانانو لپاره يې د هغوی د پاک او اوچت دين په بدل کې مقرر کړی دی، ځکه چې په دوی باندې يې د دغه دين اطاعت واجب کړی دی او په زړونو کې يې ورله مينه، درناوی او د هغې لپاره تعصب اچولی، تر دې چې په ژبو او قلمونو ډېری داسې خبرې جاري شوي چې وايي: قانون ته درناوی، د قضائيه

قوي تقدس، د محکمې عزت او داسې نور کلمات، کوم چې دوی شریعت ته او د اسلامي فقهاو رایو ته نه کاروي.

معلومه شوه وضعي قوانین چې عبارت دي له سوسیالیزم، سیکولریزم، ډیموکراسۍ اونورو څخه؛ هم دین دی چې حاکمول یې د غیر الله دین حاکمول دي، او څنګه به دین نه وي چې خپل معبودان لکه مارکس، لینین او نور...، هم لري، خپل پیغمبران او فقه هم لري، خپل کتاب او تفسیر، خپل قانون او قانون ساز، خپل حل او حرم هم لري او درناوی او تقدس یې هم کېږي. نو څوک چې د خپل ژوند په ټولو چارو کې د الله دین حاکموي؛ هغه د الله تعالی حاکمیت مني او څوک چې له ځانه جوړ شوي دینونه یا قوانین حاکموي؛ هغه د الله تعالی له حاکمیت څخه په لسان القال یا حال سره انکار کوي.

## کلمې د شهادتینو سره د حاکمیت اړیکه:

کلمه د شهادتینو چې په دوه برخو مشتمله ده یوه برخه یې "لا إله إلا الله" ده او دویمه برخه یې "محمد رسول الله" ده نو د حاکمیت اړیکه د کلمې د دغه دواړو شقینو سره ده،

## د "لا إله إلا الله" سره د حاكميت اړيکه:

د کلمې دا برخه دوه رکنه لري يو نفي بل اثبات، د نفې معنا ده د الوهيت او ربوبيت ټولې ځانګړتياوې يا د عبادت ټول ډؤلونه له بل چا څخه نفي کول، او د اثبات معنا ده؛ د الوهيت او ربوبيت ټولې ځانګړتياوې يا د عبادت ټول ډؤلونه يوازې الله تعالی ته ثابتول، چې د کلمې دغه معنا د قران په دې آيت کې پوره واضحه شوې الله عز وجل فرمايي: فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَا [سُورَةُ البَقَرَة : ٢٥٦]،

ژباړه: اوس چې څوك له کوم طاغوت څخه منکر شي او پر الله ايمان راوړي، هغه يوه داسې کلکه اسره ونيوله، چې هېڅکله ماتېدونکې نه ده.

په آيت کې د توحيد کلمې د نفي جزء معنا په "**فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ**" سره شوې، يعنې څوک چې هم ايمان راوړي نو په طواغيتو به کفر کوي د هغوی له هر ډؤل عبادت يا طاعت څخه به ځان ساتي، نه به يې قانون قبلوي او نه به ورته فيصله وړي، چې دا د توحيد کلمې مهم رکن دی او له دې پرته ايمان

نه صحیح کېږي، شیخ عبد الرحمن بن حسن په خپل کتاب [فتح المجيد ص:۳۹۲] کې په طاغوت باندې د کفر کولو لامل داسې بیان کړی هغه وایي: **لأن الكفر بالطاغوت ركن التوحيد، كما في آية البقرة، فإذا لم يحصل هذا الركن لم يكن موحدًا؛ والتوحيد هو أساس الإيمان، الذي تصلح به جميع الأعمال وتفسُد بعدمها، كما أن ذلك بين في قوله تعالى: ﴿فَمَنۡ يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ﴾، ذلك أن التحاكم إلى الطاغوت إيمان به.**

ژباړه: ځکه په طاغوت کفر کول د توحيد رکن دی لکه څنګه چې د سورة بقره په آيت کې ذکر دي، نو کله چې دغه رکن ورته حاصل نشي؛ موحد نشي جوړېدلی، او توحید د ایمان اساس یا بنیاد دی چې په دې سره یې ټول اعمال برابرېږي او د نشوالي له امله یې ټول اعمال بربادېږي لکه څنګه چې دا خبره د الله تعالی په دې وینا کې بیان شوې ده: "اوس چې څوک له کوم طاغوت څخه منکر شي او پر الله ایمان راوړي، هغه یوه مضبوطه کړی ونیوله"، دا ځکه چې طاغوت ته فیصله وړل په هغه ایمان راوړل دي.

له همدې امله څوک چې د کلمې د نفي رکن عملي نکړي ایمان یې یا ابتداءً او یا هم استمراراً نه صحیح کېږي یعني په

ایمان باندې تر هغه دوام نشي موندلی تر څو چې يې په طواغيتو كفر نه وي كړی، هغوی ته له تحاكم او د هغوی له طاعت څخه يې ځان نه وي ساتلی، ابن حجر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دې حديث په شرح كې چې نبي عليه السلام فرمايې: **أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا الله...[مسند أحمد: ٨٣٤٠]**،

ژباړه: ماته امر شوی دی چې زه د خلكو سره تر هغه وجنګيږم ترڅو دوی د لا إله إلا الله ګواهي وكړي الخ؛ هغه وايي: **ومن الحديث نعرف أن العبد إذا قال لا إله إلا الله، يُعصَمُ ماله ودمه، وهل يصيربذلك مسلما؟ الراجح لا، حتى يُنظرفي التزامه بأحكام الشريعة.ا.هـ [كما في الفتح ١٢/ ٢٧٩].**

ژباړه: له دې حديث څخه دا فايده معلوميږي چې يو بنده كله لا اله الا الله كلمه ووايي نو مال او وينه يې بچ كيږي، خو آيا په دې سره مسلمان ګرځي او كه نه؟ راجح په كې دا ده چې مسلمان نه ګرځي تر څو چې يې د شريعت د احكامو پابندۍ ته كتنه نه وي شوې.

او بغوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **أن العبد إذا تلفظ بالشهادة يجبر على الإلتزام بأحكام الشريعة.**

ژباړه: کله چې يو بنده کلمه د شهادت ووايي نو د شريعت د احکامو د پابندۍ په اړه به وربانديې زور کېدلی شي.

ابن حجر د بغوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خبرې په شرحه کې وايي: **ويفهم من قوله "يُجبر" أنه إذا لم يلتزم يصير مرتدا. ا.هـ**

ژباړه: له دې خبرې "چې زور به وربانديې کيدلی شي"؛ دا معلومېږي چې که چېرې د شريعت د احکامو پابندي ونکړي نو مرتد به وي.

او ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپلې فتاوی [اووم جلد، صـ ٣٩٦] کې وايي: **الإقرارلابد أن يُتضمن التصديقُ والإلتزامُ. ا.هـ**

ژباړه: د اقرار سره د کلمې تصديق او د احکامو پابندي لازم ده.

همدا راز د کلمې دويم رکن چې اثبات دی په "يُؤْمِنۢ بِاللّٰهِ" سره يې وضاحت شوی يعنې د عبادت ټول ډولونه او د الوهيت او ربوبيت ټولې ځانګړتياوې يوازې الله تعالی ته ثابتول، ګويا چې د کلمې معنا په ذکر شوې آيت کې پوره واضحه شوې.

## د "محمد رسول الله" سره د حاكميت اړيکه:

څنګه اړیکه چې د لا اله الا الله او د حاکمیت موضوع ترمنځ ده همغسې اړیکه د محمد رسول الله او د حاکمیت موضوع ترمنځ هم ده ، د الله تعالی دین هغه شریعت ته شامل دی کوم چې د الله تعالی په کتاب کې بیان شوی دی او هغه شریعت ته هم شامل دی کوم چې د نبي علیه السلام په ژبه بیان شوی دی، چې د کتاب او سنت اطلاق ورباندې کېږي، نو لکه څنګه چې د لا اله الا الله کلمه ویل د الله تعالی د احکامو د پابندۍ او هغې ته د غاړې ایښودلو د اقرار مترادف بلل کېږي نو همداسې د "محمد رسول الله" ویل هم د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د احکامو د پابندۍ او هغې ته د غاړې ایښودلو د اقرار مترادف بلل کېږي، یعني ګویا چې کلمه ویونکی په دې اقرار کوي چې زه به د الله تعالی او د هغه د رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د احکامو پابندي کوم.

شیخ محمد بن عبد الوهاب په خپله مشهوره رساله کې چې نوم یې دی "الأصول الثلاثة"، د محمد رسول الله د ګواهۍ په معنا کې وایي: **ومعنى شهادة أن محمدا رسول الله: طاعته فيما**

**أمر، وتصديقه فيما أخبرواجتناب ما عنه نهى وزجروأن لايعبد الله إلا بما شرع.**

ژباړه: د محمد رسول الله د ګواهۍ معنا دا ده چې د هغه د امرونو اطاعت کول او د هغه د خبرونو تصديق کول او د هغه له منع شويو شيانو څخه منع کېدل او د هغه له طريقو سره سمه د الله تعالى بندګي کول. د دې خبرې مقصد يې دا دی چې د نبي عليه السلام په هغه احکامو کې تابعداري کول کوم چې يې د خپل رب له لورې راوړې دي. نو لکه څنګه چې د لا اله الا الله مقصد د الله تعالى احکامو ته غاړه ايښودل دي نو همداسې د محمد رسول الله مقصد هم هغو احکامو ته غاړه ايښودل کوم چې يې د الله تعالى له لورې راوړې دي لکه الله عزوجل فرمايي: وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ؛ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ[سُورَةُ النّجْم: ٣،٤]،

ژباړه: دغه (محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) له خپل نفسي خواهش څخه خبرې نه کوي؛ دا (قُرآن) خو يوه وحي ده چې پر هغه نازلېږي. نو نبي عليه السلام يوازې د الله احکام مونږ ته رسولي دي.

ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ په[ مدارج السالكين دويم جلد، ص ۱۷۱]کې وايي: **وَأَمَّا الرِّضَا بِنَبِيِّهِ رَسُولًا: فَيَتَضَمَّنُ كَمَالَ الِانْقِيَادِ لَهُ. وَالتَّسْلِيمَ الْمُطْلَقَ إِلَيْهِ، بِحَيْثُ يَكُونُ أَوْلَى بِهِ مِنْ نَفْسِهِ. فَلَا يَتَلَقَّى الْهُدَى إِلَّا مِنْ مَوَاقِعِ كَلِمَاتِهِ. وَلَا يُحَاكِمُ إِلَّا إِلَيْهِ. وَلَا يَحْكُمُ عَلَيْهِ غَيْرَهُ، وَلَا يَرْضَى بِحُكْمِ غَيْرِهِ أَلْبَتَّةَ.**

ژباړه: او هر چې د نبي علیه السلام په رسالت راضي کېدل دي نو دا دي ته شامل دي چې د هغې احکامو ته پوره غاړه اېښودل، او پوره ورته تسلیمېدل په دې طریقه چې هغه به ورته له خپل ځانه هم ښه ښکاري، نو یوازې د هغه له خبرو به هدایت اخلي او یوازې هغه ته به فیصله وړي او بل څوک به په هغه حاکم نه ګڼي او هېڅکله به هم د بل چا په فیصله نه راضي کېږي.

نو په دې عبارت کې دا خبره چې یوازې د نبي علیه السلام له خبرو به هدایت اخلي؛ په دې کې شیخ پوره حق ته رسېدلی دی ځکه چې دا مونږ ته د دې لارښوونه کوي چې مسلمان به د نبي علیه السلام خولې مبارکې ته په انتظار اوسي او هغه څه ته به انتظار کوي څه چې د هغه له خولې راوتلي وي نو هماغه به زړه ته ښکته کوي او یقین به پرې کوي او دا ډول رېښتوني

عقيده به وربانديږ لري چې کومه خبره د هغه له خولې راوتې وي نو هغې کې به خپل هدايت، اصلاح ، د دنيا او د آخرت نجات ګڼې لکه نبي عليه السلام فرمايلې دي: **اكتُبْ؛ فوالذي نفْسي بيدِهِ، ما يخرُجُ منه إلَّا حقٌّ [رواه أبوداود الصفحة أو الرقم: ٣٦٤٦، وسنده صحيح].**

ژباړه: ليکل کوه قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی زما له خولې څخه له حق پرته بل څه نه راوځي.

شيخ محمد بن ابراهيم په خپله مشهوره رساله ["تحكيم القوانين" صـ ٢١] کې په دې اړه چې وضعي قوانين د محمد رسول الله د ګواهۍ ضد دي وايي: **فأي كفرفوق هذا الكفروأي مناقضة لشهادة بأن محمدا رسول الله. ا. هـ**

ژباړه: له دې کفر له پاسه بل کوم کفر کېدلی شي او د محمد رسول الله د ګواهۍ بل غټ ضد څه کېدلی شي. نو وګوره څنګه يې دغه وضعي قوانينو ته فيصله وړل او په دغه قوانينو فيصله کول د محمد رسول الله د ګواهۍ ضد وګرځاوه. نو د محمد رسول الله د ګواهۍ مقصد همدا دی چې د الله تعالى حکم او څه چې نبي عليه السلام مونږ ته راوړي دي؛ هغه قبلول، خو د دغه ګواهۍ سره طواغيتو ته فيصله وړل

ښكاره كفر دى اگر كه دا دعوه هم ولري چې زه دغه قوانين باطل گڼم خو ترڅو چې ورته فيصلي وړي او دغه يې عمل وي نو دعوه يې دروغژنه ده او د الله تعالى دا وينا وربانديې تطبيق ده چې فرمايي: **أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا** [**سورة النساء: ٦٠**]، دوى هسې د ايمان گومان لري خو مومنان نه دي.

شيخ محمد بن ابراهيم د دې خبرې په اثبات كې: چې د الله تعالى شريعت حاكمول او فيصله ورته وړل د محمد رسول الله د گواهۍ معنا ده؛ په خپلې فتاوى كې وايي: **وتحكيم الشرعِ وحدَه دون كُلِّ ما سواه، شقيقُ عبادة الله وحده دون ما سواه؛ إذ مضمون الشَّهادتين أن يكون الله وحدَه هو المعبود وحده لا شريك له، وأن يكون رسولُ الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هو المُتَّبَع المحكَّم ما جاء به فقط، ولا جُردَت سيوفُ الجهاد إلاَّ من أجل ذلك، والقيامِ به فعلاً وتركًا وتحكيمًا عند النزاع. [فتاوى ورسائل محمد بن إبراهيم آل الشيخ: المُجلد الثاني عشر/ ٢٥٦]،**

ژباړه: يوازې د الله تعالى شريعت حاكمول پرته له نورو قوانينو؛ د يو الله تعالى د عبادت بېلگه ده پرته له نورو معبودانو، ځكه چې د دغه دواړو گواهيانو معنا دا ده چې يو الله تعالى به معبود وي چې هيڅ شريک نه لري او يوازې د

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تابعداري به کېدلی شي او د هغه راوړی شریعت به حاکمولی شي، او د جهاد توري نه دي راوېستل شوې مګر د همدې له امله چې د دې قیام وشي: په کولو، پرېښودلو او د اختلاف په وخت په فیصلو کې.

شیخ الاسلام ابن تیمیه په خپله فتاوی او هم په خپله رساله کې چې د "العبودية" په نوم ده په صـ١٤٨ کې وايي: وجماع الدين أصلان: ألا نعبد إلا الله، ولا نعبده إلا بما شرع، لا نعبده بالبدع، كما قال تعالى: {فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا} [الكهف:١١٠].

وذلك تحقيق الشهادتين شهادةِ أن لا إله إلا الله وشهادةِ أن محمدا رسول الله، ففي الأولى أن لا نعبد إلا إياه، وفي الثانية أن محمدا هو رسوله المبلغ عنه فعلينا أن نصدق خبره ونطيع أمره.....كما أنّا مأمورون أن لا نخاف إلا الله، ولا نتوكل إلا على الله، ولا نرغب إلا إلى الله، ولا نستعين إلا بالله، وأن لا تكون عبادتُنا إلا لله، فكذلك نحن مأمورون أن نتبع الرسول ونطيعه ونتأسى به، فالحلال ما حلله الله والحرام ما حرمه والدين ما شرعه.

ژباړه: دين په دوه اصولو کې خلاصه شوی دی: دا چې يواځې د الله تعالی بندګي وکړو، او په هغه طريقه يې وکړو

کومه چې روا شوې ده. په بدعي یا خود ساخته طریقو د الله تعالی بندګي ونکړو لکه الله تعالی فرمایي: "نو څوک چې له خپل رب سره د یو ځای کېدو په هیله وي، هغه ته په کار ده چې ښه عمل وکړي او په بندګۍ کې له خپل رب سره بل څوک شریک نکړي". او همدا د کلمې د ګواهیانو حقیقت دی چې د لا اله الا الله ګواهي ده او د محمد رسول الله ګواهي ده نو په اولې ګواهۍ کې همدا خبره ده چې مونږ به له الله تعالی پرته د بل چا عبادت نه کوو او په دویمې ګواهۍ کې دا خبره ده چې محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالی رسول دی چې د الله تعالی پیغامونه یې رسولي دي نو په مونږ لازم دي چې د هغه خبرونه رېښتوني وګڼو او د امر اطاعت یې وکړو او لکه څنګه چې مونږ ته امر شوی دی چې یوازې له الله تعالی ووېرېږو او یواځې الله تعالی ته ځان وسپارو او الله تعالی سره مینه وکړو او یوازې په الله تعالی سره مدد وغواړو او زمونږ ټول عبادتونه یوازې د الله لپاره شي، نو همداسې مونږ ته امر شوی دی چې د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تابعداري وکړو او د هغه اقتداء وکړو او طریقو پسې یې روان شو، نو هغه څه حلال وګڼو چې هغه حلال کړي یې وي او هغه څه حرام وګڼو چې هغه حرام

کړي يې وي او هغه دين پسې روان شو کوم چې هغه راوړی دی.

دا ټولې خبرې مونږ ته د توحيد د کلمې او د هغې د ارکانو، او د حاکميت ترمنځ جوره اړيکه ښايي، او دا دواړه په حقيقت کې د يوې سکې دوه مخه دي او همدا د توحيد عملي ترجمه ده چې د الله تعالی حاکميت ومنل شي، شريعت ته يې فيصله ويوړل شي، او که داسې نه وي نو بيا هسې دروغژنه دعوه ده او د منافقانو په څېر تش گومان دی چې هېڅ حقيقت نه لري.

## د کلمې د شرطونو سره د حاکميت اړيکه:

کلمه اته شرطونه لري چې دا دي: علم، يقين، اخلاص، صدق، محبت، انقياد، قَبول، کفر بالطاغوت. په دې شرطونو کې د انقياد او قبول شرطونه د کلمې او د حاکميت موضوع تر منځ په جوره اړيکه دلالت کوي. قبول او انقياد يعني د شريعت احکام قبلول او غاړه ورته ايښودل چې د شريعت ټول احکام ومنل شي او غاړه ورته کېښودل شي، دا خو يوه مسئله شوه.

دويمه مسئله: چې د حاکمیت موضوع سره یې جوړه اړیکه ده؛ د معتبر اقرار مسئله ده چې له امله یې انسان د الله تعالی په دین کې داخلیږي. خو دا اقرار بیا دوه خبرو ته شامل دی:

اول: له خپلې عقیدې خبر ورکول، خو دا یوازې پوره نه دی بلکې له دې سره دویم شی هم لازم دی چې هغه التزام دی یعنې د شریعت د احکامو پابندي کول. د اقرار ترڅنګ د شریعت د احکامو پابندي هم لازمه ده، لکه ابن حجر رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې قول یې مخکې ذکر شو؛ هغه همدې ته ترجیح ورکړې ده چې تر څو یې د شریعت د احکامو پابندي نه وي کړې یوازې په کلمې ویلو سره یې اسلام نه صحیح کیږي که څه هم ځینې علماء وایي چې استمراراً یې ایمان نه صحیح کیږي او په ایمان تر هغه دوام نشي موندلی تر څو چې د شریعت د احکامو پابندي ونکړي چې دې خبرې ته مخکې هم اشاره شوې وه.

## د توحید له ډؤلونو سره د حاکمیت اړیکه:

د توحید ډؤلونه چې مشهور یې درې دي چې عبارت دي له توحید ربوبیت، توحید الوهیت، توحید الاسماء والصفات

څخه؛ د حاکمیت له موضوع سره جوره اړیکه لري چې بیان یې په دې ډؤل دی:

## د توحید ربوبیت سره د حاکمیت اړیکه:

توحید ربوبیت ته وایي: هو إفراد الله سبحانه وتعالی في الأفعال، یعنې الله تعالی په خپلو کارونو کې یوازې ګڼل لکه د مخلوق پیدایش، پادشاهي،امر، تدبیر، تصرف او داسې نور، نو یو له هغو کارونو څخه چې الله تعالی په کې یوازې دی؛ قانون سازي ده لکه الله عز وجل فرمایي: إِنِ الْحُكْمُ إِلا لِلَّهِ [سورة یوسف: ٤٠]،

ژباړه: حاکمیت یوازې الله لره دی؛ بلکې حاکمیت د الله تعالی د امر او د تدبیر یوه عملي بڼه ده، چې پرته له دې د الله تعالی امر په عملي بڼه نه لیدل کېږي. نو څوک چې د الله تعالی ربوبیت مني او په خپلو ټولو کارونو کې یې یوازې ګڼي؛ نو هغه به مجبوراً د الله تعالی حاکمیت مني او په ټولو کارونو کې به یې امر ته غاړه ږدي، او دا نه چې د الله تعالی امر یا حکم یوازې تر جومات راښند کړي، بلکې د الله تعالی امر به

په هر کار او هر ځای کې مني لکه الله عز وجل فرمايي: قُلْ إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهُ لِلَّهِ [سُورَةُ آل عِمرَان : ١٥٤]،

ژباړه: ورته ووایه ای پیغمبره! یقینًا امر یا اختیار د فیصلو ټول یواځې الله لره دی. په آیت کې امر عام دی هر امر ته شامل دی که امر کوني یا شرعي وي، او که د عقیدې، عبادت، معاملاتو او نورو شیانو په اړه امر وي؛ په دغه ټولو کې به یوازې د الله تعالی امر چلیږي. شیخ عبد الرحمن السعدي په خپل کتاب [القول السدید في شرح کتاب التوحید صـ ١٢٦] کې وايي: **"فإن الرب والإله هو الذي له الحكم القدري، والحكم الشرعي، والحكم الجزائي، وهو الذي يُؤلَّه ويُعبَد وحده لا شريك له، ويطاع طاعة مطلقة فلا يعصى، بحيث تكون الطاعاتُ كلُّها تبعا لطاعته"** اهـ

ژباړه: یقینًا رب یا إله هغه ذات دی چې د هغه لپاره تقدیري حاکمیت، شرعي حاکمیت او د جزاء حاکمیت ثابت دی، او یوازې د هغه یو ذات بندګي به کیږي چې هیڅ شریک نه لري، او مطلقه تابعداري به یې کیږي چې هیڅ نافرماني به یې نه شي کیدای، په دې طریقه چې د هر چا تابعداري به د هغه د تابعدارۍ تابع وي.

نو حکم به مطلق الله تعالی ته ورګرځي برابره ده که دا حکم تقديري وي او که شرعي يا جزايي وي.

تقديري حکم ټول خلک مني يعني ټول خلک دا مني چې الله تعالی دغه موجوده شيان په تقدير کې ليکلي او بيا يې په کلمه د "کن" سره پيدا کړي دي.

او د شرعي حکم نه يې مراد: امر، نهي، تحليل او تحريم دي. او جزايي حکم نه مراد په دنيا او آخرت کې ثواب يا جزاء ورکول دي. نو مطلق حکم او حکم مطلق ټول يوازې د الله لپاره دی، که مونږ د الله تعالی په حاکميت يا حکم کې داسې تفصيل وکړو او ووايو چې د تقدير حاکميت يوازې الله لپاره دی خو شرعي حاکميت خپل ځان ته هم ثابت کړو يعني د شريعت په کارونو لکه امر، نهي، تحليل او تحريم کې خپل ځانونه واکدار وګڼو نو دا د الله تعالی سره د هغه په حکم کې ځان برخه دار جوړول دي، تر دې که څوک د جزا حکم يا واک هم خپل ځان ته ثابت کړي چې د خپلو جوړو شويو قوانينو سره سم چا ته عزت ورکوي او څوک ذليله کوي، يو ته سزا ورکوي او بل پرېږدي نو دا هم د الله تعالی سره د هغه په ځانګړي کار کې ځان برخه دار جوړول دي.

له دې امله وايو چې د الله تعالی قانون ته فيصله وړل او د هغه حاكميت منل د توحيد ربوبيت له تقاضاؤ څخه دي چې هېڅ خلاصون ترې نشته.

## د توحيد الاسماء والصفات سره د حاكميت اړيكه:

د توحيد الأسماء والصفات په تعريف کې وايو: د الله تعالی لپاره هغه نومونه او صفتونه ثابتول کوم چې الله تعالی د خپل ځان لپاره په قران کې او يا ورته رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ په احاديثو کې ثابت کړي دي پرته له تحريف، تعطيل، تشبيه او تمثيل څخه.

د الله تعالی لپاره په قران او سنت کې ډېر نومونه او صفتونه ثابت دي چې ځيني له هغو څخه دا دي: الله تعالی "حاكم" او "حَكم" ذات دی يعني فيصله كوونكى دى او د الله تعالی لپاره "حُكم" يعني د فيصلو اختيار دى، د الله تعالی دغه صفات د قران په ډېرو ايتونو کې ذكر دي چې ځيني له هغو څخه دا دي: الله تعالی فرمايي: إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ [سُورَةُ يُوسُف : ٤٠] ،

ژباړه: حاکمیت (واک، اختیار) یوازې الله لره دی حکم يې کړی دی چې له هغه پرته د بل چا بندګي مه کوئ. او بل ځای کې فرمايي: أَفَغَيْرَ اللهِ أَبْتَغِى حَكَمًا [سُورَةُ الأنعَام : ١١٤]،

ژباړه: آیا زه له الله پرته کوم بل فیصله کوونکی ولټوم؛ نو په دې آیت کې الله تعالی خپل ځان ته "حَکَم" يعني فيصله کوونکی ویلي دي. او همداراز بل ځای کې فرمايي: واللهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِۦ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ [سُورَةُ الرّعد : ٤١]،

ژباړه: الله تعالی حُکم کوي، هیڅوک د هغه د فیصلو رد کوونکی نه شته؛ او د هغه په حساب اخيستلو کښې څه ځنډ نه راځي.

او په بل آيت کې دي: أَلَا لَهُ الْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ الْحٰسِبِينَ [سُورَةُ الأنعَام : ٦٢]،

ژباړه: خبردار د فیصلو واک یوازې الله تعالی لره دی او هغه زر حساب کوونکی دی.

او په بل آيت کې دي: فَاصْبِرُوا حَتّٰى يَحْكُمَ اللهُ بَيْنَنَا وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِينَ [سُورَةُ الأعرَاف : ٨٧]،

ژباړه: صبر وکړئ تر څو الله تعالی زمونږ په منځ کې فیصله وکړي، او همغه تر هر چا ښه فیصله کوونکی دی. نو الله تعالی یوازې حاکم او فیصله کوونکی نه، بلکې له هر چا څخه غوره فیصله کوونکی، "أحکم الحاکمین" او "خیر الفاصلین" ذات دی او ورسره حکیم او علیم هم دی چې هره فیصله یې په علم او حکمت بنا وي، هر کله چې د الله تعالی لپاره د "حَکم، حاکم، حُکم، حکیم" صفتونه ثابت دي نو دغه صفات خپل آثار او تقاضاوې لري هغه دا چې د الله تعالی قانون ومنل شي او فیصلې ورته ویوړل شي لکه علامه ابن القیم رَحِمَهُ ٱللَّهُ د اسماؤ صفاتو د مبحث د حقیقت واضحه کولو په اړه باب راوړی دی چې په هغې کې ویلي دي: **فصلٌ الأسماء الحسنی والصفات العلی مقتضية لأثارها من العبودية والأمر إقتضائها لآثارها من الخلق والتكوين ا.هـ[مفتاح دارالسعادة ٢ /٩٠].**

ژباړه: فصل دې په بیان د دې کې چې د الله تعالی ښایسته نومونه او اوچت صفتونه تقاضا د خپلو آثارو کوي چې عبادت کول او د امرونو عملي کول دي پشانته د تقاضا د دغه نومونو او صفتونو د خپلو آثارو چې پیدایش او ایجاد کول دي. یعني څوک چې د الله تعالی لپاره اسماؤ صفات مني نو د هغې اثار

او تقاضاوې به هم مني لکه د الله تعالى لپاره د حَکم او حاکم صفات منل؛ د دې تقاضا کوي چې يوازې د الله تعالى قانون ته غاړه کېښودل شي او په هر څه کې يې حاکميت ومنل شي خو چې يو لور ته د الله تعالى دغه صفات مني او بل لور ته وضعي قانون حاکموي؛ دا په توحيد الاسماء والصفات باندې د ايمان دعوه باطلوي ځکه چې وضعي قانون حاکمول يا ورته فيصله وړل د توحيد الاسماء والصفات ضد او منافي کار دی چې له امله يې د توحيد دغه ډول نقض کېږي.

علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ د الله تعالى په نومونو کې د الحاد له ډولونو څخه څلورم ډول داسې بيان کړی دی هغه ويلي دي:

**ورابعها: تعطيلُ الأسماءِ عن معانيها وجَحْدُ حقائِقِها، كقَولِ من يَقولُ مِنَ الجَهْميَّةِ وأتباعِهم: إنَّها ألفاظٌ مُجَرَّدةٌ لا تتضَمَّنُ صِفاتٍ ولا معانيَ، فيُطلِقونَ عليه اسمَ السَّميعِ، والبَصيرِ، والحَيِّ، والرَّحيمِ، والمتكَلِّمِ، والمريدِ، ويَقولون: لا حياةَ له، ولا سَمْعَ، ولا بَصَرَ، ولا كلامَ، ولا إرادةَ تقومُ به. وهذا من أعظَمِ الإلحادِ فيها عَقلًا وشَرعًا ولُغةً وفِطرةً! [بدائع الفوائد: ١ /٢٩٨].**

ژباړه: د الحاد له ډولونو څخه څلورم ډول: د الله تعالى نومونه له خپلو معناګانو څخه لرې کول او د هغې له حقيقت

څخه انکار کول لکه جهمیه او د هغوی پلویان چې وايي: دا خالي الفاظ دي، صفتونو او معناګانو ته شامل نه دي، نو الله تعالی ته د سمیع، بصیر، حي، رحیم، متکلم او مرید نومونه کاروي خو وايي چې د الله تعالی لپاره ژوند نشته، اورېدل ورله نشته، لیدل ورله نشته، خبرې یې نشته، او اراده یې نشته چې دا د الله تعالی په نومونو کې د عقل، شریعت، لغت او فطرت په لحاظ تر ټولو ستر الحاد دی.

نو د الحاد په دې ډؤل کې معتزله او جهمیه بلکې اشاعره او ماتریدیه هم اخته دي دوی ټول په حقیقت کې جهمیه وو پسې تللي دي خو باطل ته د حق جامه اغوندي په دې طریقه چې د الله تعالی لپاره نوم ثابتوي خو معنا یې نفي کوي د دې مثال دا هم دی چې یو سړی الله تعالی حَکم او حکیم مني خو په عملي تطبیق کې د حال یا د قال په ژبه داسې ووايي: د الله تعالی لپاره حُکم، امر، نهي او قانون نشته او نه یې هم په بندګانو واک شته، چې دا په ښکاره توګه د الله تعالی د "حَکم، حاکم " او "حکیم" نومونو څخه انکار کول دي او هم له دغو صفاتو او د هغې له تقاضاؤ څخه انکار کول دي.

قاضي عياض رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **من نفى صفة من صفات الله تعالى الذاتية، أو جحدها مستبصرًا في ذلك كقوله: ليس بعالم، ولا قادر، ولا مريد، ولا متكلم، وشبه ذلك من صفات الكمال الواجبة، فقد نص أئمتنا على الإجماع على كفر من نفى عنه تعالى الوصف بها وأعراه عنها.[الشفا ٢/ ١٠٨٠، ١٠٨١].**

ژباړه: چا چې د الله تعالى له ذاتي صفاتو څخه يو صفت نفي کړ، يا يې سره له پوهې ترې انکار وکړ لکه چې ووايي: الله تعالى لپاره د علم، قدرت، اراده، کلام (خبرو) او دې ته ورته نور د کمال واجبه صفتونه ثابت نه دي، نو زمونږ امامانو په اجماع سره هغه چا ته کافر ويلي دي چې له الله تعالى څخه دغه صفات نفي کړي او رد يې کړي. نو شيخ دلته د هغه چا په کفر اجماع رانقل کړې چې د الله تعالى نومونه مني خو معناګانې او اثار ورله نه مني، بيا دلته له "جحد" څخه د زړه انکار مراد نه دی بلکې له زړه څخه يې مني لکه اوس چې هم ډېری طواغيت د الله تعالى لپاره د "حَکم، حاکم، حکيم" صفتونه مني خو د دغه نومونو او صفتونو د مقتضا او اثر څخه په علم، عمل او عبادت کې مخ اړوي. له دې امله د داسې خلکو

په کفر اجماع ده ځکه چې دوی د توحید الأسماء والصفات د مقتضا ضد ته راتګ کړی دی نو توحید یې مات شوی دی.

## د توحید الوهیت سره د حاکمیت اړیکه:

توحید الوهیت؛ الله تعالی په عبادت کې یوازې ګڼلو ته وایي، له عبادت څخه د بندګۍ ټول ډولونه مراد دي که له اندامونو سره اړیکه لري او که له زړه سره، خو چې د عبادت اطلاق ورباندې کېږي نو الله تعالی پورې به خاص وي، د عبادت ډولونه ډېر دي څه شعائر دي لکه لمونځ، روژه، زکات، حج، نذر (منښته) او داسې نور، چې په دې عبادتونو کې هر یو په خپله خاص طریقه ادا کېږي، او څه هم شرائع یعنې قوانین یا نظامونه دي لکه مدني قانون، تجاري قانون، اقتصادي قانون، جزايي قانون، او داسې نور، د عبادت په دې ټولو ډولونو کې له مونږ څخه دا مطلوب دي چې الله تعالی ته یې خاص کړو او بل هېڅوک ورسره شریک نه کړو که شعائر وي هم الله تعالی ته یې خاص کړو او که شرائع یا نظامونه وي نو هم د الله تعالی د حکم سره سم یې عملي کړو او د الله تعالی د اوامرو خلاف په کې ونه کړو، خو اوس د خفګان خبره دا ده چې د عبادت معنا ډېره خاص شوې او یوازې تر شعائرو رابنده شوې، حال دا

چې عبادت پراخه معنا لري چې شامله ده هر هغه وينا او عمل ته که ظاهري وي او که باطني؛ چې الله تعالی يې خوښوي او پرې راضي کېږي لکه څنګه چې شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ ورله دغه معنا کړې، د عبادت دغه پراخه معنا ته د قران په ډېرو آيتونو کې اشاره شوې چې ځينې له هغو څخه دا دي: الله عز وجل فرمايي: قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ؛ لَا شَرِيكَ لَهُۥۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرۡتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ [سُورَةُ الأنعَام :١٦٢، ١٦٣].

ژباړه: ووايه: زما لمونځ، زما د عبادت ټول مراسم، زما ژوند او زما مرګ، هر څه د کائيناتو د پالونکي الله جل جلاله لپاره دي؛ چې د هغه هېڅوك شريك نشته، د هماغه امر ما ته شوی دی، او تر ټولو لومړی د اطاعت سر ټيټوونکی زه يم.

نو په دې آيت کې د عبادت مفهوم يوازې تر ژوند شامل نه دی بلکې تر مرګ هم شامل دی چې ستا مرګ هم بايد د الله تعالی عبادت حساب شي، دا ځکه چې الله عز وجل بندګان د خپل عبادت لپاره پيدا کړي دي لکه الله تعالی فرمايي: وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ [سُوَرةُ الذّاريَات : ٥٦].

ژباړه: ما پېریان او انسانان له دې پرته چې زما بندګي وکړي د بل څه کار لپاره ندي پیدا کړي. نو لکه څنګه چې د عبادت مفهوم لمونځ، روژه، زکات، حج، اذکار او دعاګانو ته شامل دی همداسې د الله تعالی د نورو اوامرو تابعدارۍ ته هم شامل دی لکه په سیاسي، اقتصادي، مدني، جنګي، صلحه ییز او نورو کارونو کې د الله تعالی د اوامرو لحاظ ساتل او له هغې سره یې سم عملي کول عبادت بلل کېږي، خو په یو څو شعایرو کې د الله تعالی تابعداري عبادت بلل او په نورو کې یې تابعداري عبادت نه بلل د عبادت په معنا کې تحریف دی، چې په دې تحریف کې د اوسنۍ زمانې ډېری خلک اخته دي ـ أعاذنا الله منه ـ

نو د دغه نورو عبادتونو تر څنګ د عبادت یو ډول چې د ډېرو خلکو له ذهنونو څخه وتلی دی؛ د الله تعالی د حاکمیت منلو او د هغه قانون ته د "تحاکم" یعنې د فیصلې وړلو عبادت دی او دا خبره مخکې هم ثابت شوه چې د ژوند په ټولو چارو کې د الله تعالی حاکمیت منل او د الله تعالی د حکم سره سم یې عملي کول عبادت دی، نو لکه څنګه چې الله تعالی د عبادت په دغه نورو ډولونو کې یوازې ګڼل پکار دي؛ همداسې یې د

حاكميت او د تحاكم په عبادت کې هم يوازې وګڼه، او لکه
څنګه چې له الله تعالی څخه پرته د بل چا په نوم منښته،
حلاله، يا له بل چا څخه دعا، فرياد، يا ورته سجده کول شرک
دی؛ همداسې د الله تعالی له حاکميت او د هغه قانون ته له
تحاکم پرته د بل چا حاکميت منل يا يې قانون ته تحاکم يعنې
فيصله وړل هم شرک دی. د دې دواړو تر منځ هېڅ توپير نشته
الله عز وجل فرمايي: ﴿إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ
ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ﴾ [سُورَةُ يُوسُف : ٤٠].

ژباړه: د فرمانروائۍ قدرت له الله څخه پرته د بل هېچا
لپاره نشته. د هغه حکم دی چې پرته له هغه څخه پرته تاسې
د بل هېچا بندګي مه کوئ. دا د ژوند سمه سيخه لاره ده.

په دې آيت کې الله تعالی خپل حاکميت د حصر په الفاظو
ثابت کړی دی او د عبادت دغه ډول يې خپل ځان ته خاص
کړی چې يوازې د الله تعالی حاکميت په هر څه کې ومنل شي
بيا يې وروسته ورپسې د عبادت امر کړی او هغه يې هم خپل
ځان ته خاص کړی دی؛ په دې کې دې خبرې ته اشاره ده لکه
څنګه چې الله تعالی په عبادت کې يو ګڼل پکار دي همداسې

يې په حاکمیت کې هم یو وګړه چې د عبادت صحیح معنا د همدې تقاضا کوي، خو که چېرې په حاکمیت کې د الله تعالی سره نور برخه داران جوړ شي نو د دې معنا دا ده چې تا د الله تعالی سره په عبادت کې شرک وکړ. د دې خبرې پخلی په بل آیت کې هم شوی الله عز وجل فرمايي: وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا [سُورَةُ الكهف : ٢٦].

ژباړه: او هغه په خپل حُکم کښې څوك نه شريكوي.

په دې آیت کې د "شرک في الحکم" یعني په حاکمیت کې د الله تعالی سره څوک شریکول د نفي په صیغې سره بیان شوي خو د ابن عامر په قراءت کې چې یو له لسو قرائتونو څخه دی؛ دا خبره د نهي په صیغې سره بیان شوې لکه په هغې کې داسې راغلي دي: وَلَا تُشْرِكْ فِي حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا.

ژباړه: د الله تعالی سره د هغه په حاکمیت کې هېڅوک مه شریکوه. بیا په همدغه سورة کې د الله تعالی سره په شعائرو کې له برخه دار جوړولو څخه منعه راغلې نو الله تعالی فرمايلي دي: وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًا [سُورَةُ الكهف : ١١٠].

ژباړه: او په بندګۍ کې له خپل رب سره بل څوك شريك نکړي. معلومه شوه چې په عبادت کې د الله تعالی سره برخه دار جوړول او يا ورسره په حاکميت کې برخه دار جوړول؛ دواړه يوشان شرک دی چې تر منځ يې هېڅ توپير نشته.

شيخ محمد الأمين الشنقيطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دغه حقيقت واضحه کولو په اړه داسې وايي: **الإشراك باللهِ في حُكمِه، والإشراك به في عبادتِه كِلاهما بمعنًى واحدٍ، لا فَرْقَ بينهما ألبتَّةَ؛ فالَّذي يتَّبِعُ نظامًا غيرَ نظامِ اللهِ، وتشريعًا غيرَ ما شرَّعه اللهُ وقانونًا مخالِفًا لشرعِ اللهِ مِن وَضْعِ البشَرِ، مُعْرِضًا عن نورِ السَّماءِ الَّذي أنزَله اللهُ على لسانِ رسولِه، مَن كان يفعَلُ هذا، هو ومَن كان يعبُدُ الصَّنمَ ويسجُدُ للوثَنِ، لا فَرْقَ بينهما ألبتَّةَ بوجهٍ مِن الوجوهِ، فهما واحدٌ، فكلاهما مُشرِكٌ باللهِ، هذا أشرَكَ به في عبادتِه، وهذا أشرَكَ به في حُكمِه، كِلاهما سواءٌ [يُنظر: العذب النمير٥/٤٤١].**

ژباړه: د الله تعالی سره د هغه په واکمنۍ کې څوک شريکول او د الله تعالی سره د هغه په عبادت کې څوک شريکول دواړه په يوه معنا دي، تر منځ يې هېڅ توپير نشته، نو هغه څوک چې د الله تعالی له نظام پرته د بل چا د نظام تابعداري کوي او د الله تعالی له قانون پرته د بل چا د قانون تابعداري کوي، د هغه مخالف قانون تابعداري کوي چې

انسانانو جوړ کړی وي، په داسې حال کې چې د هغه آسماني رڼا څخه مخ اړوي کوم چې الله تعالی د خپل پیغمبر په ژبه بیان کړې ده، څوک چې داسې کوي د هغه کس، او هغه څوک چې د بت عبادت کوي او سجده ورته کوي؛ دواړو تر منځ هیڅ توپیر په هیڅ شي کې نشته، دواړه یو شان دي، دواړو د الله تعالی سره برخه دار جوړ کړی، دې یو د الله تعالی سره په عبادت کې برخه دار جوړ کړی او دې بل د الله تعالی سره په حاکمیت ـ واکمنۍ ـ کې برخه دار جوړ کړی، دواړه د یو بل سره برابر دي.

معلومه شوه چې له الله تعالی پرته د بل چا حاکمیت منل یا یې قانون ته فیصله وړل د الله تعالی سره په عبادت کې برخه دار جوړول دي ځکه چې حکم یا تحکیم یعني د الله تعالی حاکمیت منل او قانون ته یې فیصله وړل عبادت دی چې بل چا ته یې گرځول شرک او د توحید الوهیت منافي دی.

همدا راز د بل چا حاکمیت منل یا یې قانون ته فیصله وړل د عبادت د یوې بلې برخې سره هم منافي دی چې هغه د طاعت برخه ده ځکه چې د الله تعالی او د هغه د رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طاعت کول عبادت دی بلکې طاعت د عبادت د ارکانو چې

مينه، وېره او اميد دي؛ د ربښتنوالي نښه او د عبادت د ډؤلونو عملي ترجمه ده نو د بل چا مطلقه تابعداري کول په دې معنا چې د شريعت خلاف خبره يې هم منل؛ د الله تعالى سره په طاعت کې برخه دار جوړول دي چې د طاعت شرک بلل کېږي ځکه مطلقه تابعداري به يوازې د الله تعالى کېږي او د بل هر چا تابعداري به د الله تعالى او د هغه د رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تابعدارۍ تابع وي خو د بل چا په هغه څه کې تابعداري کول چې د الله تعالى او د هغه د رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امر نه په ښکاره توګه خلاف وي؛ د طاعت شرک بلل کېږي، ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ د عبادت په تعريف کې وايي: **العبادة إنما هى الاتباع والانقياد مأخوذة من العبودية وإنما يعبد المرء من ينقاد له ومن يتبع أمره [الإحكام في أصول الأحكام لابن حزم -دارالحديث - المجلد ١ - الصفحة ٩٠].**

ژباړه: عبادت تابعدارۍ او غاړه اېښودلو ته وايي چې له "عبودية" څخه اخستل شوی، او بنده د هغه چا عبادت کوي د چا خبرې ته چې غاړه ږدي او د امر تابعداري يې کوي.

نو څوک چې د بل چا مطلقه تابعداري کوي هغه مشرک دی، له دې امله د شيطان تابعدارۍ ته عبادت ويل شوي، د

خواهش تابعدارۍ ته عبادت ویل شوي، یهودو او نصاراو چې کله د الله تعالی د امر خلاف د خپلو مشرانو تابعداري وکړه نو دې ته یې عبادت وویل لکه په حدیث د عدي بن حاتم رضي الله عنه کې چې ترمذي راوړی دی؛ دغسې راغلي دي. همدا راز الله عزوجل فرمایي: إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ، ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ ۖ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ [سُورَةُ محَمَّد :٢٥، ٢٦].

ژباړه: حقیقت دا دی کوم کسان چې د هدایت له روښانه کېدو څخه وروسته په شا وګرځېدل، د هغو لپاره شیطان دغه کړنلاره آسانه کړې ده او د درواغجنو هیلو لړۍ یې د هغو لپاره اوږده کړې ده. له همدې امله دوی د الله تعالی د نازل کړي دین بد ګڼونکو ته وویل چې په ځینو چارو کښې به موږ ستاسې (حُکم) منو. الله تعالی د دوی په دغو پټو خبرو ښه پوهېږي.

په دې آیت کې الله عز وجل په هغه چا باندې د ارتداد حکم کړی دی ځوک چې حق پېژني خو بیا هم د هغه چا تابعداري کوي ځوک چې د الله تعالی احکام بد ګڼي، که څه

هم په تولو کارونو کې يې تابعداري نه کوي بلکې په ځينو کارونو کې يې تابعداري کوي او نه هم ورته ښکاره شعاير ورګرځوي لکه لمونځ، روژه او داسې نور، بلکې يوازې طاعت يې کوي، نو د هغه چا به څه حال وي ځوک چې په ځينو کارونو کې نه، بلکې په ډېرو کارونو کې د داسې چا تابعداري کوي چې د الله تعالى ټول احکام بد ګڼي بلکې ځانونو ته مشرعين يا قانون سازان هم وايي او په خلکو باندې په زوره دغه قوانين عملي کوي، داسې خلک به خامخا مرتد وي او د آيت حکم به ورته شامل وي.

شيخ محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **والشرك الأكبر أربعة أنواع..."النوع الثالث" : شرك الطاعة، والدليل قوله تعالى : {اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَاباً مِنْ دُونِ اللهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهاً وَاحِداً لا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ}وتفسيرها الذي لا إشكال فيه، طاعة العلماء والعباد في المعصية لا دعاؤهم إياهم، كما فسرها النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لعدي بن حاتم لما سأله، فقال: لسنا نعبدهم ، فذكر له أن عبادتهم طاعتهم في المعصية. [الرسالة المفيدة للشيخ محمد بن عبد الوهاب ١/ ٤٤].**

ژباړه: غټ شرک په څلور قسمه دی... دریم قسم یې: د طاعت شرک دی دلیل پرې د الله تعالی دا وینا ده چې فرمایي: "دوی خپل عالمان او روحانیون له الله تعالی پرته خپل ارباب نیولي دي او همدغه راز مسیح علیه السلام د مریم زوی یې هم. په داسي حال کښې چې دوی ته له یو معبود (الله) څخه پرته د بل هیچا د بندگۍ کولو حکم نه ؤ ورکړ شوی. هغه ذات چې له هغه پرته بل هیڅوك د عبادت وړ نشته، د هغو مشرکانه خبرو څخه پاک دی چې دوی یې کوي". د دې هغه تفسیر چې کومه ستونزه نه لري؛ په گناه کې د علماوو او د نیکانو اطاعت کول دي، نه له هغوی څخه دعا غوښتل، لکه څنگه تفسیر چې یې نبي علیه السلام عدي بن حاتم رضي الله عنه ته کړی دی کله چې ترې هغه پوښتنه وکړه، بیا هغه وویل: مونږ د دوی عبادت نه کوو، نبي علیه السلام ورته وفرمایل: د دوی عبادت په گناه کې یې طاعت کول دي.

له دې وضاحت څخه معلومه شوه چې طاعت د عبادت یوه مهمه برخه ده، څوک چې له الله تعالی پرته د بل چا حاکمیت مني یا یې قانون ته فیصلې وړي؛ د طاعت په شرک کې اخته کېږي چې د توحید الوهیت ضد دی.

الغرض د حاكميت موضوع چې اوس وخت د خلکو له ذهنونو څخه وتلي او د نورستاني په څېر ډېرو ناکاره ملايانو په دې پلمه تحريف کړې چې توحيد الحاکمية د توحيد په ډؤلونو کې شمار نه دی؛ ډېر وضاحت ته اړتيا لري خو د کتاب زيات طوالت له امله په همدې بسنه کوو، د حق پلټونکو ته په کې رڼا شته، خو دلته دا يوه خبره اړينه ګڼو چې له دې وضاحت څخه زمونږ هدف لوستونکو ته د حاکميت موضوع اهميت په ډاګه کول وو، نه دا چې توحيد الحاکمية د مستقل ډؤل په توګه خلکو ته وروپېژنو ځکه په دغه اصطلاح کې که څوک يې کاروي او که نه، مونږ ورسره اختلاف نه لرو مونږ له هغه چا سره ژور اختلاف لرو چې د توحيد الحاکمية معنا يا مضمون څخه انکار کوي او يا د نورستاني په څېر د توحيد الحاکمية د نوم څخه په انکار کولو سره د دې له معنا او مضمون څخه انکار کولو ته لاره خلاصول او دا موضوع بې قدره کول، بې اهميته کول، او د طواغيتو حاکميت ته مشروعيت ورکول يې هدف وي، نو داسې خلکو سره مونږ عقيدوي اختلاف لرو او خپلو مسلمانانو ورونو ته د دوی پليتي او خيانتونه په ډاګه کوو بإذن الله، او دا مونږ په نورستاني او د هغه په مل پلاوي کوم

بې ځایه تور نه لګوو بلکې تاسو به وګورئ چې دوی د حاکمیت معنا په څومره ځایونو کې تحریف کړې او د چا له حاکمیت څخه یې دفاع کړې ده ان شاء الله.

## مسئله: موجوده مرتد حاکمان مکفره ګناه کې اخته دي.

د رسالې لیکوال د أهل السنة والجماعة په اصولو کې یو اصل دا ویلی دی: **إن من أصول أهل السنة والجماعة: الاجتناب عن تكفير المسلمين حكامهم، وعوامهم بالذنوب، ولا يخرجون أحدا من الإيمان بالذنب و لا يكفّرونه، وأنهم متفقون على أن مرتكب الكبائر لا يكفّر كفرا ينقل عن الملة بالكلية [المنهج المتفق عليه ص: ١٤، ١٥].**

ژباړه: د اهل السنة والجماعة له اصولو څخه ځینې په دې ډؤل دي: مسلمانان که حاکمان وي، که عوام؛ د ګناهونو له امله یې له تکفیر څخه ډډه کول، او دوی (اهل السنة والجماعة) د ګناه له امله هېڅوک له ایمان څخه نه وباسي او نه ورته د کفر نسبت کوي او دوی په دې متفق دي چې د کبیره ګناهونو مرتکب په داسې کفر کې اخته نه دی چې له امله یې له دین څخه مرتد شي.

په دې عبارت کې يې تلبيس کړی دی نو په پيل کې يې مطلق گناهونه د تکفير له حکم څخه ويستي دي برابره ده که مکفّره گناهونه وي او که غير مکفّره يعني هغه گناهونه چې د تکفير لامل وي او هغه چې نه وي، او په آخر کې يې د کبيره گناهونو يادونه کړې ده، او دا تلبيس يې له همدې امله کړی دی چې د اوسنۍ زمانې مرتد حاکمان کوم چې د لسگونو اجماعي نواقضو درلودونکي دي او تکفير يې واجب دی؛ د هغوی مکفّره گناهونه هم په عامو کبائرو گناهونو سره توجيه شي ځکه چې کله د مکفّره او غير مکفّره گناهونو تر منځ توپير ونشي نو د ذکر شوي اصل په اساس د مرتدو حاکمانو او د هغوی د غړو د تکفير کومه لار نه پاتې کېږي، له همدې امله يې د حاکمانو يادونه په ځانگړي توگه کړې او بيا يې هسې تبعاً د عامو مسلمانانو يادونه هم کړې ده. خو اصلي مقصد يې عام مسلمانان نه، بلکې مرتد حاکمان دي چې دا خبره يې د رسالې له مجموعي طرز څخه جوتېږي ځکه د عامو مسلمانانو تکفير په دې زمانه کې رايج نه دی بلکې د مرتدو حاکمانو تکفير له پخوا راهيسې د اهل السنة والجماعة موحدينو تر منځ رايج دی، خو د رسالې ليکوال چې مونږ ته يې اصلي مرض په ډاگه دی د

داسې خبرو تر شاه يې د مرتدو حاكمانو دفاع غرض وي نو ځکه خو يې تلبيس کړی دی؛ دعامو کبيره گناهونو او د مکفره گناهونو تر منځ يې توپير نه دی کړی او نه يې د مرتدو حاکمانو او د عامو مسلمانانو تر منځ توپير کړی بلکې عام مسلمانان يې د دې زمانې د مرتدو حاکمانو سره جم کړي دي او عام مفسقه گناهونه يې د دې زمانې د مرتدو حاكمانو د مکفره گناهونو سره جم کړي دي، چې داسې تلبيساتو ته به يې مونږ په راتلونکي کې ځای پر ځای اشاره کوو او وروسته به دا خبره هم راشي چې دوی د مکفّره گناهونو په اطلاق کې د سلفو سره څومره مخالف دي ـ ان شاء الله ـ خو اوس مونږ د خپل شرعي مسؤليت ادا کولو په پار وايو چې د اهل السنة والجماعة همدا مذهب دی چې د کبيره گناه مرتکب که حاکم وي او که محکوم وي تر څو چې ترې د اسلام معتبر ناقض نه وي صادر شوی؛ مرتد يې نه گڼي بلکې فاسق مومن يې گڼي او همدا زمونږ عقيده ده او بايد د ټولو مسلمانانو همدا عقيده اووسي چې تفصيل ته په کې وروسته راځو ان شاء الله. خو په دې رساله کې چې کوم ځای کې هم د حاکمانو يادونه شوې او دفاع ترې شوې نو دا خبره مونږ په غير حانث قسم سره کولی شو

چې له دې څخه یې یوازې ابو بکر، عمر، عثمان، علي رضوان الله علیهم اجمعین او نه هم له هغوی څخه وروسته نیکان خلفاء یا حاکمان مراد دي بلکې له دې څخه یې د موجوده زماني طاغوتي حاکمان مراد دي لکه:

د افغانستان د شرکي تصوف په افکارو اخته حاکمان، د پاکستان سیکولر مرتدین، د سعودي د آل سلول کورنۍ سیکولر حاکمان او د مصر د قبطیانو ساتونکي حاکمان او د ترکیه د اخوان الشیاطین مرتد حاکمان، او نور یې مراد دي او دا خبره مونږ په دې دلیل کوو چې دغه حاکمانو ته که څوک د اسلام د ښکاره او اجماعي نواقضو له امله مرتدین ووایي؛ دوی هغه کس مبتدع او خارجي ګڼي او څوک چې ورته مسلمانان وایي، دعاګانې ورته غواړي، سمع، طاعت او خیر خواهي یې واجب ګڼي؛ هغه کس دوی سوچه سنّي ګڼي او د نبي علیه السلام د سنتو بشپړ تابعدار یې ګڼي چې په دې خبره یې ټوله رساله ګواه ده، او همدا هغه حقیقت دی چې دوی ترې انکار نشي کولی، که چېرې دوی له دغه حقیقت څخه انکار کوي او ځان بېزاره ګڼي نو په دوی باندې د دغه حاکمانو چې په لسګونو اجماعي نواقضو کې اخته دي؛ تکفیر لازمېږي، ځکه چې یا به یې

مسلمانان ګڼي نو دفاع به ورڅخه کوي لکه څنګه چې يې همداسې کړي، او يا به يې کافران ګڼي نو تکفير به يې کوي ځکه چې د کافر تکفير يو شرعي حکم دی انکار ورڅخه نشي کېدای او داسې کله هم نشي کېدای چې نه دې کافر وي او نه هم مسلمان، ځکه دريمه لار يې نشته، نو اضطراراً به يوې خبرې ته ترجيح ورکوي او هغه ترجيح يې همدې ته ده چې دا حاکمان د ابو بکر او عمر پشان شرعي حاکمان دي د ګناهونو له امله يې له بيعت او طاعت څخه وتل جائز نه دي لکه څنګه چې د خلفاء راشدينو د بيعت څخه وتل جايز نه وو که څه هم د کفارو سره اعانت کوي او يا وضعي قوانين حاکموي او يا هم نور مکفره ګناهونه ترسره کوي هغې ته يې د کفرٌ دون کفرٍ په سترګه ګوري، او هم يې اعانت او نصرت واجب ګڼي چې له دغو ناکاره ملايانو څخه د همداسې خبرو تمه کېدلی شي، انا لله وانا اليه راجعون.

نو اوس د دغه قاعدې چې دوی راوړې ده صحيح توجيه يې څه ده؟ صحيح توجيه يې دا ده چې ګناهونه په دوه ډوله دي:

**يو ډول:** عام كبيره گناهونه دي كوم چې مكفّره نه وي او د كفر لامل نه گڼل كېږي خو په دې شرط چې حلال به يې نه گڼي، نو په كبيره گناه سره مسلمان نه كافر كېږي ځكه كبيره گناه د ايمان سره جمع كېږي لكه څنگه چې شرک اصغر، كفر اصغر، نفاق اصغر د ايمان سره جمع كېږي.

**دويم ډول:** مكفره گناهونه دي يعنې هغه گناهونه چې د كفر لامل گڼل كېږي پرته له استحلال څخه، ځكه استحلال د كبيرې گناه هم كفر دی كه څه هم مكفّره نه وي چې دې خبرې ته بيا په خپل ځای كې راگرځو ان شاء الله. خو كه په گناهونو كې دغه ويش ته اعتبار ورنكړل شي او خبره مطلقه وشي چې بيخي په گناه سره څوک نه كافر كېږي كه څه هم مكفره وي نو بيا د اهل السنة والجماعة له مذهب څخه په ډېرو ځايونو كې خلاف راځي چې ځينې له هغو څخه دا دي: لكه د قران سپكاوی گناه ده، الله او رسول پسې ټوقې كول گناه ده، بت ته سجده كول گناه ده، د پيغمبرانو وژل گناه ده. خو اهل السنة والجماعة د دغه خلكو تكفير كړی،بلكې د ځينو متعين اعمالو په پرېښودلو يې هم د تكفير قول كړی لكه په روايت كې راځي:

**قال الخلال: أنبأنا محمد بن ابي هارون أن إسحاق بن إبراهيم حدثهم قال: حضرت رجلا سأل أبا عبدالله - أي أحمد بن حنبل - فقال: يا أبا عبدالله، إجماع المسلمين على الإيمان بالقدر خيره وشره؟ قال نعم، قال: ولا نكفر أحدا بذنب؟ فقال أبو عبدالله: اسكت: من ترك الصلاة فقد كفر، ومن قال القرآن مخلوق فهو كافر.[مسند أحمد تحقيق أحمد شاكر(١/٧٩)].**

ژباړه: خلال وايي: مونږ ته محمد بن ابي هارون خبر راکړی دی چې اسحاق بن ابراهيم دوی ته حديث بيان کړی دی هغه وايي: زه يو سړي ته حاضر شوم چې هغه د ابو عبد الله يعني له احمد بن حنبل رَحِمَهُ ٱللَّهُ څخه يې پوښتنه وکړه، ويې ويل: ای ابو عبد الله آيا په تقدير د خير او شر باندې د ايمان لرلو په اړه د مسلمانانو اجماع ده؟ هغه وويل: هو، بيا هغه کس وويل: آيا په گناه سره به چا ته کافر نه وايو؟ نو ابو عبد الله ورته وويل: چوپ شه، چا چې لمونځ پرېښود هغه کافر شو او چا چې وويل: قران مخلوق دی نو هغه هم کافر شو.

او شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **قد اتَّفق المُسلِمون على أنَّه من لم يأتِ بالشَّهادتينِ فهو كافِرٌ، وأمَّا الأعمالُ الأربعةُ فاختَلَفوا في تكفيرِ تارِكِها، ونحن إذا قُلْنا: أهلُ السُّنَّةِ متَّفِقون على أنَّه لا يُكفَّرُ بالذَّنبِ، فإنَّما نريدُ به المعاصِيَ، كالزِّنا والشُّربِ، وأمَّا**

**هذه المباني ففي تكفيرِ تاركِها نزاعٌ مشهور، ا.هـ، [مجموع الفتاوى(٧/٢٠٢)]،**

ژباړه: د ټولو مسلمانانو په دې اتفاق دی چې څوک د شهادتينو کلمه ونه وايي هغه کافر دی او هر چې دا څلور عملونه دي(يعني لمونځ، روژه، زکات، حج) نو د دې د پرېښودونکي په تکفير کې يې اختلاف کړی دی او مونږ چې کله ووايو: اهل السنة په دې متفق دي چې په گناه سره به چا ته د کفر نسبت نشي کېدلی؛ په دې سره زمونږ عام گناهونه مراد وي لکه زنا او شراب، او هر چې دغه اصول (يعني له کلمې پرته د اسلام نورې بيناوې) دي نو د دې د پرېښودونکي په تکفير کې مشهور اختلاف دی.

د عقيدة الطحاويه شارح وايي: **ولهذا امتنع كثيرٌ من الأئمَّةِ عن إطلاقِ القَولِ بأنَّا لا نُكَفِّرُ أحدًا بذَنبٍ، بل يقالُ: لا نكَفِّرُهم بكُلِّ ذَنبٍ، كما تفعلُه الخوارجُ، وفَرْقٌ بين النَّفيِ العامِّ، ونفيِ العُمومِ، والواجب إنما هو نفي العموم مناقضة لقول الخوارج الذين يكفرون بكل ذنب [شرح الطحاوية (٢/ ٤٣٣ - ٤٤٢)].**

ژباړه: همدا لامل دی چې ډېرو امامانو له دې خبرې ډډه کړې :"چې مونږ هېچا ته د گناه له امله د کفر نسبت نه کوو"

، بلکې داسې به ویل کېږي: مونږ چا ته په هرې گناه د کفر نسبت نه کوو لکه څنگه چې یې خوارج کوي، نفي د عام او نفي د عموم تر منځ فرق دی، نفي د عموم واجب ده دې لپاره چې د خوارجو د وینا خلاف وشي کوم چې هره گناه د تکفیر لامل گڼي. (نفي د عام دا معنا چې په هېڅ گناه باندې څوک نه تکفیروو که څه هم مکفره گناه وي او نفي د عموم دا معنا چې هره گناه مکفره نه گڼل بلکې ځینې گناهونه مکفره گڼل چې په دې اړه خوارجو او معتزله وو افراط کړی او مرجئه وو تفریط کړی خو اهل السنة والجماعة درمیانه چلېدلي دي، نفي د عام نه یې اجتناب کړی خو نفي د عموم یې راجح کړی چې همدا خبره د شریعت د نصوصو سره موافق ده).

همدا راز د صحابه وو تر منځ د زکات د مانعینو تکفیر مشهور دی سره له دې چې گناه ده، او داسې نورې ډېری بېلگې په دې باب کې شتون لري.

## تكفير النوع والمعين.

بله مسئله د رسالې لیکوال د نوع او د معین تکفیر په اړه راوړې ده چې په دې اړه یې په خپله رساله کې داسې لیکلي دي: **ومن أصول أهل السنة أنهم يفرقون بين تكفير النوع، وتكفير المعين**

**فيحكمون على النوع بالكفر إذ وجد الناقض، و لا يحكمون على المعين إلا بعد إزالة الموانع ووجود الأسباب.[المنهج المتفق عليه صـ ١٥].**

ژباړه: د اهل السنة والجماعة له اصولو څخه دا دي چې دوی  تکفير د نوع او معين تر منځ توپير کوي نو په نوع (ډؤل) باندې د کفر حکم کوي کله چې ناقض موجود شي خو په معين کس د کفر حکم نه کوي مگر وروسته له دې چې موانع د تکفير يې زايله او اسباب يې موجود شي.

لمړی بايد تکفير د نوع او تکفير د معين وپيژنو: تکفير د نوع او د معين دې ته وايي چې په کفري کار باندې د کفر حکم کول خو معيّن شخص پرې نه تکفيرول يا په بل تعبير: د قول او قائل او د فعل او فاعل تر منځ فرق کول؛ دا يوه بدعي اصطلاح ده چې مرجئه وو راويستې ده او د شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د اقوالو نه يې په کې غلطه استفاده کړې؛ د اهل السنة والجماعة له اصولو سره يې هېڅ تړاو نشته بلکې دا اصطلاح مرجئه وو د خپلې فاسده عقيدې په اساس د دې هدف لپاره ايجاد کړې چې په دې سره د طاغوتي حاکمانو او د نورو اسلام ته منسوب مشرکانو لکه روافض، سيکولران، قبر

پرستانو...، د تکفیر مخه ونیول شي، حال دا چې سلفو د هغه چا په اړه دا اصطلاح نه ده کارولې له چا څخه چې ناقض د اسلام صادر شوی وي بلکې تکفیر د معیّن یې کړی دی او په باب د شرک اکبر کې یې جهل، تأویل یا خطا ته اعتبار نه دی ورکړی مگر په هغه مسایلو کې چې په عامو مسلمانانو باندې پټ وي چې "مسائل خفیه" ورته وایي؛ په دغه کې یې جهل ته اعتبار ورکړی تر دې چې مسئله ورته واضحه شي او حجت ورباندې قایم شي، او په "مسائل ظاهره"(هغه مسایل چې د دین له ضروریاتو څخه وي او هر عام خاص ورباندې خبر وي) کې یې پرته له درې کسانو د بل هېچا جهل ته اعتبار نه دی ورکړی او په باب د شرک اکبر کې یې معذور نه دی گڼلی چې هغه کسان دا دي: نوی اسلام راوړنکی، په اطرافي سیمو کې اوسیدونکی چې دعوت ورته نه وي رسېدلی، او هغه کس چې په دار الکفر کې پیدا شوی او رالوی شوی وي او د مسلمانانو په ټولنه کې یې وخت نه وي تیر کړی. که څه هم دغه درې کسانو ته یې موحّد نه دي ویلې بلکې لفظ د شرک یې ورته کارولی خو تکفیر او د تکفیر چې کوم احکام دي لکه قتل او تعذیب، د دې لپاره یې ورله اقامة د حجت شرط گرځولی، خو

له دغه کسانو پرته يې د هیڅ جهل يا تأويل ته اعتبار نه دی ورکړی، بلکې ناقض اختيارونکی يې په تعين سره تکفير کړی دی، چې په دې اړه راروان تفصيل ته ستاسو پام را اړوم:

د کافر تکفير کول يو شرعي حکم دی چې هيڅ انکار ترې نشي کېدای، الله عز وجل په قران کې په ډېرو ځايونو کې کافران په تعين سره تکفير کړي دي لکه ابليس، فرعون، ابو لهب او داسې نور، او له نبي عليه السلام څخه هم د ډېرو کافرانو او مرتدينو تکفير په تعين سره نقل دی لکه ابن ابي السرح يې تکفير کړی او وينه يې ورله مباح کړې وه خو بيا يې وروسته توبه ويستې ده ـ رضي الله عنه ـ، اسود عنسي يې تکفير کړی کله چې يې د نبي عليه السلام په زمانه کې د نبوت دعوه کړې وه، همداراز صحابه و مسيلمة الکذاب، سجاح کذابة او مانعين د زکات په تعين سره تکفير کړي دي، سلفو جهم بن صفوان، جعد بن درهم په تعين سره تکفير کړي، امام احمد بن حنبل؛ کرابيسي تکفير کړی، د مغرب علماوو خپل حاکمان عبيدين ملحدان د ممبرونو له پاسه په اعلاني ډول

تکفیر کړي، ځینو سلفو حجاج بن یوسف هم تکفیر کړی چې وروسته به ذکر شي، شیخ الاسلام ابن تیمیة؛ ابن سینا او الفخر الرازي په تعین سره تکفیر کړي(خو الفخر الرازي بیا وروسته توبه ویستې) او هم یې هغه خلک په تعین سره تکفیر کړي چې د علي رضي الله عنه په اړه غلو (د حد نه تجاوز) کوي یا هم د عیسی علیه السلام او نورو نیکانو په اړه غلو کوي په دې دلیل چې د استتابې مطالبه یې ترې کړې او استتابه خو له معین کس څخه وي او همداسې نور ډېری کسان سلفو په تعین سره تکفیر کړي دي او د تکفیر بالنوع تر څنگ یې تکفیر بالتعین هم کړی دی چې په دې اړه د سلفو فتواوې او عبارتونه رانقلوو:

## د معین تکفیر په اړه د سلفو فتواوې او عبارتونه:

۱ـ شیخ محمد بن عبد الوهاب یوه رساله د احساء علاقې یو عالم ته لیږلې چې نوم یې احمد بن عبد الکریم دی [کما في الرسالة الحادیة والعشرون في تاریخ نجد ص٣٤٦] دغه احمد بن عبد الکریم الاحسائي چې قبر پرسته مشرکان یې د جهل له امله معذور گڼل او تکفیر د نوع یې جایز گاڼه، خو تکفیر د معین

يې نه كاوه نو شيخ محمد بن عبد الوهاب ورته په دغه رساله كې ډېره اوږده خبره كړې ده ويلي دي : "**وتأمل تكفير( ابن تيمية ) لرؤسائهم فلاناً وفلاناً بأعيانهم ، وردتهم ردة صريحة. و تأمل تصريحه بحكاية الإجماع على ردة الفخر الرازي عن الإسلام مع كونه عند علمائكم من الأئمة الأربعة، هل يناسب هذا لما فهمت من كلامه أن المعين لا يكفر، ولو دعى عبد القادر في الرخاء والشدة ، ولو أحب عبد الله بن عون وزعم أن دينه حسن مع عبادته أبي حديدة... واذكر كلامه في الإقناع وشرحه في الردة كيف ذكروا أنواعا كثيرة موجودة عندكم ، ثم قال منصور البهوتي : وقد عمت البلوى في هذه الفرق و أفسدوا كثيرا من عقائد أهل التوحيد نسأل الله العفو والعافية ثم ذكر قتل الواحد منهم وحكم ماله هل قال واحد من هؤلاء من الصحابة إلى زمن منصور البهوتي إن هؤلاء يكفر أنواعهم لا أعيانهم [الدرر السنية ( ١٠ /٦٣.٧٤ )].**

ژباړه: او ابن تيميه ته فكر وكړه چې د دوی مشران فلان فلان يې په تعين سره تكفير كړي دي چې ارتداد يې ښكاره و، آيا مناسب دي چې ته د ابن تيميه له خبرو داسې فهم اخلې چې د معين كس تكفير به نشي كېدای، كه څه هم عبد القادر په خوشالۍ او سختۍ كې رابلي او كه څه هم د عبد الله بن عون سره مينه ولري او دا گومان وكړي چې د هغه دين ښايسته دی،

ورسره د ابي حديده عبادت هم ملګری کړي (بيا په دغه رساله کې د هغه چا له يادونې وروسته چې سلفو تکفير کړي دي) وايي: وګوره د هغه خبرې په " الإقناع وشرحه" په"الردة" باب کې؛ سلفو څنګه ډېر ډلونه چې له تاسې سره موجود دي ياد کړي دي، بيا منصور البهوتي ويلي دي: د دې ډلو(يعنې حلوليه، اتحاديه، روافض، باطنيه، قرامطه) په اړه ډېر لوی مصيبت رامنځته شوی او د موحدينو ډېر عقايد يې خراب کړي دي، مونږ د الله نه معافي او سلامتی غواړو. بيا يې له دوی څخه د يو کس د قتل يادونه کړې او د هغه د مال حکم يې بيان کړی دی، آيا په دغه سلفو کې له صحابه وو څخه نيولې تر د منصور البهوتي زمانې پورې چا داسې ويلي دي چې د دې خلکو انواع به تکفير کېږي خو اعيان يا اشخاص به يې نه تکفير کېږي. (په دې عبارت کې شيخ محمد بن عبد الوهاب هغه څوک تکفير کړي دي چې د عبد القادر جيلاني عبادت به يې کاوه).

٢ـ شيخ محمد بن عبد الوهاب په بل ځای کې [كما في الدرر (٩ / ٤٠٥-٤٠٦)] وروسته له هغه چې د تکفير په اړه يې د شيخ الاسلام ابن تيميه خبره رانقل کړې؛ ويلي دي : **وكلام ابن تيمية في كل موضع وقفنا عليه من كلامه لا يذكر عدم تكفير المعين**

إلا ويصله بما يزيل الأشكال أن المراد بالتوقف عن تكفيره قبل أن تبلغه الحجة ، وأما إذا بلغته الحجة حكم عليه بما تقتضيه تلك المسألة من تكفير أو تفسيق أو معصية ،وصرح ابن تيمية رضي الله أيضا أن كلامه في غير المسائل الظاهرة فقال في الرد على المتكلمين لما ذكر أن بعض أئمتهم توجد منه الردة عن الإسلام كثيرا قال : وهذا إن كان في المقالات الخفية فقد يقال أنه فيها مخطئ ضال لم تقم عليه الحجة التي يكفر تاركها ولكن هذا يصدر عنهم في أمور يعلم الخاصة والعامة من المسلمين أن رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ بعث بها وكفر من خالفها مثل عبادة الله وحده لا شريك له ونهيه عن عبادة أحد سواه من الملائكة والنبيين وغيرهم فإن هذا أظهر شعائر الإسلام ومثل إيجابه للصلوات الخمس وتعظيم شأنها ومثل تحريم الفواحش والزنا والخمر والميسر ، ثم تجد كثيرا من رؤسهم وقعوا فيها فكانوا مرتدين ،.... لا نعلم عن واحد من العلماء خلافا في هذه المسألة.

ژباړه: او په هر ځای كې مونږ ته د ابن تيميه رَحِمَهُٱللَّهُ له خبرې څخه دا معلومه شوې چې هغه د معيّن كس عدم تكفير ( نه تكفيرول )نه يادوي مگر پيوسته ورپسې داسې خبره راوړي چې اشكال ختموي چې د معين كس په تكفير كې يې له توقف څخه مراد د حجت له قايمېدو څخه مخكې زمانه ده خو كله چې ورته حجت ورسېږي نو بيا پرې د دغه مسئلې د

تقاضا مطابق حکم کوي چې د تکفیر یا د فسق یا د گناه حکمونه دي او ابن تیمیه رضي الله عنه دا خبره هم کړې چې د هغه دا خبره (یعني د معین کس نه تکفیرول) له مسائل ظاهره(ښکاره مسایلو) پرته په نورو کې ده نو په متکلمینو باندې یې په رد کې ویلي دي کله چې یې دا خبره کړې چې د دوی له ځینو امامانو څخه ډېری کرت له دین څخه ارتداد راڅرگند شوی نو ویلي دي: او دا که چېرې په پټو مسایلو کې وی نو داسې به ویل کېدلی چې دا په دې خبره کې خطا شوی دی، گمراه دی، داسې حجت ورباندې نه دی قایم شوی چې پرېښودونکی یې کافر شي خو د دوی نه دا خبرې په داسې کارونو کې صادرېږي چې هر خاص او عام مسلمانان په دې پوه دي چې رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ په دې خبرو رالېږل شوی او د دې خلاف کوونکی یې تکفیر کړی لکه د یو الله تعالی عبادت کول چې هېڅ برخه دار نه لري او د الله تعالی له عبادت پرته یې د بل هر چا له عبادت څخه منع کړې ده چې ملائک، انبیاء او نور دي، ځکه دا د اسلام تر ټولو ښکاره شعایر یا نښې دي، او د پنځه وخته د فرض لمونځ په څېر او د هغې د مرتبې درناوی کول، او د بې حیایي، زنا، شراب، جواري د حراموالي

په خير، بیا به ته د دوی ډېر مشران ګورې چې په دې کارونو کې اخته شوي دي نو مرتد شوي دي( بیا یې د حجت له رسېدو وروسته د معین تکفیر مسئله راوړې نو ویلي دي:) مونږ ته د یو عالم خلاف په دې مسئله کې معلوم نه دی.

٣ـ شیخ ابا بطین په خپله رساله "تكفير المعين الذي أشرك بالله ولو جاهلا" کې ویلي دي : **وكلام العلماء في تكفير المعين كثير وأعظم أنواع هذا الشرك عبادة غير الله وهو كفر بإجماع المسلمين ولا مانع من تكفير من اتصف بذلك لأن من زنا قيل فلان زان ومن رابا قيل فلان رابا . اهـ [و انظر مجموعة المسائل ٦٥٧/١].**

ژباړه: او علماوو د معین په تکفیر کې ډېره خبره کړې او د دغه ډول شرک تر ټولو لوی ډول د غیر الله عبادت کول دي او دا د مسلمانانو په اجماع سره کفر دی او د هغه چا له تکفیر څخه هیڅ مانع نشته چې په دغه صفت موصوف شي ځکه څوک چې زنا وکړي ویلی کېږي فلانکی زناکار دی او څوک چې سود وکړي ویلی کېږي فلانکی سودخور دی.

٤ـ شیخ ابا بطین په بل ځای کې وایي : **نقول في تكفير المعين ظاهر الآيات والأحاديث وكلام جمهور العلماء يدل على كفر من أشرك بالله فعبد معه غيره ولم تفرق الأدلة بين المعين وغيره قال**

تعالى : (إن الله لا يغفر أن يشرك به) وقال تعالى (فاقتلوا المشركين حيث وجدتموهم) وهذا عام في كل واحد من المشركين ، وجميع العلماء في كتب الفقه يذكرون حكم المرتد وأول ما يذكرون من أنواع الكفر والردة الشرك فقالوا : إن من أشرك بالله كفر ولم يستثنوا الجاهل ، ومن زعم لله صاحبة أو ولدا كفر ولم يستثنوا الجاهل ، ومن قذف عائشة كفر ، ومن استهزأ بالله أو رسله أو كتبه كفر إجماعا لقوله تعالى (لا تعتذروا قد كفرتم بعد إيمانكم) ويذكرون أنواعا كثيرة مجمعا على كفر صاحبها ولم يفرقوا بين المعين وغيره ثم يقولون : فمن ارتد عن الإسلام قتل بعد الاستتابة ، فحكموا بردته قبل الحكم باستتابته ،فالاستتابة بعد الحكم بالردة والاستتابة إنما تكون لمعين ويذكرون في هذا الباب حكم من جحد وجوب واحدة من العبادات الخمس أو استحل شيئا من المحرمات كالخمر والخنزير ونحو ذلك أو شك فيه يكفر إذا كان مثله لا يجهله ولم يقولوا ذلك في الشرك ونحوه مما ذكرنا بعضه بل أطلقوا كفره ولم يقيدوه بالجهل ولا فرقوا بين المعين وغيره وكما ذكرنا أن الاستتابة إنما تكون لمعين ،وهل يجوز لمسلم أن يشك في كفر من قال إن لله صاحبة أو ولدا أو إن جبريل غلط في الرسالة أو ينكر البعث بعد الموت أو ينكر أحدا من الأنبياء ؟ وهل يفرق مسلم بين المعين وغيره في ذلك ونحوه وقد قال صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : من بدل دينه فاقتلوه ، وهذا يعم المعين وغيره ، وأعظم أنواع تبديل الدين الشرك بالله

وعبادة غيره .... ونحن نعلم أن من فعل ذلك ( الشرك ) ممن ينتسب للإسلام أنه لم يوقعهم في ذلك إلا الجهل ، فلو علموا أن ذلك يبعد عن الله غاية الإبعاد و أنه من الشرك الذي حرم الله لم يقدموا عليه ، فكفرهم جميع العلماء ولم يعذروهم بالجهل كما يقول بعض الضالين : إن هؤلاء معذورون لأنهم جهال ....وأما قول الشيخ ( ابن تيمية ) : ولكن لغلبة الجهل في كثير من المتأخرين لم يمكن تكفيره .. الخ فهو لم يقل انهم معذورون لكن توقف منه في إطلاق الكفر عليهم قبل التبيين فيجمع بين كلامه بأن يقال : إن مراده إننا إذا سمعنا من إنسان كلام كفر أو وجدناه في كلام بعض الناس المنظوم أو المنثور إننا لا نبادر في تكفير من رأينا منه ذلك أو سمعناه حتى نبين له الحجة الشرعية ، هذا مع قولنا إن هؤلاء الغلاة الداعين للمقبورين أو الملائكة أو غيرهم الراغبين إليهم بقضاء حوائجهم مشركون كفار[الدرر ١٠/٤٠١].

ژباړه: مونږ وايو چې د معيّن په تکفير کې ظاهر د آيتونو او د حديثو او د جمهورو علماوو خبره د هغه چا په کفر دلالت کوي چې د الله تعالى سره څوک برخه دار جوړ کړي، پس د الله تعالى سره د بل چا عبادت هم وکړي او په دلايلو کې د معين او غير معين تر منځ توپير نشته الله تعالى فرمايي: الله تعالى ببښنه نه کوي چې له هغه سره څوک برخه دار جوړ شي، او الله تعالى فرمايي: مشرکان ووژنئ هر ځای چې مو ومونده، او دا

آیت عام دی د هر مشرک په اړه دی او ټول علماء د فقه په کتابونو کې د مرتد حکم راوړي نو اول چې دوی یې د کفر او ارتداد له ډولونو څخه راوړي؛ شرک دی، دوی وايي: چا چې له الله تعالی سره برخه دار جوړ کړ کافر شو او جاهل یې ترې نه دې مستثنا کړی، او چا چې ګومان وکړ چې د الله تعالی لپاره ښځه یا بچې شته کافر شو او جاهل یې ترې نه دی مستثنا کړی، او چا چې عایشه رضي الله عنها باندې د زنا تهمت ولګوه کافر شو، چا چې الله تعالی پورې ټوقې وکړې یا د هغه رسولانو پورې یا کتابونو پورې نو په اجماع سره کافر شو ځکه چې الله تعالی فرمايي: بهانې مکوئ تاسو وروسته له ایمان څخه کافران شوي یاست، او دوی نور ډېر ډولونه راوړي چې د کوونکي په کفر یې اجماع شوې وي او د معین او نورو تر منځ یې توپیر نه دی کړی بیا علماء وايي: څوک چې له اسلام څخه مرتد شو نو وروسته له استتابې به وژل کېږي، نو په ارتداد یې ورله حکم کړی مخکې د استتابې د حکم نه، استتابه د ارتداد له حکم څخه وروسته وي او استتابه د معین کس وي او دوی په دې باب کې د هغه چا حکم ذکر کوي څوک چې له پنځه عبادتونو څخه د یو عبادت له وجوب څخه انکار وکړي یا د حرامو

شیانو څخه یو شی حلال وګڼي لکه شراب او د خنزیر غوښه او د دې په څېر نور شیان یا په دې شیانو کې شک وکړي نو کافر کېږي کله چې د ده په څېر خلک له دې څخه ناخبره نه وي پاتې او دوی داسې نه دي ویلې چې دا به په شرک او د دې په څیر نورو شیانو کې وي چې ځینې ورڅخه مونږ ذکر کړل بلکې د کافر اطلاق یې وربانديې کړی او په جهل پورې یې نه دی مقید کړی او نه یې هم د معین او غیر معین تر منځ توپیر کړی او لکه څنګه چې مونږ وویل استتبابه له معین شخص څخه وي آیا مسلمان ته جایز دي چې د هغه چا په کفر کې شک وکړي چې وایي د الله تعالی لپاره ښځه یا بچي شته یا جبرئیل په پیغام راوړلو کې خطا شوی دی یا له مرګ څخه وروسته ژوند څخه انکار کوي یا له یو نبي څخه انکار کوي؟ او آیا یو مسلمان به په دې کې او دې ته په ورته خبرو کې د معین او غیر معین تر منځ فرق وکړي په داسې حال کې نبي علیه السلام فرمایلي دي: څوک چې مرتد شو ویې وژنئ، دا حکم معین او غیر معین دواړو ته شامل دی، او د دین د بدلولو تر ټولو لوی ډؤل د الله تعالی سره برخه دار جوړول دي او د بل چا عبادت کول دي (بیا وایي) او مونږ پوهېږو چې له هغه

چا څخه چې اسلام ته منسوب وي شرک وکړي؛ هغه په دې شرک کې له جهل پرته بل شي نه دی اخته کړی، که چېرې دوی په دې پوهېدلی چې دا کار يې له الله تعالی څخه پوره لرې کوي او دا له هغه شرک څخه دی چې الله تعالی حرام کړی دی؛ دوی به دا شرک نه وی کړی، نو ټولو علماوو تکفير کړي دي او په جهل سره يې نه دي معذور کړي لکه څنگه چې ځينې گمراهان وايي: دا خلک معذور دي ځکه چې دوی جاهلان دي... (بيا وايي) او هر چې د شيخ الاسلام ابن تيميه دا وينا ده: "ليکن په وروستنو ډېرو خلکو کې د جهل د غلبې له امله يې تکفير ممکن نه دی"...؛ هغه داسې نه دي ويلي چې دوی معذور دي خو دوی ته يې مخکې له بيان څخه د کافر ويلو نه توقف کړی دی نو د هغه د خبرو تر منځ به داسې جمعه والی کېږي چې ويلی کېږي به: د هغه مراد دا دی: چې کله مونږ د يو کس څخه د کفر خبره واورو يا د کفر خبره د ځينو خلکو د نظم يا د نثر په توگه خبرو کې وگورو مونږ به د هغه چا په تکفير کې تلوار نه کوو چې دا کار مو ترې ليدلی وي يا مو ترې اورېدلی وي تر څو چې شرعي حجت ورباندې قايم کړو، دا سره له دې وينا زمونږ چې دا غلو کوونکی چې قبرونو والا رابلي يا ملائک

او يا هم نور رابلي، هغوی ته خپل حاجتونه وړاندې کوي؛ دوی ټول مشرکان کافران دي.

٥ـ د شيخ اسحاق بن عبد الرحمن يوه رساله هم شته چې نوم يې دی" تکفير المعين " په دغه رساله کې يې دا مسئله واضحه کړې چې جهل په باب د شرک اکبر کې عذر نه دی او دا يوه بدعي اصطلاح ده چې ځوک په باب د شرک اکبر کې د قول او قايل تر منځ فرق کوي، شيخ په خپل عصر کې د احساء والاو څخه د يوې ډلې سره په دې مسئله کې ښکيل شوی و چې هغوی جهل عذر ګڼلو او د محمد بن عبد الوهاب تګلارې ته يې ځانونه هم منسوبول نو شيخ دا خبره بيان کړې چې دوی د شيخ محمد بن عبد الوهاب او ابن تيميه او ابن القيم او د نورو سلفو په لار نه دي روان، بيا يې په دې مسئله کې اجماع ګانې هم نقل کړي دي اوګورئ [فتاوى الأئمة النجدية ١١٦/٣].

٦ - دشيخ اسحاق په رسالو کې د معين د تکفير په اړه راغلي دي وايي: **فقد بلغنا وسمعنا من فريق ممن يدعي العلم والدين وممن هو بزعمه مؤتم بالشيخ محمد بن عبد الوهاب أن من أشرك بالله وعبد الأوثان لا يطلق عليه الكفر والشرك بعينه وذلك أن بعض من شافهني منهم بذلك سمع من بعض الأخوان أنه أطلق**

**الشرك والكفر على رجل دعا النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و استغاث به فقال له الرجل لا تطلق عليه الكفر حتى تعرفه ، [فتاوى الأئمة النجدية ٣/١١٦].**

ژباړه: مونږ ته دا خبره رارسېدلي او له يوې ډلې چې دعلم او د دين دعوه لري څخه مو اورېدلي چې ځان د شيخ محمد بن عبد الوهاب مقتدي هم ګڼي: دا چې څوک شرک وکړي او د بوتانو عبادت وکړي په هغه باندې به په تعين سره د کفر او د شرک اطلاق نه کېږي او له دوی څخه ځينو کسانو چې له ما سره يې په دې اړه خبرې کړي دي له ځينو ورونو څخه يې اورېدلي و چې هغه د شرک او د کفر اطلاق په هغه چا کاوه چې له نبي عليه السلام څخه يې دعا غوښتله او له هغه څخه يې مدد غوښتلو نو دغه سړي ورته وويل: ده ته کافر مه وايه تر څو چې بيان دې ورته نه وي کړی.

٧ـ او شيخ اسحاق بن عبد الرحمن په خپل کتاب "تکفير المعين" کې دا هم ويلي دي: **وذلك أن بعض من أشرنا إليه باحثته عن هذه المسألة فقال نقول لأهل هذه القباب الذين يعبدونها ومن فيها فعلك هذا شرك وليس هو بمشرك، وذكر الذي حدثني عن هذا أنه سأله بعض الطلبة عن ذلك وعن مستندهم فقال : نكفر النوع**

**ولا نعين الشخص إلا بعد التعريف ومستندنا ما رأيناه في بعض رسائل الشيخ محمد (قدس الله روحه )على أنه امتنع من تكفير من عبد قبة الكوازوعبد القادرمن الجهال لعدم من ينبه.**

ژباړه: او ځينې هغه کسان چې مونږ ورته اشاره وکړه ما ورسره د دې مسئلې په اړه بحث وکړ نو هغه راته وويل: مونږ دې زائرينو ته کوم چې د مزارونو او په هغې کې د قبرونو عبادت کوي ورته وايو: ستا دا کار شرک دی خو ته مشرک نه يې. (نو شيخ دغه خبرې ته بدعت ويلي دي او بيا يې ويلي دي:) او هغه کس چې ما ته يې دا خبره وکړه وويل چې له دغه کس څخه يې ځينو شاگردانو د دې په اړه پوښتنه وکړه او د دوی د دليل په اړه يې پوښتنه وکړه نو هغه ورته وويل: مونږ د نوع تکفير کوو خو معين شخص نه تکفيروو مگر وروسته له بيان څخه، او زمونږ دليل هغه دی کوم چې مو د شيخ محمد بن عبد الوهاب په ځينو رسالو کې کتلی دی چې هغه د هغه چا له تکفير څخه منع شوی و څوک چې د کواز او د عبد القادر د زيارتونو عبادت د جهل له امله کوي او داسې څوک نه وي چې خبر يې کړي (دا خبره شيخ اسحاق د دغه باطلې خبره په رد کې کړې ده).

٨ـ شيخ عبد اللطيف بن عبد الرحمن ويلي دي: **أهل العلم والإيمان لا يختلفون في أن من صدر منه قول أو فعل يقتضي كفره أو شركه أو فسقه أنه يحكم عليه بمقتضى ذلك وإن كان يقر بالشهادتين [الرسائل والمسائل ٢٢٥/٣].**

ژباړه: علماء او مؤمنان دې کې اختلاف نه لري چې له چا څخه داسې وینا یا کار صادر شي چې د هغه د کفر یا شرک او یا د فسق تقاضا کوي؛ په هغه باندې به د دغه تقاضا مطابق فیصله کېږي که څه هم په شهادتینو اقرار هم کوي.

٩ـ د شیخ محمد بن عبد الوهاب او حمد بن ناصر له ځانمو څخه په [الدرر السنية ١٠ /١٣٦-١٣٨] کې د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا یو مؤمن د کفر وینا یا کار، د جهل په حال کې وکړي نو تاسو یې تر هغه نه تکفیروئ تر څو چې وربانديې د رسالت حجت نه وي قایم شوی نو که چیرې داسې کس مخکې له دعوت رسېدلو څخه ووژل شي معافي به ورته وشي او که نه؟ نو هغوی وویل: **إذا كان يعمل بالكفر والشرك لجهله أو عدم من ينبهه لا نحكم بكفره حتى تقام عليه الحجة ولكن لا نحكم بأنه مسلم بل نقول عمله هذا كفر يبيح المال والدم وإن كنا لا نحكم على هذا الشخص لعدم قيام الحجة عليه ولا يقال إن لم يكن كافرا فهو مسلم بل نقول : عمله عمل الكفار وإطلاق الحكم على هذا**

**الشخص بعينه متوقف على بلوغ الحجة الرسالية وقد ذكر أهل العلم : أن أصحاب الفترات يمتحنون يوم القيامة في العرصات ولم يجعلوا حكمه حكم الكفارولا حكم الأبرار، [الدرر ١٠/١٣٧].**

ژباړه: كله چې يې د كفر او د شرک عمل د جهل له وجې كاوه، يا د داسې كس د نه شتون له وجې چې ده ته خبر وركړي؛ مونږ پرې د حجت قايمېدلو څخه مخكې د كافر حكم نه كوو خو دا حكم پرې هم نه كوو چې مسلمان دى بلكې وايو چې د ده دا عمل د كفر دى چې مال او وينه روا كوي كه څه هم مونږ په دې شخص باندې له دې امله حكم نه كوو چې حجت پرې نه دى قايم شوى خو داسې به هم نه ويلى كېږي چې كه دا كس كافر نه وي نو مسلمان به وي بلكې مونږ وايو عمل يې د كافرانو دى خو په دغه معيّن (معلومداره) كس حكم كول د رسالت حجت تر رسېدلو پورې موقوف دى او علماوو ويلي دي : د فترت زمانو(د هغه زمانو خلک چې دعوت ورته نه وي رسېدلى او آسماني حجت پرې نه وي قايم شوى كه مخكنو امتونو كې تېر شوي وي او كه په دې امت كې وي چې همدا د امام احمد او د ائمة الدعوة رَحِمَهُمُ ٱللَّهُ مذهب دى هغوى وايي چې د فترت زمانه تر يو امت خاص نه ده بلكې ببرته هم راګرځېدى

شي کله چې جهل غلبه وکړي) خلکو باندې به د قيامت په پړاوونو کې آزميښت کېږي او د داسې کس حکم يې نه د کافرانو او نه هم د نيکانو د حکم په څېر ګرځولی.

۱۰ـ د شيخ حسين او شيخ عبد الله چې د شيخ محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ ځامن دي په [الدرر السنية ۱۰/۱٤۲] کې يې د دې پوښتنې په ځواب کې چې يو سړی مخکې له دې چې د اسلام دعوت ورته ورسېږي او حجت پرې قايم شي مړ شي څه حکم يې دی؛ هغوی ويلي دي: **من مات من أهل الشرك قبل بلوغ هذه الدعوة فالذي يحكم عليه أنه إذا كان معروفا بفعل الشرك ويدين به ومات على ذلك فهذا ظاهرة أنه مات على الكفرولا يدعى له ولا يضحى له ولا يتصدق عليه أما حقيقة أمره فإلى الله تعالى فإن كان قد قامت عليه الحجة في حياته وعاند فهذا كافرفي الظاهر والباطن وإن كان لم تقم عليه الحجة فأمره إلى الله تعالى.**

ژباړه: له مشرکينو څخه چې څوک مړ شو مخکې له دې چې دعوت ورته ورسېږي نو حکم به يې دا وي چې که دا کس د شرک په کولو او شرکي احکامو ته په غاړه اېښودلو پېژندل شوی و او په همدې حال کې مړ شوی و نو دا ښکاره خبره ده چې په کفر مړ شوی دی، دعا به ورته نه کېږي، قرباني به ورله

نشي کېدای او خیرات به پرې نشي کېدلی هر چې یې حقیقي حال دی نو هغه الله تعالی ته حواله دی که چېرې وربانديې په خپل ژوند کې حجت قایم شوی و او بیا یې ضد کړی و نو دا په ښکاره او پټه کافر دی او که چېرې وربانديې حجت نه وي قایم شوی نو فیصله یې الله تعالی ته حواله ده.

(دلته یې پرې د ظاهري حال له امله د کفر حکم کړی)

۱۱ـ شیخ عبد الله او ابراهیم چې دواړه د شیخ عبد اللطیف ځامن دي، او شیخ سلیمان بن سحمان چې په [درر السنیة ( ۱۰ / ۴۳۲ ، ۴۳۵ )] کې یې اقوال نقل دي ویلي دي : **وأما الجهمية وعباد القبور فلا يستدل بمثل هذه النصوص على عدم تكفيره إلا من لم يعرف حقيقة الإسلام وما بعث الله به الرسل الكرام ، لأن حقيقة ما جاءوا به ودعوا إليه وجوب عبادة الله وحده لا شريك له ، وإخلاص العمل له وألا يشرك في واجب حقه أحد من خلقه وأن يوصف بما وصف به نفسه من صفات الكمال ونعوت الجلال فمن خالف ما جاءوا به ونفاه و أبطله فهو كافر ضال وإن قال لا اله إلا الله وزعم أنه مسلم لأن ما قام به من الشرك يناقض ما تكلم به من كلمة التوحيد فلا ينفعه التلفظ بقول لا اله إلا الله لأنه تكلم بما لم يعمل به ولم يعتقد ما دل عليه ، وأما قوله : نقول بأن القول كفر**

**ولا نحكم بكفر القائل فإطلاق هذا جهل صرف لأن هذه العبارة لا تنطبق إلا على المعين.**

ژباړه: هر چې جهميه او د قبرونو عبادت کوونکي دي؛ د دوی د عدم تکفير( د نه تکفيرولو) په اړه د دې ډؤل نصوصو څخه استدلال نه کوي(يعني عام هغه نصوص کوم کې چې يوازې لمونځ کوونکي ته په کې هم مسلمان ويلی شوي دي) مگر هغه څوک پرې استدلال کوي چې د اسلام حقيقت او هغه څه چې الله تعالی پرې پيغمبران راليږلي دي؛ نه وي پيژندلي ځکه د هغه څه حقيقت چې پيغمبرانو راوړی دی او دعوت يې ورته ورکړی دی؛ د الله تعالی د عبادت وجوب دی چې يو ذات دی هيڅ برخه دار نه لري او الله تعالی ته په خپل عمل کې اخلاص کول او دا چې د الله تعالی سره د هغه په واجب حق کې له مخلوق څخه هيڅوک برخه دار جوړ نشي او په هغه څه سره د الله تعالی صفت وشي په څه سره يې چې خپل ځان موصوف کړی چې د کمال او د عزت صفتونه دي نو چا چې د هغه څه خلاف وکړ چې پيغبرانو راوړی دی ، نفي او باطل يې کړ، نو هغه به کافر وي، گمراه به وي که څه هم لا اله الا الله ووايي او په خپل ځان د مسلمان گومان وکړي، ځکه ده

چې کوم شرک کړی دا د توحید د کلمې سره چې ده ویلې ده ټکر لري نو ده ته د لا اله الا الله ویل هېڅ فایده نه ورکوي، ځکه ده هغه څه وویل چې عمل یې پرې نه دی کړی او نه یې په هغه څه عقیده لرلې چې کلمه وربانديې دلالت کوي، او هر چې یې دا وینا ده چې مونږ وایو: وینا د کفر ده خو په ویوونکي باندې د کفر حکم نه کوو، نو داسې خبره کول خالص جهل دی ځکه دا عبارت نه تطبیقېږي مګر په معین کس تطبیقېږي.

۱۲ـ شیخ محمد بن ابراهیم ویلي دي: **مسأَلة تكفير المعين من الناس من يقول: لا يكفر المعين أَبدا. ويستدل هؤلاء بأَشياء من كلام ابن تيمية غلطوا في فهمها وأَظنهم لا يكفرون إلا من نص القرآن على كفره كفرعون. والنصوص لا تجيء بتعيين كل أَحد. يدرس باب (حكم المرتد) ولا يطبق على أَحد، هذه ضلالة عمياء وجهالة كبرى، بل يطبق بشرط. ثم الذين توقفوا في تكفير المعين في الأَشياء التي قد يخفى دليلها فلا يكفر حتى تقوم عليه الحجة الرسالية من حيث الثبوت والدلالة فإذا أُوضحت له الحجة بالبيان الكافي كفر سواء فهم، أَو قال: ما فهمت، أَو فهم و أَنكر، ليس كفر الكفار كله عن عناد. [فتاوى ورسائل محمد بن إبراهيم آل الشيخ الجزء الاول ص: ٧٣].**

ژباړه: د معيّن د تکفير مسله: ځينې خلک وايي چې معيّن شخص به هېڅکله نشي تکفيرولی، دوی د شيخ الاسلام ابن تيميه په ځينو هغو خبرو استدلال کوي چې دوی يې په فهم کې غلط شوي دي او زه دا گومان کوم چې دوی پرته له هغه چا بل څوک نه تکفيروي چې قران يې په کفر تصريح کړې ده لکه فرعون، او دلايل خو د هر چا په تعين نشته، د مرتد د حکم په اړه باب لوستل کېږي خو په هېڅچا نه تطبيقېږي دا ړنده گمراهي او لوي جهالت دی بلکې دا حکم د خپلو شرطونو سره سم تطبيقېږي، بيا هغه کسان چې د معين کس په تکفيرولو کې يې توقف کړی دی په هغه شيانو کې چې دليل يې پټ وي؛ نو په داسې مسايلو کې به يې تکفير نشي کېدای تر دې چې پيغمبري حجت وربانديې قايم شي د ثبوت او د دلالت په لحاظ، کله چې وربانديې په کافي اندازه بيان کولو سره حجت قايم شي نو کافر کېږي برابره ده که پوهه شي او که ووايي چې پوهه نشوم او يا هم پوهه شي خو انکار وکړي، د کافرانو کفر ټول د ضد له وجې نه وي.

لکه څنگه چې شيخ محمد بن ابراهيم ويلي دي همدا حق خبره ده، ځيني خلک پرته له هغه چا چې نومونه يې په قران

کې ذکر دي نور کسان په تعین سره نه تکفیروي که هر څومره نواقضو ته راتگ وکړي او اسباب د کفر يې موجود او موانع يې منتفي شي خو بيا هم د چا تکفير په تعين سره نه کوي او له دې څخه ډېره سخته کرکه او نفرت لري او دا پرته له تفصيل فتنه گڼي. چې همدا حال د دې زمانې د ډېرو تش په نوم سلفيانو هم دی، د "فتنة التكفير" په نوم کتابونه او مقالې يې ليکلي او ډېره خواري يې کړې، خاص په دې غرض چې د طواغيتو کرسۍ محفوظ شي او څوک يې په خلاف خروج ونکړي، له همدې امله يې دغه بدعي اصطلاح هم ايجاد کړې چې د قول او قايل، فعل او فاعل تر منځ يې فرق کړی او بيا يې دغه اصطلاح سلفو ته هم منسوب کړې خو سلف ورڅخه بېزاره دي، د سلفو دريځ مونږ ته د هغوی له فتواوو او عبارتونو څخه پوره راڅرگند شو، هغوی دغه اصطلاح په کلکو ټکو رد کړې، مستقلې رسالې يې وربانديې ليکلي دي لکه د "تكفير المعين" په نوم د شيخ اسحاق بن عبد الرحمن او د شيخ أبا بطين رسالې، او همدا راز شيخ محمد بن عبد الوهاب هم دا مسئله په خپله رساله "مفيد المستفيد في كفر تارك التوحيد" او په "كشف الشبهات"کې څېړلې او په هغه چا يې سخت رد کړی چې شيخ

الاسلام ابن تیمیه ته یې دغه اصطلاح منسوب کړې او د شیخ الاسلام موقف یې د معین تکفیر په اړه واضح کړی چې مخکې یې قول ذکر شو، او نورو نجدي علماوو هم دا اصطلاح رد کړې چې ځینې اقوال یې مخکې ذکر شول د زیات تفصیل لپاره الدرر السنیة وګورئ.

## یوه شبهه او د هغې ځواب.

ځیني خلک د معین تکفیر په رد کې د شیخ الاسلام دا عبارت پیش کوي چې هغه ویلي دي : **أَنِّي مِنْ أَعْظَمِ النَّاسِ نَهْيًا عَنْ أَنْ يُنْسَبَ مُعَيَّنٌ إلَى تَكْفِيرٍوَتَفْسِيقٍ وَمَعْصِيَةٍ ، إلَّا إذَا عُلِمَ أَنَّهُ قَدْ قَامَتْ عَلَيْهِ الْحُجَّةُ الرسالية الَّتِي مَنْ خَالَفَهَا كَانَ كَافِرًا تَارَةً وَفَاسِقًا أُخْرَى وَعَاصِيًا أُخْرَى [مجموع الفتاوى (٣ /٢٢٩)].**

ژباړه: زه تر ټولو خلکو زیات له دې څخه منعه کوم چې یو معین کس تکفیر، یا فسق یا ګناه ته منسوب شي مګر کله چې د دې معلومات وشي چې پیغمبري حجت وربانديې قایم شوی دی هغه چې څوک یې خلاف وکړي نو کله به کافر وي، کله به فاسق وي او کله به ګناهګار وي.

د دې شبهې یو څو ځوابونه دي:

۱. **ځواب:** په دغه عبارت کې د حجت قایمولو څخه مخکې زمانه مراد ده یعني تر څو چې حجت ورباندې نه وي قایم شوی؛ تکفیر د معین به نه کېږي، لکه هغه ویلي دي: **إِلَّا إِذَا عُلِمَ أَنَّهُ قَدْ قَامَتْ عَلَيْهِ الْحُجَّةُ الرسالية الَّتِي مَنْ خَالَفَهَا كَانَ كَافِرًا تَارَةً...** او دا خو اتفاقي خبره ده چې قبل الحجة د ځینو کسانو تکفیر جایز نه دی یعني دا جایز نه دي چې تکفیر یې وشي او د تکفیر احکام ورباندې جاري شي. که څه هم د مشرک اطلاق ورباندې کېدلی شي ځکه څوک چې د غیر الله عبادت کوي هغه ته مؤمن نشي ویل کېدای خو تکفیرول یې جلا مسئله ده چې دا خبره مخکې ذکر شوې.

۲. **ځواب:** شیخ الاسلام ابن تیمیه دغه خبره د مسائل خفیه په اړه کړې ده او د مسائل ظاهره (هغه مسایل چې هر خاص او عام پرې پوهېږي، یا هغه مسایل چې د دین له ضروریاتو څخه دي) په اړه یې نه ده کړې، یعني په مسائل خفیه کې به تکفیر د معین قبل الحجة نشي کېدای (مسائل خفیه، پټ مسایل لکه د اسماؤ صفات مسئله) ، خو هر چې مسائل ظاهره دي نو په هغه کې د قبل الحجة قید مراد نه دی. ځکه په مسایل ظاهره کې پرته له درې کسانو چې مخکې ذکر شوي دي د بل چا جهل ته

اعتبار نشته چې حجت ورباندې قایم شي بلکې تکفیر د معین به کېدلی شي، نو ځکه خو شیخ الاسلام په خپل کتاب "نقض المنطق" کې د متکلمینو یو عالم (یعني الفخر الرازي) چې د مشرکانو د دین په اړه یې کتاب لیکلی و تکفیر کړی دی که څه هم وروسته یې توبه ثابت ده خو د مخکني کار له امله یې ورته د ارتداد نسبت کړی دی چې دا مرتد شوی و، استدلال ترې په دې توگه کېدلی شي چې شیخ الاسلام قیام د حجت په دغه ځای کې نه دی شرط کړی او د دې امکان هم نه و ځکه چې هغه کس د شیخ الاسلام له زمانې څخه مخکې تیر شوی دی نو څنگه ورباندې حجت قایم کړي( یعني که د حجت قایمول په هره مسئله او د هر چا په اړه شرط شي نو بیا ولې شیخ الاسلام یو مړ شوي عالم ته د ارتداد نسبت کړی، سره له دې چې حجت یې ورباندې نه دی قایم کړی او نه هم امکان لري ځکه چې دغه عالم د شیخ الاسلام له زمانې مخکې تیر شوی دی).

۳. **ځواب**: شیخ الاسلام ځینې کسان په تعین سره تکفیر کړي دي لکه ابن سینا، الفخر الرازي، د علي رضي الله عنه په اړه غلو کوونکي خلک او نور، چې مخکې یې یادونه شوې ده.

شيخ محمد بن عبد الوهاب په خپله رساله [كشف الشبهات صـ ٦٧] كې له يادې شبهې څخه دغه پاسني ځوابونه كړي دي چې شيخ علي بن خضير الخضير ورله په خپله شرح كې چې نوم يې دی [كتاب التوضيح والتتمات على كشف الشبهات صـ ١٢٠] خلاصه كړي دي.

همدا د شيخ الاسلام د پاسني عبارت مقصد دی چې شيخ محمد بن عبد الوهاب واضحه كړی، او د نورو سلفو د فهم سره هم برابر دی، خو له دې څخه دغه بدعي اصطلاح ايجادول چې د قول او قايل، د فعل او فاعل تر منځ جدايي راولي؛ له سلفو صالحينو څخه ثابت نه ده نو فلهذا تكفير بالنوع كول او تكفير بالمعين نه كول د سلفو اصطلاح نه ده نو هغوی ته يې نسبت هم صحيح نه دی بلكې دا د مرجئه وو اصطلاح ده چې د نورستاني په څېر خلک يې د طواغيتو د تكفير د مخنيوي لپاره كاروي.

**د دغه خود ساخته اصل په اخركې د رسالې ليكوال د معين د تكفيرلپاره انتفاء د موانع اووجود د اسباب شرط كړي دي نوويلي دي: ولا يحكمون على المعين إلا بعد إزالة الموانع ووجود الأسباب.**

ژباړه: خو دوی (سلف) په معین کس د کفر حکم نه کوي مگر وروسته له دې چې موانع د تکفیر یې زایله او اسباب یې موجود شي.

او دا خبره یې په لږ مخکې عبارت کې هم کړې ده.

هغه موانع، شرطونه او اسباب چې د رسالې لیکوال د معین کس د تکفیر لپاره راوړي دي د موضوع د مناسبت له وجې یې رامخکي کوو نو وایو:

## د رسالې لیکوال په نزد موانع د تکفیر:

د رسالې لیکوال د تکفیر موانع راوړي دي نو ویلي دي:
**منهج السلف في موانع التكفير...[المنهج المتفق عليه صـ١٦]**

د تکفیر په موانعو کې ځینې هغه موانع راوړي دي چې د اعتبار وړ نه دي، او څه هم هغه دي چې علماوو د مسائل خفیه په موانعو کې شمارلي دي چې بیان یې په دې ډول دی:

**اول مانع: الجهل،(ناخبرتیا)**

د رسالې لیکوال مطلق جهل د تکفیر له موانعو څخه شمارلی حال دا چې په دې مسئله کې تفصیل دی چې مخکې

ورته هم څه نا څه اشاره شوې ده خو اوس يو ځل بيا د فايدې لپاره وايو: مسائل په دوه ډوله دي:

**يو ډول:** مسائل خفيه دي يعني هغه مسائل چې علماء او يا خواصو خلكو ته معلوم وي، هر چا ته يې معلومات نه وي لكه د اسماؤ صفاتو مسئله ،د صرف او عطف جادو مسئله، نو په دې كې جهل عذر دی تر څو چې حجت وربانديې نه وي قايم شوی او په مسائل خفيه كې د تكفير موانع هم ډېر دي چې وروسته به يې ذكر كړو ان شاء الله.

**دويم ډول:** مسائل ظاهره دي يعني هغه مسائل چې د دين له ضرورياتو څخه ثابت وي يا هغه مسائل چې هر خاص او عام ترې خبر وي، نو په مسائل ظاهره كې د هيڅ جهل، تأويل، تقليد ته اعتبار نشته بلكې هر چا چې د غير الله عبادت وكړو يا يې قانون سازي وكړه او يا نورې شركي كړنې ترسره كړې هغه به مشرك كافر وي كه څه هم جاهل يا متأول يا مقلد وي، پرته له درې كسانو چې مخكې مسئله كې يادونه شوې، او په دې خبره د علماوو اجماع ده چې اقوال يې په دې ډول دي:

۱ـ شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ ویلي دي: **واسم الشرك يثبت قبل الرسالة لأنه يعدل بربه ويشرك به [الفتاوى: ٢٠ /٣٧، ٣٨].**

ژباړه: د شرک نوم د رسالت نه مخکې هم ثابت دی (یعني د حجت قایمېدلو نه مخکې) ځکه چې دغه کس د الله تعالی سره نور خلک برابروي او د الله تعالی سره برخه دار جوړوي.

دلته یې په جاهل باندې هم د مشرک اطلاق کړی که څه هم د رسالت حجت ورباندې نه وي قایم شوی.

او همدا راز شیخ الاسلام چې کله په بکري او تاتاریانو باندې رد کوي سره له دې چې په لښکر کې به یې جاهلان هم وو خو بیا یې هم ورته مشرکین ویلي دي او تکفیر یې ورله کړی دی .

۲ـ علامه ابن القیم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وایي: **والإسلام هو توحيد الله وعبادته وحده لا شريك له، والإيمان بالله وبرسوله و اتباعه فيما جاء به، فما لم يأت العبد بهذا فليس بمسلم، وإن لم يكن كافراً معانداً فهو كافر جاهل. فإن الكافر من جحد توحيد الله، وكذب رسوله، إما عناداً، وإما جهلاً وتقليداً لأهل العناد. [ طريق الهجرتين١/٤١١، وفتاوى الأئمة النجدية ٣ /١٧٠].**

ژباړه: اسلام د الله تعالی د یووالي عقیده لرل او یوازې د هغه عبادت کول چې هېڅ برخه دار نه لري، او په الله او د هغه په رسول ایمان لرل او د هغه د شریعت تابعداري کولو ته وایي، تر څو چې یو بنده دغه کارونه نه وي ترسره کړې مسلمان نشي کېدای، که ضدي کافر نه وي نو جاهل کافر به وي ځکه کافر هغه چا ته وایي چې د الله تعالی له یووالي څخه انکار وکړي او د هغه رسول دروغجن وګڼي یا د ضد له وجې او یا هم د جهل او د ضدیانو د تقلید له وجې. (دا خبره یې د مقلدینو کفارو په اړه کړې ده).

۳ـ شیخ محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ په دې مسئله باندې چې جهل په باب د شرک اکبر کې عذر نه دی؛ کتاب یې لیکلی دی چې نوم یې دی "مفيد المستفيد في كفر تارك التوحيد" په دغه کتاب کې یې په هغه چا رد کړی چې وایي شیخ الاسلام ابن تیمیه تکفیر د معین نه کاوه، د کتاب نوم هم په تکفیر د معین دلیل دی، داسې چې څوک توحید پرېږدي نو خامخا به په شرک کې اخته وي نو ځکه یې ورباندې د کفر حکم کړی. بل کتاب یې دی "كشف الشبهات"چې په دې کې یې هم په ډېرو ځایونو کې په دې تصریح کړې چې جهل په باب د شرک اکبر

کې عذر نه دی. او د "النواقض العشر" لسو نواقضو په اړه چې یې کومه رساله لیکلې نو د هغې په آخر کې یې ویلي دي: **وَلَا فَرْقَ فِي جَمِيعِ هَذِهِ النَّوَاقِضِ بَيْنَ الْهَازِلِ وَالجَادِّ والخَائِفِ، إِلَّا الْمُكْرَه، [نواقض الاسلام صـ ٥].**

ژباړه: دې ټولو نواقضو ته په ټوقه، رښتیا او وېرې سره راتلونکو تر منځ هېڅ توپیر نشته پرته له مکرَه شخه. [راجع فتاوى الأئمة النجدية ٣/١٨٨].

نو په دغه نواقضو کې یوازې مکرَه د تکفیر له حکم شخه مستثنی کړی دی نور یې په ټوقه، رښتیا او ویره کې ناقض اختیاروونکي په حکم کې برابر کړي دي، جهل، تأویل او خطا ته یې اعتبار نه دی ورکړی.

٤ـ په [الدرر السنية ٨ /١١٨] کې دي شیخ محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د مرتدینو ډلې ذکر کړي دي نو ویلي دي: ځینو ډلو د نبي علیه السلام تکذیب وکړ او د بوتانو عبادت ته ستانه شول او ځینو د مسیلمه په نبوت اقرار وکړ په دې گومان چې مسیلمه، نبي علیه السلام له ځانه سره په نبوت کې شریک کړی دی او بیا وایي: **ومع هذا أجمع العلماء أنهم مرتدون ولوجهلوا ذلك ومن شك في ردتهم فهوكافر.**

ژباړه: خو سره له دې علماوو د دوی په ارتداد اجماع کړې که څه هم دوی جاهلان وي او چا چې د دوی په ارتداد کې شک وکړ هغه به کافر وي.

٥ـ شيخ محمد بن عبد الوهاب په خپل کتاب [كشف الشبهات ص٩ ، ط: دار الثقافة للطباعة] کې وايي : **فإنك إذا عرفت أن الإنسان يكفر بكلمة يخرجها من لسانه قد يقولها وهو جاهل فلا يعذر بالجهل .."**

ژباړه: کله چې ته په دې پوه شوې چې انسان په یوې خبرې سره چې له خولې څخه یې راوځي کافر کېږي په داسې حال کې چې جاهل به وي نو په جهل سره معذور نه ګرځي.

٦ـ په بل عبارت کې يې راځي چې دا عبارت يې په [تاريخ نجد لابن غنام ص٤١٠] کې ذکر دی؛ شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب په کې خپلو ځينو شاګردانو ته چې د "الدرعية" علاقې اوسېدونکي وو او نومونه يې: عيسى بن قاسم او احمد ابن سويلم وو؛ خطاب يې ورته کړی او له هغوی څخه يې په دې اړه تعجب کړی دی چې څنګه د طواغيتو او د هغوی د پلويانو په تکفير کې شک کوي چې ګوندې په دوی به حجت قايم شوی وي او که نه، له دې امله چې جاهلان دي، نو د هغوی د

دغه توقف په انکار کې یې ویلي دي: **ما ذكرتموه من قول الشيخ ( ابن تيميه ) كل من جحد كذا وكذا، وأنكم شاكون في هؤلاء الطواغيت وأتباعهم هل قامت عليهم الحجة أم لا؟ فهذا من العجب العجاب كيف تشكون في هذا وقد وضّحته لكم مرارا فإن الذي لم تقم عليه الحجة هو الذي حديث عهد بالإسلام والذي نشأ ببادية بعيدة أو يكون ذلك في مسألة خفية مثل الصرف والعطف فلا يكفر حتى يعرّف وأما أصول الدين التي أوضحها الله وأحكمها في كتابه فإن حجة الله هي القرآن فمن بلغه فقد بلغته الحجة، ولكن أصل الإشكال أنكم لم تفرقوا بين قيام الحجة وبين فهم الحجة، فإن أكثر الكفار والمنافقين لم يفهموا حجة الله مع قيامها عليهم ، كما قال تعالى : ( أم تحسب أن أكثرهم يسمعون أو يعقلون إن هم إلا كالأنعام بل هم أضل سبيلا ). وقيام الحجة وبلوغها نوع ، وفهمهم إياها نوع آخر، وكفرهم ببلوغها إياهم وإن لم يفهموها نوع آخر.. "**

،

ژباړه: د شیخ الاسلام ابن تیمیه کوم قول چې تاسو ذکر کړی دی:"چې هر څوک د دغه شي څخه انکار وکړي"، او تاسو خو د دې طواغیتو او د دوی د پلویانو په اړه شک کوونکي یاست چې آیا حجت به ورباندې قایم شوی وي او که نه؟ نو دا ډېره ناشنا خبره ده تاسو څنګه په دې کې شک کوئ او حال دا چې ما تاسو ته دا خبره په وار، وار واضحه کړې ده،

نو هغه کس چې حجت پرې نه وي قايم شوی دا هغه کس دی چې نوی اسلام يې راوړی وي، او هغه کس دی چې په لرې باندېو کې رالوی شوی وي او يا يې دا شک په پټې مسئله کې وي لکه د صرف(د جادو هغه ډؤل دی چې انسان ته خوښ شی ناخوښ گرځوي) او د عطف (د جادو هغه ډؤل دی چې انسان ته ناخوښ شی خوښ گرځوي) مسله، نو د دوی تکفير به تر هغه نه کيږي چې مسئله ورته نه وي واضحه شوې خو هر چې د دين هغه اصول دي کوم چې الله تعالی واضح کړي دي او په خپل کتاب کې يې ثابت کړي دي، نو د الله حجت په کې همدا قران دی چا ته چې قران ورسيږد، د الله حجت ورته ورسيږد. خو ليکن اصلي مشکل دا دی چې تاسو د قيام د حجت او د فهم د حجت تر منځ توپير نه دی کړی ځکه ډېری کافران او منافقان د الله تعالی په حجت نه دي پوهه شوې سره له دې چې وربانديې قايم شوی دی لکه الله تعالی فرمايي: آيا ته انگيرې چې له دوی څخه زياتره کسان اوري او پوهيږي؟ - دوی خو د څارويو په شان دي، بلکي له هغو څخه هم ها خوا لار ورکي دي. د حجت قايميدل او د هغې رسيدل يو ډؤل کار دی او د کافرانو په دغه حجت باندې پوهول بل ډؤل کار دی او د هغوی کافر گڼل د

دغه حجت په رسېدلو سره که څه هم ورباندې نه وي پوهه شوي دا بل دؤل کار دی(بیا یې هغه خلک یاد کړي دي چې حجت ورباندې قایم شوی وي خو پوهه شوي ورباندې نه وي نو په دغه لړ کې یې د خوارجو یادونه کړې او د هغه خلکو یادونه یې هم کړې چې د علي رضي الله عنه په اړه یې غلو کړې وه چې بیا هغه په اور سوي وو او غالي قدریه یې یاد کړي دي) بیا یې ویلي دي : " **وإذا علمتم ذلك فهذا الذي أنتم فيه ، وهو الشك في أناس يعبدون الطواغيت ويعادون دين الإسلام ويزعمون أنه ردة [وفي نسخة ليس ردّة] لأجل أنهم ما فهموا..." انتهى.**

ژباړه: کله چې تاسو په دې پوهه شوئ نو دا تاسو چې په کوم شک کې اخته شوي یاست، چې د هغه خلکو په اړه یې کوئ چې د طواغیتو عبادت کوي او د اسلام دین سره دوښمني لري او [دا کارونه تاسو ته] ارتداد نه ښکاري له دې وجه چې دوی نه پوهېږي.

نو شیخ رَحِمَهُ ٱللَّهُ په دې عبارت کې د هغه قبرپرستانو تکفیر نه دی کړی چې حجت ورباندې نه وي قایم شوی خو مسلمانان یې هم ورته نه دي ویلې بلکې د طواغیتو عبادت کوونکي یې ورته ویلي دي او د طواغیتو عبادت کوونکی خو

هېڅکله مسلمان نشي کېدای، خو د تکفير نه يې ورله له دې امله ډډه کړې چې حجت ورباندې نه دی قايم شوی او دلته يوه باريکه نقطه ده چې شيخ او د اهل السنة والجماعة نورو علماوو په خپلو عبارتونو کې کارولې ده او هغه دا چې دوی د اسماؤ تر منځ فرق کوي مخکې له حجت او وروسته له حجت څخه، نو کله نا کله يې د کفر کلمه د هغه مشرک په حق کې هم کارولې چې حجت ورباندې نه وي قايم شوی او کله چې ورباند حجت قايم شوی وي نو بيا يې د مشرک کافر اصطلاح په يوځای ورته کارولې ده. زياتره خلک چې په دې نقطه نه دي پوهه شوي، هغوی بيا د شيخ ځينې هغه عبارتونه راوړي کوم کې چې يې مشرکين نه دي تکفير کړې، د دې نقطې زيات وضاحت د شيخ د شاګردانو په عبارتونو کې شوی دی چې وروسته ذکر کېږي ان شاء الله.

٧ـ د شيخ محمد بن عبد الوهاب او حمد بن ناصر له ځامنو څخه په [الدرر السنية ١٠ /١٣٦-١٣٧] کې د دې پوښتنې په ځواب کې چې يو مؤمن د کفر وينا يا کار، د جهل په حال کې وکړي نو تاسو يې تر هغه نه تکفيروئ تر څو چې ورباندې د رسالت حجت نه وي قايم شوی، نو آيا که چېرې داسې کس

مخکې له دعوت رسېدلو څخه ووژل شي معاف به وي او که نه؟ هغوی يې په ځواب کې ويلي دي: **إذا كان يعمل بالكفر والشرك لجهله أو عدم من ينبهه لا نحكم بكفره حتى تقام عليه الحجة ولكن لا نحكم بأنه مسلم بل نقول عمله هذا كفريبيح المال والدم وإن كنا لا نحكم على هذا الشخص لعدم قيام الحجة عليه ولا يقال إن لم يكن كافرا فهو مسلم بل نقول : عمله عمل الكفار وإطلاق الحكم على هذا الشخص بعينه متوقف على بلوغ الحجة الرسالية وقد ذكر أهل العلم : أن أصحاب الفترات يمتحنون يوم القيامة في العرصات ولم يجعلوا حكمه حكم الكفارولا حكم الأبرار.**

ژباړه: کله چې يې د کفر او د شرک عمل د جهل له وجې کوو يا د داسې کس د نه شتون له وجې چې ده ته خبر ورکړي؛ مونږ پرې د حجت قايمېدو نه مخکې د کافر حکم نه کوو خو دا حکم پرې هم نه کوو چې مسلمان دی بلکې وايو: د ده دا عمل د کفر دی، مال او وينه روا کوي، که څه هم مونږ په دې شخص باندې له دې امله حکم نه کوو چې حجت پرې نه دی قايم شوی خو دا به هم نه ويلی کېږي چې کله دا کس کافر نه وي نو مسلمان به وي بلکې مونږ وايو: عمل يې د کافرانو دی خو په دغه معيّن (معلومداره) کس حکم کول د رسالت حجت تر رسېدلو پورې موقوف دي او علماوو ويلي دي : د فترت

زمانو(د هغه زمانو خلک چې دعوت ورته نه وي رسېدلی او آسماني حجت پرې نه وي قايم شوی که مخکنو امتونو کې تیر شوي وي او که په دې امت کې وي چې همدا د امام احمد او د ائمة الدعوة رَحِمَهُمُ ٱللَّهُ مذهب دی هغوی وايي چې د فترت زمانه تر يو امت خاص نه ده بلکې بېرته هم راګرځېدی شي کله چې جهل غلبه وکړي) خلکو باندې به د قيامت په پړاوونو کې آزمیښت کېږي او د داسې کس حکم يې نه د کافرانو او نه هم د نيکانو د حکم په څېر ګرځولی.

٨ ـ شيخ عبد الرحمن بن حسن په [فتاوى الأئمة النجدية ٣/ ١٥٥] کې وايي: **والمقصود: بيان ما كان عليه شيخ الإسلام وإخوانه من أهل السنة والجماعة من إنكار الشرك الأكبر الواقع في زمانهم وذكرهم الأدلة من الكتاب والسنة على كفر من فعل هذا الشرك أو اعتقده فإنه بحمد الله يهدم ما بناه. هذا الجاهل المفتري على شفا جرف هار.**

ژباړه: مقصود د هغه څه بيانول دي چې شيخ الاسلام پرې روان و او د اهل السنة والجماعة نظريه لرونکي ملګري يې پرې روان وو چې د غټ شرک رد کول کوم چې د هغوی په زمانه کې رامنځته شوی و او د هغوی د هغه چا په کفر باندې

له قران او حديث څخه دلايل ذکر کول چې دا شرک وکړي يا يې عقيده ولري يقينًا شيخ الاسلام ـ د الله تعالى په حمد سره ـ له بېخ څخه د دغه جاهل دروغ جوړوونکي هغه خبره نړوي چې د يو کمر په کاواکه لغم خوړلې غاړه باندې يې بنا کړې ده.

۹ ـ بيا د همدغه فتاوى په بل ځاى کې د شيخ الاسلام د يو ځواب په شرح کې چې په "الفتاوى المصرية" کې د فلاسفه وو په اړه يې کړى دى، وروسته د هغوى له احوالو ذکر کولو څخه يې ويلي دي: **فهم أكفر من اليهود ومن النصارى** ،

ژباړه: دوى له يهودو او نصاراوو څخه هم غټ کافران دي، نو شيخ عبد الرحمن بن حسن د شيخ الاسلام د دغه فتوې په تعليق (شرح) کې ويلي دي: **ولم يقل شيخ الإسلام أنهم يعذرون بالجهل بل كفرهم وقال أنهم ارتدوا ، قال ومن أضمره فهو منافق لا يستتاب عند أكثر العلماء، [فتاوى الأئمة النجدية ٣/ ١٦٢].**

ژباړه: شيخ الاسلام داسې نه دي ويلې چې دوى به د جهل له وجې معذور وي بلکې دوى يې تکفير کړي دي او دا يې ويلي دي چې دوى مرتد شوي دي او ويلي دي چا چې دا عقيده پټه

کړه (يعني د دغه فلاسفه و په څېر عقيده يې پته ولرله) هغه به منافق وي د ډېرى علماوو په نزدترې استتابه نشي کېداى.

۱۰ـ او بيا وروسته وايې: **ويقال وكل كافر قد أخطأ والمشركون لا بد لهم من تأويلات ويعتقدون أن شركهم بالصالحين تعظيم لهم ينفعهم ويدفع عنهم فلم يعذروا بذلك الخطأ ولا بذلك التأويل ، [فتاوى الأئمة النجدية۳/۱٦۸].**

ژباړه: او ويلى كيږي: هر كافر خطا شوى وي او د مشركانو لپاره خامخا تاويلات وي او داسې عقيده لري چې نيكان خلك د الله تعالى سره برخه داران جوړول دا د هغوى درناوى دى چې دوى ته فايده وركوي او تكليف ورځخه لرې كوي، نو دوى په دغه خطا او تاويل سره نه دي معذور شوي.

۱۱ـ شيخ ابا بطين په [الدرر السنية: ۱۲/ ۷۲ - ۷۳] او په [مجموعة الرسائل: ۱/ ٦٥۹] کې ويلي دي: **فالمدعي أن مرتكب الكفر متأولا أو مجتهدا أو مخطئا أو مقلدا أو جاهلا ؛ معذور، مخالف للكتاب والسنة والإجماع بلا شك، مع أنه لا بد أن ينقض أصله، فلو طرد أصله؛ كفر بلا ريب، كما لو توقف في تكفير من شك في رسالة محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ونحو ذلك.**

ژباړه: د دې دعوه کوونکی چې مرتکب د کفر په داسې حال کې چې متأول یا مجتهد یا خطا شوی یا مقلد یا جاهل وي معذور دی؛ د قران، حدیث او اجماع د امت سره پرته له شکه مخالف دی، سره له دې چې له اصل سره یې هم خامخا ټکر لري که چېرې یې اصل پرېښودل شي نو پرته له شکه کافر کېږي لکه څنګه چې د هغه چا په تکفیر کې توقف وکړي چې د محمد صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ په رسالت کې شک کوي او داسې نور.

۱۲ـ ابا بطین په الدرر [۱۰ / ۳۶۰ ، ۳۷۵ ] کې ویلي دي :
**إن قول الشيخ تقي الدين : إن التكفير والقتل موقوف على بلوغ الحجة يدل من كلامه على أن هذين الأمرين وهما التكفير والقتل ليسا موقوفين على فهم الحجة مطلقا بل على بلوغها ففهمها شيء وبلوغها شيء آخر ،فلو كان هذا الحكم موقوفا على فهم الحجة لم نكفر ونقتل إلا من علمنا أنه معاند خاصة ، وهذا بين البطلان بل آخر كلامه رَحِمَهُٱللَّهُ يدل على أنه يعتبر فهم الحجة في الأمور التي تخفى على كثير من الناس وليس فيها مناقضة للتوحيد والرسالة كالجهل ببعض الصفات وأما الأمور التي هي مناقضة للتوحيد والإيمان بالرسالة فقد صرح رَحِمَهُٱللَّهُ في مواضع كثيرة بكفر أصحابها وقتلهم بعد الاستتابة ولم يعذرهم بالجهل مع أننا نتحقق**

**أن سبب وقوعهم في تلك الأمور إنما هو الجهل بحقيقتها فلو علموا أنها كفر تخرج من الإسلام لم يفعلوها ...**

ژباړه: د شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ دا وينا چې تكفير او وژل د حجت رسېدلو پورې موقوف دي؛ د هغه دا خبره په دې دلالت کوي چې دا دواړه کارونه چې تکفير او وژل دي؛ تر فهم د حجت پورې هيڅ اړه نه لري بلکې تر حجت رسېدلو پورې اړه لري نو په حجت باندې پوهېدل يو شی دی او د حجت رسېدل بل شی دی که چېرې دا حکم تر فهم د حجت پورې موقوف شي نو مونږ به هېڅوک تکفير کړی او وژلی نه وی پرته له هغه چا چې مونږ ته يې د دې معلومات وي چې دا ضدي دی او دا خو په ښکاره توگه باطله خبره ده بلکې د شيخ الاسلام آخري خبره په دې دلالت کوي چې هغه فهم د حجت ته په هغه کارونو کې اعتبار ورکوي کوم چې په ډېرو خلکو باندې پټ پاتې وي او د توحيد او رسالت سره په کې هيڅ ټکر هم نه وي لکه په ځيني صفاتو ناخبرتيا، خو کوم کارونه چې د توحيد او په رسالت ايمان لرلو سره ټکر لري نو شيخ الاسلام په ډېرو ځايونو کې د دغو کارونو والاو په کفر او له استتابې وروسته په وژلو يې تصريح کړې ده او دوی يې په جهل سره نه

دي معذور کړي سره له دې چې مونږ دا په تحقيق سره وايو چې د دوی په دغه کارونو کې د اخته کېدلو لامل؛ د دغه کارونو د حقيقت په اړه ناخبرتيا ده که چېرې دوی په دې پوهېدلی چې دا داسې کفر دی چې له اسلام څخه پرې مرتد کېږي نو دوی به دا کارونه نه وی کړې.

۱۳ـ شيخ عبد اللطيف بن عبد الرحمن ويلي دي: **أهل العلم والإيمان لا يختلفون في أن من صدر منه قول أو فعل يقتضي كفره أو شركه أو فسقه أنه يحكم عليه بمقتضى ذلك وإن كان يقر بالشهادتين [الرسائل والمسائل ۲۲٥/۳ كما تقدم]**

ژباړه: علماء او مؤمنان دې کې اختلاف نه لري چې له چا څخه داسې وينا يا کار صادر شي چې د هغه د کفر يا شرک او يا د فسق تقاضا کوي؛ په هغه باندې به د دغه تقاضا مطابق فيصله کېږي که څه هم په شهادتينو اقرار کوي.

همدا فتوه د سعودي د سلولي حکومت " اللجنة الدائمة" هم صادر کړې، او د هغوی د مفتيانو مشر "ابن باز" هم صادر کړې هغه چې نورستاني او د هغه په څېر نور تش په نوم سلفيان يې خپل مشران گڼي او د فتواوو اقتداء يې کوي؛ دوی هم جهل په باب د شرک اکبر کې عذر نه دی گرځولی بلکې کافر، مرتد

او مشرک یې ورته ویلي دي او سزا یې ورله د حجت قایمولو او وروسته درې ورځې د استتابې مهلت ورکولو پورې ځنډولې ده، [كما في فتوى اللجنة (١ /٢٢٠)و فتاوى ابن باز(ج٤/ ٢٦-٢٧)]

که څه هم دوی دا فتوه یوازې تر شرك القبور پورې رابنده کړې خو د شرک اکبر نورو ډؤلونو ته هم شامله ده ځکه د شرک اکبر انواع ټول یو شانته موجب د کفر او ارتداد دي.

الغرض د سلفو له زمانې څخه نیولې تر زمونږ زمانې پورې د ټولو علماوو او د دعوت مشهورو امامانو په دې اجماع ده چې جهل،تأویل، تقلید په باب د شرک اکبر کې عذر نه دي بلکې چا چې له الله تعالی څخه پرته د بل چا په نوم حلاله وکړه یا یې له مړو څخه مدد وغوښت یا یې د عبادت یو ډؤل که هر یو وي له الله تعالی څخه پرته بل چا ته یې وگرځوه یا یې په قانون سازۍ کې له الله تعالی سره بل څوک برخه دار جوړ کړ که څه هم جاهل، متأول او مقلد وي؛ ټولو علماوو ورته مشرک ویلي دي چې د ځینو اقوال مخکې ذکر شول که څوک زیات تفصیل غواړي نو راروانو کتابونو ته دې رجوع وکړي: الدرر السنية، فتاوى الأئمة النجدية، تاريخ نجد، رسائل نجد، او د شیخ

محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ كتابونو ته چې مخکې يې نومونه ذکر شوي دي، او کتاب التوضيح والتتمات على كشف الشبهات د علي بن خضير الخضير ـ فك الله أسره ـ.

## ځينې شبهات او د هغې ځوابونه:

ځينې شبهات چې شيخ عبد الله بن عبد الرحمن ابا بطين په خپل كتاب "الانتصار لحزب الله الموحدين والرد على المجادل عن المشركين" کې ځواب کړي دي په لنډه توگه يې دلته رانقلوو ځکه چې اوس هم له دغو شبهاتو څخه باطل پرسته خلک استدلال کوي نو له هغو شبهاتو څخه ځينې په دې ډول دي:

## اوله شبهه:

شيخ الاسلام ابن تيميه په "اقتضاء الصراط المستقيم" کې ويلي دي چې تأويل، جهل، خطا او تقليد په باب د شرک اکبر کې معاف دي.

**ځواب** : شيخ ابا بطين د دې په ځواب کې ويلي دي: شيخ الاسلام دا خبره د ځينې بدعتونو په سياق کې کړې ده او د شرک او کفر په اړه يې نه ده کړې، بيا يې د شيخ الاسلام عبارتونه په دې اړه رانقل کړي دي.

[كما في كتاب الانتصار لحزب الله الموحدين والرد على المجادل عن المشركين للشيخ ابا بطين صـ ١٩ مكتبة الهمة]

له دې شبهې څخه اوس هم مرجئه استفاده کوي او وايي چې شيخ الاسلام جهل په باب د شرک اکبر کې عذر ګڼي او بيا همدا عبارت د شيخ الاسلام رانقلوي کوم چې يې د ځينو بدعتونو او مسائل خفيه په سياق کې راوړی دی لکه د مرجئه، خوارج او اشاعره ؤ بدعات، او بيا يې په شرک اکبر تطبيقوي والله المستعان.

## دويمه شبهه:

د هغه سړي په قيصې استدلال کول چې ويلي وو: که زه مړ شوم نو ما وسيځئ او ايره مې درياب کې وغورځوئ الحديث.

**ځواب:** أ ـ دغه سړی جاهل و حجت پرې نه و قايم شوی.

ب ـ د ده جهل په باب د صفاتو کې و يعني د ځيني صفاتو په اړه جاهل و او په باب د شرک اکبر کې جاهل نه و چې د دواړو تر منځ ډېر توپير شتون لري او بيا يې د شيخ الاسلام

خبره راوړي چې هغه په باب د شرک اکبر کې جهل عذر نه دی ګرځولی.

ج ـ دا خبره يې په لوازم باطله سره رد کړې ده، نو ويلي دي که چېرې په باب د شرک اکبر کې جهل عذر شي نو د يهودو، نصارا، روافضو او نورو کافرانو؛ جاهلان به هم معذور شي، او هغه څوک به هم معذور شي چې له دويم ځلي ژوند او يا هم د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له پيغمبرۍ څخه جاهلان وي او هر څوک به معذور شي نو بيا به څوک له عذر څخه خلاص شي؟ انتهى ملخصا.

## دريمه شبهه:

ځيني خلک د شيخ محمد بن عبد الوهاب په راتلونکي عبارت سره استدلال کوي چې هغه جاهل نه دی تکفير کړی او ويلي دي: **وإذا كنا لا نكفرمن عبد الصنم ، الذي على عبد القادر ، والصنم الذي على قبر أحمد البدوي ، وأمثالهما ، لأجل جهلهم ، وعدم من ينبههم ، فكيف نكفر من لم يشرك بالله إذا لم يهاجر إلينا ، أولم يكفرويقاتل ؟ (سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ)" انتهى من [الدرر السنية (١٠٤/١)].**

ژباړه: کله چې مونږ هغه څوک نه تکفیروو چې د بوت عبادت یې کړی وي کوم چې د عبد القادر په قبر دی او د هغه بوت چې د احمد البدوي په قبر دی او همداسې نور، له دې امله چې دوی جاهلان دي او څوک نشته چې خبر یې کړي نو مونږ به څنګه هغه خلک تکفیر کړو چې د الله تعالی سره یې برخه دار نه وي جوړ کړی له دې امله چې مونږ ته یې هجرت نه وي کړی او یا یې هم کفر نه وي کړی او نه هم (د مسلمانانو په خلاف) جنګېدلی وي؟ (پاکي ده تا لره ای الله دا خو یو لوی بهتان دی).

**ځواب:** په دې عبارت کې شیخ محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ هغه خلک چې د عبد القادر یا د احمد البدوي د قبرونو عبادت یې کړی په جهل سره یې نه دي معذور کړي، بلکې یوازې د دوی د تکفیر څخه یې ډډه کړې له دې امله چې حجت ورباندې نه و قایم شوی که څه هم مشرکان یې ورته ویلي دي څکه چې د بوت عبادت کوونکي یې ورته ویلي دي او د بوت عبادت کوونکي خو هېڅکله مسلمانان نشي کېدای.

## د جهل عذر گڼلو باطل لوازم:

جهل په باب د شرک اکبر کې عذر گڼل ډېر باطل لوازم لري چې ځينې يې په دې ډول دي:

۱ـ له دې څخه دا لازمېږي چې يهود، نصارا او د هغوی عوام هم د جهل له امله معذور وگڼل شي او دا خو د اجماع خلاف ده.

۲ـ له دې څخه دا لازمېږي چې د فترت زمانو والا (د هغه زمانو خلک چې دعوت ورته نه وي رسېدلی او آسماني حجت پرې نه وي قايم شوی لکه قبل البعثة زمانه يا نور) هم د جهل له امله معذور وگڼل شي چې دا د اجماع خلاف ده.

۳ـ له دې څخه دا لازمېږي چې جاهل منافقان او د هغوی عوام، هم د جهل له امله معذور وگڼل شي او دا هم د اجماع خلاف ده.

۴ـ له دې څخه لازمېږي: هر هغه څوک چې د الله تعالی له ربوبية څخه د جهل له وجې انکار کوي معذور وگڼل شي چې دا د اجماع خلاف ده.

۵ـ له دې څخه دا لازمېږي: هغه څوک چې د الله تعالی له علم څخه د جهل یا تأویل له امله انکار کوي معذور وګڼل شي او دا هم د سلفو د اجماع خلاف ده.

۶ـ له دې څخه لازمېږي: هغه څوک چې د الله تعالی اسماء یا صفات معطل ګڼي لکه جهمیه، هغوی هم د جهل له وجې معذور وګڼل شي او دا هم د اجماع خلاف ده.

۷ـ له دې وینا څخه لازمېږي چې د دې امت په هېڅ حجت نه دی قایم شوی، نه هم په رسول او نه په قران سره.

شیخ سلیمان بن سحمان پورته ذکر شوي لوازم باطله ثابتولو په اړه په خپل کتاب [كشف الشبهتين ص ٩٤] کې ویلي دي: **فإن المنع من التكفير والتأثيم بالخطأ في هذا كله (أي الشرك الأكبر ) رد على من كفر معطلة الذات ومعطلة الربوبية ومعطلة الأسماء والصفات ومعطلة إفراده تعالى بالإلهية والقائلين بأن الله لا يعلم الكائنات قبل كونها كغلاة القدرية ومن قال بإسناد الحوادث إلى الكواكب العلوية ومن قال بالأصلين النور والظلمة ، فإن من التزم هذا كله فهو أكفر وأضل من اليهود والنصارى ،اهـ.**

ژباړه: منعه د تکفیر او په خطا سره د ګناه نسبت کولو څخه په باب د شرک اکبر کې په هغه چا رد راځي څوک چې

معطلة الذات، معطلة الربوبية، معطلة الاسماء والصفات تکفيروي، او هغه څوک تکفيروي چې الله تعالی په الوهيت کې له يووالي څخه معطل گڼي او دا وينا کوونکي چې الله تعالی په کائناتو مخکې له وجود څخه نه پوهيدو لکه غلو کوونکي قدريه او هغه څوک چې د حوادثو نسبت اوچتو ستورو ته کوي او هغه څوک چې د دوه اصلو قايل دي چې نور او ظلمت دي نو چا چې (د تکفير څخه په منعه کولو کې) د دې التزام وکړ هغه به د يهود او نصاراو څخه غټ کافر او غټ بې لارې وي.

له دې وضاحت څخه معلومه شوه چې جهل، تأويل، تقليد،خطا، په باب د شرک اکبر کې عذر نه دي او همدا د سلفو فهم دی چې اقوال يې ذکر شول نو اوس هغوی ته د دې برعکس خبره منسوبول او مطلق جهل، تأويل، تقليد، خطا، عدم فهم الحجة أو الدليل، د تکفير په موانعو کې شمارل؛ او هم په مسائل ظاهره او خفيه کې فرق نه کول او د ټولو لپاره يو شانته موانع ويل؛ په سلفو افتراء او دروغ تپل دي چې د نورستاني په څېر د سلفو دوښمنان يې مرتکب شوي دي أعاذنا الله منه.

## د کافر له تکفیر څخه د سکوت حکم.

**د رسالې لیکوال د موانع التکفیر په آخرکې ویلي دي: وما تنازع العلماء في كونه كفرا فالاحتياط للدين التوقف وعدم الإقدام اذا لم يكن في المسألة نص صريح من المعصوم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. لأن التكفير فيه خطر، والسكوت لاخطر فيه [المنهج المتفق عليه ص ١٨].**

ژباړه: علماوو چې په کومه مسئله کې د کفر او عدم کفر تر منځ اختلاف کړی وي نو تر څو چې په کې صریح نص نه وي پیدا شوی په اړه یې اقدام نه کول او توقف ورڅخه کولو کې احتیاط دی ځکه په تکفیر کې خطر دی او په سکوت کې هیڅ خطر نشته، او د دې قول نسبت یې د رسالې په حاشیه کې خپل ځانته کړی.

د دې په ځواب کې خو اول دا یو وضاحت اړین ګڼو چې نورستاني ځای په ځای داسې کړي دي چې یوه مسئله کې پرته له دې چې دلیل راوړي یا یې حواله په یو مستند کتاب ورکړي؛ په حاشیه کې یې په خپل ځان یا په بل یو هم صفحته یې حواله ورکړي وي، چې دا مونږ ته په تصنیف کې یو نوی کار او د سلفي مدعیانو د دعوې خلاف ښکاره شو، له دې څخه دا

سوالونه پیدا کېږي: آیا نورستاني او د هغه ملګري صحابه یا تابعین دي، اتباع التابعین دي یا هم أئمه مجتهدین دي چې په قول یې اعتماد وشي؟ او که د دې زمانې د شرکي ډیموکراسۍ مجوّزین، مدافعین، احباب الطواغیت دي!

آیا دغه کسان د دې وړ دي چې نومونه یې د سلفو صالحینو په نوم لړ کې راوړل شي او خبره یې سمه د کاڼي کرښه شي؟! ځواب یې له هېچا پټ نه دی، خو نورستاني پخپله خپل ځان او خپل هغه ملګري چې دا خوسا خبرې ترې صادر شوي دي؛ د ډېرى سوالونو او جرحې هدف ګرځولي دي ځکه ډېرې بې باکه خبرې ورڅخه صادر شوي دي او داسې خبرې چې له یو چا څخه صادر شي طبعي خبره ده چې د هغه په ذات به هم جرح کېږي خو زمونږ دغه موضوع هدف نه ده مونږ به د دوی باطلې خبرې په مستندو دلایلو ردوو ان شاء الله.

اوس مقصود ته راځو: نورستاني چې د تکفیر په مسئله کې سکوت او عدم اقدام ته ترجیح ورکړې نو پکار ده چې بل طرفته یې هم خوله تړلې وی، او هیڅ ډول دفاع یا رد یې نه وی کړی بلکې پوره احتیاط یې کړی وی، ځکه دغه عبارت چې نورستاني د شیخ عبد الله بن عبد الرحمن أبا بطین رَحِمَهُ ٱللَّهُ له

عبارت څخه راخستی او بیا یې په کې خپل زیادت هم کړی دی؛ اصل یې داسې دی: **فما تنازع العلماء في كونه كفرا فالاحتياط للدين التوقف وعدم الإقدام ما لم يكن في المسألة نص صريح عن المعصوم** صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ.

**وقد استزل الشيطان أكثر الناس في هذه المسألة، فقصّر بطائفة فحكموا بإسلام من دلت نصوص الكتاب والسنة والإجماع على كفره، وتعدى بآخرين فكفّروا من حكم الكتاب والسنة مع الإجماع بأنه مسلم [فتاوى الأئمة النجدية٣ /٣٣٦].**

ژباړه: هغه څه چې علماوو په کې د کفر په اړه اختلاف کړی وي نو د دین احتیاط په توقف او اقدام نه کولو کې دی تر څو چې په مسئله کې صریح دلیل د نبي علیه السلام له احادیثو څخه نه وي موجود شوی، او شیطان ډېر خلک په دې مسئله کې خطا کړي دي نو یوه ډله خلک یې په کوتاهۍ کې اخته کړل، د هغه چا په اسلام یې حکم وکړ چې نصوص د کتاب، سنت او اجماع د هغه په کفر دلالت کوي او په بله ډله یې تجاوز وکړ، د هغه چا تکفیر یې وکړو چې کتاب، سنت او اجماع د هغه په اسلام فیصله کړې وي.

نو شيخ رَحِمَهُ ٱللَّهُ دواړه طرفته د احتياط غوښتنه کړې او د قران او حديث د نصوصو سره سم چلند غوښتنه يې کړې، او ډېر سخت قيودات يې راوړي دي گومان نه کوم که نورستاني په دغه قيوداتو سره د خپلو مؤکلينو طواغيتو اسلام ثابت کړی شي او يا هم د مظلومو موحدو مجاهدينو وينې د خوارجو او يا هم په نورو تپل شويو نومونو مباح کړی شي، شيخ ويلي دي: هغه څوک نه تکفيرول چې قران، حديث او اجماع د هغه تکفير کړی وي؛ لويه کوتاهي ده، او همداسې د هغه چا تکفير کول چې په قران، حديث او اجماع سره يې اسلام ثابت وي؛ لوی تجاوز دی چې دواړه ډلې د شيطان ښکار شوي دي. خو دلته نورستاني علمي خيانت کړی دی يوازې همدا يو جانب يې نيمگړی غوندې راخستی چې تکفير به نه کوې ځکه تکفير کې خطر دی او سکوت کې خطر نشته خو مونږ وايو چې ځيني وخت سکوت کې هم خطر شته، د هغه چا تکفير نه کول چې قران، حديث او په اجماع سره يې کفر ثابت وي لويه کوتاهي او لوی خطر دی لکه څنگه چې شيخ رَحِمَهُ ٱللَّهُ ويلي دي، نورستاني ته وايو: تا خو سکوت هم نه دی کړی د دغه طواغيتو کلکه دفاع دې کړې ده، خالص مسلمانان دې ورته

ويلي دي، سره له دې چې کفر يې په قران، حديث او اجماع د امت سره ثابت دی چې دا خبره به په خپل ځای کې بيان شي ان شاء الله، بلکې د احتياط له دايرې ډېر ورتېر شوی يې او هغه داسې چې په خپله رساله کې دې په څو ځايونو کې د دوی کفري کړنو ته جائز ويلي دي لکه ډيموکراتيک نظام، د وضعي قوانينو تحکيم او نورو ته، هغه چې ستا ځينو ملګرو ورته له دې څخه پخوا کفر ويلي وو چې په راتلونکي کې به يې مونږ هر اړخيزه څېړنه هم کوو او مسلمانانو ته به ستا خيانت راښکاره کوو ان شاء الله.

## د کافر تکفير يوازې تر علماء الکبار رابند نه دی.

**د رسالې ليکوال د تکفير مسلې اړوند بل دا ويلي دي: ومن أصولهم أنهم يرون أن الحكم بالتكفير إنما يتولاه المتأهلون من العلماء الكبار، ولا يتركون هذا الأمرلعامة العلماء، وعوام الناس. [المنهج المتفق عليه صـ١٦].**

ژباړه: د سلفو له اصولو څخه دا دي چې د تکفير حکم به مشران لياقت لرونکي علماء کوي او دا کار به عامو علماوو او عامو خلکو ته نه پرېږدي.

د تکفیر حکم یې یوازې تر مشرانو علماوو خاص کړی دی، کشران علماء او عوام یې ترې وېستي دي، خو مونږ وایو: د هغه چا تکفیر چې الله تعالی او د هغه رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته کافر ویلي وي او یا یې په کفر اجماع وي؛ په عامو او خواصو ټولو مسلمانانو باندې فرض دی بلکې له سلفو څخه دا خبره ثابت ده چې څوک د اصلي کافرو لکه یهود، نصارا، مجوس او نورو، تکفیر ونکړي هغه هم کافر دی قاضي عیاض په دې اړه اجماع نقل کړې ده هغه وایي: **الإجماع على كفر من لم يكفر أحداً من النصارى واليهود ، وكل من فارق دين المسلمين ، أو وقف في تكفيرهم ، أو شك [الشفا ٢/ ٢٨١].**

ژباړه: د هغه چا په کفر اجماع ده چې له نصارا او یهودو څخه چا ته کافر نه وایي، او هغه چا ته کافر نه وایي چې د مسلمانانو له دین څخه جدا وي، یا یې په تکفیر کې چوپ پاتې کېږي یا یې په کفر کې شک کوي. او بل ځای کې وایي: **ولهذا نكفر من لم يكفر من دان بغير ملة الإسلام من الملل أو وقف فيهم أو شك أو صحح مذهبهم وإن أظهر مع ذلك الإسلام واعتقده واعتقد إبطال كل مذهب سواه فهو كافر بإظهاره ما أظهر من خلاف ذلك، [الشفا ٢ /٦١٠].**

ژباړه: او له دې امله مونږ د هغه چا تکفير کوو څوک چې د اسلام پرته د بل ملت تابعداري کوونکی، نه تکفيروي يا د هغوی له تکفير څخه چوپ پاتې کېږي يا (د هغوی په کفر کې) شک کوي يا بې مذهب ته صحيح وايي که څه هم په دې حال کې اسلام راڅرګند کړي او اسلامي عقيده ولري او له اسلام پرته بل هر مذهب باطل وګڼي نو دا به کافر وي په سبب د ښکاره کولو د ده هغه څه چې د اسلام خلاف وي.

همداراز د هغه مرتدينو تکفير هم په هر عام او خاص مسلمان واجب دی چې کفر يې ښکاره، يقيني او د دين له ضرورياتو څخه ثابت وي.

شيخ سليمان بن عبدالله بن محمد بن عبدالوهاب د هغه چا په اړه چې کفر يې يقيني ثابت وي او څوک يې تکفير نه کوي؛ ويلي دي: **فإن كان شاكاً في كفرهم أو جاهلاً بكفرهم بينت له الأدلة من كتاب الله وسنة رسوله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ على كفرهم، فإن شك بعد ذلك وتردد فإنه كافر بإجماع العلماء، على من شك في كفر الكافر فهو كافر، [انظر رسالة أوثق عرى الإيمان صـ ٦١].**

ژباړه: که چېرې د دوی په کفر کې شکي وي يا يې له کفر څخه ناخبره وي؛ د دوی د کفر په اړه به ورته له کتاب او سنت

څخه دلايل بيان شي، که چېرې يې له دې وروسته (د دوی په کفر کې) شک وکړ نو د علماوو په اجماع سره به کافر وي، د دې قاعدې په اساس چې څوک د کافر په کفر کې شک وکړي هغه به کافر وي.

سلفو په ډېرو ځايونو کې د هغه چا تکفير کړی څوک چې د هغه چا تکفير نه کوي چې کفر يې ښکاره او يقيني وي او له حال څخه يې خبر وي.

شيخ الاسلام ابن تيميه د "دروز" ډلې په اړه وايي: **كُفْرُ هَؤُلَاءِ مِمَّا لَا يَخْتَلِفُ فِيهِ الْمُسْلِمُونَ؛ بَلْ مَنْ شَكَّ فِي كُفْرِهِمْ فَهُوَ كَافِرٌ مِثْلُهُمْ [مجموع الفتاوى ٣ /١٦٢].**

ژباړه: د دې خلکو په کفر کې مسلمانان اختلاف نه لري بلکې چا چې د دوی په کفر کې شک وکړ هغه به د هغوی پشان کافر وي.

د ابن عربي ډله علماوو تکفير کړې ده او بيا يې ويلي دي: **من شك في كفر طائفة ابن عربي فهو كافر. أهـ** [ الدرر السنية ٩ /٤٢٣]،

ژباړه: چا چې د ابن عربي ډلې په کفر کې شک وکړ هغه به کافر وي.

همداراز سلفو د ډېرو باطلو ډلو او خلکو تکفیر کړی دی او بیا یې ویلي دي چا چې د دوی تکفیر ونکړ یا یې د دوی په کفر کې شک وکړ، هغه به کافر وي، او د کافرانو او مرتدینو د تکفیر وظیفه یې یواځې تر مشرانو علماوو نه ده خاص کړې بلکې آحاد یې هم د هغوی په نه تکفیرولو سره تکفیر کړي دي کله چې یې له حال څخه خبر وي. نو مشران لیاقت لرونکي علماء په کې له کوم ځای څخه شول چې نورستاني د تکفیر د وظیفې لپاره خاص کړي دي او په نورو یې تکفیر بند کړی دی، څوک چې د تکفیر له احکامو او معتبرو موانعو څخه خبر وي هغه په کوم دلیل د مرتد له تکفیر څخه بندوي؟ آیا له دې څخه د قران او حدیث تکذیب نه لازمېږي؟ او د تکفیر وظیفې لپاره دوی کوم مشران علماء ټاکلي دي؟

آیا هغه علماء چې ټول عمر یې د طاغوتي حکمرانانو کاسه څټلي وي، د آل سلول او یا هم د پاکستان، افغانستان او نورو طاغوتي حکومتونو مزدوري یې کړې وي؟ او که د دې امت مشران نیکان علماء دې مراد دي کوم چې مخکې تېر شوي

دي او يا هم اوس د هغوی په منهج برابر روان دي؟ که اوله ډله دې مراد وي نو د هغوی تکفير يا عدم تکفير ته خو څه اعتبار نشته ځکه هغوی پخپله د موجوده طواغيتو لاسپيکرې او دېوالونه دي او که دويمه ډله دې مراد وي نو هغوی خو د کافر او مشرک تکفير کړی دی او هم يې د تکفير اجازه ورکړې ده بلکې هغه څوک يې تکفير کړي دي چې د کافر يا مرتد تکفير نه کوي يا يې په کفر کې شک کوي کله چې يې له حال څخه خبر وي. خو دا څرگنده خبره ده چې د علماء الکبار نه يې همدغه درباري د ارجاء، تصوف او نورو گنده افکارو ښکار شوي عملاء مراد دي هغه چې شپه او ورځ د طواغيتو په دفاع کې خپلې ژبې لمدې ساتي، هغوی ته شرعي مشران وايي او طاعت يې واجب گڼي، خو داسې نه ده، د هغه طواغيتو تکفير چې د اسلام اجماعي نواقضو ته يې راتگ کړی وي د ټولو مسلمانانو وجيبه ده، د هغوی سره بغض، عداوت د ايمان ننبه ده، لکه ابو الوفاء بن عقيل الحنبلي رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **إذا أردت أن تعلم محل الإسلام من أهل الزمان، فلا تنظر إلى زحامهم في أبواب الجوامع، ولا ضجيجهم في الموقف بلبيك، وإنما انظر إلى مواطأتهم أعداء الشريعة. [الآداب الشرعية لابن مفلح ١/٢٦٨].**

ژباړه: کله چې ته وغواړې چې د خپلې زمانې د خلکو مرتبه د اسلام څخه وپېژنې نو د جوماتونو په دروازو کې د دوی ګڼې ګوڼې ته مه ګوره او مه د عرفې په میدان کې د دوی د "لبیك" چغو ته ګوره بلکې د شریعت له دوښمنانو سره د دوی موافقې ته وګوره.

خو افسوس چې په دې زمانه کې د ولاء براء عقیده د خلکو له ذهنونو وتلې ده او هغه هم د داسې ناکاره علماوو د دعوت له امله چې د دوی کفر ته کفر نه وایي او خلک ورڅخه وېروي. که څه هم مونږ د تکفیر په مسئله کې افراط ته اجازه نه ورکوو خو تفریط په کې هم جایز نه ګڼو بلکې د شریعت د نصوصو سره سم چلند ته خلک رابلو.

## فائدة: في موانع التكفير عند أهل السنة والجماعة.

د ذکر شوي تفصیل په اساس غواړو چې د تکفیر موانع او اسباب په لنډه توګه د شیخ علي بن خضیر الخضیر له یو ځواب څخه چې په [إجابة الشيخ علي الخضير في منتدى السلفييون ص۸۳] کې نشر شوی دی رانقل کړو، دې لپاره چې د معتبر او غیر معتبر موانعو تر منځ توپیر وپېژنو او هم د تکفیر

په اړه د مرجئه او د اهل السنة د اصولو تر منځ توپير وپېژنو، شيخ ـ حفظه الله إن كان على قيد الحياة وفك الله أسره ـ په ياده مسئله کې ډېر ښه تفصيل کړی دی چې خلاصه يې په دې ډؤل ده:

## د تکفير موانع:

مخکې له موانعو څخه اسباب د کفر درپېژنو چې هغه: اعتقاد، قول (وينا)، عمل او شک دي. ځکه د کفر تعريف داسې شوی: هره وينا يا کار يا عقيده چې په نصوصو کې يې د مرتکب تکفير او له دين څخه د وتلو خبره شوې وي.

تفصيل يې په دې ډؤل دی:

١. **موانع د پيوستون د شرک**؛ اکراه ده (يعني پر چا چې اکراه شوې وي نو مشرک هم ورته نشي ويل کېدای او تکفير يې هم نشي کېدای) الله تعالى فرمايي: مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ [سُورَةُ النّحل: ١٠٦].

ژباړه: څوك چې له ايمان راوړلو وروسته کافر شي (هغه که) مجبور کړای شوي وي او زړه يې پر ايمان ډاډه وي (نو بيا خو خير دی).

**په مسائل خفيه(هغه مسايل چې يوازې خواص خلک پرې پوهېږي لکه د اسماؤ صفاتو مسئله، د تقدير مسئله او نور هغه مسايل چې بدعتيانو په کې خلاف کړی وي خو غلو يې په کې نه وي کړې) کې د تکفير موانع په لاندې ډول دي:**

۱ـ جهل.

۲ـ تأويل.

۳ـ تقليد.

٤ـ اکراه.

٥ـ هغه دلايل ورته نه وي رسېدلي چې د حق پېژندنې سبب گرځي.

٦ـ يا ورته د حق پېژندنې دلايل رسېدلي وي خو د هغه په نزد ثابت نه وي.

٧ـ يا دغه دلايل د هغه په نزد ثابت هم وي خو پر پوهېدلو يې نه وي توانېدلی.

٨ـ يا دغه دلايل د هغه په نزد ثابت وي خو بل يو عارض يا سبب يې مخې ته راغلی وي چې د تأويل لامل گرځېدلی وي.

۹ـ یا ورته په کې داسې شبهه راغلې وي چې الله تعالی ته په کې معذور وي.

۱۰ـ یا مجتهد وي چې د حق پلټنه کوي.

**په مسائل ظاهرة(هغه مسایل چې هر خاص او عام ترې خبر وي) کې د تکفیر مو انع په لاندې ډوَل دي:**

۱ـ جهل (ناخبرتیا)، خو د درې کسانو لپاره عذر دی:

۱ـ هغه کس چې نوی اسلام یې راوړی وي.

۲ـ هغه کس چې په اطرافي سیمو کې اوسېدلی وي او دعوت ورته نه وي رسېدلی.

۳ـ هغه کس چې په دار الکفر کې پیدا شوی او رالوی شوی وي او د مسلمانانو په ټولنه کې یې وخت نه وي تېر کړی، خو څوک چې د مسلمانانو په ټولنه کې اوسېدلی وي د هغه جهل ته اعتبار نشته ځکه داسې کس له اسلامي احکامو څخه اعراض کوونکی او یا هم کوتاهي کوونکی بلل کېږي.

۲ـ دویم مانع: اکراه ده.

**مو انع د تکفیر په فاعل(کوونکي) د کفر کې دا دي:**

۱ـ نابالغ وي.

۲ـ عاقل نه وي، عقل يې په ليونتوب يا بې هوشۍ يا خوب يا نشې يا سختې خوشالۍ، سختې غوصې له امله ختم شوی وي لکه هغه کس چې په حديث کې يې يادونه شوې چې د ډېرې خوشالۍ له وجې خطا شي کله چې ورته اوښه راپيدا شي.

۳ـ د کفري کار اراده به يې نه وي کړې او نه به يې هم د يو کار د کفري لازم يا د کفري نتيجې اراده کړي وي.

د کفري کار اراده نه لرلو مقصد دا دی چې د کفري کار اراده به يې نه وي کړې او دا مقصد نه دی چې کفري کار کوي خو د کفر اراده يې نه وي، ځکه د کار يا د خبرې اراده؛ د کفر له ارادې څخه غير وي لکه يو کس چې په کاغذ پښه کېږدي هېڅ گومان يې نه وي چې دا به قران وي خو هغه بيا قران ثابت شي نو دا کافر نه دی ځکه چې که څه هم په قران پښه اېښودل کفري کار دی خو ده يې اراده نه ده کړې، او دا مقصد نه دی چې څوک قصداً د کفر کار کوي او وايي چې زما خو د کفر اراده نشته لکه قران قصداً څېرې کوي، سپکاوی يې کوي چې دا د کفر کار دی او بيا وايي چې ما په دې کار سره کفر نه دی

اراده کړی نو دلته زمونږ دغه مراد نه دی بلکې اوله توجیه مراد ده.

او د کفري نتیجې او کفري لازم معنا دا ده چې یو کار په خپل ذات کفري نه وي خو په نتیجه کې یې کفر رامنځته کېږي او کفر ته رسوونکی وي، او یا هم یو کار چې په خپل ذات کفري نه وي خو کفر ورسره لازم وي یعني د یو بل سره لازم ملزوم وي؛ نو کوونکی چې یې د کفري نتیجې او یا هم د کفري لازم اراده نه وي کړې نه کافر کېږي او دا مانع د تکفیر دی.

٤ـ په اسبابو کې موانع رامنځته کېدل، داسې چې یوه وینا یا کار وکړي خو په کفر کې صریح یا ښکاره نه وي.

٥ـ لازم او انجام یا نتیجه یې ورله نه وي اراده کړې او نه یې هم د دې التزام یا اهتمام کړی وي نو د ارادې او د التزام نشتوالی مانع د تکفیر دی لکه څنګه چې مخکې ذکر شو.

٦ـ په اثبات کې موانع رامنځته کېدل، داسې چې کفر یې په ګواهانو او یا په اقرار ثابت نه شي.

٧ـ هېڅ حجت وربانديې نه وي قایم شوی چې له امله یې تکفیر وشي.

۸ـ په خپل اختيار کې نه وي بلکې اکراه يا زور وربانديې شوی وي، هر چې جهل او تأويل دي نو تفصيل يې مخکې شوی دی.

دا د تکفير معتبر موانع دي.

## د تکفير نامعتبره موانع:

د تکفير هغه موانع چې معتبر نه دي خو ځينو خلکو په موانعو کې شمارلي دي بيان يې په دې ډؤل دی:

۱ـ الخوف، وېره.

۲ـ د کفر اراده نه لرل (يعني د کفر کار يا خبره کول خو د کفر اراده نه لرل).

۳ـ کفر يوازې ترعقيدې رابندول او عمل ته اعتبار نه ورکول.

٤ـ کله چې کفر د حاکمانو، علماوو يا له مجاهدينو څخه صادر شي نو د هغوی له تکفير څخه ډډه کول که څه هم صريح يا ښکاره کفر ورڅخه صادر شوی وي.

٥ـ ناکاره تربيت د تکفير مانع گڼل.

٦ـ د دعوت یا د ګټو مصلحت. نو تر څو چې یې مصلحت مقصد وي که کفر ورڅخه هم صادر شي تکفیر یې نه کوي.

٧ـ په ټوقه کې کفر کول نه په ریښتیا. نو یوازې په ریښتیا سره کفر کوونکی کافر ګڼي.

٨ـ د احکامو یا سزا نه مرتب کېدلو له امله یې نه تکفیرول.

ځینې خلک دا هم د هغه چا د تکفیر مانع ګڼي چې بواح یا ښکاره کفر ترې صادر شي، وایي چې تکفیر به یې نه کېږي ځکه که تکفیر یې وکړې نو وژنې به یې، او وژلی خو یې نشي، په خلاف یې پاڅون هم نشې کولی، له ښځې څخه یې نشې جدا کولی او له میراث څخه یې نشې محرومولی، نو چې داسې نشې کولی تکفیر به یې هم نه شي کېدای!

خو مونږ وایو چې د اسماء او احکامو تر منځ توپیر دی او دا مقصد نه دی چې کله د یو حکم عملي کولو توان نه لرې نو شرعي نوم به هم ورته نه کاروي.

**قال الشيخ عبد اللطيف [في المنهاج ص٣١٦] : فيمن يظن"ويعتقد أن كلام أهل العلم وتقييدهم بقيام الحجة وبلوغ**

**الدعوة ينفي اسم الكفر والشرك والفجور ونحو ذلك من الأفعال والأقوال التي سماها الشارع بتلك الأسماء... إن عدم قيام الحجة لا يغير الأسماء الشرعية بل يُسمى ما سماه الشارع كفرا أو شركا أو فسقا باسمه الشرعي ولا ينفيه عنه وإن لم يعاقب فاعلها إذا لم تقم عليه الحجة وفرق بين كون الذنب كفرا وبين تكفير فاعله".**

ژباړه: شیخ عبد اللطیف د هغه چا په اړه ویلي دي: چې دا عقیده لري چې د علماوو د حجت قایمولو او دعوت رسولو قیدونه لګول؛ د کفر نوم، د شرک نوم، د فجور یا ګناه نوم او داسې نور، کارونه او خبرې چې شریعت ورته دغه نومونه ایښي وي؛ نفي کوي (بیا وایي:) د حجت نه قایمول شرعي نومونه نه بدلوي بلکې په هغه شرعي نومونو سره به یادیږي کوم چې ورته شارع ایښي وي چې د کفر یا شرک یا د فسق نومونه دي، او دغه خپل شرعي نوم به ترې نه نفي کوي که څه هم کوونکي ته یې له دې امله سزا ورنکړل شي چې حجت ورباندې نه دی قایم شوی خو د یوې ګناه کفر ګرځېدلو او د کوونکي د تکفیرولو تر منځ توپیر شتون لري. (یعني یوه ګناه چې کفر وي تکفیر د کوونکي ورسره لازم نه دی تر څو چې ورباندې حجت نه وي قایم شوی خو دغه ګناه کوونکي ته چې

شریعت کې کوم نوم ورکړی شوی دی؛ کوونکی به یې په هماغه نوم سره یادېږي).

## تکفیر په اړه د مرجئه وو اصول.

تکفیر په اړه د مرجئه وو اصول په دې ډول دي:

۱ـ د تکفیر نه په عامه او مطلقه توګه ډډه کول پرته له تفصیل څخه(یعني چې د چا تکفیر پکار دی او د چا له تکفیر څخه ډډه پکار ده).

۲ـ همیشه او په هره مسئله کې د قول او قائل، فعل او فاعل تر منځ فرق کول برابره ده که یوه مسئله د شرک اکبر له باب څخه وي او له مسائل ظاهره څخه چې حجت وربانديې هم قایم شوی وي خو بیا هم دغه فرق کوي او داسې وایي چې قول یا عمل د کفر دی، نظام کفري دی خو کوونکی یا ویوونکی د کفر یا د کفري نظام چارواکی کافر نه دی که څه هم اسباب د کفر یې موجود شوي او موانع یې منتفي شوي وي خو بیا یې هم نه تکفیروي، او دا یې همیشنۍ طریقه ده، له دې امله دوی پرته له هغو کافرانو چې نومونه یې په قران یا حدیث کې ذکر دي؛ د نورو اشخاصو تکفیر په تعین سره نه کوي.

٣ـ د تکفیر باب له زده کړې، پوهې او له کتابونو څخه يې ډډه کول او په مدرسو کې يې نه تدريسول، د أئمة الدعوة نجدي علماوو کتابونو څخه ډډه کول، يوازې د توحيد اصولو زده کولو ته اعتبار ورکول او په دې اړه د شيخ محمد بن عبد الوهاب کتاب چې نوم يې دی "کتاب التوحيد" په تکراري توګه لوستل کوم چې اوس وخت د نوو طواغيتو په اړه ورته ډېره اړتيا نه ليدل کېږي، او هم د اسلام له نواقضو زده کولو ډډه کول او د هغې لوستل يوه فتنه ګڼل او په تکفير زړورتيا ګڼل.

٤ـ د ولاء براء مسايلو اهتمام نه کول او نه هم د کفر بالطاغوت مسئلې اهتمام کول او هر وخت دا خبره کول چې مونږ په دې مکلف نه يو، الله تعالی له مونږ څخه هېڅکله په دې اړه پوښتنه نه کوي، د دې مسايلو په زده کړه کې څه فايده نشته.

٥ـ د عذر بالجهل مسايل مطلق بيانول او په دې باب کې ډېره توسعه کول تر دې چې د يهودو او نصاراو په اړه هم د جهل خبره کول چې دوی هم جاهلان دي.

٦ـ هر وخت نرمۍ ته خلک رابلل.

۷ـ د طواغیتو له تکفیر څخه ځان ساتل او څوک چې یې تکفیروي له هغوی څخه هم ځان ساتل او د دغه تکفیر له امله ورسره دوښمني لرل.

۸ـ ځیني سیاسون د حق معیار ګڼل او څوک چې یې له دې امله تکفیروي چې اسباب د بواح یا ښکاره کفر یې موجود شوي دي او موانع د تکفیر یې منتفي دي؛ هغه کس خارجي،تکفیري او فتنه ګر ګڼل او د اهل السنة څخه او یا یې سلفي نه ګڼل. که څه هم د تکفیر مسایل په معین کس تطبیقول په اجتهاد بنا دي، ځکه اصل په مسایلو د تکفیر کې دا دی چې مونږ داسې ووایو: چا چې د غیر الله عبادت وکړ هغه به مشرک کافر وي، چا چې قران پورې ټوقې وکړې هغه به مرتد وي او داسې نور، دا هغه اصل دی چې خلاف ورڅخه جایز نه دی، خلاف کوونکی یې ګمراه او د اهل السنة والجماعة څخه نه دی، هر چې متعین کس دی نو هغه جدا خبره ده.

## د تکفیر مسئلې په اړه ځینې اړین اصول:

۱ـ اسلام د یو الله تعالی عبادت کولو او د نبي علیه السلام رسالت منلو او د هغه د راوړي شریعت تابعداري کولو ته وایي چا چې داسې ونکړل هغه مسلمان نه دی.

۲ـ چا چې شرک اکبر ته راتګ وکړ هغه به مشرک وي تر څو چې مکرَه نه وي.

۳ـ چا ته چې د شرک نوم ثابت شي د هغه سزا به وروسته د حجت قایمولو څخه وي.

٤ـ قیام د حجت او فهم د حجت تر منځ توپیر واجب دی.

٥ـ د قیام د حجت هغه شرطونه چې په هغې سره مشرک د سزا مستحق ګرځي:

أـ د الله پیغام ورته رسېدل.

ب ـ د پوهیدلو توان یې لرل.

٦ـ په احکامو کې د حجت قایمېدلو شرطونه:

أـ د زده کولو توان یې لرل.

ب ـ او د عمل توان یې لرل.

۷ـ د مبتدعينو د تكفير شرطونه:

أ ـ حجت به پرې قايم شوی وي.

ب ـ شبهه به يې زايله شوي وي.

۸ـ د مبتدعينو د تكفير موانع:

أ ـ د هغو نصوصو، نه رسېدل كوم چې د حق پېژندنې سبب گرځي.

ب ـ يا ورته د حق پېژندنې دلايل رسېدلي وي خو د هغه په نزد ثابت نه وي.

ج ـ يا به ثابت وي خو د فهم توان به يې نه لري.

د ـ يا به ثابت وي خو بل سبب به يې د تأويل لامل گرځېدلی وي.

هـ ـ يا به ورته شبهه راغلې وي چې الله تعالی ته به معذور وي.

و ـ يا به مجتهد وي چې د حق پلټنه به كوي.

۹ـ په یو مکلف باندې چې حجت قایمېږي نو د خطاب په دلالت یا معنا باندې د پوهېدلو له امله قایمېږي، نه په دې چې حق او سمه خبره پوره وپېژني.

۱۰ـ د ښکاره مسایلو او پټو مسایلو تر منځ توپیر واجب دی.

۱۱ـ څوک چې د دین د ضروري یا ښکاره احکامو څخه انکار وکړي هغه به کافر وي مگر که نوی اسلام یې راوړی وي یا په لرې پرتو سیمو کې پاتې شوی وي یا په کفري ملکونو کې پیدا شوی او رالوی شوی وي.

۱۲ـ د هغه چا تکفیر به نشي کېدای چې له یو داسې شي څخه انکار وکړي کوم چې له مسائل خفیه څخه وي تر څو چې یې د تکفیر شرطونه نه وي موجود شوي او موانع یې نه وي منتفي شوي.

۱۳ـ چا چې په مسائل خفیه کې د حق طلب کوښښ وکړ او حق ته په کې ونه رسېده ،نو دې کس ته به الله تعالی اجر ورکوي، خو چا چې په کې د حق په طلب کې کوتاهي وکړه سره له دې چې د پلټنې توان یې درلود نو هغه به گناه گار وي.

۱٤ـ فاسقانو او ګناهګارانو ته وعید یا اخطار به د موانعو منتفي کېدلو پورې موقوف وي.

## خلاصة القول:

له دې ټول بحث څخه معلومه شوه چې نورستاني د معین کس د تکفیر لپاره کوم موانع یا اسباب ویلي دي سلفو هغه ټولو موانعو ته اعتبار نه دی ورکړی بلکې تفصیل یې په کې کړی دی ځینو ته یې اعتبار ورکړی دی او ځینو ته یې نه دی ورکړی، کلک یې رد کړي دي چې په دې اړه یې اقوال ذکر شول او د تفصیلي معلومات لپاره مراجع هم ذکر شول نو له دې امله ویلی شو چې د نورستاني، د تکفیر بالنوع او معین قاعده راوړل او بیا یې په ځینو غیر معتبر موانعو یا اسبابو سره مشروط کول؛ د سلفو له اصولو سره هیڅ تړاو نه لري بلکې په هغوی ښکاره بهتان او درواغ دي چې د رسالې لیکوال ورته منسوب کړي دي.

## منهج السلف فی تحکیم شرع الله.

د رسالې لیکوال لکه څنګه چې یې د تمهید په توګه په ابتداء کې له توحید الحاکمیة څخه انکار کړی و، بدعت یې ورته ویلي وو؛ اوس نو د هماغه خبرې په اساس د تحکیم اړوند

ځینې مسائل یې پرې تفریع کړي دي نو لکه څنګه چې یې د توحید الحاکمیة نوم او نښان ورک کولو هڅه کړې وه هماغسې د حاکمیت یا د تحکیم اړوند موضوعاتو له منځه وړلو هڅه یې هم کړې ده چې دا د دې خبرې ښکارندوی کوي چې دوی یواځې د توحید الحاکمیة نوم د بدعت په پلمه له منځه وړل نه غواړي بلکې د توحید الحاکمیة عملي تطبیق هم له منځه وړل او د دې مسئلې نوم او نښان ختمول غواړي چې دا حقیقت به په راروانو مسایلو کې هر لوستونکی درک کړي ان شاء الله، او هم به په دې پوهه شي چې دوی د سلفو د نوم نه په استفادې سره د کومو سلفو منهج ته خلک رابلي آیا د هغه سلفو منهج ته چې مشري یې جهم بن صفوان او محمد بن کرام السجستاني کوله او که د محمد رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ملګرو صحابه، تابعینو او د هغوی د لارویانو منهج ته، بیا به تاسو ته د دوی اصلي څېره راښکاره شي ان شاء الله.

خو اوس یې عبارت ته راګرځو:

د رسالې لیکوال په سر کې دا خبره کړې "چې په ټولو مسلمانانو لازم دي چې قران او حدیث ته فیصله یوسي". دا خبره یې ښه ده د ټولو مسلمانانو مبارزه باید له همدې لپاره وي،

خو که څوک د دې خلاف وکړي او د الله تعالی د قانون په ځای بل قانون ته فیصله یوسي، یا د شریعت خلاف بل قانون حاکم کړي، یا هم د شریعت خلاف له ځانه قوانین وضعه کړي، یا د الله تعالی د قانون په خلاف کې د بل چا طاعت وکړي د هغوی به څه حکم وي؟ نو په دې باب کې یې د دغه خلکو حکم د خپلې فاسدې عقیدې په اساس واضح کړی دی چې مونږ به یې هره خبره د شریعت د نصوصو او د سلفو د فهم مطابق ردوو او صحیح حکم به یې هم واضح کوو ان شاء الله، نو تفصیل ته راځو او وایو:

## وضعي قانون ته د فیصلې وړلو حکم.

د رسالې لیکوال د وضعي قانون د حاکم په اړه لیکي وایي:
**من حكم بغير ما أنزل الله مع علمه بذلك غير مستحل، ولا مستهزئ إنما حمله عليه عصبية لقريبه، أو أخذ رشوة لم يكفر بل هو مذنب فاسق، ومن استحل الحكم بغير ما أنزل الله، أو الزنا، أو الربا، أو غيرها من المحرمات المجمع على تحريمها، فقد كفر كفرا أكبر، وظلم ظلما أكبر، وفسق فسقا أكبر. [المنهج المتفق عليه ص ١٩].**

ژباړه: چا چې په وضعي قانون فیصله وکړه سره له پوهې، په داسې حال کې چې فیصله یې ورباندې حلاله نه ګڼله او نه

يې هم د الله تعالی قانون پسې تېوقې کولې بلکې په دې کار کې ورباندې د خپلوانو تعصب باعث شوی و یا ورباندې د رشوت اخستل باعث شوي وو؛ نو کافر به نه وي بلکې گناهگار فاسق به وي. او چا چې په وضعي قانون فیصله کول حلال وگڼل یا یې زنا، سود او نور هغه کارونه چې په تحریم یې اجماع شوې وي؛ حلال وگڼل نو ده غټ کفر، غټ ظلم او غټ فسق وکړ. او بیا وروسته وایي چې دا کارونه کفر گرځېدل یا نه گرځېدل استحلال قلبي سره اړیکه لري نو که د زړه نه یې زنا، شراب، وضعي قانون ته فیصله وړل او نور گناهونه یې حلال وگڼل؛ کافر به وي که د زړه نه یې حلال نه گڼل یواځې عملي استحلال ته یې راتگ کاوه یعنې عملاً یې دغه گناهونه کول نو فاسق به وي خو تر څو چې مونږ ته د زړه معلومات نه وي شوی؛ تکفیر یې نشو کولی. دا د رسالې د لیکوال خبره وه چې مونږ رانقل کړه.

اوس د دې خبرې تحقیق ته راځو نو وایو:

د رسالې لیکوال په وضعي قانون فیصله کول یا ورته فیصله وړل هله کفر گرځولی چې کله یې له زړه څخه ورباندې فیصله کول حلال وگڼل او که له زړه څخه یې حلال نه گڼل

هسې نورو مادياتو له امله يې وربانديې فيصله كوله نو فاسق به وي. مخكې له دې چې مقصود ته راشو په يو څو خبرو رڼا اچوو چې بيان يې په دې ډؤل دی:

## الف ـ په باب د كفر كې د استحلال قيد رد.

دا د غلاة المرجئة طريقه ده چې په مكفره گناه كې د تكفير لپاره قيد د استحلال قلبي يا جحود قلبي شرط كوي او د كفر په ډؤلونو كې كفر الجحود ته او هغه هم په داسې حال كې چې د جحود معنا د زړه انكار پورې رابنده وي، او كفر التكذيب ته اعتبار وركوي خو د كفر نورو ډؤلونو ته اعتبار نه وركوي او نه هم د اندامونو جحود ته اعتبار وركوي حال دا چې ځينو علماوو د جحود معنا په اندامونو كې حقيقت گرځولی. دا ځكه چې دوی ايمان د زړه له معرفت يا تصديق څخه عبارت گڼي خو د اندامونو عمل د ايمان په اركانو كې نه شماري، نو له همدې امله كله چې يې تصديق په استحلال قلبي (له زړه څخه د گناه حلال گڼل)يا جحود قلبي (زړه له تصديق څخه خالي كېدل) سره له منځه لاړ ايمان يې هم له منځه لاړ او كه جحود يا استحلال قلبي يې ونه كړ تصديق به يې سالم وي نو ايمان به يې هم سالم وي. خو اهل السنة والجماعة د جحود

او استحلال قیدونو په اړه داسې تفصیل کوي وایي: ګناهونه په دوه ډوله دي: یو ډول: مکفره ګناهونه دي یعنې هغه ګناهونه چې په صحیح نص یا اجماع سره ورته کفر ویلی شوي وي، دویم ډول: غیر مکفره یعنې مفسقه ګناهونه دي، دا هغه ګناهونه دي چې انسان پرې نه کافر کېږي تر څو چې یې حلال ونه ګڼي لکه زنا، شراب او داسې نور، نو قید د استحلال به په غیر مکفره ګناهونو کې معتبر وي یعني هغه ګناهونه چې کفر نه دي؛ حلال ګڼونکی به یې کافر وي ځکه ده هغه څه حلال وګڼل چې الله حرام کړي دي او څوک چې د الله تعالی حرام، حلال وګڼي په اجماع سره کافر کېږي، خو هر چې مکفره ګناهونه دي نو په هغې کې د استحلال قید ته اعتبار نشته بلکې چا چې مکفره ګناه ته راتګ وکړ هغه به کافر وي برابره ده که دغه ګناه له زړه څخه حلاله ګڼي او که نه یې ګڼي، یوازې چې راتګ ورته وکړي او عملي استحلال یې وکړي کافر کېږي او کومو علماوو چې د استحلال قید په باب د تکفیر کې د ګناهونو لپاره شرط کړی لکه امام طحاوي او نورو، نو د خوارجو د رد لپاره یې شرط کړی له دې امله چې خوارج په کبیره ګناهونو د خلکو تکفیر کوي، او د مکفره او غیر مکفره

گناهونو توپير نه کوي، نو اهل السنة والجماعة دغه قيد له دې امله راوړی چې په مطلق گناه سره څوک نه کافر کېږي تر څو چې يې حلاله نه وي گڼلې او يا مکفره نه وي، خو د مکفره گناه لپاره يې دغه شرط نه دی ويلی لکه د عقيدة الطحاويه شارح په [ص ٢٩٦] کې وايي: **يشير الشيخ** رَحِمَهُ ٱللَّهُ **إلى الرد على الخوارج القائلين بالتكفير بكل ذنب.**

ژباړه: شيخ رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خوارجو باندې رد ته اشاره کوي چې په هرې گناه سره د تکفير قائل دي.

بيا وايي: **ولهذا امتنع كثيرٌ من الأئمَّةِ عن إطلاقِ القَولِ بأنَّا لا نُكَفِّرُ أحدًا بذَنبٍ، بل يقالُ: لا نكَفِّرُهم بكُلِّ ذَنبٍ، كما تفعلُه الخوارجُ، وفَرْقٌ بين النَّفيِ العامِّ، ونفيِ العُمومِ، والواجب إنما هو نفي العموم مناقضة لقول الخوارج الذين يكفرون بكل ذنب [شرح الطحاوية ص٢٩٦ كما تقدم].**

ژباړه: همدا لامل دی چې ډېرو امامانو له دې خبرې ډډه کړې چې مونږ هېڅ ته د گناه له امله د کفر نسبت نه کوو ، بلکې داسې به ويل کېږي: مونږ چا ته په هرې گناه د کفر نسبت نه کوو لکه څنگه چې يې خوارج کوي، نفي د عام او نفي د عموم تر منځ فرق دی، نفي د عموم واجب ده دې لپاره

چې د خوارجو د وينا خلاف وشي كوم چې هره گناه د تكفير لامل گڼي. (نفي د عام دا معنا چې په هېڅ گناه باندې څوک نه تكفيرول كه څه هم مكفره گناه وي او نفي د عموم دا معنا چې هره گناه مكفره نه گڼل بلكې ځينې گناهونه مكفره گڼل چې په دې اړه خوارجو او معتزله وو افراط كړى او مرجئه وو تفريط كړى خو اهل السنة والجماعة درميانه چلېدلي دي، نفي د عام نه يې اجتناب كړى خو نفي د عموم يې راجح كړى چې همدا خبره د شريعت د نصوصو سره موافق ده).

بلكې د مكفره گناهونو لپاره چې څوک د جحود او استحلال شرطونه وايي لكه جهميه او نور، اهل السنة والجماعة ورباندې د كفر حكم كړى، دا خبره شيخ الاسلام ابن تيميه په خپله فتاوى كې په اوم جلد (ص ٢٠٥)كې راوړې ده، او په اوم جلد (ص٢٠٩) كې يې د امام احمد رَحِمَهُ ٱللَّهُ څخه هم په دې اړه خبره نقل كړې چې سلفو د هغه چا تكفير كړى څوک چې په مكفره گناهونو كې د تكفير لپاره جحود قلبي يعني د زړه انكار شرط كوي.

او ابو بكر بن خلال په خپل كتاب "السنة" كې د حميدي څخه يو اثر نقل كړى چې دا په سلفو كې يو غټ عالِم او امام

تیر شوی هغه وایي: **قال الحميدي: وأخبرت أن قوما يقولون: إن من أقر بالصلاة والزكاة والصوم والحج ولم يفعل من ذلك شيئا حتى يموت أو يصلي مسند ظهره مستدبر القبلة حتى يموت فهو مؤمن، ما لم يكن جاحدا، إذا علم أن تركه ذلك في إيمانه إذا كان يقر الفروض واستقبال القبلة، فقلت: هذا الكفر بالله الصراح، وخلاف كتاب الله وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم، وفعل المسلمين، قال حنبل: قال أبو عبد الله، أو سمعته يقول: «من قال هذا فقد كفر بالله، ورد على الله أمره، وعلى الرسول ما جاء به» [السنة للخلال أثر رقم: ١٠٢٧].**

ژباړه: حمیدي وایي: ماته خبر راکړل شوی چې ځینې خلک وایي: چا چې په لمونځ، زکات، روژه او حج اقرار وکړ او له دغه اعمالو څخه یې هېڅ عمل ونکړ تر دې چې مړ شي یا قبلې ته شاه کړی لمونځ کوي تر دې چې مړ شي نو مؤمن به وي تر څو چې یې له زړه څخه انکار نه وي کړی، کله چې د دې معلومات وي چې دغه اعمال یې په ایمان کې په داسې حال کې پرېښي دي چې په فرض اعمالو او قبلې ته په مخ کولو اقرار کوي، نو ما ورته وویل: دا په الله تعالی ښکاره کفر دی، د الله تعالی د کتاب خلاف، د نبي علیه السلام د سنتو خلاف او د مسلمانانو د عمل خلاف کار دی، حنبل وایي: ابوعبدالله ویلي

دي يا ما له هغه څخه اوريدلي دي چې هغه ويل: چا چې دا خبره وکړه هغه په الله کفر وکړ او د الله تعالى امر يې رد کړ او د نبي عليه السلام راوړی شريعت يې رد کړ.

صحابه وو په اعمال او اقوال مکفره کې قيد د استحلال يا جحود ته اعتبار نه دی ورکړی بلکې د لمونځ پرېښودونکي په کفر يې اجماع کړې که څه هم په فرضيت يې اقرار کوي، مانعين د زکات يې تکفير کړي سر او مال يې ورله حلال ګڼلي سره له دې چې د زکات په وجوب يې اقرار کاوه او نبي عليه السلام ته يې زکات ورکوو خو کله چې هغه وفات شو نو تأويل يې وکړ او وې ويل: مونږ نبي عليه السلام ته زکات ورکاوه خو هغه وفات شو نو ابوبکر ته يې نه ورکوو، نو هغوی له دغه حکم څخه انکار نه و کړی، خو بيا هم صحابه وو د هغوی په تکفير اجماع کړې.

شيخ الاسلام ابن تيميه د هغه چا په اړه چې د احکامو په وجوب د اقرار کوونکو او انکار کوونکو تر منځ توپير کوي يعني قيد د استحلال يا جحود ته په اقوال او افعال مکفره کې اعتبار ورکوي، وايي: **وهذه الفروع لم تنقل عن الصحابة، وهي فروع فاسدة، [مجموع الفتاوى ٢٢ /٤٨]،**

ژباړه: دا فروع له صحابه وو څخه نقل نه دي او دا فاسد فروع دی.

ابن نجیم په [البحر الرائق ٥/ ١٣٤] کې وایي: **والحاصل أن من تكلم بكلمة الكفر هازلا أو لاعبا كفر عند الكل ولا اعتبار باعتقاده.**

ژباړه: خلاصه دا شوه چا چې د کفر خبره په ټوقو یا لوبو کې وکړه د ټولو علماوو په نزد کافر دی او عقیدې ته یې هیڅ اعتبار نشته.

علامه ابن الوزیر الیماني رَحِمَهُ ٱللَّهُ د هغه چا په اړه چې په باب د تکفیر کې یوازې عقیدې یا استحلال ته اعتبار ورکوي، وایي: **وعلى هذا لا يكون شيء من الأفعال والأقوال كفراً إلا مع الاعتقاد حتى قتل الأنبياء، والاعتقاد من السرائر المحجوبة فلا يتحقق كفر كافر قط إلا بالنص الخاص في شخص [إيثار الحق على الخلق في رد الخلافات إلى المذهب الحق من أصول التوحيد ص٣٨٠].**

ژباړه: نو په دې اساس هیڅ قول او فعل به پرته له عقیدې کفر نه ګڼل کیږي تر دې که پیغمبران هم ووژني، او عقیده خو

له پټو رازونو څخه ده نو د يو كافر كفر به هېڅكله نشي ثابتېدلی مگر د يو كس په اړه په ځانگړي دليل سره.

اسحاق بن راهويه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **أجمع المسلمون على أن من سب الله أو سب رسوله صلى الله عليه وسلم أو دفع شيئا مما أنزل الله عزوجل أو قتل نبيا من أنبياء الله عزوجل: "أنه كافر بذلك وان كان مقرا بكل ما أنزل الله" [الصارم المسلول على شاتم الرسول ١/٣].**

ژباړه: د مسلمانانو په دې اجماع ده چا چې الله تعالى ته كنځلې وكړې يا يې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته كنځلې وكړې يا يې د الله تعالى يو حكم رد كړ يا يې يو پيغمبر د الله تعالى له پيغمبرانو څخه وواژو؛ نو دا به په دې سره كافر وي كه څه هم د الله تعالى په ټولو احكامو اقرار كوي.

امام اسحاق بن راهويه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په دې عبارت كې درې خبرې كړې او بيا يې پرې يو شان نتيجه مرتب كړې ده:

اول: چا چې د الله تعالى يو حكم رد كړ. نو دغه طواغيتو خو د الله تعالى ډېر احكام رد كړي دي.

دويم: د الله تعالی د حکم رد کوونکي يې د هغه چا سره مساوي کړي دي چې الله تعالی او د هغه رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کنځلې کوي يا يو پيغمبر ووژني.

دريم: که څه هم د الله تعالی په ټولو احکامو اقرار کوي او مني يې، خو بيا به يې هم دغه حکم وي. نو په دې کې يې د تکفير لپاره استحلال (حلال ګڼل) يا جحود(د زړه انکار او له زړه څخه تصديق ختمېدل) ته اعتبار نه دی ورکړی.

نو له دې فتوی څخه معلومه شوه چې څوک د الله تعالی يو حکم رد کړي که څه هم د دغه حکم په شمول د شريعت ټول احکام مني او اقرار ورباندې کوي؛ په اجماع د امت کافر دی او دا يوه فتوه هم د دوی د رد لپاره کافي ده.

## ب ـ ظاهر (څرګند) فساد په باطن (عقيدوي)فساد دليل دی.

دا خبره هم ياد ساتل پکار دي چې کفري وينا يا کار، د عقيدې او باطن په خرابوالي دلالت کوي او اهل السنة والجماعة له ظاهر څخه په باطن استدلال کوي ځکه چې ايمان ظاهر او باطن دواړو سره اړيکه لري او د دواړو تر منځ تلازم ثابت دی.

ابن حجر رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **فمن أقر أجريت عليه الأحكام في الدنيا ولم يحكم عليه بكفر إلا إن اقترن به فعل يدل على كفره كالسجود للصنم، [فتح الباري لابن حجر١/ ٤٦].**

ژباړه: چا چې په (كلمه د توحيد) اقرار وکړ نو په دنيا کې به ورباندې(د اسلام) احکام جاري شي او د کفر حکم به ورباندې نشي کېدای مګر که د دغه اقرار سره داسې کار يو ځای شي چې په کفر يې دلالت کوي لکه بوت ته سجده کول.

دلته هم ظاهر نه په باطن استدلال شوی دی.

امام شاطبي په [الموافقات ١/ ٣٦٧] کې وايي: **ومن هنا جعلت الأعمال الظاهرة في الشرع دليلا على ما في الباطن، فإن كان الظاهر منخرما؛ حكم على الباطن بذلك، أو مستقيما؛ حكم على الباطن بذلك أيضا، وهو أصل عام في الفقه وسائر الأحكام العاديات والتجريبيات، بل الالتفات إليها من هذا الوجه نافع في جملة الشريعة جدا، والأدلة على صحته كثيرة جدا، وكفى بذلك عمدة أنه الحاكم بإيمان المؤمن، وكفر الكافر، ا.هـ.**

ژباړه: نو له دی امله ظاهري اعمال په شريعت کی په باطني حال (اعتقاد) دليل ګرځېدلی نو که ظاهر ناقص وي باطن باندې به يې هم دغه حکم کېدلی شي او که ظاهر برابر وي نو

په باطن باندې به يې هم دغه حکم کېدلی شي او دا يو عام اصل دی په فقهه او نورو عادتي احکامو او تجربو کې شتون لري بلکې دې ته توجه کول له همدې امله (چې ظاهر په باطن دليل دی) په ټول شريعت کی ډېر ګټور دی او دلايل د دې په صحيحوالي ډېر زيات دي او دا فائده د ټولو فائدو څخه کافي ده چی دا (ظاهري حالت) حکم کونکی دی په ايمان دمؤمن او په کفر د کافر.

شيخ محمد بن ابراهيم وايي: **لو قال من حكَّم القانونَ: أنا أعتَقِدُ أنَّه باطِلٌ، فهذا لا أَثَرَله، بل هو عَزْلٌ للشَّرعِ، كما لو قال أحدٌ: أنا أعبُدُ الأوثانَ، وأعَتِقُد أنَّها باطِلٌ [فتاوى ورسائل محمد بن إبراهيم آل الشيخ ٦/ ١٨٩].**

ژباړه: که چېرې هغه څوک چې قانون نافذوي او وايي: زه دا عقيده لرم چې دا قانون باطل دی نو د دې خبرې لپاره هيڅ اثر نشته بلکې دا د شريعت ګوښه کول دي، لکه څنګه چې يو کس ووايي: زه د بوتانو عبادت کوم خو باطل يې ګڼم.

همدا راز طاغوت ته د فيصلې وړلو په مسئله کې الله عزوجل د فيصله وړونکي له باطن او زړه څخه هم ايمان نفي کړی او دا حکم يې يوازې په ظاهري تحاکم او په ظاهري

اعراض بنا کړی چې د الله تعالی له حکم څخه اعراض کول او هغو قوانینو ته فیصله وړل چې د خلکو له خواهشاتو او رایو څخه جوړ دي الله عزوجل فرمايي: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا إِلَى الطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا أَن يَكْفُرُوا بِهِۦ وَيُرِيدُ الشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًا بَعِيدًا؛ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ اللهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا [سُورَةُ النِّسَاء: ٦٠، ٦١].

ژباړه: (اې پیغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)آیا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي چې: موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي ول ایمان راوړی دی؟ - خو غواړي چې خپلي چارې د فیصلې لپاره د طاغوت لوري ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغو ته له طاغوت څخه د منکرېدو حُکم شوی ؤ. شیطان غواړي هغوی وغولوي او د سمې لارې څخه يې ډېر لري وباسي. او کله چې هغو ته ویل کېږي چې راشئ، د هغه شي لوري ته چې الله نازل کړي دي. او راشئ، د پیغمبر لوري ته. نو ته به دغو منافقانو

ته ګوري چې ستا لوري ته له راتګ څخه بیخي ځانونه ګوښه کوي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دغه آیتونو لاندې لیکي وايي: **فبين سبحانه أن من دعي إلى التحاكم إلى كتاب الله وإلى رسوله فصد عن رسوله كان منافقا.... فإذا كان النفاق يثبت ويزول الإيمان بمجرد الإعراض عن حكم الرسول وإرادة التحاكم إلى غيره مع أن هذا ترك محض وقد يكون سببه قوة الشهوة فكيف بالتنقص والسب ونحوه؟.[الصارم المسلول على شاتم الرسول ص٣٧].**

ژباړه: الله تعالی دا خبره بیان کړې ښوک چې د الله تعالی کتاب او د رسول الله صَلَّىٰ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ سنتو ته د فیصلې لپاره راوبلل شو، پس هغه نبي علیه السلام ته له فیصلې وړلو څخه بند شو؛ منافق به وي. کله چې ورته د منافق حکم ثابتېږي او ایمان یې ختمېږي یوازې د رسول الله صَلَّىٰ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ له حکم څخه د اعراض او بل چا ته د فیصلې وړلو د ارادې له امله، سره له دې چې دا خالص ترک(یعني د الله تعالی په حکم فیصله پرېښودل) دي چې کله نا کله به یې لامل؛ شهواني قوت وي نو

د نبي عليه السلام د عيب ويلو، هغه ته د کنځل کولو او د دې په څېر نورو، به څه حال وي.

په دې اړه د قران دا آيت هم دليل دی چې الله عز وجل فرمايي: اتَّخَذُوٓا۟ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ [سُورَةُ التّوبَة : ٣١].

ژباړه: دوی خپل عالمان او روحانيون له الله تعالی پرته خپل ارباباِن نيولي دي.

يهودو د رجم په حکم کې تحريف نه و کړی او نه يې له زړه څخه د زنا د استحلال عقيده لرله بلکې د رجم حکم هماغه شان د هغوی په کتاب کې موجود و چې هغوی يې تصديق هم کاوه، خو بيا هم الله عزوجل ورته کافر وويل دا ځکه چې دوی د الله تعالی د تابعدارۍ په مقابل کې د خپلو مشرانو تابعداري غوره کړه نو د طاعت په شرک کې اخته شول.

همداراز استحلال يوازې تر ژبې رابند نه دی بلکې لکه څنګه چې په لفظ سره د يو شي استحلال کبېري همداسې په فعل او قانون صادرولو سره هم کبېږي د مثال په توګه يو سړی ووايي: زنا حلاله ده، سود حلال دی، شراب حلال دي، او بل

سړی د دغه شیانو د تحلیل لپاره په لیکلې بڼه په مشخصو الفاظو قانون صادر کړي نو د دواړو تر منځ هېڅ توپیر نه لیدل کېږي بلکې د یو شي د جواز په اړه لیکلی قانون صادرول د لفظي وینا څخه په استحلال ډېر دلالت کوي، دا ځکه چې د قانون تر څنګ زور، ځواک او قوت وي چې خلاف کوونکو ته یې سزا ورکول کېږي په نسبت د هغه لفظي استحلال چې له عمل څخه خالي وي.

په دې اړه یوه قاعده هم شته علماوو ورته اشاره کړې ده وایي: **الكتاب كالخطاب**، لیکل د وینا په څېر دي، دا قاعده په [شرح القواعد الفقهية ص٣٤٩، الأشباه والنظائر لابن نجيم١/ ٢٩٢] کې ذکر ده او نورو کتابونو هم راوړې ده.

له دې امله څوک چې د سودي او نورو حرامو معاملاتو د جواز په اړه قانون صادروي او بیا یې په شرطونو او قیوداتو مقید کوي او د نافذولو لپاره یې پولیس او فوځ ګماري، خلاف کوونکو ته یې سزاوې ورکوي نو دا ډوّل استحلال له لفظي استحلال څخه ډېر قوي دی او دا په کامله معنا استحلال دی.

تر دې ځایه خو د استحلال د قید وضاحت وشو چې دا په مکفره ګناهونو کې معتبر نه دی بلکې هر چا چې کفري وینا یا کړنه ترسره کړه که له زړه څخه یې حلال ګڼله او که نه؛ کافر به وي همدا د اهل السنة والجماعة فهم دی چې له شرعي نصوصو څخه یې اخستی دی، اقوال یې ذکر شول، البته غیر مکفره ګناهونه په استحلال سره کفر ګرځي چې وضاحت یې مخکې شوی دی.

نو په دې بیان سره د رسالې لیکوال د دې خبرې بطلان هم واضح شو چې وایي: چا چې وضعي قانون پرته له استحلال نافذ کړ کافر به نه وي، ځکه دا خبره واضحه شوه چې وضعي قانون ته فیصله وړل مکفره ګناه ده، پرته له استحلال د کفر لامل ده.

او هم یې دا خبره باطله شوه چې وایي: کفر، فسق او ظلم دوه ډولونو ته تقسیم دي یو ډول: هغه کفر، فسق او ظلم دی چې انسان پرې له اسلام څخه وځي چې رجع یې قلبي استحلال (له زړه څخه حلال ګڼلو) ته کېږي، او دویم ډول: هغه کفر، ظلم او فسق دی چې انسان پرې له اسلام څخه نه وځي او دا هغه دی چې رجع یې عملي استحلال(په عمل کې راوستلو) ته

کېږي. [انظر: المنهج المتفق علیه صـ ۱۹]، نو دا اوګورئ په ښکاره توګه يې عمل له ایمان څخه خارج کړی که څه هم کفري وي، حال دا چې اهل السنة والجماعة په دې متفق دي لکه څنګه چې ایمان یوازې تر اعتقاد یا تر زړه تصدیق خاص نه دی بلکې د ژبې اقرار او د اندامونو عمل ته هم شامل دی او عمل له ایمان څخه دی نو همداسې کفر هم یوازې تر اعتقاد خاص نه دی بلکې قول او عمل ته هم شامل دی څوک چې د کفر وینا وکړي هغه به کافر وي یا د کفر عمل وکړي هغه به کافر وي که څه هم د روغ اعتقاد دعوه لري، لکه بوت ته سجده کول د کفر عمل دی چې انسان پرې کافر کیږي که څه هم دغه سجده له زړه څخه حلاله نه ګڼي، همداسې د کفر اکبر نور ډؤلونه هم چې د عمل سره اړیکه لري؛ پرته له استحلال؛ کوونکی يې کافر کېږي. نو دغه تش په نوم سلفیان که کفر اکبر کې د استحلال قلبي یا عملي تر منځ توپیر کوي، قلبي استحلال د کفر لامل ګڼي او عملي استحلال د کفر لامل نه ګڼي نو پکار ده چې بوت ته سجده کوونکي کې هم د قلبي استحلال او عملي استحلال تر منځ توپیر وکړي!! چې نور يې هم د جهمیت عقیده په ډاګه شي!! له همدې امله مونږ وایو چې کفر

اکبر که د عمل سره اړیکه لري که د قول یا اعتقاد سره اړیکه لري؛ د جحود یا استحلال قیدونو ته په کې هیڅ اعتبار نشته او دا مونږ منو چې کفر، فسق او ظلم دوه ډولونو ته تقسیم دی چې اکبر او اصغر دي خو په اکبر کې د استحلال یا جحود قیدونو ته اعتبار نه ورکوو ځکه چې بیا خو هماغه د جهمیه وو عقیده رامنځته کېږي چې ایمان یوازې د زړه له تصدیق یا معرفت څخه عبارت ګڼي، چې اهل السنة والجماعة له داسې عقیدې څخه بېزاره دي شیخ الاسلام ابن تیمیه په "الصارم المسلول" کې وایي: **وبالجملة فمن قال، أو فعل ما هو كفر كفر بذلك وإن لم يقصد أن يكون كافرا، إذ لا يقصد الكفرأحد إلا ما شاء الله [الصارم المسلول على شاتم الرسول ص١٧٨].**

ژباړه: خلاصه دا شوه چې څوک یوه خبره یا کار د کفر وکړي نو هغه په دې سره کافرکېږي، که څه هم د کفر اراده یې (له زړه څخه) نه وي ځکه د کفر اراده هېڅوک نه کوي مګر که الله اوغواړي(او یو کس نیم داسې وي چې د کفر قصد یې کړی وي هغه به جدا وي نور غالب څوک د کفر قصد نه کوي)

همداراز علماوو چې څومره هم د فقه کتابونه لیکلي او د مرتدینو باب یې په کې راوړی نو ارتداد یې یوازې تر عقیدې

نه دی خاص کړی بلکې قول او عمل ته یې هم شامل کړی چې په دې اړه یې ځینې عبارتونه راوړو:

په [حاشية الصاوي المصري المالكي على الشرح الصغير: ٤/ ٤٣١] کې دي: "**الردة كفر مسلم بصريح أو قول يقتضيه أو فعل يتضمنه** " اهـ.

ژباړه: ارتداد: د مسلمان کفر کول په ښکاره (وینا)یا په داسې وینا چې تقاضا د کفر کوي یا په داسې کار چې په کفر مشتمل وي.

همداراز شربيني شافعي په خپل مشهور کتاب [مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج: ٥/ ٤٢٨] کې وايي: **الردة: هي قطع الإسلام بنية أو قول كفر أو فعل، سواء قاله استهزاء أو عنادا أو اعتقادا.**

ژباړه: ارتداد: د اسلام پرېکول په نیت سره یا په کفري وینا سره یا په کفري کار سره، برابره ده که وینا د کفر یې په توقې یا ضد او یا اعتقاد سره کړې وي.

شیخ منصور بن یونس البهوتي الحنبلي په خپل کتاب [كشف القناع عن متن الإقناع: ٣/ ١٣٦] کې وايي: **[المرتد] لغة الراجع... وشرعا (الذي يكفر بعد إسلامه) نطقا أو اعتقادا أو شكا أو فعلا، ا.هـ**

ژباړه: مرتد په لغت کې: راګرځېدونکي ته وايي، او په اصطلاح د شريعت کې: هغه چا ته وايي چې وروسته له اسلام څخه کفر وکړي په وينا ، اعتقاد، شک او يا کار سره.

معلومه شوه چې کفر يوازې تر اعتقاد خاص نه دی لکه څنګه چې د عصر سلفي دعوه کوونکي وايي بلکې کفر د اعتقاد تر څنګ عمل او فعل ته هم شامل دی.

## ج ـ د مکفره او غيره مکفره ګناه تر منځ توپير لازم دی.

**بيا د رسالې ليکوال د خپلې ارجاء عقيدې د خدمت لپاره د استحلال قلبي او استحلال عملي ترمنځ توپيرلپاره په بېلګه کې ځينې غير مکفره ګناهونه راوړي دي لکه سود، زنا، شراب چې کله يې کوونکی د عملي استحلال تر څنګ د قلبي استحلال عقيده نه لري؛ نه کافر کېږي او که د عمل تر څنګ يې په زړه سره هم حلال وګڼل نو کافر کېږي [انظر: المنهج المتفق عليه صـ ١٩ ـ ٢٠].**

خو مونږ وايو: چې په دې خبره کې يې ډېر لوی تلبيس کړی دی، حق يې د باطل سره ګډوډ کړی دی، داسې چې دا خو يوه واضحه خبره ده چې غير مکفره ګناهونه لکه زنا، سود، شراب او نور، يوازې په کولو سره يې انسان نه کافر کېږي تر څو چې يې حلال نه وي ګڼلي، بلکې که دغه غير مکفره

گناهونه څوک نه کوي خو چې حلال يې وګڼي؛ هم کافر کېږي ځکه څوک چې اجماعي حرام حلال وګڼي کافر کېږي دې کې د اهل السنة والجماعة تر منځ هېڅ اختلاف نشته، خو دوی چې د وضعي قانون په بېلګه کې دغه غير مکفره ګناهونه راوړي، د دې اصلي لامل همدا دی چې دوی د وضعي قانون تحکيم، تنفيذ او تحاکم کفر نه ګڼي بلکې يوه عامه کبيره ګناه يې ګڼي چې په استحلال سره ورته د کفر نسبت کوي او په عدم استحلال سره ورته د کفر نسبت نه کوي او له همدې امله خو دوی د وضعي قوانينو حاکمانو ته شرعي اميران وايي، اطاعت يې واجب ګڼي، حج، د دوی تر مشرۍ لاندې د نورو کافرانو په مقابل کې د جهاد په نوم جنګيدل، اختر، لمونځ او نور اعمال ورسره جائز ، تکفيروونکي يې خوارج او مړي يې شهيدان ګڼي ، د ټولو هغو حقونو په ژمنتيا يې اقرار کوي کوم چې يو مسلمان حاکم په خپل رعيت ګڼي، خو دا خبره به په آينده کې ثابته شي ـ ان شاء الله تعالى ـ چې د وضعي قانون تحکيم، تنفيذ او تحاکم کفر دی او دا يوه مکفره ګناه ده، په غير مکفره ګناهونو به نه شي قياس کېدلی چې د استحلال يا جحود قيدونه په کې معتبر شي.

## د ـ په باب د کفر کې د جحود قید رد.

اوس د موضوع د مناسبت له امله د مرجئه وو په یو بل قید چې په مکفره گناهونو کې یې د تکفیر د مخنیوي لپاره کاروي او مخکې هم ورته اشاره شوې؛ بحث پرې کوو او هغه د جحود قید دی چې په دې اړه مرجئه د امام طحاوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دې قول نه استفاده کوي چې هغه ویلي دي: **ولا یخرج العبد من الإیمان إلا بجحود ما أدخله فیه،**

ژباړه: او یو بنده به له ایمان څخه نه وځي تر څو چې له هغه څه انکار ونکړي چې له امله یې په ایمان کې داخل شوی دی.

**اوله خبره** خو دا ده: چې دا قول خطا دی د مرجئه وو په اصولو بنا دی برابره ده که مرجئة الفقهاء دي او که مرجئة الجهمیة دي، او سره له دې چې دا قول خطا دی؛ د دې زماني مرجئه ترې په فهم کې هم خطا شوي دي، بیان یې په دې ډول دی: امام طحاوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې له مرجئة الفقهاء څخه دی چې دا خبره یې شارح پخپله کړې؛ د ایمان تعریف یې یوازې په اقرار او تصدیق سره کړی او عمل یې د ایمان له تعریف څخه وېستی دی نو د مرجئه وو د اصولو په اساس یې د ایمان تعریف

کړی دی، له همدې امله یې ابواب د کفر یوازې په کفر الجحود کې رابند کړي دي خو دا خبره صحیح نه ده ځکه چې کفر یوازې په کفر الجحود کې رابند نه دی بلکې نور ډولونه هم لري، نو لکه څنګه چې په جحود یعنې له زړه څخه تصدیق ختمېدلو له امله انسان کافر کېږي؛ ځینې وخت داسې هم کېږي چې تصدیق قلبي به وي بلکې د زړه تصدیق به یې د یقین مرتبې ته هم رسېدلی وي خو بیا به هم کافر وي لکه په دې آیت کې راغلي دي الله عز وجل فرمایي: وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا [سُوَرةُ النَّمل: ١٤]،

ژباړه: هغوی له سره تر پایه د ظلم او غرور له لارې له دغو نښانو څخه انکار وکړ، پداسې حال کښې چې زړونه یې پرې قائل شوي ول. ابن عباس رضي الله عنهما فرمایي: **يقينهم في قلوبهم**، [تفسير الطبري تحقيق أحمد شاكر ط الرسالة ١٩/ ٤٣٦]،

ژباړه: د دوی په زړونو کې یقین و. نو امام طحاوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپله خبره کې د اهل السنة والجماعة په مذهب نه

دی چلېدلی بلکې د مرجئه وو په مذهب تللی دی چې یوه ډله یې د مرجئة الفقهاء ده.

**دویمه خبره دا ده:** که څه هم امام طحاوي په تعریف د ایمان کې مرجئة الفقهاء پسې تلی دی خو په باب د کفر کې یې د دې زمانې د مرجئه وو په څېر خبره نه ده کړې، ځکه د دې زمانې مرجئه کفر یوازې تر عقیدې رابندوي په دې معنا چې که څوک وینا د کفر یا کار د کفر وکړي دا به تر هغه نه کافر کېږي تر څو چې یې جحود قلبي یعني له زړه څخه تصدیق نه وي ختم شوی خو طحاوي په دې باب کې د شرط او لازم تر منځ توپیر کوي نو د دې زمانې مرجئه چې جحود قلبي یې د تکفیر لپاره شرط گرځولی دی؛ د مرجئة الفقهاء سره خلاف دي چې دا خبره شیخ الاسلام ابن تیمیه د خپلې فتاوی په ډېرو ځایونو کې کړې ده چې له هغې څخه یې ځینې حوالې دا دي: [٧/ ٦٠٩]، [١٦/ ٤٧]،

او ابن حزم په[الفصل ٥/ ٧٥] کې او ابن عابدین چې له مرجئة الفقهاء څخه دی په خپل کتاب [حاشیة ابن عابدین ٣/ ٢٨٤] کې کړې ده.

د مرجئة الفقهاء مذهب دا دى وايي: چا چې د کفر وينا يا کار وکړ کافر کېږي چې په دې حکم کې د اهل السنة سره موافق دي خو اختلاف يې ورسره په دې کې دى چې مرجئة الفقهاء دغه کفري وينا يا کار له زړه څخه د تصديق د نشوالي دليل گرځوي نو وايي څوک چې کفري کار يا وينا کوي دا د دې نښه ده چې په زړه کې يې تصديق نشته، نو خبره يې بېرته جحود قلبي ته راجع کړې ده، دا ځکه چې دوى ايمان له تصديق څخه عبارت گڼي چې په مقابل کې يې کفر التکذيب راځي نو کفر يوازې په تکذيب کې رابندوي، خو اهل السنة والجماعة وايي: که څوک کفري وينا يا کړنه ترسره کړي نو بذات خود په همدغه وينا يا کړنې کافر کېږي پرته له جحود يا تکذيب قلبي څخه، بلکې ډېرى وختونو کې زړه له يقين څخه ډک وي خو د عملي انکار او استکبار له امله کافر شوى وي لکه الله تعالى چې فرمايي: وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا [سُورَةُ النَّمل: ١٤] ، ابن عباس رضي الله عنهما قول مخکې ذکر شو چې فرمايي: زړه يې له يقين څخه ډک و، خو دلته دوى له بلې وجې کافر شوي دي چې هغه کفر الاباء والاستکبار دى، نو دلته اهل السنة، مرجئة الفقهاء په همدې

خبره رانيسي چې دلته د زړه يقين شته تصديق نه دی منتفي شوی خو بيا ورته هم الله تعالی کافر ويلي دي نو له همدې امله مرجئة الفقهاء چې کوم تلازم د کفري کړنې يا وينا ، او د تصديق قلبي تر منځ وايي؛ د اهل السنة په نزد دغه تلازم نشته چې بېلګې يې د فرعون کفر، د يهودو نصاراو کفر چې پيغمبر يې له خپلو بچو هم ښه پېژانده.

الغرض د دې زمانې مرجئه د مرجئة الفقهاء سره هم په قيد د جحود او استحلال کې خلاف دي ځکه چې دوی دغه قيدونه د تکفير لپاره شرط کوي خو مرجئة الفقهاء يې نه شرط کوي، تکفير يې کوي خو يوازې علت کې له اهل السنة سره خلاف دي چې د کفري کړنې يا وينا او د جحود قلبي تر منځ تلازم وايي هغه چې اهل السنة يې نه وايي بلکې بذات خود فعل او قول مکفر د کفر لامل ګڼي پرته له تلازم څخه او همدا خبره له شرعي نصوصو سره برابره ده ځکه چې کفر يوازې تر جحود رابند نه دی بلکې ډېر انواع لري لکه کفر الاباء والاستکار مع التصديق، کفر الجحود، کفر الشک، کفر الاعراض او کفر النفاق. خو طحاوي د کفر ټول انواع يوازې تر کفر الجحود يا کفر التکذيب رابند کړي دي چې په دې ځای کې د جمهور اهل

السنة څخه خلاف دی، او د طحاوي د دې خبرې يادونه مو ځکه وکړه چې د رسالې ليکوال په ځينو ځايونو کې د عقيدة الطحاوية په طرز چلېدلی نو هغه عبارتونه يې راوړي دي چې کفر په کې يوازې تر جحود او استحلال رابند شوی دی، خو عام خلک د دې فلسفې نه خبر نه دي، همدغه د اهل السنة عقيده ګڼي او حال دا چې په ځينو اصولو کې د عقيدة الطحاوية ليکوال هم له اهل السنة څخه خلاف کړی دی، خو بيا هم خلاف يې د دې زمانې د مرجئه وو په څېر سخت نه دی چې بيان يې وشو، او همدا تفصيل د الله تعالی په دې وينا کې شوی دی چې فرمايي: **وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ** [المائدة: ٤٤].

ژباړه:چا چې د الله په رانازل کړي دين فيصله ونکړه دا ډله کافران دي.

ځوک چې د کفر ټول انواع يوازې تر جحود قلبي رابندوي نو هغوی بيا دلته د جحود قيد مراد کوي، خو داسې نه ده، کفر يوازې تر جحود رابند نه دی بلکې کفر نور ډولونه هم لري لکه علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **ومنهم من تأول الآية على**

**ترك الحكم بما أنزل الله جاحدا له، وهو قول عكرمة، وهو تأويل مرجوح، فإن نفس جحوده كفر، سواء حكم أو لم يحكم. [مدارج السالكين في منازل إياك نعبد و إياك نستعين لابن القيم ١/ ٣٤٥].**

ژباړه: ځينو د آيت معنا داسې کړې: "چا چې د الله تعالى په قانون فيصله له دې امله پرېښوده چې په زړه کې يې جحود وو (نو کافر به وي)" دا قول د عکرمه دی او دا يو مرجوح تأويل دی ځکه چې پخپله بذات خود جحود کفر دی برابره ده که په وضعي قانون فيصله کوي او که نه.

نو له دې څخه معلومه شوه چې د الله تعالى د حکم څخه جحود يا په زړه کې انکار کول او تصديق يې نه کول مستقل کفر دی لکه څنګه چې استحلال د ګناه مستقل کفر و.

د دغه شرط په بطلان کې مونږ دا هم وايو: نبي عليه السلام فرمايې: **من اشترطَ شرطًا ليس في كتابِ اللهِ فهو باطلٌ ، وإن كانَ مائةَ شرطٍ، [صحيح البخاري حديث رقم: ٢١٥٥، ومسلم: ١٥٠٤].**

ژباړه: چا چې داسې شرط ولګوو چې د الله تعالى په کتاب کې نه و نو هغه به باطل وي که څه هم سل شرطونه ولې نه وي.

معلومه شوه چې د جحود او استحلال قیدونه په مکفره ګناهونو کې معتبر نه دي.

## ذ ـ د وضعي قوانینو حاکمان مرتد دي تر دې که څوک د جحود او استحلال قیدونو ته هم اعتبار ورکوي.

په مخکې آیت کې د جحود معنا ډېرو علماوو رد کړې ده چې په خپل ځای کې یې وضاحت راځي ان شاء الله، خو دلته دومره وایو چې د مرجئه وو د دغه اصل مطابق هم د وضعي قوانینو حاکمان کافر دي او دا ځکه چې د جحود په فهم کې مرجئه خطا شوي دي، علماء چې کله د جحود یادونه کوي نو یوازې جحود قلبي ترې نه مراد کوي بلکې د علماوو په نزد جحود او استحلال په درې امورو کې دائر دی: کله په زړه سره، کله په وینا سره او کله په عمل سره، بلکې ځینې علماوو جحود په عمل کې حقیقت ګرځولی. خو مرجئه وو داسې کړي دي چې یو کرت خو یې ابواب د کفر په جحد پورې رابند کړل او بیا یې د جحود معنا یوازې تر جحد قلبي پورې رابنده کړه او حال دا چې جحد یوازې تر زړه پورې رابند نه دی بلکې په وینا او عمل کې هم راتلی شي چې دلیل یې مخکې ذکر شو الله عز

وجل فرمايي: وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا [سُورَةُ النَّمل : ١٤] ، ابن عباس رضي الله عنهما د دوی په اړه فرمايي: زړه يې له يقين څخه ډک و، چې دا خبره په تفسير ابن جرير کې هم راغلې ده. همدا راز الله عزوجل فرمايي: فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ اللهِ يَجْحَدُونَ [سُورَةُ الأنعَام : ٣٣].

ژباړه: خو دا خلك تا نه درواغجن کوي، بلکې دا ظالمان په اصل کې د الله تعالی له آيتونو څخه منکرېږي.

نو په دې ځای کې هم يقين او تصديق شته چې مشرکانو د نبي عليه السلام په اړه لرلو خو بيا هم الله تعالی ورته جحد ثابت کړو؛ دا دليل دی په دې چې دلته له جحد څخه د زړه جحد مراد نه دی بلکې له جحد څخه مراد له هغه څه په خپل عمل سره انکار کول دي چې په اړه يې زړونه له تصديق او يقين څخه ډک دي او هغه دا چې دوی په خپل عمل سره د الله تعالی حکم ته له غاړې اېښودلو څخه په انکار او تکبر کې اخته دي. نو په دې آيتونو کې د جحود قلبي معنا له کوم ځای څخه شوه؟! بلکې ځينو لغويانو لکه راغب الاصبهاني او لسان العرب والا

چې د جحد معنا کړې ده نو جحود قلبي ته يې هېڅ اشاره نه ده کړې بلکې جحود يې يوازې تر اندامونو رابند کړی دی، راغب الأصبهاني په خپل کتاب "مفردات غريب القران" کې وايي: **الجحود: نفي ما في القلب إثباته، وإثبات ما في القلب نفيه ، اهـ** [کتاب (مفردات غريب القرآن) باب (جحد)]،

ژباړه: جحود ؛ د هغه څه نفي کول چې په زړه کې يې اثبات وي او د هغه څه ثابتول چې په زړه کې يې نفي وي. نو دا تعريف د الباني او د هغه د پلويانو د خبرې ډېر خلاف دی، هغه چې کفر يوازې تر جحود قلبي خاص کوي، چې تر قيامته به هم د داسې کس تکفير ونه کړای شي چې په دې اړه د ابن الوزير خبره مخکې ذکر شوه.

ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ په تعريف د کفر کې وايي: **وهو في الدين صفة من جحد شيئا مما افترض الله تعالى الإيمان به بعد قيام الحجة عليه ببلوغ الحق إليه بقلبه دون لسانه أو بلسانه دون قلبه أو بهما معا أو عمل جاء النص بأنه مخرج له بذلك عن اسم الإيمان**.ا.هـ [الإحكام في أصول الأحكام) لابن حزم ١/ ٤٩].

ژباړه: دا (کفر) په دین کې د هغه چا صفت ته وایي چې له هغه څه انکار وکړي چې الله تعالی پرې وروسته له حجت څخه چې حق ورته رسېدلی وي؛ ایمان راوړل فرض کړی وي، انکار ورڅخه په زړه سره وکړي پرته له ژبې، یا په ژبې سره جحد (انکار) وکړي پرته له زړه څخه، یا په دواړو سره جحد وکړي، یا داسې عمل وکړي چې په اړه یې داسې دلیل موجود وي چې کوونکی یې د ایمان له نوم څخه خارج دی.

له همدې امله کوم حدیث کې چې راغلي دي چې نبي علیه السلام په هغه چا د مرتد حکم وکړ چا چې خپله مور په نکاح کړې وه لکه حدیث کې دي:

**عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: رَأَيْت خَالِي أَبَا بُرْدَةَ وَمَعَهُ رَايَتُهُ فَقُلْت: إلَى أَيْنَ؟ فَقَالَ: بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إلَى رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةَ أَبِيهِ فَأَمَرَنِي أَنْ أَضْرِبَ عُنُقَهُ وَأُخَمِّسَ مَالَهُ[مجموع الفتاوى:٣٢/ ٧٧].**

ژباړه: له براء بن عازب رضي الله عنه څخه نقل دي هغه وایي: ما خپل ماما ابو برده ولیده چې بیرغ ورسره و، ما ورته وویل: چېرته ځې؟ هغه وویل: زه رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه سړي پسې لېږلی یم چې د خپل پلار ښځه یې په نکاح کړې

ده، ماته يې امر کړی دی چې څټ يې ووهم او له مال څخه يې پنځمه برخه بيت المال ته ورکړم.

نو دلته چې نبي عليه السلام د دغه کس سره د مرتد معامله کړې ده دا له دې امله نه چې نکاح د محارمو کفر دی بلکې دا يوه کبيره گناه ده، خو له دې امله چې د دغه کس دا کار ښکاره قرينه وه په جحود او استحلال باندې، نو ځکه يې ورباندې د مرتد حکم وکړ.

الغرض دلته هم ظاهري عمل په استحلال او جحود دليل گرځېدلی دی او امام طحاوي چې له مرجئة الفقهاء څخه دی او دوی يې په قول دليل نيسي هغه هم د دغه حديث په شرح کې ويلي دي: وهو أن ذلك المتزوج فعل ما فعل من ذلك على الاستحلال، كما كانوا يفعلون في الجاهلية، فصار بذلك مرتدا.اهـ.[شرح معاني الآثار للطحاوي٣/ ١٤٩].

ژباړه: دغه نکاح کوونکي دا کار په طريقه د استحلال سره وکړ لکه څنگه چې دوی په جاهليت کې کول نو په دې سره مرتد وگرځېد.

نو طحاوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ خو يې زړه ته نه و داخل شوی چې د زړه استحلال يې ورله معلوم کړی وي خو دلته يې د دغه کس ظاهري حال په باطني حال دليل وګرځوه او همدا خبره د دغه طواغيتو په اړه هم ده چې دوی کوم قوانين د شريعت خلاف ليکي چې حلال په کې حرام شوي وي يا حرام په کې حلال شوي وي نو دغه ښرګند عمل د دوی په باطني استحلال او جحود قرينه او دليل دی او دا قاعده هم مخکې ذکر شوه چې: **الکتاب کالخطاب**، ليکل د خبرې په څېر دي نو چې له ځانه تحليل تحريم په اړه يې ليکلی قانون صادر کړو؛ داسې دی لکه په وينا سره چې ورله استحلال وکړي.

او همداراز د کومو يهودو په اړه چې دا آيتونه نازل شوي دي چې الله عزوجل فرمايي: وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ [المائدة: ٤٤]. نو د هغوی په اړه هم په احاديثو کې او په شان نزول کې داسې نه دي راغلي چې د رجم له حکم څخه يې په زړه سره انکار کړی و او يا يې هم په وضعي قانون فيصله حلاله ګڼله، دې ته په کې هيڅ نږدې يا لرې اشاره هم نه ده شوی بلکې هغوی د الله تعالی د حکم تصديق کوو او رجم يې د زنا اصلي حکم ګڼلو خو بيا هم په

دغه کار سره ورته الله تعالی کافر وویل [اوګورئ تفسیر الطبري ـ تحقيق أحمد شاكر ـ ط الرسالة ١٠/ ٣٣٦].

معلومه شوه چې د وضعي قوانينو حاکمان د دغه مرجئه وو په نزد چې قيد د جحود او استحلال ته په باب د کفر کې اعتبار ورکوي هم کافر دي. ځکه چې دوی هم داسې کړنې ترسره کړي دي چې د زړه په استحلال او جحود يې دليل دي.

بل دا چې دوی خپل قانون هم په ځينو خاصو صيغو سره صادروي چې هغه هم په استحلال دليل دي لکه دوی د خپلو قوانينو په سر کې وايې: يُسمح...، لايُسمح...، يجوز لمن فعل كذا وكذا...، لايجوز كذا وكذا...، ممنوع...، غير ممنوع...، او داسې نور الفاظ، چې له دې ټولو څخه حظر(حراموالی)، وجوب (فرضيت) او اباحت(جواز) چې شرعي احکام دي فائده کېږي، او ورسره د دوی له دغو قوانينو څخه کلکه دفاع کول، په دغه لاره کې جنګېدل، مسلمانان اسيران کول، شهيدان کول؛ دا ټول په استحلال ښکاره دلايل دي چې موجوده حاکمان په کې اخته دي. که له دې څخه وراخوا ته څوک د ژبې استحلال هم شرط کوي نو هغه بيا جهمي دی چې د اهل السنة سره په اصولو کې اختلاف لري.

الغرض د ذکر شوي تحقيق په اساس دا ويلی شو چې د رسالې ليکوال کوم قيودات د استحلال يا جحود، چې د مکفره گناهونو په اړه يې راوړي دي او يا يې هم مسائل د دغه قيوداتو په اساس تفريع کړي دي؛ دغو ته په باب د کفر کې هېڅ اعتبار نشته بلکې اهل السنة والجماعة دغه ډوّل قيودات ډېر کلک رد کړي دي چې دلايل مخکې ذکر شول. له دې امله په باب د کفر اکبر کې چې هره مسئله د دغه قيوداتو په اساس تفريع شوي وي هغه به د اهل السنة والجماعة له مذهب سره تړاؤ نه لري بلکې هغه به د مرجئه وو له فاسد مذهب سره تړاؤ لري نو عقلمند خلک بايد په داسې مسايلو دوکه نشي او د حق تالاش وکړي.

له دې بيان وروسته د اصلي مسئلې حکم ته راځو نو وايو:

## وضعي قانون ته فيصله وړل پرته له استحلال او جحود کفر دی.

وضعي قانون ته فيصله وړل چې په "التحاكم إلى غير شرع الله" سره يادېږي؛ کفر دی او دغه تحاکم إلى غير شرع الله (وضعي قانون ته فيصله وړل لکه طاغوتي محکمو ته) يوه

مکفره گناه ده چې قيد د استحلال يا جحود ته په کې اعتبار نشته، ورورړونکی به يې بې له شکه کافر وي، دلايل يې په دې ډؤل دي:

**اول دليل**: الله عز وجل فرمايي: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا [سورة النساء:٦٠]،

ژباړه: (اې پيغمبره صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!) آيا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي چې: مونږ پر هغې کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي ول ايمان راوړی دی؟ - خو غواړي چې خپلې چارې د فيصلې لپاره د طاغوت لورې ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغو ته له طاغوت څخه د منکريدو حکم شوی ؤ. شيطان غواړي هغوی وغولوي او له سمې لارې څخه يې ډېر لرې وباسي.

د آيت لنډ وضاحت: دا آيت په اصل کې د يو يهودي او منافق په اړه نازل شوی و چې ترمنځ يې شخړه پيدا شوې وه يهودي غوښتل چې محمد صلی الله وسلم ته فيصله يوسي خو

منافق غوښتل چې کعب بن اشرف يهودي ته فيصله يوسي چې بيا يې په اړه دغه آيت نازل شو، نو په آيت کې د هغه چا ايمان ته د "زعم" يعني "د ايمان درواغجنه دعوه" لفظ کارول شوی چې يواځې طاغوتي محکمې ته د فيصلې وړلو اراده لري پرته له عمل څخه، نو د هغه چا به څه حال وي چې خپله اراده په عمل کې رېښتوني کوي او د سيکولر يا کمونسټ نظامونو طاغوتي محکمو ته فيصلې وړي؟! خامخا به د آيت حکم ورته شامل وي او له ايمان څخه به کنګال وي.

شيخ محمد بن ابراهيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپله رساله "تحکيم القوانين" کې وايي: **فإنّ قوله عزوجل: "يزْعُمُوْنَ" تكذيب لهم فيما ادعوه من الإيمان، فإنه لا يجتمع التحاكم إلى غير ما جاء به النبي صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ مع الإيمان في قلب عبد أصلاً، بل أحدهما ينافي الآخر [راجع: رسالة "تحكيم القوانين" للشيخ محمد بن إبراهيم بن عبد اللطيف آل الشيخ].**

ژباړه: د الله وينا: "يزعمون"؛ د دوی د ايمان دعوه درواغجنوي ځکه چې د نبي عليه السلام له راوړي قانون څخه پرته بل قانون ته فيصله وړل له ايمان سره په يو زړه کې هېڅکله نه جمعه کېږي بلکې يو بل لره نفي کوي.

او امام شنقيطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د ذکر شوي آیت په تفسیر کې وايي: **ومن أصرح الأدلة في هذا: أن الله جل وعلا في سورة النساء بين أن من يريدون أن يتحاكموا إلى غير ما شرعه الله يتعجب من زعمهم أنهم مؤمنون، وما ذلك إلا لأن دعواهم الإيمان مع إرادة التحاكم إلى الطاغوت بالغة من الكذب ما يحصل منه العجب.[أضواء البيان للشنقيطي ج ٣/ ٢٥٩].**

ژباړه: په دې اړه ډېر ښکاره دليل دا دی چې الله عزوجل په سورة نساء کې دا خبره بيان کړې ده چې څوک اراده لري د الله تعالی له قانون پرته بل قانون ته فيصله يوسي نو الله تعالی د دوی د ايمان له ګومان څخه تعجب کوي او د دې بل لامل نشته مګر همدا لامل چې طاغوت ته د فيصلې وړلو اراده کول، د دوی د ايمان له دعوې سره په درواغو کې مبالغه کول دي چې له امله يې تعجب پيدا کېږي.

نو د وضعي قانون محکمې ته فيصله وړونکی دې لږ د دغه آيت سره ځان وتلي خپل حکم به ورته واضح شي.

دويم دليل: الله عزوجل فرمايي: فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا [سورة النساء:٦٥] .

ژباړه: نه، اې محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ستا په رب قسم چې دوى هېڅكله مؤمنان كېداى نه شي، ترڅو چې په خپل منځي شخړو كې تا فيصله كوونكى ونه مني. بيا چې ته څه فيصله وكړې، پر هغې باندې په خپلو زړونو كې هم څه تنګي احساس نه كړي؛ بلكې سر تر پايه يې ومني.

په دې آيت كې الله تعالى په خپل ذات قسم كړى او د تحاكم په مسئله كې يې د ايمان د اثبات لپاره يو څو مرحلې شرط كړي دي چې كله يو انسان دغه مرحلې طى كړي نو هغه به مؤمن وي او كه دغه مرحلې يې طى نه كړې له ايمان څخه خلاصېږي او هغه مرحلې په دې ډول دي:

**لمړى مرحله:** چا چې د الله تعالى شريعت او قانون ته فيصله يوړله نو د ايمان شرط په كې موجود شو خو چا چې د الله تعالى له قانون پرته بل قانون ته فيصله يوړه نو الله عزوجل

د هغوی په اړه فرمايي: فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ، ستا په رب قسم چې دغه خلک مؤمنان نه دي.

**دويمه مرحله:** څوک چې د الله تعالی له فيصلې په زړه کې تنګوالی محسوس کړي او له زړه څخه د الله تعالی په فيصله راضي نشي او قبوله يې نکړي نو دا هم مؤمن نه دی، فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ، ستا په رب قسم چې دغه خلک مؤمنان نه دي.

بله وجه يې دا هم کېدلی شي ـ والله اعلم ـ چې په داسې خلکو کې د کلمې د قبول شرط مفقود شوی وي.

**دريمه مرحله:** څوک چې د الله تعالی حکم رد کړي او غاړه ورته کېنږدي نو دا هم مؤمن نه دی، فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ، ستا په رب قسم چې دغه خلک مؤمنان نه دي.

بله وجه يې دا هم کېدلی شي ـ والله اعلم ـ چې په داسې خلکو کې د کلمې د انقياد شرط مفقود شوی وي.

## طاغوت ته د فيصلې د حراموالي يا نه وړلو لاملونه.

الله عز وجل مونږ طاغوت ته له فيصلې وړلو څخه د درې لاملونو له امله منعه کړي يو چې بيان يې په دې ډول دی:

**لمړی لامل**: أن تكفر بالطاغوت؛ په طاغوت كفر كول. الله عزوجل په خپلو بندگانو چې په هر ځای كې وي په طاغوت باندې كفر كول لازم كړي دي قطع نظر له محكمو څخه، برابره ده كه اسلامي محكمې وي هم په تا لازم دي چې په طواغيتو او د هغوی په محكمو كفر وكړې او كه اسلامي محكمې نه وي نو بيا هم په طاغوت كفر لازم دی؛ او دا زمونږ دين دی چې په دې مسئله كې له محكمو سره هيڅ تړاو نه لري الله عزوجل فرمايي: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّٰغُوتَ [سُورَةُ النّحل : ٣٦].

ژباړه: موږ په هر اُمت كې يو پيغمبر پيدا كړ (ولېږه)، او د هغه په وسيله مو ټول خبر كړل چې: د الله بندگي وكړئ او د طاغوت له بندگۍ څخه ځان وژغورئ.

**دويم لامل**: په طاغوت باندې كفر كول د اسلام لپاره شرط شوی دی چې له دې پرته د هېچا اسلام نه صحيح كېږي الله عزوجل فرمايي: فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّٰغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا [سُورَةُ البَقَرَة : ٢٥٦].

ژباړه: خوك چې له طاغوت څخه منكر شي او پر الله ايمان راوړي، هغه يوه داسې كلكه اسره ونيوله، چې هېڅكله ماتېدونكې نه ده.

**دريم لامل:** انسان چې كله اسلام قبول كړي هغه ته په طاغوت باندې له كفر كولو پرته بل اختيار نه پاتې كېږي الله عزوجل فرمايي: وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦ، [النساء: ٦٠].

ژباړه: دوى ته امر شوى دى چې په طاغوت كفر وكړي.

**د علماوو اقوال.**

د پورته لاملونو ذكر كولو وروسته اوس د علماوو اقوال راوړو:

١ـ امام شوكاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپلې زمانې د هغه يمن والاو په اړه چې طواغيتو ته به يې فيصلې وړلې؛ وايي: **ولا شك ولا ريب أن هذا كفر بالله سبحانه وتعالى وبشريعته التي أمر بها على لسان رسوله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ، واختارها لعباده في كتابه وعلى لسان رسوله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ، بل كفروا بجميع الشرائع من عند آدم عليه السلام إلى الآن. وهؤلاء جهادهم واجب، وقتالهم متعين، حتى يقبلوا أحكام الإسلام، ويذعنوا لها، ويحكموا بينهم بالشريعة المطهرة، ويخرجوا**

**من جميع ما هم فيه من الطواغيت الشيطانية.... وقد تقرر في القواعد الإسلامية أن منكر القطعي وجاحده، والعامل على خلافه تمرداً، أو استحلالا، أو استخفافا، كافر بالله وبالشريعة المطهرة التي اختارها الله تعالى لعباده... ولا شك ولا ريب أن ارتكاب هؤلاء لمثل هذه الأمور الكبيرة من أعظم الأسباب الموجبة للكفر، السالبة للإيمان التي يتعين على كل فرد من أفراد المسلمين إنكارها، ويجب على كل قادر أن يقاتل أهلها حتى يعودوا إلى دين الإسلام. [الدواء العاجل في دفع العدو الصائل صـ١٢ .١٤].**

ژباړه: او هيڅ شک نشته چې دا په الله تعالی کفر کول دي او د الله تعالی په هغه شريعت(کفر کول دي) چې د خپل پيغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژبې سره يې وربانديې امر کړی دی او د خپلو بندګانو لپاره يې په خپل کتاب کې، او د خپل پيغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژبه يې غوره کړی دی بلکې دوی د آدم عليه السلام د زمانې نه تر دې زمانې پورې په ټولو شريعتونو کفر وکړ، د دوی سره جهاد واجب دی او جنګ ورسره فرض عين دی تر دې چې د اسلام احکام قبول کړي او غاړه ورته کېږدي او په خپل منځ کې په سپېڅلي شريعت فيصله وکړي او له ټولو هغه شيطاني طواغيتو څخه وځي چې دوی په کې اخته دي...
او د اسلام په قواعدو (اصولو) کې دا خبره ثابته ده چې د قطعي

حکم څخه انکار کوونکی او د هغې خلاف عمل کوونکی د سرکښۍ له امله، یا د استحلال (حلال ګڼلو) له امله یا د سپک ګڼلو له امله؛ په الله تعالی کافر دی او د الله تعالی په هغه سپېڅلي شریعت کافر دی چې د خپلو بندګانو لپاره یې غوره کړی دی... او هیڅ شک نشته چې د دې خلکو داسې غتې کړنې ترسره کول د هغو لویو لاملونو څخه دي چې کفر واجبوي، ایمان ختموي، هغه چې د مسلمانانو په هر فرد یې انکار فرض دی او په هر قدرت لرونکي واجب دي چې د دغه کړنې ترسره کوونکو سره تر هغه وجنګېږي تر څو اسلام ته راوګرځي.

۲ـ شیخ سلیمان بن سحمان رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالی وایي: **إذا عرفت أن التحاكم إلى الطاغوت كفر فقد ذكر الله في كتابه أن الكفر أكبر من القتل، قال: (والفتنة اكبر من القتل)، وقال (والفتنة أشد من القتل). والفتنة هي الكفر ، فلو اقتتلت البادية والحاضرة حتى يذهبوا لكان أهون من أن ينصبوا في الأرض طاغوتا يحكم بخلاف شريعة الإسلام التي بعث الله بها رسوله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ... فلو ذهبت دنياك كلها، لما جازلك المحاكمة إلى الطاغوت لأجلها، ولو اضطرك مضطر وخيرك بين أن تحاكم إلى الطاغوت، أو تبذل دنياك، لوجب**

**عليك البذل، ولم يجز لك المحاكمة إلى الطاغوت. [الدرر السنية ١٠/ ٥١٠].**

ژباړه: کله چې ته په دې پوهه شوې چې طاغوت ته فیصله وړل کفر دی نو الله عزوجل په خپل کتاب کې فرمایلي دي چې کفر له قتل څخه لوی جرم دی فرمایي: او کفر له وژلو څخه لوی جرم دی، او الله تعالی فرمایي: کفر له وژلو څخه سخت دی. او "فتنة" کفر ته وایي، که چېرې د باندېو او کلو والا په خپل منځ کې جنګ وکړي تر دې چې ټول ختم شي نو دا به له دې څخه ډېره اسانه (سپکه) وي چې دوی په زمکه کې یو طاغوت مقرر کړي چې د اسلامي شریعت خلاف فیصلې کوي هغه چې الله تعالی پرې خپل پیغمبر ﷺ رالېږلی... که چېرې ستا ټوله دنیا ختمه شي تا ته د هغې له وجې طاغوت ته فیصله وړل نه جایز کېږي. او که چېرې تا څوک مجبوره کړي او اختیار درته درکړي چې یا طاغوت ته فیصله یوسه یا دې ټول مال خرچ کړه نو په تا لازم دي چې ټول مال دې خرچ کړې خو طاغوت ته فیصله وړل درته جایز نه دي.

٣ـ ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ وروسته له هغه چې د چنګیز خان د الیاسا (الیاسق) قانون څه برخه یې رانقل کړې ده وایي: **وفي ذلك**

**كله مخالفة لشرائع الله المنزلة على عباده الأنبياء عليهم الصلاة والسلام، فمن ترك الشرع المحكم المنزل على محمد بن عبد الله خاتم الأنبياء وتحاكم إلى غيره من الشرائع المنسوخة كفر، فكيف بمن تحاكم إلى الياسا وقدمها عليه ؟ من فعل ذلك كفر بإجماع المسلمين [البداية والنهاية ١٣ / ١٣٩].**

ژباړه: او په دې ټول قانون کې د الله تعالى د هغه شريعتونو خلاف شوى کوم چې د الله تعالى په پيغمبرانو راليږل شوي، نو چا چې هغه محکم شريعت پرېښود چې په محمد بن عبد الله وروستني پيغمبر باندې راليږل شوى او له هغه پرته نورو منسوخ شريعتونو ته يې فيصله يوړله نو کافر شو، نو د هغه چا به څه حال وي چې "ياسا" قانون ته فيصلې وړي او د الله تعالى په شريعت يې مخکې کوي؟ چا چې دا کار وکړ په اجماع د مسلمانانو کافر شو.

۴ـ شيخ علامة حمد بن عتيق رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپله رساله [سبيل النجاة والفكاك من موالاة المرتدين وأهل الإشراك صـ ٨٤] کې د نواقضو په بحث کې وايي: **الأمر الرابع عشر: التحاكم إلى غير كتاب الله وسنة رسوله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ... ومثل هؤلاء ما وقع فيه عامة البداوي ومن شابهم من تحكيم عادات آبائهم وما وضعه أوائلهم من الموضوعات المزعومة التي يسمونها شرع الرفاقة،**

**يقدّمونها على كتاب الله وسنة رسوله -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، ومن فعل ذلك فإنه كافر يجب قتاله حتى يرجع إلى حكم الله ورسوله -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ا.هـ.**

ژباړه: څوارلسمه خبره: د الله تعالی له کتاب او د نبي علیه السلام له سنتو څخه پرته بل قانون ته فیصله وړل، (بیا یې په دې اړه د حافظ ابن کثیر فتوه په پوره توګه رانقل کړې او د هغې په تعلیق کې ویلي دي:) او د دوی په څېر هغه قوانین چې د عامو بانډو والا او هغوی ته ورته خلک په کې اخته شوي دي چې د خپلو مشرانو عادتونه او د هغوی وضعه کړي هغه دروغجن موضوعات یې حاکم کړي چې دوی ورته "د ملګرتیا قانون" نوم ورکوي او د الله تعالی په کتاب او د نبي علیه السلام په سنتو یې مخکې کوي؛ چا چې دا کار وکړ هغه به کافر وي جهاد به ورسره واجب وي تر دې چې د الله تعالی او د هغه د رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم ته راوګرځي.

الغرض د قرآن له آیتونو او د سلفو د صحیح فهم څخه په څرګنده توګه دا خبره واضحه شوه چې طاغوت ته فیصله وړل صریح کفر دی چې پرته له معتبر اکراه په هېڅ وخت کې نه جایز کېږي او که څوک وایي چې زمونږ بله لار نشته ځکه

چې اسلامي محکمې نشته نو څه وکړو؟ دغه خلکو ته مونږ وايو چې تاسو د خپل ايمان حفاظت له هر څه مخکې کړئ او د خپلو شخړو د حل لپاره شرعي لارې ولټوئ، حق پرسته علماوو ته رجوع وکړئ ځکه د دې آيت عموم علماوو ته هم شامل دی چې الله عزوجل فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ [ النساء: ٥٩]،

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسې څخه د امر خاوندان وي. په "**أولي الأمر**" کې علماء هم داخل دي چې ډېرى مفسرينو ورله دغه معنا کړې ده لکه ابن کثير رَحِمَهُ ٱللَّهُ د "**أُولِي الْأَمْرِ**" په تفسير کې وايي: **أهل الفقه والدين**. علماء او دين داره خلک. بيا وايي چې دا قول د مجاهد، حسن بصري، عطاء او د ابو العاليه څخه نقل دی. امام قرطبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ويلي دي: **وهو قول أكثر علماء التابعين، وهو اختيار مالك**. دا قول د ډېرو تابعينو دی چې امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم غوره کړی دی. د "**أولى الأمر**" په تفسير کې نور اقوال هم شته خو يو قول په کې دا دی چې له دې څخه علماء مراد دي نو حاصل دا شو چې پورتنی آيت په دې خبره دليل دی چې په کومه سيمه کې د الله تعالى په قانون فيصله نه کېږي او اميران

يې مسلمانان نه وي نو د دې سيمې په اوسېدونکو مسلمانانو لازم دي چې علماوو ته خپلې فيصلې يوسي. ځکه چې د "أولی الأمر" يو تفسير علماء دی، له دې امله کله چې يو مسلمان امير موجود نه وي څوک دا دعوه نشي کولای چې عالِم نشته، چا ته فيصله يوسم؟ ځکه چې علماء د الله تعالی په فضل سره هر ځای کې شته، د مسلمانانو علاقې له حق پرسته علماوو څخه نه خالي کېږي که شرعي محکمې نه وي بايد هغوی ته رجوع وکړئ، که داسې هم نشي کېدای له دې امله چې خصم (مقابل لورې) نه راضي کېږي نو بيا بايد له شرعي صلحې څخه کار واخلئ، او که مقابل لورې پرته له طاغوتي محکمې څخه په بل هيڅ نه راضي کېږي او يا هم له خپل ظلم څخه لاس نه اخلي نو که وس ورسره وي بايد په مقابل کې يې زور وکاروئ ځکه د خپل حق لاس ته راوړلو يا له خپل ځان څخه د ظلم مخنيوي لپاره له زور څخه کار اخستل جايز دي خو د طواغيتو نه به په کې کومک نه اخلئ، په حديث د بخاري او د مسلم کې راغلي دي نبي عليه السلام فرمايي: **من قُتل دون مالِه فهو شهيد،**

ژباړه: څوک چې د خپل مال په دفاع کې ووژل شو هغه به شهيد وي. امام نووي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دغه حديث په شرح کې

وايي: **فِيهِ جَوَازُ قَتْلِ الْقَاصِدِ لِأَخْذِ الْمَالِ بِغَيْرِ حَقٍّ ، سَوَاءٌ كَانَ الْمَالُ قَلِيلًا أوكثيرا لعموم الحديث ، وهذا قول الجماهيرمن الْعُلَمَاءِ. وَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِ مَالِكٍ : لَا يَجُوزُ قَتْلُهُ إِذَا طَلَبَ شَيْئًا يَسِيرًا ، كَالثَّوْبِ وَالطَّعَامِ ؛ وَهَذَا لَيْسَ بِشَيْءٍ ، وَالصَّوَابُ مَا قَالَهُ الْجَمَاهِيرُ.... وَالْمُدَافَعَةُ عَنِ الْمَالِ جَائِزَةٌ غَيْرُ وَاجِبَةٍ وَاللهُ أَعْلَمُ، [شرح صحيح مسلم" (٢ /١٦٥)].**

ژباړه: په دې حدیث کې په ناحقه توګه د بل چا مال اخستلو اراده لرونکي د وژلو جواز ثابت دی، برابره ده که مال لږ وي او که ډېر وي د دغه حدیث د عموم له وجې، او دا د جمهورو علماوو قول دی، ځینو مالکیانو ویلي دي: کله چې د لږ مال غوښتونکی وي وژل یې جایز نه دي لکه جامه او خوراک او دا په هېڅ شي کې حساب نه دي، خو صحیح خبره د جمهورو ده ... خو له مال څخه دفاع جایز ده واجب نه ده.

او که دا ټول کارونه امکان نه لري نو بیا دې د خپل حق څخه ورتېر شي ځکه انسان خپل ټول حقونه په دنیا کې نشي تر لاسه کولی آخرت ته دې پرېږدي خو له خپل ایمان څخه دې طاغوتي محکمو ته (عدالت، ابتدائیه محکمه، استیناف، مرافعه یا تمیز ته) په فیصلې راجع کولو نه تیرېږي او د مخکې

ذکر شوو دوه آیتونو په وعید کې دې ځان نه داخلوي او نه دې هم د مرجئه وو په دغو قیوداتو دوکه کېږي چې په داسې ځایونو کې د استحلال او یا د جحود قیدونه کاروي، تاسو وکتل چې دغه فهم له شرعي نصوصو څخه سلفو نه دی اخستی، بلکې مرجئه وو ورڅخه اخستی چې اوس د همدغه عقیدې لپاره نورستاني او د هغه مل پلاوی خدمت کوي او مسلمانان په دغه بې ځایه قیوداتو طاغوتي محکمو سره روږدي کوي او له ایمان څخه یې خلاصوي والله المستعان.

## د وضعي قانون حاکمول اکبر کفر دی.

**د رسالې لیکوال د موجوده هغو طاغوتي حاکمانو په دفاع کې چې وضعي قوانین حاکموي چې عبارت دي له کمونيزم، سیکولریزم، سوسیالزم، صوفییزم او نورو څخه؛ ویلي دي: ومن أصولهم: أنهم لا یکفرون المسلم بالحکم بغیر ما أنزل الله تعالی ویرون ذلك کفرا دون کفر، کما قاله ابن عباس رضي الله عنهما ونقله عنه عامة المفسرین [انظر: المنهج المتفق علیه صـ ١٥].**

ژباړه: د اهل السنة له اصولو څخه دا دي: چې دوی مسلمان په وضعي قانون باندې فیصلې کولو سره نه تکفیروي او(په وضعي قانون فیصله) کفر اصغر یعنې کبیره گناه یې گڼي

لکه څنګه چې ابن عباس رضي الله عنهما ویلي دي او عامو مفسرینو ترې نقل کړي دي. بیا یې وروسته د وضعي قانون حاکم په دوه حالاتو کې تکفیر کړی دی یو: دا چې په وضعي قانون باندې فیصله کول د الله تعالی له قانون څخه ښه وګڼي، دویم: وضعي قانون باندې فیصله کول جائز وګڼي که څه هم د شریعت حاکمیت غوره ګڼي، نو کافر به وي ځکه چې ده حرام حلال وګڼل. او بیا وایي چا چې په وضعي قانون فیصله د خواهش د تابعدارۍ له امله یا د رشوت له امله او یا د شخصي تضادو له امله وکړه په داسې حال کې چې ځان یې ګناهګار ګڼلو او د شریعت حاکمیت یې واجب ګڼلو؛ نو دا به ګناهګار وي او دا کار به یې کفر اصغر، ظلم اصغر او فسق اصغر بلل کېږي او بیا یې دا خبره ابن عباس رضي الله عنهما، طاووس او د سلفو یوې ډلې ته منسوب کړې ده ا.هـ.ملخصا [انظر: المنهج المتفق علیه صـ ٢١ ـ ٢٢].

## د وضعي قانون د تحکیم شرعي تحلیل.

**یادونه:** د وضعي قانون حاکم د کفر په اړه به مونږ ډېر اوږد تفصیل کوو ځکه چې په دې مسئله کې ډېر خلک خطا ، ګمراه او په افراط او تفریط کې اخته شوي دي نو دې لپاره

چې د مسئلې شرعي حيثيت روښانه شي او بصيرت په کې ترلاسه کړو؛ لوستونکو ته پکار دي چې د انصاف په نظر يې تر آخره وګوري او له کتلو يې سترې نشي.

د وضعي قانون تحکيم په اړه د ټولو نه مخکې د دوی د يو مخکښ کس ابو محمد امين الله پيشاوري فتوه را اخلو دې لپاره چې په دوی باندې له خپل کور څخه هم رد وشي او بيا نور تحقيق ته راګرځو ان شاء الله:

ابو محمد امين الله په خپله فتاوی [الدين الخالص ج ٨ / ص ٨٤] کې د (١٥٣٩)مسئلې په ضمن کې د وضعي قانون حاکم په اړه تفصيل کړی دی، درې اقوال يې راوړي دي چې په حقيقت کې يې رجع دوه و ته کېږي، نو اول قول يې د رسالې د ليکوال موافق راوړی دی او په دويم قول کې يې د وضعي قانون حاکم تکفير کړی دی کله چې سره له قدرت (واک، ځواک) او پوهې وضعي قانون حاکموي چې دا قول يې ډېرو سلفو علماوو ته منسوب کړی دی، او په آخر کې يې همدا راجح کړی دی، همداراز د خپلې فتاوی په [ج٩/ ص ١٩٦، مسئلة رقم: ١٩٢٨]کې يې هم د وضعي قانون حاکم تکفير کړی دی، او د شريعت خلاف قانون وضعه کولو ته يې پرته له استحلال کفر

ويلي دي، لکه نوموړی د وضعي قانون حاکم د ارتداد په لاملونو کې وايي: ومنها : **أن وضع القانون الذى فيه التحليل والتحريم شرك سواء استحله أولم يستحله لأنه لا حاجة إلى استحلال الشرك في كفرصاحبه. [الدين الخالص ٩/ ٢٠٤].**

ژباړه: بله وجه د کفر يې دا ده: چې داسې قانون وضعه کول چې له ځانه تحليل تحريم په کې شوی وي شرک دی، برابره ده که له زړه څخه يې حلال ګڼي او که نه، ځکه چې د کافر په کفر کې له زړه څخه شرک حلال ګڼلو ته اړتيا نشته.

او بيا يې دغه فتوه د دې زمانې په طاغوتي حاکمانو تطبيق کړې ده. که څه هم نوموړي ته په "المنهج المتفق عليه" رساله کې قيد د استحلال هم منسوب دی چې نوموړی د وضعي قانون حاکم د تکفير لپاره استحلال شرط کوي او ګواکې پرته له استحلال يا جحود يې نه تکفيروي نو که حقيقت ولري دا به يې په دې موضوع کې دوه ګونی قول شي هغه چې پيل کې مونږ ورته اشاره کړې وه.

اوس د موضوع شرعي تحليل ته راګرځو نو وايو:

# وضعي قانون حاکم د پنځه لاملونو له امله کافر دی چې بیان یې په دې ډول دی:

**وضعي قانون حاکم د کفرلومړنی لامل: تشريع مالم يأذن به الله (د شريعت خلاف قانون سازي کول).**

د شريعت خلاف قانون سازي کول کفر دی چې په اړه یې ډېر دلایل شتون لري ځینې له هغو څخه په دې ډول دي:

**اول دلیل**: الله عز وجل فرمايي: أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُا شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللهُ [سُورَةُ الشّورى : ٢١].

ژباړه: آیا دغه خلك له الله تعالی سره داسې شریکان نیسي، چې د دوی لپاره یې د دین داسې طریقې غوره کړې چې الله د هغې اجازه نده کړې؟.

په دې آیت کې الله عز وجل هغه چا ته د الله تعالی شریکان وويل چې څوک له ځانه قوانین جوړوي، برابره ده که دغه قوانین د ژوند د ټولو چارو لپاره وضعه کوي او که د ژوند د ځینو چارو لپاره یې وضعه کوي په دواړو حالاتو کې په کفر اکبر کې اخته دی یعنې که په آیت کې "مِن" بیانیه شي او که تبعیضي شي حکم یې یو دی ځکه چې د شريعت د ځینو

احکامو خلاف قوانین جوړلو او منلو ته هم کفر ویلی شوی دي الله عز وجل فرمايي: أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ [سُورَةُ البَقَرَة : ٨٥].

ژباړه: نو آیا تاسي د کتاب په یوه برخه ایمان راوړئ او په بله برخه یې کافران کیږئ؟. او لامل یې همدا دی چې څوک قوانین جوړوي ځان له الله تعالی سره په ربوبيت او الوهيت کې شریکوي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه په خپل کتاب [اقتضاء الصراط المستقيم ص ٢٦٧، ومجموع الفتاوى ٤/ ١٩٤] کې د دغه آیت په شرح کې وايي: **فمن ندب إلى شيء يتقرب به إلى الله، أو أوجبه بقوله أو بفعله من غير أن يشرعه الله: فقد شرع من الدين ما لم يأذن به الله، ومن اتبعه في ذلك فقد اتخذه شريكا لله شرع له من الدين ما لم يأذن به الله.)اهـ**

ژباړه: چا چې داسي شي ته خلک راوبلل چې الله تعالی ته پرې ځان نېژدې کوي یا یې په خپلي وینا یا کار سره واجب وګرځوو پرته له دې چې الله تعالی قانون جوړ کړی وي نو ده داسي قانون جوړ کړ چې الله تعالی یې اجازه نه ده ورکړې او

چا چې يې په دغه کار کې تابعداري وکړه نو دا يې له الله تعالی سره برخه دار جوړ کړ، هغه قانون يې ورته جوړ کړ چې الله تعالی يې اجازه نه ده ورکړې.

علامه شنقيطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دې آيت په اړه وايي: **وأما النظام الشرعي المخالف لتشريع خالق السماوات والأرض: فتحكيمُه كفرٌ بخالق السماوات والأرض، كدعْوى أن تفضيل الذكَرعلى الأنثى في الميراث ليس بإنصاف، وأنهما يلزم استواؤهما في الميراث، وكدعْوى أن تعدد الزوجات ظلم، وأن الطلاق ظلمٌ للمرأة، وأن الرَّجم والقَطع ونحوَهما أعمالٌ وحشيةٌ، لا يَسوغ فِعلها بالإنسان، ونحو ذلك... فتحكيمُ هذا النوع من النظام في أنْفُس المجتمع، وأموالهم، وأعراضهم، و أنسابهم، وعقولهم، وأديانهم: كفرٌ بخالق السماوات والأرض، وتَمرُّد على نظام السماء، الذي وضعه مَن خلقَ الخلائق كلَّها، وهو أعلمُ بمصالحها، سبحانه وتعالى عن أن يكون معه مُشرِّعٍ آخرعلوًّا كبيرًا [أضواء البيان ٣ج/٣٦٠ص].**

ژباړه: او هغه نظام چې د ځمکې او آسمانونو د پيدا کوونکي ذات د قانون خلاف وي؛ حاکمول يې په هغه ذات کفر کول دي چې ځمکه او آسمانونه يې پيدا کړي دي؛ لکه داسې دعوه کول چې نارينه ته په ميراث کې له زنانه څخه زياته برخه ورکول انصاف نه دی، او دواړو (نارينه او زنانه) ته په

میراث کې یو شان برخه ورکول لازم دي او یا داسې دعوه کول چې ډېر نکاحونه ظلم دی او ښځې ته طلاق ورکول ظلم دی او د زاني (زنا کوونکي) رجم کول او له غل څخه لاس غوڅول او د دې پشان نور حدونه نافذول د وحشت کړنې دي چې له یو انسان سره داسې کړنې ترسره کول جائز نه دي او داسې نور، نو دا ډول نظام د خلکو په نفسونو، مالونو، عزتونو، نسبونو، عقلونو او دینونو حاکمول، په هغه ذات کفر کول دي چې ځمکه او آسمانونه یې پیدا کړي دي او له هغه آسماني نظام څخه سرکښي کول دي چې د ټولو مخلوقاتو پیداکوونکي وضعه کړی دی او هغه ذات د مخلوق په ګټو ښه پوهېږي، پاک دی هغه او لوړ دی له دې چې له هغه سره بل قانون جوړونکی شریک شي په لوړوالي ډېر سره.

دویم دلیل: وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ [سُورَةُ الأنعَام: ١٣٧].

ژباړه: او په همدې ډول د ډېرو مشرکانو لپاره، د هغوی شریکانو د خپل اولاد وژل ښایسته کړي دي، تر څو چې هغوی

له تباهۍ سره مخامخ کړي او هغوی د خپل دین په باب په اشتباه کښې واچوي. که الله غوښتي وای نو دوی به داسي نه وای کړي. نو دوی پرېږده چي په خپلو درواغو جوړولو کښې اخته وي.

په دې آیت کې الله عزوجل هغو شیطانانو ته چې د جاهلي زماني عربانو ته به یې د خپلو لوښو د ژوندي خښولو په اړه وحې کولې شریکان یې ورته وویل، او تابعدارۍ ته یې ورله لوی شرک وویل، آیت دلیل شو په دې چې د شریعت خلاف قانون سازۍ کې د چا تابعداري کول لوی شرک دی، شیخ شنقیطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دې آیت په تفسیر کې لیکي: **فسماهم شركاء لأنهم أطاعوهم في معصية الله تعالى،[أضواء البيان ٣/ ٤١].**

ژباړه: دوی ته یې شریکان وویل ځکه چې مشرکانو ورله د الله تعالی په نافرمانۍ کې تابعداري وکړه.

او په بل ځای کې هم د دې خبرې په اثبات کې چې د الله تعالی د قانون خلاف د بل چا د قانون تابعداري کول شرک دی؛ هغه ویلي دي: **ويفهم من هذه الآيات، كقوله: ولا يشرك في حكمه أحدا أن متبعي أحكام المشرعين غير ما شرعه الله أنهم مشركون**

**بالله، وهذا المفهوم جاء مبينا في آيات أخرا. هـ.[أضواء البيان: ٣/ ٢٥٩].**

ژباړه: له دې آيتونو څخه داسې فهم اخستل کېږي لکه الله تعالى چې فرمايلي دي: د الله تعالى سره به د هغه په حاكميت كې بل څوک نه شريکوي؛ دا چې د الله تعالى د قانون خلاف د قانون سازانو د قوانينو تابعداري کوونکي په الله تعالى مشرکان دي او دا معنا په نورو آيتونو کې هم راغلې ده.

**دريم دليل: الله عزوجل فرمايي:** ﴿أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾. **[سُورَةُ المَائدة: ٥٠ - ٤٩].**

ژباړه: (که دوی د الله له قانون څخه مخ اړوي) نو آيا بيا د جاهليت فيصله غواړي؟ په داسې حال کښې کوم خلک چې پر الله باور لري، د هغو په نزد له الله څخه بل غوره فيصله کوونکی هيڅ نشته.

د دې آيت په تفسير کې ابن کثير رَحِمَهُ اللَّهُ ويلي دي: **ينكر تعالى على من خرج عن حكم الله المحكم المشتمل على كل خير، الناهي عن كل شر وعدل إلى ما سواه من الآراء والأهواء والاصطلاحات التي وضعها الرجال بلا مستند من شريعة الله، كما كان أهل الجاهلية يحكمون به من الضلالات والجهالات مما**

**يضعونها بآرائهم وأهوائهم، وكما يحكم به التتار من السياسات الملكية المأخوذة عن ملكهم جنكزخان الذي وضع لهم الياسق، وهو عبارة عن كتاب مجموع من أحكام قد اقتبسها من شرائع شتى: من اليهودية والنصرانية والملة الإسلامية وغيرها، وفيها كثير من الأحكام أخذها من مجرد نظره وهواه، فصارت في بينه شرعا متبعا يقدمونه على الحكم بكتاب الله وسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم، فمن فعل ذلك منهم فهوكافريجب قتاله حتى يرجع إلى حكم الله ورسوله، فلا يحكم سواه في قليل ولا كثير، ا.هـ [تفسيرابن كثير ٣/ ١١٩].**

ژباړه: الله تعالی د هغه چا بدي بيانوي څوک چې د الله تعالی له هغه واضح حکم څخه وځي چې په هر خير مشتمل دی، له هر شر څخه منعه کوونکی دی، او له دې څخه پرته نورو هغو نظريو، خواهشاتو او اصطلاحاتو ته ورکوړ شي کوم چې خلکو پرته له شرعي دليل څخه جوړې کړې دي لکه څنګه چې به د جاهلي زمانې والاو په هغو ګمراهيو او جهالتونو فيصلې کولې کوم چې به دوی په خپلو رايو او خواهشاتو سره جوړ کړي وو او لکه څنګه چې به تاتاريانو په خپل هغه پادشاهي سياست فيصله کوله چې د دوی له پادشاه چنګيز خان چې دوی ته يې الياسق قانون وضعه کړی و؛ څخه

راخستل شوی و، دا قانون (الیاسق) عبارت و له یو داسې کتاب څخه چې د مختلفو شریعتونو احکام په کې راجمعه وو؛ له یهودیت، نصرانیت او اسلامي ملت او نورو څخه، او په دې کې ډېری داسې حکمونه هم وو چې سوچه یې له خپل نظر او خواهش څخه راخستي وو، نو د هغوی تر منځ د یو منل شوي شریعت په توګه وګرځېدل چې د الله تعالی د کتاب او د نبي علیه السلام د سنتو پر فیصلې یې مخکې کاوه، له دوی څخه چې چا دا کار وکړ هغه به کافر وي، جنګ به ورسره تر هغه وخت واجب وي تر څو چې د الله تعالی او د هغه د رسول فیصلې ته نه وي راګرځېدلې، د الله تعالی له قانون پرته بل قانون به په وړه او غټه مسئله کې نه حاکموي.

د ابن کثیر رحمه د یادې فتوې سره لږ تم کېږو او د دې زمانې د طواغیتو په اړه یې په تطبیق کې فکر کوو ځکه د تاتاریانو حال د دې زمانې د حاکمانو سره ډېر ورته دی بلکې دوی له هغوی څخه که زیات نه وي کم ترې هم نه دي نو له دې وجې د دوی کفر به فوق کفرٍ وي نه کفر دون کفر.

**اول تم ځای:** د ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ دغه فتوه یوازې تر تاتاریانو خاص نه ده بلکې هغه څوک چې د تاتاریانو په لباس

ملبوس وي فتوه به ورته شامله وي، دليل د عموم يې دا دی چې ابن کثير رَحِمَهُ ٱللَّهُ دلته "مَنْ" لفظ راوړی دی لکه وايي: ينكر تعالى على مَن، او "مَن" د عموم له صيغو څخه دی هغه چا ته شامل دی چې د تاتاريانو په څېر کار کوي بيا يې په مثال کې اول د جاهليت د زمانې قوانين راوړي دي او ورپسې يې د تاتاريانو د زمانې قوانين راوړي دي او په آخر کې يې خبره عام کړې ده ټولو هغه خلکو ته يې شامله کړې چې څوک د تاتاريانو په څېر کار کوي نو ويلي دي: فمن فعل ذلك منهم فهو كافر، نو حکم د کفر يې ورباندې کړی دی.

**دويم تم ځای**: ابن کثير رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې د دغه قانون کوم وصف بيان کړی دی د موجوده وضعي قوانينو سره يې پرتله کوو: هغه د دغه قانون وصف داسې بيان کړی: "دا قانون (الياسق) عبارت و له يو داسې کتاب څخه چې د مختلفو شريعتونو احکام په کې راجمعه وو؛ له يهوديت، نصرانيت او اسلامي ملت او نورو څخه، او په دې کې ډېری داسې حکمونه هم وو چې سوچه يې له خپل نظر او خواهش څخه راختلي وو"، نو اوس وخت هم نافذ قوانين له امريکا، فرانسې، برطانيا، روس او د جستنيان او ناپليون له قوانينو څخه راخستل

شوي دي او دغه د تاتاري قانون وصف د دې زمانې په قوانينو کې په پوره توګه موجودېږي. که څوک ووايي چې په دې نظامونو کې څه نا څه شريعت هم نافذ دی يا د نهه نوي سلنه شريعت دعوه وکړي، نو مونږ وايو چې سل په سله شريعت په کې نه وي حاکم شوی اسلامي نشي کېدای دليل مخکې ذکر شوی و چې الله تعالی فرمايي: أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ [سُورَةُ البَقَرَة : ٨٥].

ژباړه: نو آيا تاسې د کتاب په يوه برخه ايمان راوړئ او په بله برخه يې کافران کېږئ؟.

او د شريعت کوم حکم که چېرې دوی نافذ کړی هم وي نو دا يې د مسلمانانو د غولولو په پار نافذ کړی وي.

**دريم تم ځای**: ابن کثير بيا وايي: "دغه قانون د هغوی تر منځ يا د هغوی د ځامنو تر منځ د يو منل شوي شريعت په توګه وګرځېده"، له دې څخه معلومه شوه چې دغه قانون يوازې د چنګيز خان د ځامنو او لمسو تر منځ حاکم و، په مسلمانانو يې نه و جبري کړی لکه څنګه چې د دې زمانې طواغيت خپل جوړ شوي قوانين په مسلمانانو جبري کوي، د اوسپنې او اور

په زور يې نافذوي، بلکې تاريخ کې راغلي دي چې هغوی خپلو واليانو ته هغه چې په اسلامي علاقو: خراسان او عراق حاکمان وو او کله ناکله به يې د شام ولکه هم ترلاسه کوله؛ د عدل، تقوی او شريعت د تطبيق امر يې ورته کړی و لکه څنگه چې دا خبره په [وثائق الحروب الصليبية والغزو المغولي للدكتور محمد ماهر حمادة صـ٤٠٦] کې راغلې ده، قازان د شام علاقې والي ته په خط کې ليکلي و: **وعلى ملك الأمراء سيف الدين بتقوى الله في أحكامه، وخشيته في نقضه وإبرامه، وتعظيم الشرع وحكّامه، وتنفيذ أقضية كل قاض على قول إمامه، وليعتمد في الجلوس بالعدل والإنصاف وأخذ حق المشروف من الأشراف، وليقيم الحدود والقصاص على كل من وجبت عليه، وليكف العادية على كل من أعتدي عليه ا.هـ.**

ژباړه: د اميرانو په پادشاه سيف الدين لازم دي چې د الله تعالی په احکامو کې تقوی اختيار کړي او له الله تعالی څخه د هغه د احکامو په ماتولو او تايدولو کې ويره وکړي او د شريعت او د هغه د حاکمانو په درناوي کې، او د هر قاضي فيصلې دې د خپل امام د قول مطابق نافذ کړي، په خپلو ناستو کې دې په عدل او انصاف اعتماد وکړي، د کمزوري حق دې له زورآور څخه اخلي، حدود او قصاص دې قايم کړي په چا چې

لازم شوي وي، او د ظلم مخنیوی دې وکړي له هغه چا څخه چې ظلم وربانديې شوی وي.

خو سره له دغه رسالې بيا هم علماوو د دوی په کفر اجماع کړی؛ قازان، د هغه عسکر او پلويان يې تکفير کړي دي او هېچا يې په کفر کې شک نه دی کړی چې شيخ الاسلام ابن تيميه د دغه علماوو په سر کې دی معلومه شوه چې د دې حاکمانو کفر فوق کفر دی نه کفر دون کفر لکه څنګه چې مرجئه او د هغوی پلويان وايي.

**څلورم تم ځای**: او په آخر کې وايي: له دوی څخه چې چا دا کار وکړ هغه به کافر وي "، دلته يې حکم په راځرګند فعل کړی، قيد د استحلال يا جحود يې نه دی لګولی، سره له دې چې حافظ ابن کثير يو فقيه، مفسر، اصولي او مجتهد عالم و. معلومه شوه چې دغه فتوه موجوده طاغوتي حاکمانو ته په پوره توګه شامله ده او د دوی کفر فوق کفر دی نه کفر دون کفر.

# د هغه علماوو فتواوې چې د ابن کثیر فتوه یې د دې زماني په حاکمانو تطبیق کړې ده.

له هغو علماوو څخه چې د ابن کثیر فتوه یې د دې زمانې په حاکمانو تطبیق کړې ده د شیخ احمد شاکر فتوه ده نوموړی د ابن کثیر فتوې نقلولو نه وروسته وایي: **أقول: أفيجوز مع هذا في شرع الله أن يحكم المسلمون في بلادهم بتشريع مقتبس عن تشريعات أوربا الوثنية الملحدة؟ بل تشريع تدخله الأهواء والآراء الباطلة، يغيرونه ويبدلونه كما يشاؤون لا يبالي واضعه أوافق شرعة الإسلام أم خالفها؟**

**إن المسلمين لم يبلوا بهذا قط فيما نعلم من تاريخهم إلا في ذلك العهد عهد التتار، وكان من أسوأ عهود الظلم والظلام ومع هذا فإنهم لم يخضعوا له، بل غلب الإسلام التتار، ثم مزجهم فأدخلهم في شرعته، وزال أثر ما صنعوا بثبات المسلمين على دينهم وشريعتهم، وبأن هذا الحكم السيئ الجائر كان مصدره الفريق الحاكم، إذ ذاك لم يندمج فيه أحد من أفراد الأمم الإسلامية المحكومة، ولم يتعلموه ولم يعلموه أبناءهم، فما أسرع ما زال أثره ا.هـ[عمدة التفسير ٤/ ١٧٣].**

ژباړه: زه وایم: آیا له دې سره، سره د الله تعالی په شریعت کې دا جایز دي چې مسلمانان په خپلو هیوداونو کې هغه قانون

حاکم کړي چې د بوت پاله ملحده اروپا له قوانینو څخه راخستل شوی وي؟ بلکې داسې قانون چې خواهشات او باطلې راپې په کې ځای لري، څنګه چې وغواړي بدلوي رابدلوي یې، جوړوونکی یې دا پروواه نه کوي چې د اسلام له قانون سره یې موافق قانون جوړ کړ او که مخالف؟ مونږ ته چې د مسلمانانو د تاریخ په هکله څومره معلومات دی هیڅیرې په داسې آزمیښت نه وو مبتلا شوي پرته د تاتاریانو له زماني څخه، چې دا تر ټولو بده د ظلمونو او تورتمونو زمانه وه خو سره له دې بیا هم مسلمانانو دغه قانون ته غاړه کېنښوده بلکې اسلام په تاتاریانو غالب شو بیا یې سره ګډ کړل او په خپل قانون کې یې داخل کړل او د دوی د کړنو اغیزه د مسلمانانو په خپل دین او شریعت باندې د ثبات له امله ختمه شوه او دا چې د دغه ناکاره، ظالم قانون سرچینه د حاکم ډله وه نو ځکه خو په کې د اسلام د محکوم ولس له افرادو څخه هیڅا ګډون ونه کړ، نه یې پخپله زده کړ او نه یې خپلو بچو ته زده کړ، نو ډېر زر یې اثر ختم شو.

شیخ محمد حامد الفقیه -رَحِمَهُ ٱللَّهُ- چې په نیژدې وخت کې تیر شوی دی هغه د فتح المجید په تحقیق کې وروسته له

هغه چې د کتاب ليکوال د علامه ابن کثير فتوه رانقل کړې؛ نوموړی د دغه فتوې په وضاحت کې وايي: **ومثل هذا وشرمنه من اتخذ من كلام الفرنجة قوانين يتحاكم إليها في الدماء والفروج والأموال، ويقدمها على ما علم وتبين له من كتاب الله وسنة رسوله -صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ - ؛ فهو بلا شك كافر مرتد إذا أصر عليها ولم يرجع إلى الحكم بما أنزل الله، ولا ينفعه أي اسم تسمى به، ولا أي عمل من ظواهر أعمال الصلاة والصيام ونحوها.. ا.هـ [فتح المجيد في شرح كتاب التوحيد، تحقيق الشيخ محمد حامد الفقيه ط السنة المحمدية حاشية صـ ٢٦٩].**

ژباړه: او د دې په څېر او له دې څخه بد تر هغه څوک دی چې د پيرنگيانو خبرې د قانون په توگه گڼي، وينو، عورتونو او مالونو په اړه ورته فيصلې وړي، او په هغه څه يې مخکې کوي چې ده ته له قران او حديث څخه معلوم وي؛ نو دا پرته له شکه کافر او مرتد دی کله چې په دې (قانون) کلک پاتې شي او د الله تعالی په قانون باندې فيصلې کولو ته راونه گرځي او ده ته هېڅ نوم چې ځان ته يې اېښی وي گټه نه ورکوي او نه ورته هېڅ عمل چې له ښکاره اعمالو څخه وي چې لمونځ، روژه او د دې په څېر نور دي؛ گټه ورکوي.

همداراز حمد بن عتيق او نورو معاصرو علماوو هم د ابن کثير فتوه د دې زماني په حاکمانو تطبيق کړې ده.

**څلورم دليل:** وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ [سُورَةُ الأنعَام: ١٢١].

ژباړه: او کوم څاروي چې د الله تعالی د نوم په اخيستلو نه وي حلال کړای شوي، د هغه غوښه مه خورئ؛ دا کار فسق دی. شيطانان د خپلو ملګرو په زړونو کښې شکونه او اعتراضونه اچوي چې هغوی له تاسې سره شخړه وکړي. خو که تاسې د هغوی تابعداري وکړه نو بېله شکه به تاسې مشرکان ياست.

د دې آيت شان نزول چې ابن کثير او نورو مفسرينو راوړی دی حاصل يې دا دی چې د مکې مشرکانو د مجوسو په ښودنه په نبي عليه السلام داسې اعتراض کړی و: دا څه وجه ده چې کوم څاروی تاسو په خپلې چړې (چاقو) سره ذبحه کړئ هغه حلال وي او کوم څاروی چې الله تعالی په خپله توره ذبحه کړی وي (خپله مړ شوی وي) هغه حرام وي؟ نو دا آيت

نازل شو. او په آیت کې د دغې خبرې وضاحت وشو چې په کوم څاروي د الله تعالی نوم نه وي اخستل شوی که څه هم مسلمان حلال کړی وي هغه به حرام وي او کوم څاروي باندې چې د الله تعالی نوم یاد شوی وي هغه به حلال وي، نو دلته دوه ډوله شریعتونه مخ ته راغلل؛ د مشرکانو شریعت دا و چې کوم څاروی په خپل مرگ مړ وي خوړل یې جایز دي او د الله تعالی شریعت دا دی چې د دغه څاروي خوړل جایز نه دي نو څوک چې د الله تعالی شریعت پرېږدي او په دغه مسئله کې د مشرکانو په قانون پسې لاړ شي او پرته له بسم الله څاروی حلال وگڼي هغه به په فسق اکبر او شرک اکبر کې اخته وي.

له آیت څخه استدلال په دې طریقه کېږي چې دلته الله تعالی په یو فرعي مسئله کې د کفارو د قانون په تابعدارۍ د شرک حکم کړی دی نو د هغه چا به څه حال وي چې په ډېرو مسایلو کې د کفارو د قانون تابعداري کوي لکه زنا سود او نور، بلکې د دغه قانون د پلي کولو لپاره فوځي او عسکري قوت گماري او خلاف کوونکو ته یې سزا ورکوي؟ خامخا به د آیت په حکم کې داخل وي.

همداراز د دې آيت په تفسير کې چې الله تعالى فرمايي:

اتَّخَذُوٓا أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ[سُورَةُ التّوبَة : ٣١]

ابن كثير رَحِمَهُ ٱللَّهُ حديث د عدي بن حاتم راوړی دی چې هغه له نبي عليه السلام څخه پوښتنه کړې وه ويلي وو: دوی خو به يې عبادت نه کوو، نبي عليه السلام ورته فرمايلي وو: **بلى إنهم أحلوا لهم الحرام وحرموا عليهم الحلال فاتبعوهم؛ فذلك عبادتهم إياهم [تفسير ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٣/ ٢٩٥].**

ژباړه: ولې نه، دوی ورته حرام حلال کړل او حلال يې پرې حرام کړل نو تابعداري يې ورله وکړه، همدغه د دوی عبادت و.

امام شنقيطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل تفسير کې ويلي دي: **ولما كان التشريع وجميع الأحكام - شرعية كانت أو كونية قدرية - من خصائص الربوبية - كما دلت عليه الآيات المذكورة - كان كل من اتبع تشريعا غير تشريع الله قد اتخذ ذلك المشرع ربا، وأشركه مع الله [أضواء البيان ٧/ ٥٣].**

ژباړه: او هر کله چې قانون سازي او ټول حکمونه که شرعي وي او که تقديري کوني وي؛ د الله تعالى له ځانګړتياو څخه دي لکه څنګه چې پرې ذکر شوي آيتونه دلالت کوي،

نو هر هغه څوک چې د الله تعالى له قانون څخه پرته يې د بل چا د قانون تابعداري وکړه؛ دغه قانون ساز يې د خپل ځان لپاره رب ونيوه او د الله تعالى سره يې برخه دار جوړ کړ.

## په هغه چا رد چې د آيت حکم تر اعتقاد خاص کوي.

دلته د آيت حکم تر اعتقاد راښندول صحيح نه دي لکه څنګه چې دا خبره مخکې هم ذکر شوې، دا ځکه چې الله عزوجل دلته د اعتقاد، استحلال يا جحود کومه يادونه نه ده کړې بلکې په ښکاره توګه يې دا حکم تر ظاهري تابعدارۍ موقوف کړی دی، فرمايلي دي: وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ، د کفر لامل يې د دوی د قانون همدغه ظاهري تابعداري ګرځولی دی.

بل دا چې په دغه آيت کې خطاب نبي عليه السلام او صحابه کرامو ته دی؛ د هغوی په اړه له زړه څخه د مشرکانو قانون ته د ميلان تصور هم نشي کېدای چې بيا دوی دې له دغه اعتقاد څخه منعه شي معلومه شوه چې دلته د کفر لامل همدغه د شريعت خلاف قانون په ظاهر کې منل او په اندامونو سره يې تابعداري کول دي.

او دا خبره په دې آيت کې هم واضحه شوې ده چې الله عزوجل فرمايي: اتَّخَذُوٓا أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ اللَّهِ[سُورَةُ التّوبَة : ٣١]، د يهودو او نصاراو علماوو ته ځکه الله تعالی "أرباب من دون الله" له الله تعالی پرته معبودان ويلي دي چې دوی د خپلو علماوو د تحليل او د تحريم تابعداري په ظاهر کې کړې وه که څه هم اعتقاد يې په خپل ځای روغ و او د زنا حکم هماغه شان په تورات کې د نبي عليه السلام تر زماني پاتې وو نو ځکه خو د دوی يو عالِم په تورات کې د زنا د حد په اړه آيت باندې ګوته ايښې وه او د پټولو هڅه يې کوله، خو بيا هم الله تعالی دوی ته د شريعت خلاف قانون ظاهري تابعدارۍ له امله مشرکان وويل. سلفو د ذکر شوي آيت همدغه تفسير کړی دی لکه شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپله فتاوی کې د ذکر شوي آيت په وضاحت کې وايي: **قال أبو البختري: أما إنهم لم يصلوا لهم، ولو أمروهم أن يعبدوهم من دون الله ما أطاعوهم، ولكن أمروهم فجعلوا حلال الله حرامه وحرامه حلاله؛ فأطاعوهم فكانت تلك الربوبية. اهـ [مجموع الفتاوى لابن تيمية: ٧/ ٦٧].**

ژباړه: ابو البختري ويلي دي: خبردار دوی دغه مشرانو ته لمونځ نه و کړی او که چېرې يې دوی ته امر کړی وی چې له

الله تعالی پرته دی ورله عبادت وکړي؛ اطاعت به یې ورله نه وای کړی، خو دوی ورته په دې طریقه امر وکړ چې د الله تعالی حلال یې حرام کړل او حرام یې حلال کړل،پس دوی ورله په دغه کې اطاعت وکړو نو همدا د دوی ربوبیت وبلل شو.

بیا شیخ الاسلام ابن تیمیه په همدغه ذکر شوې صفحه کې وایي: **وقال الرّبِيع بن أنس: قلت لأبي العالية: كيف كانت تلك الربوبية في بني إسرائيل؟ قال: كانت الربوبية أنهم وجدوا في كتاب الله ما أُمروا به ونُهوا عنه فقالوا: لن نسبق أحبارنا بشيء؛ فما أمرونا به ائتمرنا وما نهونا عنه انتهينا لقولهم فاستنصحوا الرجال ونبذوا كتاب الله وراء ظهورهم. اهـ[مجموع الفتاوى لابن تيمية: ٧/ ٦٧].**

ژباړه: ربیع بن انس وایي: ما د ابو العالیه نه وپوښتل: په بني اسرائیلو کې دغه ربوبیت څنګه رامنځته شو؟ (یعني څنګه د دوی مشران اربابان وګرځېدل) هغه وویل: په دوی کې ربوبیت داسې رامنځته شو چې دوی د الله تعالی په کتاب کې د الله تعالی اوامر او نواهي ولیدل، نو ویې ویل: مونږ به د خپلو علماوو له یوې خبرې څخه هم مخکې نه شو (یعني خلاف به یې ونکړو) هغوی چې مونږ ته څه امر کاوه د هغې تابعداري

به کوو او د څه شي نه چې يې منعه کولو ترې منعه کيږو به، نو دوی د خلکو نصحيت قبول کړ او د الله تعالی کتاب يې شاه ته پرېښود.

او دا حال اوس هم دی، د دې حديث مصداق موجود شوی دی چې نبي عليه السلام فرمايي: **لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ، وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ، حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍ لَدَخَلْتُمُوهُ ، [أخرجه أحمد في مسنده: ١٠٦٤١].**

ژباړه: تاسو به خامخا د مخکنو خلکو په طريقو پسې روان شئ لوېشت په لوېشت، گز په گز، تر دې که هغوی د خادمې سوړې ته ورننوتي وي؛ تاسو به هم ورداخل شئ.

نو دغه طاغوتي حاکمان هم د کفارو په قوانينو پسې روان شول او د الله تعالی کتاب يې پرېښود، دوی هم د الله تعالی کتاب پېژني، د الله تعالی احکام پېژني، د نبي عليه السلام سنت پېژني، او يهود هم دغه شانته وو چې د رجم له آيت څخه يې انکار نه و کړی او نه يې هم دغه آيت له تورات څخه لرې کړی و خو په خواهش جوړ شوی قانون يې تطبيقوو او کشرانو يې ورسره منلو.

آلوسي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د "اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ" په تفسير کې وايي: **الأكثرون من المفسرين قالوا: ليس المراد من الأرباب أنهم اعتقدوا أنهم آلهة العالم، بل المراد أنهم أطاعوهم في أوامرهم ونواهيهم .اهـ [نقله سيد قطب في تفسيره في ظلال القرآن ٣/١٦٤٢].**

ژباړه: ډېرى مفسرينو ويلي دي: د ارباب نه مراد دا نه دى چې دوى يې په اړه دا عقيده لرلې وي چې دوى د نړۍ آلهه يا معبودان دي، بلکې دا مراد دى چې دوى يې په اوامرو او نواهيوؤ کې تابعداري وکړه.

د سورة توبه په ذکر شوي آيت کې تقريباً ټولو علماوو خبره کړې ده او په ځانګړي توګه د نجد علماوو په کې ډېره اوږده خبره کړې ده، که مونږ دغه تفصيل رانقلول اوغواړو نو دا بحث به ډېر اوږد شي، خو دغو ټولو علماوو په دې خبره اقرار کړى چې له الله تعالى پرته د بل چا تابعداري کول لوى شرک دى، بلکې شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ په "كتاب التوحيد" کې مستقل باب راوړى دي هغه ويلي دي: **بابٌ من أطاع العلماء والأمراء في تحريم ما أحلَّ الله أو تحليل ما حرّمه الله فقد اتخذهم أرباباً**، باب دى په بيان د دې کې چا چې د

علماوو، اميرانو په تحليل او تحريم کې تابعداري وکړه نو دغه يې خپل ارباب جوړ کړل. بيا يې له ترجمة الباب څخه وروسته اثار راوړي دي نو د ابن عباس رضي الله عنهما اثر يې راوړی دی چې په هغې کې دي: **يُوشِكُ أَنْ تَنْزِلَ عَلَيْكُمْ حِجَارَةٌ مِنْ السَّمَاءِ! أَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُولُونَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ؟ [كما ورد هذا الأثرفي مجموع الفتاوى لابن تيمية ٢٠/ ٢١٥].**

ژباړه: نېژدې ده چې په تاسو د آسمان له لوري د کاڼو باران وشي، زه وايم چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي او تاسو واياست چې ابوبکر او عمر فرمايلي دي. بيا يې دويم ورپسې د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ ٱللَّهُ اثر راوړی دی چې هغه فرمايلي دي: **عجبت لقوم عرفوا الإسناد وصحته، ويذهبون إلى رأي سفيان، والله تعالى يقول: (فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ) أتدري ما الفتنة؟ الفتنة: الشرك؛ لعله إذا ردّ بعض قوله أن يقع في قلبه شيء من الزيغ فيهلَكَ.اهـ.**

ژباړه: زه له هغه قوم څخه تعجب کوم چې سند او د هغې صحت ورته معلوم وي او بيا هم د سفيان رايې پسې ورځي په داسې حال کې چې الله تعالى فرمايي: "د پيغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له حُکم څخه سر غړوونکي بايد ووېرېږي چې په کومه فتنه

کښې اخته نه شي يا دردناک عذاب پرې رانشي". آيا ته پوهېږې چې فتنه څه ته وايي؟ فتنه شرک ته وايي، شايد چې کله څوک د نبي عليه السلام يوه خبره رد کړي زړه به يې له حق څخه باطل ته کوږ شي نو هلاک به شي.

او بيا شيخ د عدي بن حاتم رضي الله عنه حديث ذکر کړی دی.

نو د سلفو په اقوالو سره دا خبره نوره هم واضحه شوه چې په: وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ، آيت کې د اطاعت معنا تر اعتقاد موقوف نه ده بلکې په ظاهري اندامونو سره د شريعت خلاف قانون اطاعت کول هم د آيت په حکم کې داخل دي.

## د طاعت مکفره او غير مکفره تر منځ توپير.

په آيت کې الله تعالی په هغه چا د کفر حکم کړی چې د مشرکينو د تابعدارۍ له امله مرداره حلاله وګڼي خو د دې دا معنا نه ده چې مرداره خوړل کفر دی بلکې دا په اجماع د مسلمانانو کبيره ګناه ده خو دلته چې کفر ګرځېدلي نو د کفارو په تحليل تحريم کې د تابعدارۍ له امله، دا ځکه چې دلته دوه حالته دي: يو دا چې څوک د بل چا په ګناه کې تابعداري کوي

خو لیکن دغه بل کس دې ته گناه ښایسته کړي وي، هسې یې پرې راپارولی وي، د گناه ترغیب یې ورته ورکړی وي نو په داسې حال کې د چا تابعداري کول په گناه کې گناه ده بیا به د گناه اندازې ته کتل کېږي که چېرې ورله په صغیره گناه کې تابعداري کړې وه صغیره گناه به وي او که کبیره گناه کې یې تابعداري کړې وه کبیره گناه به وي او که چا شرک، کفر، د کفارو موالات ته رابللی وي او تابعداري یې ورله کړې وي نو بیا به شرک وي یعنې د گناه د اندازې مطابق حکم به ورباندې کېږي.

دویم حالت: دا دی چې څوک په گناه کې د چا تابعداري له دې امله وکړي چې دا گناه د یو مستقل قانون په توگه ورسره ومني نو دا ډول تابعداري کفر ده او همدا د آیت په حکم کې داخل ده په ځانگړي توگه چې کله دغه گناه د قانون په توگه په خلکو لازموي او خلاف کوونکو ته یې سزا ورکوي. نو څوک چې په گناه کې د چا تابعداري کوي له دې امله چې دغه گناه د یو عام قانون په توگه مني لکه سودي معاملات د یو عام قانون په توگه مني، یا زنا د یو عام قانون په توگه مني نو په داسې گناه کې د چا تابعداري کول د طاعت شرک بلل کېږي،

چې اوسني طاغوتي حکومتونو همدغه طريقه کړې ده ډېر د شريعت خلاف کارونه يې په خپل قانون کې داخل کړي دي سود يې حلال کړی دی، زنا يې په شرطونو حلاله کړې ده او داسې نور، او په خلکو باندې يې د قانون په توګه مني، خلاف کوونکو ته يې سزا ورکوي، نو داسې ګناهونو کې د چا تابعداري کول لوی شرک دی او د آيت دا حکم ورته شامل دی چې الله عز وجل فرمايي: وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ [سُورَةُ الأنعَام: ١٢١].

ژباړه: تاسې که د هغوی تابعداري وکړه، نو بېله شکه به تاسې مشرکان ياست.

**د طاعت مکفره بل صورت:** دا دی چې د چا تابعداري د هغه د ذات له امله کول يعني د هغه ذات د تابعدارۍ مستحق ګڼې برابره ده که خبره يې د شريعت سره موافقه وي او که مخالفه، بلکې که امر يا نهي يې د شريعت سره موافق هم وي خو له دې وجې ورله تابعداري نه کوي چې دا د الله تعالی حکم دی بلکې له دې وجې ورله تابعداري کوي چې دا د فلانکي پادشاه، شيخ يا وزير حکم دی نو دا هم په طاعت مکفره کې اخته شو،

ځکه یوازې الله تعالی د دې مستحق دی چې تابعداري يې د ذات له وجې وشي نور که پیغمبران هم وي تابعداري يې د ذات له وجې نشي کېدای بلکې د هغوی تابعداري هم د الله تعالی د تابعدارۍ له وجې کېږي.

الله عزوجل په ډېرو آیتونو کې دې ډول طاعت ته کفر ویلي دي لکه فرمايي: ﴿ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ﴾ [سُورَةُ **الأنعَام: ١**].

ژباړه: بیا هغه کسان چې کافران دي، نور شیان د خپل رب سیالان ګڼي.

علامه ابن القیم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **ومعلوم أنهم ما سووهم به سبحانه في الخلق، والرزق، والإماتة، والإحياء، والملك، والقدرة، وإنما سووهم به في الحب والتأله والخضوع لهم والتذلل، وهذا غاية الجهل والظلم، اهـ [الجواب الكافي لابن القيم ١/١٣٢].**

ژباړه: او دا خو معلومه خبره ده چې دوی (مشرکانو) خپل معبودان د الله تعالی سره په پیدایش، رزق، وژلو، ژوندي کولو، پادشاهۍ او واک کې برابر نه ګڼل بلکې دوی خپل معبودان د الله تعالی سره په مينه کې، د الوهيت په دعوه کې، او هغوی ته

په عاجزي کولو او ځان ذلیله کولو کې برابر ګڼل چې دا لوی جهل او ظلم و.

او په دې آیت کې هم دې ډول طاعت ته کفر ویلی شوي دي الله عز وجل فرمايي: قَالَ فِرۡعَوۡنُ مَآ أُرِيكُمۡ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهۡدِيكُمۡ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ [سُورَةُ المؤمن/غَافر: ٢٩].

ژباړه: فرعون وویل: زه خو تاسې ته همغه رایه درکوم چې ما ته مناسبه ښکاري او زه د هماغي لارې په لوري تاسې ته لارښوونه کوم چې سمه ده.

د فرعون قوم هم د هغه تابعداري له دې امله کوله چې د هغه ذات يې د تابعدارۍ مستحق ګڼلو.

تر دې ځایه د وضعي قانون حاکم د کفر اول لامل ذکر شو.

## وضعي قانون حاکم د کفر دويم لامل: التحريم والتحليل (له ځانه شيان حرامول حلالول).

دا د وضعي قانون د حاکم د کفر بل لامل دی او دا له مخکني لامل څخه مختلف دی، داسې چې قانون سازي به شوې

وي خو تحليل، تحريم به په کې نه وي شوی بلکې شرعي عقوبات يا سزاگاني به تغير شوي وي د بيلگې په توگه: د زنا حد په ټولو صورتونو کې وژل مقرر کړي يا د سود سزا وژل مقرر کړي نو دلته قانون جوړ شو خو تحليل تحريم نه دی شوی، معلومه شوه چې دا يو مستقل لامل دی او په مخکني کې داخل نه دی، نو داسې ويلی شو چې هر څوک تحليل تحريم وکړي د کفر په دوه لاملونو کې واقع شو: يو دا چې قانون سازي يې وکړه او قانون سازي خو د الله تعالی ځانگړې صفت دی، د ربوبيت له ځانگړتياو څخه ده، نو له دې امله کافر شو، دويم لامل يې دا دی چې له ځانه يې حلال شی حرام کړ يا يې د دې په عکس کار وکړ، نو دا هم کفر دی ځکه له ځانه تحليل تحريم کول کفر دی، نو هر تحليل تحريم قانون سازۍ ته شامل دی خو هره قانون سازي تحليل تحريم ته شامله نه ده بلکې قانون سازي به شوي وي خو تحليل تحريم به په کې نه وي شوی چې بيلگه يې مخکې ذکر شوه، دليل په دې لامل د قران دا آيت دی چې الله عزوجل فرمايي: إِنَّمَا النَّسِيٓءُ زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ ۖ يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُحِلُّونَهُۥ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامًا لِّيُوَاطِـُٔوا عِدَّةَ

مَا حَرَّمَ اللَّهُ فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ زُيِّنَ لَهُمْ سُوٓءُ أَعْمَٰلِهِمْ وَاللَّهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكَٰفِرِينَ [سُورَةُ التّوبَة : ٣٧].

ژباړه: نسئ (د يوې مياشتې حرمت بلې مياشتې ته وروسته كول) په كفر كښې يو بل زيات كافرانه حركت دى، چې په هغه سره دا كافران په گمراهۍ كښې غورځول كيږي. په يو كال كښې يوه مياشت حلالوي او په يو بل كال كښې هغه حراموي. تر څو چې هم د الله د حرامو كړاى شويو مياشتو شمېر پوره كړي او هم د الله حرام كړاى شوي حلال كړي. د هغو ناوړه عملونه د هغو لپاره ښايسته كړاى شوي دي او الله تعالى كافرانو ته لارښوونه نه كوي.

امام ابن كثير د دې آيت په تفسير كې وايي: **هذا مما ذم الله تعالى به المشركين من تصرفهم في شرع الله بأرائهم الفاسدة، وتغييرهم أحكام الله بأهوائهم الباردة، وتحليلهم ما حرم الله وتحريمهم ما أحل الله ا.هـ [تفسير ابن كثير ٢/ ٣٣٦].**

ژباړه: په دې سره الله تعالى د مشركانو بدي بيان كړې ده چې د الله تعالى په شريعت كې په خپلو فاسدو افكارو سره

تصرف کوي او د الله تعالی احکام په خپلو سړو خواهشاتو سره بدلوي او د الله تعالی حرام حلالوي او حلال يې حراموي.

امام ابن حزم د ذکر شوي آيت په تفسير کې ليکي: **وبحكم اللغة التي نزل بها القرآن، أن الزيادة في الشيء لا تكون البتة إلا منه لا من غيره؛ فصح أن النسيء كفروهو عمل من الأعمال، وهو تحليل ما حرم الله تعالى، فمن أحل ما حرم الله تعالى وهو عالم بأن الله تعالى حرمه؛ فهو كافر بذلك الفعل نفسه، ا.هـ [الفصل في الملل والأهواء والنحل ٣/ ٢٤٥].**

ژباړه: او د هغه لغت په حکم سره چې قران په کې نازل شوی، دا چې په يو شي کې زياتوالی هيڅکله د بل شي(جنس) څخه نه نشي راتلای مګر له هماغه شي څخه به وي(يعني په کفر کې زياتوالی په کفر سره راځي په بل شي سره نه راځي) نو دا خبره صحيح شوه چې د يوې مياشتې حرمت بلې ته وروسته کول کفر دی او دا له عملونو څخه يو عمل دی چې د الله تعالی د حرامو حلالول دي نو چا چې هغه څه حلال کړل چې الله تعالی حرام کړي وي په داسې حال کې چې ده ته معلومات وي چې دا شی الله تعالی حرام کړی دی نو هغه به په همدغه کار سره کافر وي.

آيت په دې خبره دليل دی چې عملي تحليل تحريم کفر دی لکه څنګه چې عقيدوي تحليل تحريم کفر دی او دا ځکه چې دغه مشرکانو چې د عزت د مياشتو تحريم نورو ته وروسته کړی دی او جنګ يې په دې مياشتو کې حلال کړی دی نو دا يو عمل دی چې دوی ورته راتګ کړی دی لکه د محرم مياشتې عزت به يې صفرې مياشتې ته وروسته کاوه نو محرم مياشت به يې حلالوله هغه چې الله تعالى حرام کړې وه يعني جنګ او وينه تويول يې په کې حرام کړي و، او صفر مياشت به يې حراموله هغه چې الله تعالى حلال کړې وه يعني جنګ او وينه تويول يې په کې حلال کړي و، نو دوی به د الله تعالى حرام حلالوه او حلال به يې حراموه او دا ټول عملي تحريم تحليل و، اعتقاد سره يې اړيکه نه لرله لکه څنګه چې ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ ويلي دي بلکې عقيده يې د عزتمندو مياشتو په اړه هماغه شان صحيح وه نو ځکه خو به يې په دويم کال بېرته عزت خپلې اصلي مياشتې ته راګرځوه، لکه الله تعالى چې فرمايلي دي: **يُحِلُّونَهُۥ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامًا**، او دا ټول تغير تبديل يې د خپلو ګټو او خواهشاتو له امله کاوه، لکه څنګه چې ابن کثير ويلي دي، خو بيا هم الله عزوجل دغه عمل ته کفر ويلي دي؛ دا دليل

شو چې له ځانه تحليل تحريم کفر دی که څه هم عملي تحريم هم وي. نو د دې زماني طاغوتي حاکمانو خو د الله تعالى ډېر حرام حلال کړي دي لکه زنا، سود، نکاح د متجانسينو... او ډېر حلال يې حرام کړي دي لکه د کفارو سره جهاد، له کفارو وينځې غلامان جوړول، له کفارو جزيه اخستل او نور، نو دوی خو په أولى طريقه د آيت په حکم کې داخل دي، د دوی دا استحلال يوازې تر عمل رابند نه دی بلکې تر اعتقاد يې هم سرايت کړی دی او ان د جهميه وو په اصولو کې هم دوی مرتد دي.

## د هغه چا په اړه د علماوو اقوال چې له ځانه يو شی حلالوي يا يې حراموي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **والإنسان متى حلل الحرام - المجمع عليه - أو حرم الحلال - المجمع عليه - أو بدل الشرع - المجمع عليه - كان كافرا مرتدا باتفاق الفقهاء. [مجموع الفتاوى ٣/ ٢٦٧]**. ژباړه: يو انسان چې کله اجماعي حرام حلال کړي يا اجماعي حلال حرام کړي يا د شريعت يو اجماعي حکم بدل کړي؛ نو هغه به په اتفاق د علماوو کافر مرتد وي.

ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ دا قول چې مخکې هم ذکر شو:

**فمن أحل ما حرم الله تعالى وهو عالم بأن الله تعالى حرمه؛ فهو كافر بذلك الفعل نفسه، ا.هـ [الفصل في الملل والأهواء والنحل ٣/ ٢٤٥].** ژباړه: چا چې هغه څه حلال کړل چې الله تعالى حرام کړي وي په داسې حال کې چې ده ته معلومات وي چې دا شی الله تعالى حرام کړی دی نو هغه به په همدغه کار سره کافر وي.

د ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ په وينا کې دې ته اشاره ده چې تحليل تحريم کې د کفر لامل همدغه کار دی، نه اعتقاد.

امام نووي هم په دې اړه اجماع نقل کړې ده. [اوګورئ: روضة الطالبين وعمدة المفتين ـ كتاب الردةـ ١٠/ ٦٤]، او [مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج للخطيب الشربيني ٥/ ٤٣٠].

همداراز شيخ احمد شاكر هم د دې زماني دغه وضعي، له اروپا څخه را انتقال شوي قوانينو ته اشاره کړې ده، هغه چې سود په کې د فايدې په نوم حلال شوی او نور ډېر حرام په کې حلال شوي دي، او همدغه قوانين چې نورستاني او د هغه مل پلاوی يې د عدم استحلال په پلمه کفر نه ګڼي؛ هغه ورته کفر ويلي دي.[اوګورئ: عمدة التفسير ٢/ ١٩٦].

## د وضعي قانون حاکم د کفر دريم لامل: تولي الکافرين (د کافرانو سره توليّ کول).

وضعي قانون حاکم د کفر بل لامل دا دی: چې د کفارو د قانون تابعداري يې کړې ده ځکه د "ولاء" په معناګانو کې علماوو د طاعت معنا هم کړې يعنې "ولاء الطاعة والاتباع" د تابعدارۍ او د طاعت موالات، نو د يهودو او نصاراو د قانون تابعداري کول، د هغوی رسم، رواج او عادتونه په اسلامي علاقو حاکمول د موالات مکفره واضح صورت بلل کېږي، او دا د هغوی سره او د هغوی د باطل قانون سره د پوره محبت دليل دی نو ځکه خو يې د قران احکام شاته کړي او د دوی قوانين يې مخکې کړي دي، د داسې خلکو په اړه الله عزوجل فرمايي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ [سُوَرَةُ المَائدة : ٥١].

ژباړه: اې مؤمنانو! يهوديان او نصارا خپل ملګري مه نيسئ، دوی په خپلو منځو کښې سره ملګري دي. او که ستاسي څخه څوك هغوی خپل ملګري نيسي، نو بيا هغه هم په هماغو

کښې شمېرل کېږي. په دې کښې شك نشته چې الله ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي.

آیت دليل دی په دې خبره چې د کفارو سره موالات کفر دی نو د وضعي قانون حاکم هم د کفارو سره موالات کړي دي خو د دغه موالات تمثيل يې د هغوی د قانون په حاکمولو سره کړی دی.

دويم دليل: په بل آيت کې الله تعالى فرمايي: وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا[سُورَةُ النِّسَاء : ١١٥].

ژباړه: چا چې د پيغمبر د ښمنۍ ته ملاتړلې وي او د مؤمنانو له طريقې څخه پرته په کومه بله لاره لاړ شي، په داسې حال کښې چې سمه لاره ورته څرګنده شوې وي؛ نو هغه به موږ په هماغه لوري وخوځوو چې خپله هغه لوري ته ورګرځېدلی دی او دوزخ ته به يې ننباسو چې خورا بد استوګنځی دی.

په دې آيت کې هم اتباع ته تولّي ويلی شوې ده.

دريم دليل: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقًا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ كَٰفِرِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان : ١٠٠].

ژباړه: اې مؤمنانو! كه تاسې د اهل كتابو د يوې ډلې خبره ومنئ، نو دوى به تاسې له ايمان څخه بېرته د كفر لوري ته واړوي.

إِن تُطِيعُواْ په قوت د **لاتطيعوا** كې دى لكه څنګه چې ابو السعود ويلي دي.[تفسير أبي السعود "إرشاد العقل السليم إلى مزايا الكتاب الكريم ٢/ ٦٤].

په آيت كې الله تعالى د كفارو د يوې ډلې تابعدارۍ ته كفر اكبر ويلي دي نو د هغه چا به څه حال وي چې د ټولو كفارو تابعداري كوي د يهودو، نصارا، مشركينو، بوداپانو، هندوانو، سيكانو او نورو، او د هغوى قانون حاكموي!!

په آيت كې يوه باريكه نقطه ده او هغه دا چې الله تعالى فرمايلي دي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ، په دې سره الله تعالى مؤمنان د كفارو د تابعدارۍ نه منعه كړي دي ځكه فَرِيقًا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ، د **تُطِيعُوا** معمول فيه دى، خو په څه شي كې

به يې اطاعت نه کوو؟ نو دغه نهي مطلق ده اشاره ده دې ته چې د کفارو اطاعت به په هېڅ شي کې نه کوئ نه په خوراک، څښاک، عادت کې او نه هم په قانون او نظام کې. نو د معمول فيه متعلق يې د نهی د عموم له امله نه دی راوړی.

څلورم دليل: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان : ١٤٩].

ژباړه: اې مؤمنانو! که تاسو د کافرانو خبره ومنئ، نو هغوی به تاسې بېرته په شا واړوي او تاسي به ناکام شئ.

په دې آيت کې يې د کفارو تابعداری ته ارتداد ويلی دی چې مخکې آيت ته نېژدې دی.

شيخ سليمان بن عبد الله بن محمد بن عبد الوهاب په خپل کتاب [الدلائل في حكم موالاة أهل الإشراك صـ ٣٣] کې د ذکر شوي آيت لاندې ليکي: **فأخبر تعالى : أن المؤمنين إن أطاعوا الكفار، فلابد أن يردوهم على أعقابهم عن الإسلام؛ فإنهم لا يقنعون منهم بدون الكفر، وأخبر أنهم إن فعلوا ذلك صاروا من الخاسرين في الدنيا والآخرة**، ا.هـ

ژباړه: الله تعالى دا خبر ورکړی دی که مؤمنان د کافرانو خبره ومني نو خامخا به یې له اسلام څخه په شاه اړوي ځکه چې دوی له مسلمانانو څخه پرته له کفر په بل څه قناعت نه کوي او دا خبر یې ورکړی دی که چېرې دوی دا کار وکړي نو په دنیا او آخرت کې به له تاوانیانو څخه شي.

شیخ شنقیطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د سورة محمد دې آیتونو په تفسیر کې چې الله تعالى فرمايي: إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ أَدۡبَٰرِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلۡهُدَى. الخ هغه وایي: **اعلم أن كل مسلم يجب عليه في هذا الزمان تأمل هذه الآيات من سورة محمد وتدبرها والحذر التام مما تضمنته من الوعيد الشديد؛ لأن كثيرا ممن ينتسبون للمسلمين داخلون بلا شك فيما تضمنته من الوعيد الشديد؛ لأنّ عامة الكفار من شرقيين وغربيين كارهون لما نزل الله على رسوله محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وهو هذا القرآن، وما يبينه به النبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من السنن. فكل من قال لهؤلاء الكفار الكارهين لما نزل الله: سنطيعكم في بعض الأمر؛ فهو داخل في وعيد الآية، وأحرى من ذلك من يقول لهم سنطيعكم في الأمر كالذين يتبعون القوانين الوضعية مطيعين بذلك للذين كرهوا ما نزل الله، فإنّ هؤلاء لا شك أنهم ممن تتوفاهم الملائكة يضربون وجوههم وأدبارهم، وأنهم اتبعوا ما أسخط الله وكرهوا رضوانه، و أنه محبط**

**أعمالهم، فاحذر كل الحذر من الدخول في الذين قالوا: سنطيعكم في بعض الأمر. [أضواء البيان ٧/ ٣٨١].**

ژباړه: په دې خبره پوه شه چې په دې زمانه کې هر مسلمان باندې لازم دي چې د سورة محمد په دې آيتونو کې فکر وکړي، او پرې لازم دي چې له هغه سختو اخطارونو څخه ځان پوره وساتي چې دا آيتونه ورته شامل دي ځکه چې ډېر له هغو خلکو څخه چې مسلمانانو ته منسوب دي له شک پرته د دې آيتونو په سختو وعيدونو کې داخل دي ځکه چې ټول کفار که هغه د مشرق لور ته دي او که د مغرب لور ته دي، د الله تعالى هغه احکام بد ګڼي چې په خپل رسول محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې يې نازل کړي دي چې قرآني احکام دي، او هغه احاديث چې په هغې سره نبي صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قرآن وضاحت کړی دی، بد ګڼي. هر څا چې دغو کفارو ته چې د الله تعالى راليږل شوي احکام بد ګڼي وويل: مونږ به ستاسو په ځينو کارونو کې اطاعت کوو نو د دې آيت په اخطار کې داخل شو او له هغه څا څخه چې د آيت حکم ورته شامل شي ډېر مستحق هغه خلک دي چې کفارو ته وايي: مونږ به ستاسو هر امر منو. لکه هغه خلک چې په وضعي قوانينو پسې روان دي چې په دې سره د هغو

خلکو اطاعت کوي، څوک چې د الله تعالی احکام بد ګڼي نو د دوی په اړه هیڅ شک نشته چې دا به له هغو خلکو څخه وي چې ملائک به ورڅخه په داسې حال کې ساه اخلي چې مخونه او شاه ګانې به ورته وهي او دا هغه خلک دي چې د داسې شي تابعداري یې کړې ده چې الله عزوجل یې غوسه کړی دی او د الله تعالی خوښي یې بده ګڼلې ده چې له امله یې عملونه برباد شوي دي، د هغو خلکو له ملګرتیا څخه پوره ځان وساته چې کفارو ته وایي: مونږ به ستاسو ځینې خبرې منو.

له دې وضاحت څخه معلومه شوه چې د وضعي قانون حاکمان له ډېرو لاملونو په اساس مرتد دي نو د دوی کفر دون کفر نه دی بلکې د دوی کفر فوق کفر دی.

## د وضعي قانون حاکم د کفر څلورم لامل: اتخاذ دين غير الإسلام (له اسلام پرته بل دين اختيارول).

د وضعي قانون حاکم د کفر بل لامل دا دی چې له اسلام پرته بل دین تابعداري یې کړې ده ځکه دین که حق وي که باطل؛ اطلاق یې په هغه نظام کېږي چې د ژوند ټولو اړخونو ته شامل وي چې عبارت دي له: عقیدې ،عبادت، معاملات،

اقتصاد، سیاست ټولنیز اړخ، انفرادي اړخ، او نورو څخه، که د ژوند په ټولو چارو کې یا ځینو کې څوک له اسلام پرته بل دین حاکم کړي نو نسبت یې اسلام ته نه کېږي بلکې هماغه بل دین ته به یې نسبت کېږي ځکه اسلام سره بل دین نه جمعه کېږي الله عزوجل فرمايي: وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْءَاخِرَةِ مِنَ الْخَٰسِرِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان : ٨٥].

ژباړه: له اسلام څخه پرته چې هر څوك كوم بل دين غوره کړي، هېڅکله به ورڅخه قبول نکړی شي او په آخرت کې به هغه ناکام او زیانمن وي.

او څوک چې اسلام سره بل دین جمعه کول اوغواړي نو دغه کس د الله په فتوه کافر دی لکه الله عزوجل فرمايي: وَيَقُولُونَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُوا بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا؛ أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكَٰفِرُونَ حَقًّا [سُورَةُ النِّسَاء : ١٥٠، ١٥١].

ژباړه: او وايي چې موږ به ځيني ومنو او ځيني به ونه منو، او د كفر او ايمان په منځ كښې د يوې لارې ايستلو اراده لري، هغوی ټول پاخه کافران دي.

که څه هم آسماني دين وي خو چې منسوخ شوی وي او څوک يې نافذول وغواړي کافر کېږي لکه په حديث د عمر بن الخطاب رضي الله عنه کې راځي چې امام احمد، بيهقي او دارمي راوړی دی چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه سره د تورات يوه ورقه وه چې لوستله يې، نبي عليه السلام ورته ډېر سخت غوسه شوی و او بيا يې فرمايلي وو: **والذي نفسي بيده لو أن موسى كان حيا، ما وسعه إلا أن يتبعني [مسند أحمد رقم الحديث: ١٥١٥٦].**

ژباړه: قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی که موسی عليه السلام ژوندی وی نو هم به ورته زما له تابعدارۍ پرته په بل دين عمل جايز نه وی. [پورته حديث ته علماوو ضعيف ويلي دي]

نو چې موسی عليه السلام اولو العزم پيغمبر دی هغه که ژوندی وی د نبي عليه السلام له راتلو وروسته ورته په خپل دين عمل جايز نه و که څه هم په آسماني وحې سره نازل شوی و، نو د نورو دينونو او قوانينو تابعداري خو هېڅکله جايز نه ده.

ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل کتاب [الإحكام في أصول الأحكام ٥/ ١٧٣] کې وايي: **من حكم بحكم الإنجيل مما لم يأت**

**بالنص عليه وحي في شريعة الإسلام؛ فإنه كافر مشرك خارج عن الإسلام.اهـ.**

ژباړه: چا چې د انجیل په یو حکم فیصله وکړه هغه چې اسلامي شریعت کې پرې دلیل د وحې په ذریعه نه و نازل شوی؛ نو هغه به کافر، مشرک، له اسلام څخه وتلی وي.

شیخ الإسلام ابن تیمیه همدغه خبرې په اړه وایي: **ومن بدل شرع الأنبياء و ابتدع شرعا فشرعه باطل لا يجوز اتباعه كما قال: {أم لهم شركاء شرعوا لهم من الدين ما لم يأذن به الله} ولهذا كفر اليهود والنصارى لأنهم تمسكوا بشرع مبدل منسوخ. اهـ.[مجموع الفتاوى ٣٥/ ٣٦٥].**

ژباړه: چا چې د پیغمبرانو شریعت بدل کړ او نوی قانون یې له ځانه جوړ کړ نو دغه قانون به یې باطل وي، تابعداري یې جایز نه ده لکه الله تعالی فرمایي: آیا دغه خلك له الله تعالی سره داسې شریکان نیسي، چې د دوی لپاره یې د دین داسې طریقې غوره کړي چې الله د هغې اجازه نده کړې؟؛ له همدې امله یهود او نصارا یې تکفیر کړي دي ځکه چې دوی په بدل شوي او منسوخ شوي شریعت باندې عمل کوي.

علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل کتاب [أحكام أهل الذمة ١/ ٥٣٣] کې وايي: **وقد جاء القرآن، وصح الإجماع بأن دين الإسلام نسخ كل دين كان قبله، وأن من التزم ما جاءت به التوراة والإنجيل، ولم يتبع القرآن، فإنه كافروقد أبطل الله كل شريعة كانت في التوراة والإنجيل وسائر الملل، و افترض على الجن والإنس شرائع الإسلام، فلا حرام إلا ما حرمه الإسلام، ولا فرض إلا ما أوجبه الإسلام.**

ژباړه: قران راغلی او صحیح اجماع په دې اړه شوې چې اسلام دین مخکني ټول دینونه منسوخ کړي دي او څوک چې د تورات او انجیل د احکامو پابندي وکړي او د قران تابعداري ونکړي نو دا به کافر وي او الله تعالی ټول شریعتونه چې په تورات، انجیل او نورو ملتونو کې وو باطل کړي دي، او اسلامي شریعت یې په پیریانو او انسانانو فرض کړی دی نو یوازې هغه شی به حرام وي چې اسلام حرام کړی وي او یوازې هغه څه به فرض وي چې اسلام فرض کړی وي.

معلومه شوه چې د وضعي قانون حاکم د بل دین پیروي کړې نو ځکه مرتد شوی دی.

## د وضعي قانون حاكم د كفر پنځم لامل: عدم الحكم بما أنزل الله (د الله تعالى په قانون فيصله نه كول)، او دا پنځو مباحثو ته مشتمل دی.

د وضعي قانون حاکم د کفر بل لامل دا دی چې د الله په قانون فیصله نه کوي، په دې لامل کې مونږ تفصیلي خبره کوو ځکه چې باطل پرسته د خپل باطل مذهب لپاره د سورة مائده په آیتونو کې بې ځایه تاویلات کوي او وایي چې وضعي قانون حاکمول کفر اصغر دی او اکبر نه دی او استدلال په اثر د ابن عباس رضي الله عنهما سره کوي خو مونږ وایو چې په دې اړه یوازې د سورة مائده آیتونه نه دي چې استدلال کې یې مشکلات رامنځته شي بلکې نور واضحه آیتونه هم په دې اړه شته چې ځینو ته به یې مونږ اشاره کوو ان شاء الله او همداسې نور لاملونه هم شته چې ځینې یې ذکر شول، نو سره له دې بیا ولې دې مسئلې ته دومره زور ورکوي؟ معلومېږي چې دوی اهل زیغ دي او حق پرې باعث نه دی، ځکه کله چې څوک د یوې مسئلې حکم معلومول غواړي نو د هغې په اړه چې څومره نصوص راغلي دي هغه ټولو ته به نظر کوي نو بیا به ورته په مسئله کې صحیح حکم معلومېږي خو دوی داسې نه کوي

بلکې د وضعي قانون حاکم په عدم تکفير کې همدغه د سورة مائدې آيتونه پيش کوي او د ابن عباس رضي الله عنهما په اثر استدلال کوي خو بل طرفته نور ډېر نصوص پرېږدي او سترګې وربانديې پټوي چې دا د انصاف تقاضا نه ده خو بيا هم د دوی د دغه استدلال د حقيقت په اړه غواړو چې دا مسئله يو څو مباحثو ته تقسيم کړو چې بيان يې په دې ډول دی:

## اول مبحث: د سورة مائده د "وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ، آيتونو شان نزول.

اول خو دا خبره ياد ساتل پکار دي چې د سورة مائدة دغه آيتونه يوازې په "ومن لم يحكم بما انزل الله" سره نه دي نازل شوي بلکې د دغه آيتونو سره نور هم ډېر آيتونه په يو ځای نازل شوي دي کله چې د دغه آيتونو سياق ته نظر وشي او د چا په اړه چې نازل شوي دي د هغوی صفت ته کتنه وشي نو دا خبره تري په ښکاره توګه معلومېږي چې په دغه آيتونو کې د کفر فسق ظلم نه مراد کفر اکبر، ظلم اکبر او فسق اکبر دی، دغه آيتونه له دې ځايه نازل شوي دي چې الله عزوجل فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ

ءَامَنَّا بِأَفْوَٰهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوْمٍ ءَاخَرِينَ لَمْ يَأْتُوكَ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِن بَعْدِ مَوَاضِعِهِۦ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا وَمَن يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُۥ فَلَن تَمْلِكَ لَهُۥ مِنَ اللَّهِ شَيْـًٔا أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ؛ سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ فَإِن جَآءُوكَ فَاحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ؛ وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ التَّوْرَىٰةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَمَآ أُولَٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ؛ إِنَّآ أَنزَلْنَا التَّوْرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّٰنِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِن كِتَٰبِ اللَّهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا بِـَٔايَٰتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكَٰفِرُونَ؛ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنفَ بِالْأَنفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُۥ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الظَّٰلِمُونَ؛ وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ

ءَاثٰرِهِم بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَءَاتَيْنٰهُ الْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ؛ وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الْإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ اللهُ فِيهِ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللهُ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُونَ؛ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ اللهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَآءَ اللهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وٰحِدَةً وَلٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَآ ءَاتٰىكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ إِلَى اللهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ؛ وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ اللهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَآ أَنزَلَ اللهُ إِلَيْكَ فَإِن تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُونَ؛ أَفَحُكْمَ الْجٰهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ؛ [سُورَةُ الْمَائدة : ٤١، ٤٢، ٤٣ ، ٤٤، ٤٥ ، ٤٦، ٤٧، ٤٨، ٤٩، ٥٠].

په دې آيتونو كې د ځينو نقطو وضاحت:

الله تعالى فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحْزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ، نو دا آيتونه چې د چا په اړه نازل شوي دي د هغوی يو صفت الله تعالى دا بيان کړی دی چې: يُسٰرِعُونَ فِى ٱلْكُفْرِ، په کفر کې تلوار کوي، يعني کافر خو دی خو په کفر کې تلوار کول دا زياتي کفر دی لکه څنګه چې علماوو په ارتداد کې مغلظة او غير مغلظة ته تقسيم کړی که څه هم دواړه به هميشه جهنميان وي، نو دې آيت کې هم داسې شوي دي که په کفر کې چټک ګامونه پورته کوي او که نه خو حکم يې خلود في النار دی، او کفر يې اکبر دی اصغر نه دی.

بيا فرمايي: مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِأَفْوَٰهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ، دا يې بل صفت دی چې په خولې د ايمان دعوه کوي خو په زړه کې ايمان نشته او دا د اعتقادي منافق حال دی هغه چې د جهنم په لاندې طبقه کې به پروت وي ـأعاذنا الله منه ـ نو آيا چې د چا په زړه کې کفر وي او په خوله ايمان ښکاره کوي د هغه کفر به کفر دون کفر وي او که کفر اکبر به وي؟ دا واضحه خبره ده چې دې ډول خلکو ته زمونږ په شريعت کې اعتقادي منافقان ويلی کېږي او کفر يې اکبر دی.

بيا وروسته فرمايي: وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا په دي سره يې دغه ډله واضحه کړه چې څوک په کفر کې تلوار کوي نو وې فرمايل چې يهوديان. له دې وجې مفسرينو ويلي دي لکه ابن کثير او نورو، چې په دې آيتونو کې دوه ډلې ذکر دي: يهوديان او منافقان، نو آيا د يهوديانو او منافقانو کفر به کفر دون کفر وي او که کفر به يې اکبر وي؟! بيا يې د يهودو کار ذکر کړی دی نو فرمايلي دي: يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا، يعني پيغمبر ته ورشئ که د خواهش موافق حکم يې وکړو ورله ويې منئ او که نه نو ځان ترې وساتئ، او دا طريقه اوس هم ده چې باطل پرست د شريعت هغه احکام راخلي کوم چې يې د خواهش سره موافق وي، بيا فرمايي: وَمَن يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُ فَلَن تَمْلِكَ لَهُ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا، نو الله تعالى چې چا ته د هدايت اراده نه وي کړې که هر څومره حجت وربانديې قايم او دلايل ورته بيان شي هېڅ فايده ترې نه اخلي.

بيا الله تعالى دا خبره قاطع کړې ده او فرمايلي دي: أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَمْ يُرِدِ اللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ، الله دوی ته د هدايت او د پاکۍ اراده

نه ده کړې بلکې د دنیا او د آخرت د شرمندګۍ اراده یې ورته کړې ده، نو آیا چا ته چې الله تعالی د دنیا او د آخرت د شرمندګۍ او د عذاب اراده کړې وي د هغه کفر به اصغر وي؟!

بیا فرمایي: وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ التَّوْرَاةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَمَا أُولَٰئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ؛ یهودو د الله تعالی حکم په یقیني توګه پېژنده بلکې وروسته به د ابن کثیر قول راشي چې دوی د الله تعالی د حکم نه انکار نه و کړی او باطل یې نه ګاڼه بلکې د دې له پاسه یې خپل بدل کړی حکم باطل ګڼلو کوم چې له ځانه جوړ کړی و خو بیا هم الله تعالی د دغه علتونو له امله تکفیر کړل چې د ټولو رجع نفسي خواهشاتو ته کېږي.

الغرض تر آخره دا آیتونه په دغه طرز چلېدلي دي او ټول په یو ځل نازل شوي دي نو ځوک چې په کې حکم معلوموي باید چې دغه سیاق ته یې کتنه وکړي. دا خو یوه تمهیدي خبره وه اوس د آیتونو شان نزول ته راځو:

د دې آیتونو دوه ډوله شان نزول ذکر دی یو شان نزول یې دا دی چې دا آیتونه د یهودو زناکارانو په اړه نازل شوي چې دغه

شان نزول ورله څلورو صحابه و نقل کړی دی چې هغه: ابو هریره، براء بن عازب، ابن عمر او جابر رضي الله عنهم دي، بلکې له ابن عباس رضي الله عنهما څخه هم په یو روایت کې دغه شان نزول نقل دی چې ورروسته راځي. او دویم شان نزول یې یوازې ابن عباس رضي الله عنهما ذکر کړی دی.

## د آیت اول شان نزول په دې ډول دی:

**عن عبد الله بن عمر - رضي الله عنهما - أن اليهود جاءوا إلى رسول الله** صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، **فذكروا له أن رجلا منهم وامرأة زنيا، فقال لهم رسول الله -** صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **- : ما تجدون في التوراة في شأن الرجم؟ فقالوا: نفضحهم ويجلدون، فقال عبد الله بن سلام: كذبتم إن فيها الرجم فأتوا بالتوراة فنشروها، فوضع أحدهم يده على آية الرجم، فقرأ ما قبلها وما بعدها،فقال له عبد الله بن سلام: ارفع يدك، فرفع يده فإذا فيها آية الرجم، فقالوا: صدق يا محمد، فيها آية الرجم؛ فأمر بهما رسول الله -** صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**- فرجما، قال عبد الله : فر أيت الرجل يجنأ على المرأة يقيها الحجارة اه[رواه البخاري: ٣٦٣٥، ومسلم: ١٦٩٩، واللفظ للبخاري].**

ژباړه: د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه نقل دي چې یهود نبي علیه السلام ته راغلل نو ورته وېې ویل چې له دوی

ښځه يوې ښځې او سړي زنا کړې ده، رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل:

تاسو په تورات کې د زنا په اړه څه مونده کوئ؟ هغوی وويل: مونږ يې شرموو او په دورو وهل کېږي، عبد الله بن سلام رضي الله عنه وويل: تاسو دروغ واياست په تورات کې يې حکم رجم دی، نو دوی تورات راوړ، خور (خلاص) يې کړ، له دوی څخه يو کس خپل لاس د رجم په آيت کيښود، وروسته او مخکې يې ولوست نو عبد الله بن سلام ورته وويل: لاس پورته کړه نو لاس چې يې پورته کړ د رجم آيت راښکاره شو نو دوی وويل: دا ريښتيا وايي ای محمد، په تورات کې د رجم آيت شته دی، نو د دغه دواړو زناکارانو په اړه نبي عليه السلام امر وکړ نو رجم شول، عبد الله وايي: ما دغه سړی وليده چې په دغه ښځه به ورکړېده، له کاڼو څخه يې بچ کوله.

دا روايت مجمل دی تفصيل يې په نورو روايتونو کې شوی دی ځيني قيدونه ورسره زيات شوي دي چې مونږ ته په دې بحث کې فايده راکوي.

لکه په حدیث د ابن عمر کې چې د عبد الله ابن دینار په سند سره نقل دی هغه کې دي: **إن أحبارنا أحدثوا تحميم الوجه والتجبيه [رواه البخاري: ٦٨١٩، واللفظ له، ومسلم: ١٦٩٩].**

ژباړه: زمونږ علماوو د مخ تورول او په خره شابیرته سپرول د زنا کارانو سزا ایجاد کړه.

او په حدیث د ابو هریره کې ورسره دا الفاظ هم زیات شوي دي: **فاصطلحوا على هذه العقوبة بينهم**،[رواه ابوداود رقم: ٤٤٥٠].

ژباړه: دوی په دغه سزا باندې خپل منځ کې متفق شول.

او په حدیث د مسلم کې چې براء بن عازب نقل کړی دی ورسره دا الفاظ زیات شوي دي: **تعالوا فلنجتمع على شئ نقيمه على الشريف والوضيع، [مسلم حديث رقم:١٧٠٠].**

ژباړه: راځئ چې په داسې څه سره راجمعه شو چې په مالداره او غریب یې یو شانته نافذ کړو.

او بخاري په خپل صحیح کې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه دا الفاظ هم نقل کړي دي: **يا محمد إن عليهما الرجم، ولكنا نكاتمه بيننا [رواه البخاري حديث رقم:٧٥٤٣].**

ژباړه: ای محمد د دې دواړو حکم رجم دی خو مونږ یې خپل منځ کې پټوو.

او د ابو داود په بل روایت کې چې جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نقل کړی دی داسې الفاظ په کې راغلي دي: **فما يمنعكما أن ترجموهما؟ قالا: ذهب سلطاننا فكرهنا القتل. [ابوداود حديث رقم: ٤٤٥٢].**

ژباړه: تاسو دواړه د دوی د رجم څخه څه شی منعه کوي؟ دوی دواړو وویل: زمونږ بادشاهي ختمه شوه نو مونږ وژل بد وګڼل.

## د آیت دویم شان نزول:

**عن ابن عباس أيضا أنه قال: كانت قريظة والنضير، وكان النضير أشرف من قريظة، فكان إذا قتل رجل من قريظة رجلا من النضير قتل به؛ وإذا قتل رجل من النضير رجلًا من قريظة، أدى مئة وسق تمر. فلما بعث رسول الله -صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، قتل رجل من النضير رجلاً من قريظة فقالوا: ادفعوه إلينا! فقالوا: بيننا وبينكم رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! فنزلت وإن حكمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ. [رواه أحمد: ٣٤٣٤].**

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل دي هغه وايي: دوه قبيلې قريظه او نضير چې نضير له قريظه څخه غوره(زورور) وو کله چې به قريظه قبيلې والا د نضير قبيلې څخه سړی وواژه قاتل به يې وژل کېدلو، او که نضير قبيلې به د قريظه قبيلې څخه سړی وواژه؛ سل وسقه کجورې به يې ورکولې کله چې نبي عليه السلام پيغمبر شو د نضير قبيلې څخه يو سړي د قريظه قبيلي يو سړی وواژه نو دوی نضير قبيلې ته وويل: قاتل مونږ ته راکړئ! نو بيا يې وويل: زمونږ ستاسو په منځ کې د الله رسول شته نو دا آيت نازل شو..

او د ابن عباس رضي الله عنهما څخه بل روايت داسې نقل دی: **قال ابن عباس: أنزلها الله في الطائفتين من اليهود، وكانت إحداهما قد قهرت الأخرى في الجاهلية، حتى ارتضوا واصطلحوا على أن كل قتيل قتلته العزيزة من الذليلة، فديته خمسون وسقا، وكل قتيل قتلته الذليلة من العزيزة، فديته مائة وسق.. [أخرجه أحمد حديث رقم: ٢٢١٢].**

ژباړه: ابن عباس رضي الله عنهما وايي: دا آيتونه الله تعالی د يهودو د دوه ډلو په اړه نازل کړي دي چې په جاهليت کې يوه په بلې زوروره وه تر دې چې دوی په دې راضي او متفق شول

چې هر مړی چې زورروره ډله يې له کمزورې څخه وکړي، ديت به يې پنځوس وسقه (کجوره)وي او هر مړی چې کمزورې قبيله يې له زوروره څخه وکړي ديت به يې سل وسقه وي.

نو په دې کې ورسره د "ارتضوا واصطلحوا" قيد زيات شوی دی.

## راجح شان نزول او وجوه د ترجيح.

مونږ په دغه دواړو شان نزول کې اول ته ترجيح ورکوو چې د ترجيح وجوهات په دې ډؤل دي:

۱ـ دغه شان نزول صحيحينو ذکر کړی او دويم داسې نه دی.

۲ـ دغه شان نزول څلورو صحابه وو نقل کړی دی خو دويم شان نزول يوازې ابن عباس نقل کړی دی.

۳ـ په دغه اول شان نزول کې درې صحابه د همدغه حادثې په زمانه کې په مدينه کې موجود وو، چې دغه وخت ابن عباس رضي الله عنهما په مکه کې و، ځکه چې دغه حادثه د خيبر غزا نه چې په اوم کال د هجرت شوې وه؛ لږ مخکې رامنځته شوې

ده او ابن عباس د اتم کال یعني د مکې فتحې نه وروسته هجرت کړې دی.[اوګورئ فتح الباري ۱/ ۱۶۹].

۴ـ په دغه صحابه وو کې ابن عمر پخپله چې د اول شان نزول نقلوونکی دی په دغه رجم کې برخه اخستې ده او دغه واقعې ته حاضر شوی دی چې دا یو قوي مرجّح دی لکه سیوطي چې ویلي دي.

الغرض که شان نزول یې هر یو شي مونږ ته نقصان نه راکوي ځکه دواړه قضیې یو بل ته نېږدې دي یو د رجم ده او بله د قصاص یا دیت ده بلکې دا احتمال هم شته چې دواړه شي لکه شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ ویلي دي: **وقولهم أي -السلف نزلت هذه الآية في كذا يراد به تارة أنه النزول ويراد به تارة أن ذلك داخل في الآية وإن لم يكن السبب.ا.هـ[مجموع الفتاوى ۱۳/ ۳۳۹].**

ژباړه: سلف چې کله وایي: دا آیت په دې اړه نازل شوی دی نو په دې سره کله دا مراد وي چې دا یې شان نزول دی او کله دا مراد وي چې دا په آیت کې داخل دی که څه هم شان نزول نه دی.

## د یهودو هغه کړنې چې له امله یې تکفیر شوي دي.

د یهودو ځینو کړنو ته مونږ په مخکې احادیثو کې اشاره وکړه دلته به یې په لنډه توګه ذکر کړو که څوک تفصیل غواړي نو مخکې حوالو ته دې رجوع وکړي:

**اول: احداث التحميم والتجبيه**، د رجم حکم په مخ تورولو او په خره باندې په مخ په شا سپرولو سره بدلول.

**دویم: اصطلحو**، د شریعت خلاف قانون باندې موافقه کول.

**دریم: الاجتماع**، د شریعت خلاف قانون باندې پریکړه کول.

**څلورم: الارتضاء والاصطلاح**، د شریعت خلاف قانون باندې راضي او متفق کېدل.

**پنځم: تکاتم**، شرعي قانون له خپلو کشرانو پټول.

نو یهودو اول احداث بیا اصطلاح بیا اجتماع په دغه مخالف حکم وکړه او بیا به یې له خپلو کشرانو د شریعت ثابت حکم پټوه.

دا قیودات وروسته په دې موضوع کې پکار راځي ان شاء الله.

## په یهودو د شریعت د احکامو د تغیر بواعث.

د باعث پېژندل په دې باب کې ضرور دي ځکه چې کوم بواعث په دې احادیثو کې ذکر دي چې یهود یې دې ته اړ کړي دي چې دغه شرعي احکام بدل کړي؛ ځینې خلک همدغه بواعث د وضعي قانون په باب کې د کفر اصغر لپاره دلیل ګرځوي حال دا چې په احادیثو کې دغه بواعث د وضعي قانون په باب کې د کفر اکبر لپاره دلیل ګرځېدلي دي، نو هغه بواعث چې له امله یې یهودو دغه مخکې ذکر شوې کړنې ترسره کړې او الله تعالی ورباندې د کفر حکم وکړو په دې ډول دي:

**اول باعث: عقلي مصلحت**، لکه په حدیث د مسلم کې راغلي دي: **عن البراء بن عازب رضي الله عنه: أنهم قالوا: نجده الرجم، ولكنه كثرفي أشر افنا، فكنا إذا أخذنا الشريف تركناه، وإذا أخذنا الضعيف أقمنا عليه الحد، قلنا: تعالوا فلنجتمع على شيء نقيمه على الشريف والوضيع، فجعلنا ،التحميم، والجلد مكان الرجم، [رواه مسلم: ١٧٠٠].**

ژباړه: له براء بن عازب رضي الله عنه څخه نقل دي.. يهودو وويل: زمونږ په تورات کې د رجم حکم دی خو ليکن زنا زمونږ په مشرانو کې ډېره شوه نو کله چې به مو يو مشر سړی په زنا ونيوه، هغه به مو پرېښود، او غريب چې به مو ونيوو حد به مو ورباندې قايموه، مونږ وويل: راځئ چې په داسې څه پرېکړه وکړو چې په مالداره او غريب يې يو شانته نافذ کړو، نو مونږ د مخ تورول او په دورو وهل د رجم په ځای سزا مقرر کړه.

نو د دغه عقلي مصلحت له امله چې بيا به غريبان او مالداره خپل منځ کې اختلاف وکړي؛ دوی دغه د شريعت خلاف قانون جوړ کړ.

**دويم باعث: المحاباة والمجاملة**، د خپلوانو پلوي کول، لکه په حديث کې راغلي دي: **زنى ذو قرابة من ملك من ملوكنا ، فأخر عنه الرجم ، ثم زنى رجل في أثره من الناس ، فأراد رجمه ، فحال قومه دونه وقالوا : لا يرجم صاحبنا حتى تجيء بصاحبك فترجمه! فاصطلحوا هذه العقوبة بينهم ،[سنن أبي داود حديث رقم: ٤٤٥٠].**

ژباړه: زمونږ د يو بادشاه خپلوانو زنا وکړه نو له هغوی څخه يې رجم وروسته کړ (يعني معاف يې کړ) بيا له هغې

وروسته یو سړي زنا وکړه نو بادشاه وغوښتل چې رجم یې کړي نو د هغه سړي قوم یې په دفاع کې ودرید او وېې ویل: زمونږ خپلوان به نشي رجم کېدلی تر څو چې تا خپل خپلوان نه وي رجم کړی نو بیا دوی د رجم په ځای په دغه سزا متفق شول.

**دریم باعث**: نفسي خواهش، لکه په حدیث کې راغلي دي:
**وأنا كنا قوما شببة، وكانت نساؤنا حسنة وجوهها، وأن ذلك كثر فينا، فلم نقم له، فصرنا نجلد والتعبير...[المعجم الكبير للطبراني حديث رقم: ١١٨٧٥].**

ژباړه: مونږ ځوانان وو او ښځې مو ښایسته مخونو والا وې او زنا په مونږ کې زیاته شوې وه نو مونږ دغه حد قایم نکړ، نو مونږ شروع شو چې په دورو به مو وهل.

نو دلته یې باعث خواهش بیان شوی چې ښځې ښایسته وې او ځوانان ټول په دغه گناه اخته وو نو که چیرې حد ورباندې قایموو ځوانان مو ختمیږي نو بیا مو دغه سزا مقرر کړه، نو دلته په دوی هم خواهش باعث شوی او هم ورباندې مصلحت باعث شوی.

**څلورم باعث**: زور ظلم، دا باعث په حديث د ابن عباس کې ذکر شوی دی چې د زوروریې ډلې کس به نه وژل کېده او د کمزورې به وژل کېدلو یا به د زوروریې ډلې د مړي دیت ډېر و او د کمزورې کم و، بیا چې کله د نبي علیه السلام په راتګ سره دواړه ډلې کمزوري او یو شانته شوې نو بیا کمزورې ډلې د پخوانۍ ترې نه سرغړونه وکړه او وې ویل: **إنما أعطيناكم هذا ضيما منكم لنا، وفرقا منكم، فأما إذ قدم محمد فلا نعطيكم ذلك،[أخرجه أحمد حديث رقم: ٢٢١٢]**.

ژباړه: مونږ تاسو ته له دې امله زیات دیت درکوو چې تاسو په مونږ ظالمان وئ او مونږ له تاسو څخه ویرېدلو خو اوس چې محمد راغلی دی نو تاسو ته زیات دیت نه درکوو.

نو دا ښکاره دلیل دی چې د دغه تغیر باعث ظلم او زور و.

الغرض په یهودو باندې د الله تعالی د حکم تغیر باعث عقلي مصلحت، خواهشات، شهوات، پلوې او ظلم وو، ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ همدغه بواعثو ته اشاره کړې ده نو ویلي دي: **نزلت هذه الآيات الكريمات في المسارعين في الكفر، الخارجين عن طاعة الله ورسوله، المقدمين آراءهم وأهواءهم على شرائع الله عزوجل . كانوا**

**قد بدلوا كتاب الله الذي بأيديهم من الأمر برجم من أحصن منهم، فحرّفوه واصطلحوا فيما بينهم على الجلد مائة جلدة، والتحميم، والإركاب على حمارين مقلوبين .اهـ[تفسير ابن كثير ط دار الكتب العلمية ۳/ ۱۰۲].**

ژباړه: دا آیتونه د هغه چا په اړه نازل شوي دي چې په کفر کې تلوار کوي، د الله او د هغه د رسول صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ له اطاعت څخه وځي، خپلې مفکورې او خواهشات د الله تعالی په احکامو مخکې کوي... دوی(یهودو) د الله تعالی د هغه کتاب چې له دوی سره و د واده والا زنا کار د رجم امر یې بدل کړ، تغیر یې په کې وکړ او په خپل منځ کې یې په سلو دورو او مخ تورولو او په دوه خرو شابیرته سپرولو باندې اتفاق وکړو.

دلته د تحریف دا معنا نه ده چې دوی له تورات څخه دغه آیت لرې کړی و او پر ځای یې نوی حکم لیکلی و بلکې دوی په دغه مسئله اقرار کاوه او عقیده یې وربانديې لرله او ان تر دې چې د الله تعالی دغه حکم یې غوره هم ګڼلو، او هېڅ انکار یې ورڅخه نه و کړی، د زړه اعتقاد یې برابر و او د زړه جحود یې نه و، خو یوازې عملي جحود ته یې راتګ کړی و چې په

عمل کې یې دغه حکم نه راوستلو، چې په دې خبره د دوی هغه ټول اقرارونه دلیل دي کوم چې په احادیثو کې راغلي دي چې ځینې یې ذکر شول، ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ وایي: **ثم قال تعالى منكرا عليهم في آرائهم الفاسدة، ومقاصدهم الزائغة في تركهم ما يعتقدون صحته من الكتاب الذي بأيديهم، الذي يزعمون أنهم مأمورون بالتمسك به أبدا، ثم خرجوا عن حكمه وعدلوا إلى غيره مما يعتقدون في نفس الأمر بطلانه وعدم لزومه لهم، فقال: (وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِنْدَهُمُ التَّوْرَاةُ فِيهَا حُكْمُ اللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَمَا أُولَٰئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ) ا.هـ[ابن كثير ط . دار الكتب العلمية.** ٣/ ١٠٩].

ژباړه: بیا الله تعالی فرمایي په داسې حال کې چې رد کوي: د دوی په فاسده مفکورو، او کږو مقصدونو، د دوی په پرېښودلو د هغه څه چې د صحیحوالي عقیده یې ورله لرله؛ هغه کتاب چې له دوی سره و، هغه کتاب چې دوی دا ګومان کاوه چې دوی ته په دې باندې د همېشه عمل کولو امر شوی دی، بیا دوی د الله تعالی له حکم څخه ووتل او بل هغه څه ته کاږه شول چې دوی په حقیقت کې د هغې د بطلان او د عدم لزوم عقیده لرله نو ویې فرمایل: او دوی تا څنګه فیصله

کوونکی ټاکي؟ - حال دا چي له دوی سره تورات موجود دی، په هغه کښې د الله حکم لیکل شوی دی او سره له دې هم دوی ورڅخه مخ اړوي. اصلي خبره دا ده چي دا خلك له سره ایمان نه لري.

نو دا هغه لاملونه او هغه بواعث وو چې له امله یې یهودو د الله تعالی حکم بدل کړ که څه هم د الله تعالی حکم یې منلو، د زړه عقیده یې برابره وه ، هم یې غوره ګڼلو او انکار یې ورڅخه نه کاوه اقرار یې ورباندې کاوه، خو بیا هم الله تعالی تکفیر کړل نو د دې زمانې د حاکمانو به څه حال وي؟ آیا دوی هم د یهودو په څېر کارونه ترسره کړي دي چې په دغه حکم کې داخل شي او که نه؟ نو د دې خبرې وضاحت لپاره وایو:

## د دې زمانې د طاغوتي حاکمانو کړنې او د یهودو د کړنو سره یې پرتله والی.

د دې زمانې طاغوتي حاکمانو هم هغه کړنې ترسره کړې کومې چې یهودو ترسره کړې وې، له ځانه یې قوانین جوړ کړل، پرې متفق او راجمعه شول او هم پرې راضي شول او د الله تعالی د کتاب په ځای یې دغه قوانین حاکم کړل.

بواعث يې هم يو شان دي: عقلي مصالح، فاسده مفکورې او نفسي خواهشات دي، که څه هم ځانونو ته مسمانان وايي خو د داسې خلکو د ايمان دعوې ته الله تعالی "زعم" درواغجنه دعوه ويلې ده چې په اړه يې آيت مخکې ذکر شوی دی.

## د موجوده حاکمانو کفر له هغو يهودو څخه زيات دی چې په اړه يې آيتونه نازل شوي دي.

بلکې د دې زمانې طاغوتي حاکمان له هغو يهودو څخه بدتر دي چې په اړه يې آيتونه نازل شوي دي په درې وجو سره:

**اول**: يهودو زنا نه وه حلاله کړې، حکم يې ورته نه و بدل کړی، بلکې د مخکې په څېر يې حرامه ګڼله، يوازې سزا يې ورته بدله کړې وه، چې په دې اړه صريح نصوص ذکر شول. خو د دې زمانې حاکمانو، نه يوازې دا چې د زنا سزا يې په مالي جريمه او جيل بدله کړه بلکې زنا يې په ځينو صورتونو کې حلاله کړه شرطونه يې ورته وضعه کړل، لکه زنا د رضا يې جايز کړله، نو چې يوه زنانه مړوښه نه وي په خپله رضا زنا وکړي هېڅوک ورته څه نشي ويلی نه پلار نه ورور او نه بل څوک، او چې کله مړوښه وي نو که خاوند يې له دعوې څخه

تیر شي هم څه ورباندې نه وي، همداسې سود یې د فایدې په نوم جایز کړ بلکې ځانګړي قوانین یې ورته وضعه کړل چې هیڅ جرم نه بلل کیږي، هم یې شراب جایز کړل خپلې جوازنامې او ترخیصونه یې ورته مقرر کړل چې خپل ځانګړي ځایونه لري. نو په دې حاکمانانو کې د کفر ډېر لاملونه موجود شول هغه چې په یهودو کې نه وو موجود شوي، یهودو یوازې تشریع کړې وه یعني سزا یې بدله کړې وه، خو دوی د کفر څلورو لاملونو ته راتګ وکړ: تشریع، تحلیل، د یهودو سره په قانون کې تولّي یا موالات کول، او له اسلام پرته بل دین اختیارول، چې په دغه ټولو لاملونو مخکې دلایل ذکر شوي دي،دا خو د دې حاکمانو او د یهودو تر منځ یو فرق شو.

**دویم فرق**: یهودو یوازې یو حد بدل کړې و چې له امله یې کافر شول، خو دې حاکمانو ډېر حدودات بدل کړي دي نو د دوی کفر دون کفر نه دی بلکې فوق کفر دی او د هغوی له پاسه دی.

**دریم فرق**: یهودو دغه بدل قانون په لیکلې بڼه نه و راویستی، یوازې پرې متفق شوي او راضي شوي وو، خو د دې زمانې حاکمان په دغه قوانینو متفق شوي، راضي شوي دي، او

هم يې په ليکلي بڼه راويستې چې خپلې سرچينې لري، د حفاظت او تطبيق لپاره فوځ، پوليس او مختلف ارګانونه ګمارل شوي، په خلکو يې په زوره تطبيقوي چې دا کار يهودو نه و کړی.

نو دا درې فرقونه د دې لامل ګرځي چې د دې حاکمانو کفر له هغو يهودو څخه زيات دی د کومو په اړه چې د قران دغه آيتونه نازل شوي دي.

او په دې د علماوو اجماع ده چې صورت د نزول په سبب د نزول کې په قطعي توګه داخل دی يعنې د چا په اړه چې آيتونه نازل شوي دي هغوی ته عين سبب وايي خو چې بل څوک د هغوی په څېر کار وکړي هغوی ته صورت د سبب يا نوع د سبب وايي چې دا به هم د سبب د نزول سره په حکم کې داخل وي امام سيوطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **فإن دخول صورة السبب قطعي وإخراجها بالاجتهاد ممنوع، كما حكى الإجماع عليه القاضي أبو بكر في (التقريب) ولا التفات إلى من شذ فجوزذلك .ا.ه[الإتقان في علوم القران للسيوطي ١/١٠٧].**

ژباړه: صورت د سبب د نزول په قطعي توګه په حکم د نزول کې داخل دی چې په اجتهاد سره يې ويستل حرام دي لکه

څنګه چې په دې خبره قاضي ابو بکر په "التقريب" کې اجماع نقل کړې ده او د هغه چا خبرې ته به هېڅ توجو نه کېږي چې د دې قاعدې خلاف يې کړی وي او دا کار يې جايز کړی وي.

نو هر کله چې صورت د سبب د عين سبب په حکم کې په قطعي توګه داخل دی نو د هغه چا به څه حال وي چې دغه سبب په کې د عين سبب نه زيات او قوي موجود شي؟ خامخا به په حکم کې داخل وي.

## دويم مبحث: د سورة مائده د آيت حکم عام دی يوازې تر اهل کتابو خاص نه دی.

### د يوې شبهې ځواب.

ځيني خلک دا آيتونه يهودو پورې خاص کوي او وايي چې دا حکم مسلمانانو ته شامل نه دی نو دا اګر که د پام وړ شبهه نه ده خو بيا به هم له دې څخه ځواب وکړو دې لپاره چې مسئله ښه واضحه شي نو د دغه شبهې څخه يو څو ځوابونه کوو:

**اول ځواب**: صورة د نزول په سبب د نزول کې په قطعي توګه داخل دی او په دې اجماع ده لکه مخکې چې ذکر شو.

**دویم ځواب:** حکم به په سبب د نزول پورې خاص نه وي بلکې هر هغه چا ته به هم شامل وي چې دغه سبب ته راتګ وکړي او که داسې نشي نو د قران ډېر نصوص به معطل شي چې دا خبره په هېڅا پټه نه ده.

**دریم ځواب:** نبي علیه السلام فرمایلي دي: **لتتبعن سنن من كان قبلكم شبرا شبرا وذراعا بذراع، حتى لو دخلوا جحر ضب تبعتموهم، قلنا: يا رسول الله، اليهود والنصارى؟ قال: فمن؟. [أخرجه البخاري: ٣٤٥٦، ومسلم].**

ژباړه: تاسو به خامخا مخکنو امتونو پسې ورځئ لویشت په لویشت ګز په ګز، تر دې که هغوی د خادمۍ سوړې ته ورننوتي وي نو تاسو به یې تابعداري وکړئ، مونږ وویل: ای د الله رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یهود او نصاراو پسې به لاړ شو؟ هغه وفرمایل: نو څوک؟

نو دې حدیث کې دا خبره په ښکاره توګه ذکر شوه چې دا امت به یهود او نصاراو پسې ورځي او د هغوی طریقې به اختیاروي نو یو د هغوی له طریقو څخه وضعي قوانین نافذول دي چې په دې کې یې ورله تابعداري کړې ده.

ابن جرير په خپل تفسير کې د أبي مجلز نه نقل کوي چې هغه ويلي دي: **سأل رجل حذيفة عن هؤلاء الآيات: {ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون}، {فأولئك هم الظالمون}، {فأولئك هم الفاسقون}؟ قال: فقيل ذلك في بني إسرائيل؟ قال: نِعم الأخوة لكم بنو إسرائيل إن كانت لهم كل مُرة ولكم كل حُلوة، كلا والله، لتسلكن طريقهم قِدَّ الشراك، اهـ[تفسير الطبري: ١٢٠٣٠].**

ژباړه: يو سړي د حذيفه رضي الله عنه نه د دې آيتونو په اړه پوښتنه وکړه... وې ويل: ويلی شوي دي چې دا د بني اسرائيلو په اړه دي؟ نو حذيفه رضي الله عنه وويل: بني اسرائيل خو ستاسو ډېر ښه ورونه دي چې د هغوی دې هره ترخه خبره په برخه وي او ستاسو دې هره خوږه خبره په برخه وي، قسم په الله هېڅېرې داسې نه ده، تاسو به خامخا د هغوی په طريقو پسې د بوټ د تصمو په څېر ورځئ.

نو دا واضح دليل شو چې د آيت حکم يهودو پورې خاص نه دی.

**څلورم ځواب:** دا شرع د من قبلنا ده او زمونږ په شريعت کې د دې تايد شوی دی نو زمونږ لپاره هم شرعه ده او دا

اجماعي قاعده ده [وګورئ: المذكرة في أصول الفقه للشنقيطي صـ ١٩٢].

**پنځم ځواب**: دا يوه عقيدوي او اصولي مسئله ده، فرعي مسئله نه ده، او په اصولي مسئلو کې ټول پيغمبران متفق دي لکه په حديث کې چې راځي: **الأنبياء إخوة لعلات أمهاتهم شتى ودينهم واحد** [أخرجه البخاري: ٣٤٤٣، ومسلم: ٢٣٦٥].

ژباړه: ټول پيغمبران ناسکه ورونه دي، ميندې مختلفي دي خو دين يې يو دی.

امام نووي د دې حديث په شرح کې وايي: **جمهور العلماء معنى الحديث أصل إيمانهم واحد وشرائعهم مختلفة فإنهم متفقون في أصول التوحيد وأما فروع الشرائع فوقع فيها الاختلاف اهـ [المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج للامام النووي ١٥/ ١٢٠].**

ژباړه: جمهور علماوو د حديث معنا داسې کړې چې د ايمان اصول يې يو دي خو شريعتونه يې مختلف دي، دوی د توحيد په اصولو کې متفق دي خو د شريعت فرعي مسئلو تر منځ يې اختلاف دی.

نو د الله تعالی حکم ته غاړه ایښودل، اذعان او انقیاد او استسلام لامر الله کول د دین اصولي مسئله ده بلکې د توحید اساس دی چې ټول پیغمبران په دې کې متفق دي. له دې امله خو شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ ویلي دي: **ومعلوم أن من أسقط الأمر والنهي الذي بعث الله به رسله فهو كافر باتفاق المسلمين واليهود والنصارى، اهـ [مجموع الفتاوى ٨/ ١٠٦]**،

ژباړه: دا معلومه خبره ده چا چې د الله تعالی امر او نهي هغه چې پیغمبران یې وربانديې راليږلي دي وغورځوله (یعني عمل يې وربانديې پریښود) نو هغه به د مسلمانانو، یهودو او نصاراو په اتفاق کافر وي.

د شیخ الاسلام دا خبره د مرجئه وو په ملا یو ماتوونکی ګوزار دی چې له دغه اتفاق څخه وتلي دي.

**شپږم ځواب**: په دغه وینا کې چې دا آیت یهودو پورې خاص دی او دې امت ته شامل نه دی په نبي علیه السلام تهمت لګول دي چې ګویا کې هغه نور خلک د شریعت خلاف قانون وضعه کولو بانديې تکفیروي او خپل امت ته قانون وضعه کول جایز کوي العیاذ بالله.

**اووم ځواب**: دا د ډېرو صحابه وو او تابعينو خبره ده چې آيت عام دى او دې آمت ته هم شامل دى د ځينو اقوال په دې ډؤل دي:

د حذيفه رضي الله اثر مخکې ذکر شو چې هغه په تاکيد سره دا خبره کړې ده چې د آيت حکم مسلمانانو ته هم شامل دى.

امام قرطبي په خپل تفسير کې وايي: **قال ابن مسعود والحسن: هي عامة في كل من لم يحكم بما أنزل الله من المسلمين واليهود والكفار.[تفسير القرطبي ٦/ ١٩٠].**

ژباړه: ابن مسعود او حسن ويلي دي: دا آيتونه عام دي د هر هغه چا په اړه دي چې د الله تعالى په قانون فيصله نه کوي له مسلمانانو، يهودو او کفارو څخه.

قاسمي د دې آيتونو په تفسير کې ويلي دي: **ونقل في (اللباب) عن ابن مسعود والحسن والنخعي: أن هذه الآيات الثلاث عامة في اليهود وفي هذه الأمة.[تفسير القاسمي محاسن التأويل ٤/ ١٤٧].**

ژباړه: په "اللباب" کې د ابن مسعود، حسن او نخعي څخه نقل دي: چې دا درې واړه آیتونه عام دي د یهودو او د دې امت په اړه دي.

ابن کثیر او طبري په خپلو تفسیرونو کې د ابراهیم النخعي څخه نقل کوي چې هغه ویلي دي: **نزلت هذه الآيات في بني إسرائيل، ورضي لهذه الأمة بها.[تفسير ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٣/ ١٠٨، تفسير الطبري ت أحمد شاكر حديث رقم: ١٢٠٥٧].**

ژباړه: دا آیتونه د بني اسرائیلو په اړه نازل شوي دي او د دې امت لپاره يې خوښ کړي دي.

ابن کثیر د حسن بصري نه نقل کړي دي: **نزلت في الكتاب وهي علينا واجبة [تفسير ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٣/ ١٠٨].**

ژباړه: دا آیتونه د اهل کتابو په اړه نازل شوي دي خو په مونږ واجب دي (يعنی حکم يې زمونږ امت ته هم په وجوبي توګه شامل دی).

**اتم ځواب:** بلکې ځيني علماوو خو دا ايتونه مسلمانانو پورې خاص کړي دي او اهل کتاب يې بيخي د دغه حکم نه ويستي دي:

قرطبي په خپل تفسير کې ويلي دي: **وقيل: "الكافِرُونَ" للمسلمين، و"الظَّالِمُونَ" لليهود، و"الفاسِقُونَ" للنصارى، وهذا اختيارأبي بكربن العربي قال لأنه ظاهرالآيات وهواختيارابن عباس وجابربن زيد و ابن أبي زائدة و ابن شبرمة والشعب أيضا. اهـ.[تفسير قرطبي ٦/ ١٩٠].**

ژباړه: ويلى شوي دي چې "الكافِرُونَ" څخه مسلمانان مراد دي د "الظَّالِمُونَ" څخه يهود، او "الفاسِقُونَ" څخه نصارا مراد دي، او دا خبره ابي بکر بن العربي غوره کړې هغه ويلي دي ځکه چې دا د آيت ظاهر دی او دا ابن عباس، جابر بن زيد، ابن ابي زايده، ابن شبرمه او شعبي هم غوره کړې ده.

ابن کثير په خپل تفسير کې ويلي دي: **وقال عبد الرزاق، عن الثوري، عن زكريا، عن الشعبي: ومن لم يحكم بما أنزل الله، قال للمسلمين،اهـ. [تفسيرابن كثيرط دارالكتب العلمية].**

ژباړه: عبد الرزاق د ثوري نه هغه د زكريا نه هغه د شعبي نه نقل كوي: چې "ومن لم يحكم بما أنزل الله" آيت مسلمانانو په اړه دى.

نو شعبي چې امير المؤمنين في الحديث دى په دې خبره يې تصريح كړې ده.

علامه شنقيطي په خپل تفسير كې وايي: **الظاهر المتبادر من سياق الآيات أن آية فأولئك هم الكافرون، نازلة في المسلمين؛ لأنه تعالى قال قبلها مخاطبا لمسلمي هذه الأمة: فلا تخشوا الناس واخشون ولا تشتروا بأياتي ثمنا قليلا، ثم قال: ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون، فالخطاب للمسلمين كما هو ظاهر متبادر من سياق الآية. اهـ[أضواء البيان ١/ ٤٠٧].**

ژباړه: ظاهر د سياق د آيتونو په دې دليل دى چې "فأولئك هم الكافرون" آيت د مسلمانانو په اړه نازل شوى دى ځكه الله تعالى د دې آيت نه مخكې آيت كې د دې امت مسلمانانو ته خطاب كړى دى: تاسې له خلكو څخه مه وېرېږئ؛ بلكې زما څخه ووېرېږئ او د لږې بدلې اخيستلو په مقابل كښې زما د آيتونو پلورل پرېږدئ. او بيا فرما يي: كوم خلك چې د الله تعالى له نازل كړي قانون سره سمې فيصلې ونه كړي، هماغوى كافران

دي. نو دا خطاب مسلمانانو ته دی لکه څنګه چې دا خبره د سیاق د آیت نه هم معلومېږي.

که څه هم دغه تخصیص کې خبرې شته خو دا هم د ځینې علماوو قول دی.

تر دې ځایه خو دا خبره واضحه شوه چې آیت عام دی او یهودو یا اهل کتابو پورې خاص نه دی بلکې حکم یې د دې امت مسلمانانو ته هم شامل دی کله چې هغه کړني ترسره کړي کومې چې یهودو ترسره کړې وې، اوس د آیت بل جزء ته راځو نو وایو:

## دریم مبحث: د سورة مائدة په آیتونو کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی.

په "وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ" آیت کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی د دې خبرې دلایل په دې ډول دي:

۱ـ ظاهر د نص(آیت) پرې دلیل دی.

۲ـ د شارع عرف پرې دلیل دی.

۳ـ لغت پرې دليل دی.

۴ـ د صحابه ؤ تابعينو تفسير د دې آيت پرې دليل دی.

۵ـ او له دې هر څه سره سره اجماع پرې دليل ده.

که نور دلايل نه وي يوازې اجماع هم په دې باب کې کافي ده، خو مونږ به د دې دلايلو وضاحت کوو دې لپاره چې دا مسئله لوستونکو ته ښه روښانه او د الله تعالی په دين کې بصيرت تر لاسه کړي او مرجئه وو او نور باطل پرستو د بې ځايه شبهو ښکار نشي نو د الله تعالی نه په مدد غوښتلو اوس د دغه دلايلو وضاحت ته راځو:

## اول دليل: دلالة ظاهر الآية، دلالت د ظاهر د آيت.

د اهل السنة والجماعة له قواعدو څخه يوه دا ده چې نصوص به په خپل ظاهر جاري کېږي او تأويل به په کې له ظاهر معنا څخه خلاف الظاهر ته نه کېږي او دا قاعده د اهل السنة او مبتدعينو تر منځ يوه فيصله کن قاعده ده، د ډېرو گمراه شوو ډلو د گمراهۍ لامل همدا دی چې د شريعت نصوص يې له ظاهر څخه د خپل خواهش موافق خلاف الظاهر ته اړولي دي او بې ځايه تاويلات يې په کې کړي دي، چې دا کار ټولو

باطلو ډلو لکه جهميه، معتزله، اشاعره او ماتريديه او نورو، کړی دی او د اسماؤ صفاتو په مسئله کې يې د اهل السنة والجماعة لاره پريښې ده، نو داسې د تحکيم په مسئله کې هم ډېری خلک د همدغسې تأويل له امله خطا شوي دي، خو د تعجب خبره دا ده چې د سلفي منهج دعوه به کوي دغه قاعده به په نورو نصوصو کې مني د اهل کلام په رد کې به دغه قاعده راوړي خو د حاکميت په موضوع کې بيا دغه قاعده پرېږدي او د اهل کلام په څېر تأويلات کوي، حال دا چې دا يوه عامه او مشهوره قاعده ده، ډېرو معاصرو علماوو په خپلو کتابونو کې راوړې ده، شيخ الاسلام ابن تيميه هم په خپله مشهوره رساله "التدمرية" کې راوړې ده،

امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دغه قاعدې په اړه وايي: **القرآن عربي كما وصفت، والأحكام فيه على ظاهرها وعمومها، ليس لأحد أن يحيل منها ظاهرا إلى باطن، ولا عاما إلى خاص إلا بدلالة من كتاب الله فإن لم تكن فسنة رسول الله تدل على أنه خاص دون عام أو باطن دون ظاهر، أو إجماع من عامة العلماء الذين لايجهلون كلهم كتابا ولا سنة، وهكذا السنة ا.هـ[اختلاف الحديث للشافعي ٨/ ٥٩٢].**

ژباړه: قران عربي دی لکه څنګه چې دا خبره بيان شوې او دغه قراني احکام به په خپل ظاهر او عموم وي، هېڅا ته جايز نه دي چې د دغه احکامو ظاهر په باطن حواله کړي يا عام په خاص حواله کړي مګر د الله تعالی د کتاب په دلالت سره که د الله تعالی په کتاب کې پرې دليل نه و نو سنت د رسول الله به په دې دلالت کوي چې دا خاص دی عام نه دی، يا باطن دی ظاهر نه دی، يا به د عامو علماوو اجماع پرې دلالت کوي هغه چې ټول د کتاب او سنت په اړه جاهلان کېدای نشي او همداسې احاديث هم دي (يعني ظاهر نه به عدول خلاف ظاهر ته پرته له قطعي قريني يا اجماع نشي کېدای).

تفسير قاسمي هم په دغه آيت کې د ذکر شوې قاعدې په اساس خبره کړې ده نو ويلي دي: **ونقل في (اللباب) عن ابن مسعود والحسن والنخعي أن هذه الآيات الثلاث عامة في اليهود وفي هذه الأمة، فكل من ارتشى وبدل الحكم فحكم بغير حكم الله، فقد كفر وظلم وفسق وإليه ذهب السُدّيّ؛ لأنه ظاهر الخطاب، اهـ [تفسير القاسمي محاسن التأويل ٤/ ١٤٧].**

ژباړه: په "اللباب" کې له ابن مسعود، حسن او نخعي څخه نقل دي چې دا درې واړه آيتونه عام دي د يهودو او دې امت په

اړه دي، نو چا چې رشوت واخست او د الله تعالی حکم يې بدل کړ او د الله تعالی له حکم څخه پرته په بل حکم يې فيصله وکړه نو ده کفر، ظلم او فسق وکړ، چې دا د سدي مذهب هم دی ځکه چې دا ظاهر د خطاب دی.

نو په همدې اساس ويلی شو چې د "وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ" آيت ظاهر په دې دليل دی چې دلته د کفر نه مراد کفر اکبر دی او اصغر نه دی، دا خو اول دلالت و.

## دويم دليل: دلالة عرف الشارع.

دويم دليل په دې خبره چې په "وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ" آيت کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی؛ د شارع عرف دی، عرف هغه عادت او طريقې ته وايي چې صاحب د عرف ته منسوب وي نو د شارع عرف هغه ته وايي چې شارع عادت ګرځولی وي. نو شارع ځينې الفاظ په مکرره توګه راوړي وي او په ټولو استعمالاتو کې يې ترې يوه خاص معنا مراد کړې وي، له دې څخه مونږ ته د شارع عرف معلوميږي چې دغه اصطلاح يا دغه الفاظ شارع د يوې

ځانګړې معنا لپاره راوړي چې په هر ځای کې به ورځخه همدغه معنا مراد وي تر څو چې قرینه په خلاف د معنا مراد نه وي موجود شوې. نو داسې لفظ پرته له قرینې د خپلې معهود او معلومې معنا څخه بلې معنا ته اړول د شارع د عرف خلاف دي، لکه لفظ د ایمان چې په تتبّع او استقراء سره هر ځای د شریعت په نصوصو کې موندل شوی نو مراد ترې اعتقاد قول او عمل دی، خو مرجئه چې د شارع په عرف خبر نه دي د ایمان لفظ یې یوازې تصدیق ته خاص کړی، همداسې د شریعت له نصوصو په تتبع او استقراء سره دا خبره ثابته ده چې لفظ د کفر هر ځای کې مطلق راغلی وي او کوم قید یا قرینه ورسره نه وي نو مراد ترې کفر اکبر مخرج من الملة وي، چې دا طریقه د قران په نصوصو کې په عامه توګه کارول شوی پرته له یو آیت نه چې په هغه کې د "کفار" نه مراد "زراع" دهقانان دي بلکې هغې کې هم ځینې علماوو په کفر اکبر حمل کړی چې وروسته راځي، او په احادیثو کې لفظ د کفر، د اکبر کفر لپاره هم کارول شوی او د اصغر کفر لپاره هم کارول شوی کله چې قرینه موجود وي، نو حاصل دا شو چې لفظ د کفر د شریعت په نصوصو کې چې هر ځای کې مطلق موندل شوی د شارع

عرف او عادت دا دی چې مراد ترې کفر اکبر دی مګر کله چې قرینه موجود شي نو بیا به ورڅخه کفر اصغر مراد وي، او پرته له قریني ورڅخه مجازي کفر مراد کول په نصوصو کې تحریف دی چې شرع او عقل دواړه یې ردوي، او دا د شریعت له نصوصو څخه ثابته قاعده ده چې ډېرو علماوو ذکر کړې لکه علامه ابن القیم په خپل کتاب "الصواعق المرسلة" کې وايي: **اللفظ الذي اطرد استعماله في معنى هو ظاهر فيه، ولم يعهد استعماله في المعنى المؤول أو عهد استعماله فيه نادرا، فتأويله حيث ورد وحمله على خلاف المعهود من استعماله باطل؛ فإنه يكون تلبيسا وتدليسا يناقض البيان والهداية، بل إذا أرادوا استعمال مثل هذا في غير معناه المعهود، حفوا به من القرائن ما يبين للسامع مرادهم به؛ لئلا يسبق فهمه إلى معناه المألوف، ومن تأمل لغة القوم وكمال هذه اللغة وحكمة واضعها، تبين له صحة ذلك. وأما أنهم يأتون إلى لفظ له معنى قد ألف استعماله فيه فيخرجونه عن معناه ويطردون استعماله في غيره، مع تأكيده بقرائن تدل على أنهم أرادوا معناه الأصلي، فهذا من أمحل المحال، مثاله قوله تعالى: (وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تكليما) ، وقوله: (ما منكم إلا من سيكلمه ربه ليس بينه وبينه ترجمان يترجم له ولا حاجب يحجبه): (وقوله إنكم ترون ربكم عيانا)؛ وهذا شأن أكثر نصوص الصفات، إذا تأملها من شرح الله**

**صدره لقبولها، وفرح بما أنزل على الرسول منها، يراها قد حفت من القرائن والمؤكدات بما ينفي عنها تأويل المتأول. اهـ[الصواعق المرسلة في الرد على الجهمية والمعطلة ١/ ١٩٦].**

ژباړه: یو لفظ چې په معنا ظاهره کې په عامه توګه استعمالېږي او په معنا مؤله (تأویلي معنا یا هغه معنا چې تأویل په کې شوی وي)کې استعمال معروف نه وي یا په ډېره کمه کچه په تأویلي معنا کې استعمال شوی وي، نو په دغه لفظ کې تأویل کول او د معروف معنا څخه یې په غیر معروف معنا حمل کول باطل دي، دا به تلبیس او تدلیس وي، چې د بیان او هدایت سره په ټکر کې دی بلکې کله چې دوی د داسې لفظ استعمال په ناپېژانده معنا کې وغواړي نو داسې قرائن ورسره راوړي چې اورېدونکي ته یې مراد واضح کوي، دې لپاره چې د اورېدونکي فهم عادي معنا ته لاړ نشي، او څوک چې د عربو په لغت او د دې په کمال کې فکر وکړي او د دې د جوړوونکي ذات په حکمت کې فکر وکړي د دې خبرې صحیحوالی به ورته په ډاګه شي، خو چې دوی یو داسې لفظ چې په عام عادت کې په یوه معنا کې استعمالېږي او له دغه معنا څخه یې وباسي بلې معنا ته سره له دې چې د لفظ تأکید په داسې قرائنو سره

شوی وي چې په دې دلالت کوي چې خبرې کوونکي له دې څخه اصلي معنا مراد کړې نو دا تر ټولو ناممکن کار دی لکه د الله تعالی دا وینا چې فرمايي: الله تعالی د موسی علیه السلام سره خبرې کړي دي په خبرو کولو سره، او د نبي علیه السلام دا وینا: له تاسو څخه به هر یو سره خپل رب خبرې کوي د ده او د هغه (الله) تر منځ به هيڅ ترجمان نه وي چې هغه ته ترجماني وکړي او نه څه پرده چې دا ترې پناه کړي، او دا وینا: تاسو به خپل رب ښکاره په خپلو سترګو وينئ، او دا حال د ډېری هغه نصوصو دی چې صفات په کې راغلي دي کله چې په دې کې هغه څوک فکر وکړي چې الله تعالی ورته سینه د هغې قبلولو ته خلاصه کړې وي او دغه صفاتو په نازلېدلو سره خوشاله شي؛ هغه به یې ووینې چې داسې قرائن او تاکیدات ترې راتاؤ دي چې د تأویل کوونکو تأویل نفي کوي.

عقل هم د دې تقاضا کوي چې څوک یو لفظ راوړي نو د دوه معنو لپاره یې نه راوړي چې اورېدونکی حیران کړي بلکې داسې لفظ راوړي چې واضحه معنا لري او فهم ورڅخه په آسانه توګه اخستل کېږي نو شارع ذات چې د بندګانو هدایت غواړي هېڅکله داسې الفاظ نه راوړي چې په انسانانو خلط راولي ـ

العياذ بالله ـ بلکې د شارع د الفاظو معناګانې پوره واضحه دي، عرف یې واضح دی.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **أن اللفظ إذا تكرر ذكره في الكتاب، ودار مرة بعد مرة على وجه واحد، وكان المراد به غير مفهومه ومقتضاه عند الإطلاق ولم يبين ذلك؛ كان تدليسا وتلبيسا يجب أن يصان كلام الله عنه .ا.هـ.[مجموع الفتاوى ٦/ ٤٧١].**

ژباړه: يو لفظ چې په قران کې په مکرره توګه راغلی وي او هر ځل په يوه معنا استعمال شوی وي او بيا ترې په وخت د اطلاق کې د مفهوم او مقتضا خلاف معنا مراد شي او د دې بيان ونکړي (چې دلته دغه غير مفهوم يا مقتضا معنا مراد ده) نو دا به تدليس او تلبيس وي چې د قران ساتل ورځخه واجب دي.

نو کله چې په دغه آيت کې له کفر څخه اصغر کفر مراد شي؛ دا په الله تعالی تهمت د تدليس او تلبيس لګول دي العياذ بالله، ځکه چې په آيت کې هيڅ قرينه نشته چې له امله يې کفر اصغر مراد شي بلکې وروسته به راشي چې په آيت کې قرائن هم په کفر اکبر موجود دي لکه اجماع، تفسير د صحابه او تابعينو اونور.

قاضي شهاب الدين القرافي، صاحب د كتاب "الفروق" په خپل كتاب "شرح تنقيح الفصول" کې وايي: **من له عرف وعادة في لفظ، إنما يحمل لفظه على عرفهن، فإن كان المتكلم هو الشرع حملنا لفظه على عرفه. ا.هـ[شرح تنقيح الفصول صـ ٢١١].**

ژباړه: د چا چې په يو لفظ کې عرف او عادت معلوم وي نو د هغوی لفظ به د هغوی په عرف حمل وي که چېرې خبرې کوونکی شارع وي نو مونږ به يې لفظ د شارع په عرف حمل کوو.

امام رازي په خپل تفسير کې ويلي دي: **لفظ الكفر إذا أطلق انصرف إلى الكفر في الدين ا.هـ[تفسير الكبير للرازي ١٢/ ٣٦٧].**

ژباړه: د كفر لفظ چې کله مطلق ذكر شي نو رجع به يې كفر اكبر ته کېږي.

ابن حجر په فتح الباري کې د دغه قاعدې په اړه وايي: **عرف الشارع إذا أطلق الشرك إنما يريد به ما يقابل التوحيد وقد تكرر هذا اللفظ في الكتاب والأحاديث حيث لا يراد به إلا ذلك، ا.هـ. [فتح الباري ١/ ٦٥].**

ژباړه: د شارع عرف دا دی چې کله لفظ د شرک مطلق ذکر کړي نو مراد يې ورځخه هغه كفر وي چې د توحيد مقابل

دی او دا لفظ په مکرره توګه په قران او حدیث کې په همدې معنا استعمال شوی چې بل مراد به ورڅخه نه اخستل کیږي.

شیخ عبد اللطیف بن عبد الرحمن بن حسن وایي: **ولفظ الظلم والمعصية والفسوق والفجور والموالاة والمعاداة والركون والشرك، ونحو ذلك من الألفاظ الواردة في الكتاب والسنة قد يراد بها مسماها المطلق وحقيقتها المطلقة، وقد يراد بها مطلق الحقيقة والأول هو الأصل عند الأصوليين، والثاني لا يحمل الكلام عليه إلا بقرينة لفظية أو معنوية وإنما يعرف ذلك بالبيان النبوي، وتفسير السنة قال تعالى: وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبين لهم، ا.هـ[مجموع الرسائل والمسائل النجدية ١/ ٧].**

ژباړه: د ظلم، معصية، فسق، فجور، موالاة، معاداة، رکون (شرک ته میلان)، شرک او نور الفاظ چې په قران او حدیث کې راغلي دي کله نا کله په دې سره يې مسمى مطلق او حقيقت مطلقه مراد وي (یعني د دې کامل معنا مراد وي چې په وجود سره يې انسان له اسلام څخه وځي) او کله نا کله مطلق حقيقت مراد وي(یعني د دې ادنی درجه مراد وي هغه چې په وجود سره يې انسان له اسلام څخه نه وځي) ، اول مراد د اصولينو په نزد اصل دی او په دويم مراد به کلام پرته له لفظي يا معنوي قريني

نشي حمل کېدای او دا خبره په نبوي بيان او د سنتو په تفسير سره پېژندل کېږي الله تعالى فرمايي: مونږ نه دی لېږلی هېڅ يو پیغمبر مگر د خپل قوم په ژبه، دې لپاره چې دوی ته بيان وکړي.

نو له دې څخه معلومه شوه چې په آیت کې به له کفر څخه کفر اکبر مراد وي ځکه چې کفر مطلق ذکر دی او قرينه صارفه نشته، او دا قاعده د قران په ټولو آيتونو کې چلېدلي ده پرته له دې آيت څخه چې الله عز وجل فرمايي: اعْلَمُوٓا أَنَّمَا الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى الْأَمْوَٰلِ وَالْأَوْلَٰدِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُۥ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَىٰهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَٰمًا [سُورَةُ الحَديد : ٢٠].

ژباړه: ښه وپوهېږئ چې د دُنيا دغه ژوند له دې پرته بل څه ندی چې يوه لوبه او ساعت تيري او ظاهري زيب او سينگار او ستاسي پخپلو منځو کښې يو پربل باندې وياړېدل او په مال او اولاد کښې يو پر بل باندې د مخکې کېدلو هڅه کول دي. د دې مثال داسې دی لکه چې يو باران وشو، نو په هغه سره د را پیدا کېدونکو نباتاتو په ليدلو سره بزگران خوشحاله شول.

بیا همغه کښت پخېږي او ته وینې چې هغه ژېړ شو. بیا هغه بوس ګرځي.

دلته مفسرینو د "کفار" معنا په "زراع" دهقانانو سره کړې ده چې د اسم او مسمی تر منځ مطابقت شته ځکه چې کفر پټولو ته وایې، دهقان هم تخم پټوي، نو ځکه خو په شپه باندې هم د کافر اطلاق کېږي چې دنیا په تورتم پټوي، خو سره له دې بیا هم ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دې په معنا کې وایي: **وكما يعجب الزراع ذلك كذلك تعجب الحياة الدنيا الكفار، فإنهم أحرص شيء عليها وأميل الناس إليها، [تفسير ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٨/ ٥٧].**

ژباړه: لکه څنګه چې دهقانان دغه شین فصل خوښوي همداسې کافرانو ته د دنیا ژوند خوښ دی دوی د دنیا په اړه ډېر حرصناک او تر ټولو خلکو ورته ډېر مائل دي.

بلکې په دې آیت کې هم ځینې علماوو د کفر معنا په کفر اکبر سره کړې ده لکه منصور ازهري په خپل مشهور کتاب "تهذيب اللغة" کې ویلي دي: **وقد قيل: الكفار في هذه الأية: الكفار بالله، وهم أشد إعجابا بزينة الدنيا وحرثها من المؤمنين. [تهذيب اللغة: ١٠/ ١١٣].**

ژباړه: ویلی شوي دي چې په دې آیت کې د "الکفار" څخه په الله کفر کوونکي مراد دي دا ځکه چې دوی د دنیا د ډؤل او فصل سره له مؤمنانو څخه ډېره مینه لري.

که څه هم اوله معنا دلته صحیح ده خو دا هم په دې کې یو قول دی چې په دې دلالت کوي چې علماوو د شارع د عرف ډېر لحاظ ساتلی دی او مراد د مطلق کفر نه یې کفر اکبر اخستی دی.

او په حدیث کې دي نبي علیه السلام فرمایي:

**أريت النار فرأيت أكثر أهلها النساء، يكفرن -، قيل: أيكفرن بالله؟ قال: يكفرن العشير، ويكفرن الإحسان، [رواه البخاري].**

ژباړه: ماته اور وښودل شو نو ما په کې زنانه ډېرې ولیدلې، چې کفر یې کاوه، ورته وویلی شو: آیا په الله یې کفر کاوه، نبي علیه السلام وفرمایل: د خاوند ناشکري یې کوي او له احسان څخه انکار کوي.

نو دلته هم د کفر لفظ په اول ځل اورېدلو سره صحابه وو کفر اکبر فهم کړی دی خو قرینه په کفر اصغر موجوده ده

چې د نبي عليه السلام خپل تفسير دی، نو دا هم د دغه قاعدې لپاره دليل شو.

نو په همدې اساس ويلی شو چې د سورة مائده په ذکر شوي آيت کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی چې په اول ځل نظر لګيدلو سره ترې همدا فهم اخستل کېږي او همدا د شارع عرف دی چې تأويل ته په کې هېڅ اړتيا نه ليدل کېږي.

## دريم دليل: دلالة اللغة.

دريم دليل له دغو دلايلو څخه چې په آيت کې له کفر څخه مراد کفر اکبر دی؛ لغت دی، چې دا مخکنو دواړو دلالتونو لپاره د متمم (پوره کوونکي) په توګه دی، د لغت په لحاظ سره په آيت کې له کفر څخه په يو څو وجو سره کفر اکبر مراد دی چې بيان يې په دې ډؤل دی:

## اوله وجه: تعرف الکفر ب (أل).

په الکافرون کې کفر په الف لام سره معرفه شوی چې دا هم په کفر اکبر دليل دی ځکه چې کله کفر نکره وي احتمال د کفر اکبر او اصغر دواړه په کې وي چې په شرعي قرينې سره به يو ترې مراد کېږي خو دا قاعده په احاديثو کې ده قران کې

چې هر ځای کې کفر لفظ راشي په ټولو مشتقاتو سره ترې کفر اکبر مراد دی که څه هم نکره هم وي پرته له سورة حديد آيت نه چې کفار په معنا د دهقان (بزگران) سره راغلی، نو که څه هم دا قاعده په قران کې منتفي ده خو بيا هم دا خبره نوره هم قوي کوي چې کله په نصوصو د شريعت کې کفر په الف لام سره معرفه وي نو مراد به ترې کفر اکبر وي نه اصغر، او دا قاعده په يوې بلې قاعدې بنا ده چې په هغې کې دي: کله چې د يو اسم په صدر (اول) کې الف لام راشي نو په دې به دلالت کوي چې دغه معنا په مسمی کې په کامله توگه موجود ده لکه يو سړی ووايي: عمرو شجاع، عَمرو بهادر دی، او بيا اوايي: زيد الشجاع، زيد پوره بهادر دی نو دلته الف لام چې زيات شو معنا کې هم قوت پيدا شو، دا په کامل شجاعت دلالت کوي په نسبت د هغه چې الف لام په کې نه وي راغلی، دا قاعده ډېرو علماوو راوړې ده لکه: جلال الدين القزويني په خپل کتاب [الايضاح في علوم البلاغة صـ ١٠١]، او علامه ابن القيم په خپل کتاب[الصلاة وأحكام تاركها] کې راوړې ده،علامه ابن القيم په خپل ذکر شوي کتاب کې د لمونځ پريښودونکي کفر په اړه له آيت څخه استدلال په دلالت د لغت او دلالت د عرف د شارع

سره كرى دى نو ويلي دي: الدليل الثامن على كفر تارك الصلاة: قوله تعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللهِ ومَن يَفْعَل ذلك فأولئك هم الخاسرون)... ووجه الاستدلال بالآية إن الله حكم بالخسران المطلق لمن ألهاه ماله وولده عن الصلاة، والخسران المطلق لا يحصل إلا للكفار؛ فإن المسلم ولو خسر بذنوبه ومعاصيه فآخر أمره إلى الربح، يوضحه أنه سبحانه وتعالى أكد خسران تارك الصلاة في هذه الآية بأنواع من التأكيد:

أحدها: إتيانه بلفظ الاسم الدال على ثبوت الخسران ولزومه، دون الفعل الدال على التجدد والحدوث. الثاني: تصدير الاسم بالألف واللام المؤدية لحصول كمال المسمى لهم فإنك إذا قلت زيد العالم الصالح، أفاد ذلك إثبات كمال ذلك له؛ بخلاف قولك عالم صالح.

الثالث: إتيانه سبحانه بالمبتدأ والخبر معرفتين، وذلك من علامات انحصار الخبر في المبتدأ، كما في قوله تعالى: (وَأُوليك همُ الْمُفْلِحُونَ)، وقوله تعالى: (وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ)، (أُولئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا) ونظائره.

الرابع: إدخال ضمير الفصل بين المبتدأ والخبر وهو يفيد مع الفصل فائدتين أخريين: قوة الإسناد واختصاص المسند إليه

بالمسند، كقوله: (وَإِنَّ الله لهو الغني الحميد)، وقوله: (والله هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ)، وقوله: (إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ) ونظائر ذلك الدليل ا.هـ[الصلاة وأحكام تاركها لابن القيم صـ٤٨].

ژباړه: د لمونځ پرېښودونکي په كفر اتم دليل: د الله تعالی دا وينا ده: اې مؤمنانو! ستاسې مالونه او اولادونه دې تاسې د الله تعالی له ياد څخه غافل نه کړي. كوم كسان چې دا كار وكړي، هغوی زيانمن دي... په آيت سره د استدلال طريقه دا ده؛ الله تعالی د خسران مطلق(پوره زيانمنتيا) حكم کړی دی په هغه چا چې مال او بچي يې له لمونځ څخه غافل كړي او پوره زيانمنتيا پرته له كفارو بل چا ته نشته، ځكه مسلمان كه څه هم په خپلو گناهونو سره زيانمن شي خو آخر كې كامياب دی ادا خبره په دې توگه واضحه كېږي چې الله سبحانه وتعالی په دې آيت كې د لمونځ پرېښودونكي زيانمنتيا په يو څو ډوله تاكيدونو سره مؤكد كړې ده:

يو له هغو څخه دا دی: دغه خسران (زيانمنتيا) يې په اسم سره راوړو چې په ثبوت او لزوم د خسران (زيانمنتيا) دلالت كوي پرته له فعل څخه چې په تجدد او حدوث(نوښت) دلالت كوي.

دویم: د اسم په اول کې یې الف لام راوړ چې د دې تقاضا کوي چې دغه مسمی دوی ته په کامله توګه حاصل دی، نو کله چې ته ووایي: زید العالم الصالح(زید پوره پوهه، پوره نیک دی)؛ نو دې دغه اوصاف(مسمی) په کامله توګه زید ته ثابت کړل، په خلاف د دې چې اوایې: عالم صالح(پوهه، نیک دی، یعني دا په حصول د کمال مسمی دلالت نه کوي).

دریم: الله تعالی مبتدا او خبر دواړه معرفې راوړي او دا له هغه علامو څخه دي چې خبر تر مبتدا منحصره کوي(رابندوي) لکه د الله تعالی په دې وینا کې چې فرمایي: خاص همدوی کامیاب دي، او دا وینا: کافران خاص همدوی ظالمان دي، او دا وینا: خاص همدوی ریښتني مؤمنان دي، او د دې په څېر نور.

څلورم: د مبتدا او خبر تر منځ ضمیر فصل داخل شوی، چې دا سره له فصل(جدا والي د مبتدا او خبر ترمنځ) دوه نورې ګټې لري؛ د اسناد قوت او د مسند الیه اختصاص تر مسند پورې لکه د الله تعالی دا وینا: او خاص الله تعالی غني او ستایلی شوی ذات دی، او دا وینا: او خاص الله تعالی هماغه اورېدونکی پوهه ذات دی، او دا وینا: خاص هغه (الله) ښښنه کوونکی مهربان ذات دی. او دې ته ورته نور دلایل.

نو دا آيت چې علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وربانديې د تارک الصلاة د کفر په اړه په دغه وجوهاتو سره استدلال کړی؛ دا بيخي د همدې آيت په څېر دی چې الله تعالى فرمايي: "وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ اللهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الۡكٰفِرُونَ" نو په دې کې هم همدغه وجوه دي نو له کفر څخه به دلته هم کفر اکبر مراد وي، بلکې د دې دلالت به په کفر اکبر له مخکې آيت څخه زيات وي ځکه چې خسران د کفر معنا لپاره نه دی وضع شوی او کفر لفظ د همدغه معنا لپاره وضعه شوی، نو چې خسران په کفر دلالت کوي دا خو به يې خامخا کوي.

همدا راز شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دغه قاعدې چې يو اسم په الف لام سره معرّف وي او بل نه وي؛ د دواړو تر منځ د توپير په اړه وايي: **وفرق بين الكفر المعرف باللام كما في قوله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (ليس بين العبد وبين الكفر - أو الشرك – إلا ترك الصلاة) وبين كفر منكر في الإثبات ا.هـ[إقتضاء الصراط المستقيم لمخالفة أصحاب الجحيم لابن تيمية ١/ ٢٣٧].**

ژباړه: او توپير دی د هغه کفر تر منځ چې په الف لام سره معرفه شوی وي لکه د نبي عليه السلام په دې وينا کې چې فرمايي: د بنده او کفر يا شرک تر منځ پرته له لمونځ پريښودلو

بل څه نشته؛ او د هغه کفر تر منځ چې نکره وي په اثبات د حکم کې.

نو تطبيق د قاعدې داسې دی چې په"وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ اللهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الۡكٰفِرُونَ" آيت کې کفر مطلق راغلی دی نو هېڅ ته جايز نه دي چې پرته له قرينې يې په کفر اصغر سره مقيد کړي، ورسره دا چې معرف باللام هم دی نو په دې سره نور تاکيد هم وشو چې دلته کفر اکبر مراد دی.

## دويمه وجه د دلالت لغوي: په صيغې د اسم سره يې ورله د کفر نه تعبير کړی دی.

دويمه وجه د دلالت لغوي له اړخه په دې خبره چې په آيت کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی دا ده؛ چې تعبير د کفر نه په صيغه د اسم سره شوی چې په ثبوت او لزوم دلالت کوي په خلاف د فعل چې په تجدد او حدوث دلالت کوي، او دا هم يو قوي دليل دی چې علماوو پرې استدلال کړی دی علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **إتيانه باسم الفاعل الدال على الثبوت واللزوم، دون الفعل الدال على التجدد.ا.هـ[إغاثة اللهفان من مصائد الشيطان لابن القيم ١/ ١١٣].**

ژباړه: اسم فاعل یې راوړو چې په ثبوت او لزوم دلالت کوي پرته له فعل څخه چې په تجدد او حدوث(نوښت) دلالت کوي.

نو معنا دا شوه چې د وضعي قانون حاکم په داسې کفر کې اخته دی چې کفر ورته ثابت دی او ورسره لازم دی، ترې نه جدا کیږي.

## دريمه وجه د دلالت لغوي: تعبير د کفر نه يې په جمله شرطيه سره کړی چې په جواب شرط کې مبتدا او خبر دواړه معرفه راوړي دي.

په دې آیت کې چې الله تعالی فرمایي: وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللهُ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكَٰفِرُونَ. "مَن" اسم شرط دی، لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ اللهُ دا يې فعل شرط دی او "فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْكَٰفِرُونَ." جواب شرط دی نو دې جواب شرط کې مبتدا او خبر دواړه په الف لام سره معرفه دي چې دا حصر فائده کوي یعني خبر تر مبتدا رابندوي، لکه څنګه چې علامه ابن القیم ویلي دي: **الثالث: إتيانه سبحانه بالمبتدأ والخبر معرفتين، وذلك من علامات انحصار الخبر في المبتدأ، كما في قوله تعالى: (وَأُوليك همُ الْمُفْلِحُونَ)، وقوله**

تعالى: (وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ)، (أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا) ونظائره. [الصلاة وأحكام تاركها لابن القيم صـ٤٨].

ژباړه: دريم: الله تعالى مبتدا او خبر دواړه معرفې راوړي او دا له هغه علامو څخه دي چې خبر تر مبتدا منحصره کوي(رابندوي) لکه د الله تعالى په دې وينا کې چې فرمايي: خاص همدوی کامياب دي، او دا وينا: کافران خاص همدوی ظالمان دي، او دا وينا: خاص همدوی ريښتني مؤمنان دي، او د دې په څېر نور.

نو معنا دا شوه چې کفر د وضعي قانون په حاکمانو پورې محصور او رابند دی ګويا که له دوی څخه نور غټ کافران نشته.

## څلورمه وجه د دلالت لغوي: مبتدا يې په صيغې د اسم اشارې سره ذکر کړې.

بله وجه د دلالت لغوي له اړخه په دې خبره چې په آيت کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی دا ده؛ چې مبتدا يې په صيغې د اسم اشاره سره ذکر کړې چې د اهل السنة علماوو په نزد دا

مبالغه فائده کوي بلکې په مبالغه کې زياتوالی ګټه کوي چې دغه وصف د کفر په دې خلکو کې په اوچته کچه موجود دی

جلال الدين القزويني په خپل کتاب [الإيضاح في علوم البلاغة ٢/ ٢٢] کې وايي:(..**قوله تعالى:** أُولئِكَ عَلَى هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ وأُولئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)؛ **أفاد اسم الإشارة زيادة الدلالة على المقصود من اختصاص المذكورين قبله باستحقاق الهدى من ربهم والفلاح)** ا.هـ

ژباړه: الله تعالى فرمايي: داسې خلک د خپل رب له لوري پر سمه لار دي او هم هغوی بري موندونکي دي. دې اسم اشاره زيات دلالت ګټه کړ په مقصود باندې چې مخکې ذکر شوي خلک به د خپل رب له لورې د ځانګړې هدايت او کاميابۍ مستحق وي.

نو دلته په "وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ اللهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ الۡكَٰفِرُونَ. آيت کې چې اسم اشاره راغلې؛ دې دغه مخکنې خلک چې په وضعي قوانينو فيصلې کوي په خبر پورې خاص کړل چې "الكافرون" دی، نو په اسم اشاره سره دغه معنا نوره

هم زياته شوه او دغه وصف د کفر يې په اعلی کچه حاکمانو ته ثابت کړ.

بله قاعده هم لغت والاو ويلې ده او هغه دا چې زيادت د مبنی په زيادت د معنا دلالت کوي، نو دلته چې "الکافرون" کې الف لام زيات شوي دي دا د يوازې "کافرون " نه په دلالت کې زيات دی ځکه چې دا اسناد د کفر د وضعي قانون حاکمانو ته نور هم قوي کوي په خلاف د "کافرون" چې هغه قوت د اسناد نه گټه کوي لکه څنگه چې د علامه ابن القيم په قول کې دا خبره ذکر شوه.

## قاعده: د قران او حديث د نصوصو په فهم کې د عربو له فهم څخه خلاف کول د انحراف او گمراهی سبب دی.

له شرعي معنا وروسته د شريعت له نصوصو څخه په فهم اخستلو کې د عربو فهم ته اعتبار ورکول ضرور دي ځکه چې قران او حديث د هغوی په ژبه نازل شوی، له همدې امله وايو: عربو په يو ځای کې هم معرف باللام اسم پرته له حقيقي معنا په مجازي معنا نه دی کارولی او نه يې هم داسې مضبوطه لغوي

بنا په حقيقت صغرى حمل کړې بلکې په حقيقت کبرى يې حمل کړې، په کاملې معنا او مسمى يې حمل کړې، نو دا يوه ثابته قاعده ده چې ډېرو علماوو ورته اشاره کړې چا چې د قران او حديث څخه هغه فهم نه دى اخستى کوم چې عربو اخستى نو گمراه شوي دي لکه جهميه د استوى معنا په استولى سره کوي چې عربو چېرې هم داسې معنا نه ده کړې، معتزله د وعد او وعيد تر منځ توپير نه کوي نو د وعيد څخه معافي کول شر گڼي چې الله تعالى ورڅخه پاک گڼي حال دا چې عرب د وعيد څخه وروسته کېدل او معافي کول ممدوح کار گڼي مذموم يې نه گڼي، اشاعره ماتريديه کلام نفسي او کلام لفظي کې توپير کوي کلام نفسي د الله تعالى صفت گڼي او کلام لفظي د الله تعالى صفت نه گڼي، او استدلال په هغه شعر سره کوي چې يو نصراني شاعر ويلې خو بل طرفته ډېر صحيح نصوص د کتاب او سنت پرېږدي او احاديث د خبر آحاد په نوم پرېږدي، په باب د عقيده کې ورباندې استدلال نه کوي خو بل طرفته د اخطل نصراني دا شعر د عمل وړ گڼي چې وايي:

**إن الكلام لفي الفؤاد و إنما جعل اللسان على الفؤاد دليلا**

دا شعر د دې تقاضا کوي چې چاړا (ګونګي) ته متکلم (خبرې کوونکی) وويل شي حال دا چې اخرس (چاړا) ته په عربو کې هېڅکله متکلم نه دي ويلي. همداسې د خلق القران مسئله کې جهميه وو د دې آيت نه چې الله تعالى فرمايي: **إِنَّا جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا**، استدلال په خلق القران سره کړی په دې طريقه چې جعل په معنا د خلق (پيدا کولو) سره دی نو قران مخلوق دی، حال دا چې دوی د هغه جعل چې متعدي وي يو مفعول ته او هغه جعل چې دوه مفعولو ته متعدي وي تر منځ يې ورله توپير نه کوو، نو د ټولو مبتدعينو د بدعت او ګمراهۍ غټ لامل دا دی چې د عربو له فهم څخه يې تجاوز کړی دی له دې امله امام شافعي د ذکر شوې قاعدې په اړه ويلي دي: **القرآن نزل بلسان العرب دون غيره؛ لأنه لا يعلم مِن إيضاح جُمل عِلم الكتاب أحد جهل سعة لسان العرب، وكثرة وجوهه، وجِماعَ معانيه وتفرقها. ومن علمه انتفت عنه الشبه التي دخلت على من جهل لسانها. اهـ[الرسالة للشافعي ت احمد شاكرص٤٧]**. ژباړه: قران د عربو په ژبه نازل شوی دی پرته له نورو ژبو، ځکه چې د قران د جملو په وضاحت هغه څوک نه پوهېږي چې د عربو د ژبې په پراختيا او د هغې په ډېرو معنو خبر نه وي، د هغې د معناګانو

په جمعه والي او جداوالي نه پوهېږي، او څوک چې ورباندې پوهېږي نو هغه شبهات ترې ختمېږي کوم چې هغه خلکو ته راځي چې د عربو په ژبه نه پوهېږي.

علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **وهذا موضع زلت فيه أقدام كثير من الناس وضلت فيه أفهامهم؛ حيث تأولوا كثيرا من ألفاظ النصوص، بما لم يُؤلف استعمال اللفظ له في لغة العرب البتة، اهـ[الصواعق المرسلة١/ ١٨٩].**

ژباړه: او دا يو داسې ځای دی چې د ډېرو خلکو قدمونه په کې ښوېدلي دي او فکرونه يې خطا شوي دي، دا ځکه چې د ډېرو شرعي الفاظو تاويل يې په هغه څه سره کړی چې د عربو په لغت کې يې هېڅکله دغسې تاويل معروف نه دی.

له همدې امله وايو چې کفر د سورة مائده په ذکر شوي آيت کې په هغه معنا حمل کول چې عربو نه وي حمل کړې؛ جايز نه دي.

## څلورم مبحث: د صحابه وو، تابعينو په تفسير سره په آيت د مائده کې د کفر نه مراد اکبر کفر دی.

مونږ مخکې په شان نزول د آيتونو کې دوه ډؤله روايتونه ذکر کړل چې يو کې يې داسې راغلي وو چې دا آيتونه د يهودو زناکارانو په اړه نازل شوي دي، دا شان نزول ورله څلور صحابه وو نقل کړی و چې ابن عمر، ابو هريره، جابر بن عبد الله او براء بن عازب رضي الله عنهم دي، او ابن عباس رضي الله عنهما څخه هم په دې اړه يو روايت نقل دی چې دا آيتونه د يهودو زناکارانو په اړه نازل شوي دي، او دويم شان نزول يې د يهودو د ديت مسئله وه چې دغه يوازې ابن عباس رضي الله عنهما نقل کړی و، خو هلته مونږ ويلي وو که هر يو شان نزول شي يا دواړه هم شي مسئله کې تغير نه راولي، نو په دغه شان نزولو کې صحابه وو دا اقرار کړی دی چې دا آيتونه د يهودو په اړه نازل شوي دي او د يهودو کفر خو اصغر نه دی بلکې اکبر دی تر دې چې مرجئه هم دا خبره مني. بلکې براء بن عازب رضي الله عنه د دغه آيتونو په شان نزول کې ويلي دي: **عن البراء بن عازب، قال: مر على النبي صلى الله عليه وسلم بيهودي محمما مجلودا... فأنزل الله تعالى {ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم**

**الكافرون ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الظالمون ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الفاسقون} في الكفار كلها،[رواه مسلم رقم الحديث: ١٧٠٠].**

ژباړه: د براء بن عازب څخه نقل دي هغه وايي: نبي عليه السلام باندې يو يهودي ورتېر کړی شو په داسې حال کې چې مخ تور کړی او په دورو وهل شوی و... نو دا آيتونه نازل شو {ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الظالمون ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الفاسقون} دا د ټولو کفارو په اړه دي.

د براء بن عازب په ذکر شوې شان نزول کې يو څو فوائد دي:

**يو:** دا چې دغه آيتونه د کفارو په اړه نازل شوي دي او "الکفار" يې معرف باللام راوړی دی او ورسره په سياق کې يهود ذکر دي نو دا قوي دليل شو په دې چې په دغه آيتونو کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی.

**دويمه فائده دا ده:** چې په ذکر شوو آيتونو کې کفر، ظلم او فسق ټول په يوه معنا او يوې نوعې دلالت کوي او هر يو

ځانته، ځانته معنا نه لري، بلکې اکبر کفر، اکبر ظلم او اکبر فسق ترې مراد دی.

او ابن عباس رضي الله عنهما چې د کفر دون کفر تفسیر ورته منسوب دی هغه پخپله هم په دې آیتونو کې د کفر نه اکبر کفر فهم کړی روایتونه یې په دې ډول دي:

ابن کثیر په خپل تفسیر کې د دغه آیتونو شان نزول ته په اشاره کې ویلي دي: **وقد روى العوفي وعلي بن أبي طلحة الوالبي عن ابن عباس أن هذه الآيات نزلت في اليهوديين اللذين زنيا،[ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٣/ ١٠٧]،**

ژباړه: عوفي او علي بن أبي طلحة الوالبي د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل کړي دي: دا آیتونه د دوه یهودو په اړه نازل شوي دي چې زنا یې کړې وه.

بل روایت چې طبراني، ابن جریر، او ابن حجر راوړی دی په هغې کې دي: **عن ابن عباس رضي الله عنه، أن رهطا أتوا النبي صلى الله عليه وسلم جاءوا معهم بامرأة فقالوا: يا محمد ما أنزل عليك في الزنا؟ قال: اذهبوا فائتوني برجلين من علماء بني إسرائيل، [المعجم الكبير للطبراني: ١١٨٧٥].**

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل دي چې (د يهودو) يوه ډله نبي عليه السلام خوا ته راغلل چې يوه ښځه يې له ځانه سره راوستله، وې ويل: اى محمده په تا باندې د زنا په اړه څه حکم نازل شوى دى؟ نبي عليه السلام وفرمايل: لاړ شئ ماته د بني اسرائيلو له علماوو څخه دوه سړي راولئ.

د دې حديث مشهوره جمله مخکې ذکر شوې وه چې په هغې کې دي: **و إنا نخبرك أن الله أنزل على موسى في الز اني الرجم، و أنا كنا قوما شببة، وكانت نساؤنا حسنة وجوهها، وأن ذلك كثر فينا، الحديث.**

همداراز د دې آيتونو دويم شان نزول چې ابن عباس رضي الله عنهما يوازې نقل کړى دى په هغې کې دي:

**عن ابن عباس، قال: إن الله عزوجل أنزل: {ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون}و{أولئك هم الظالمون} و{أولئك هم الفاسقون}، أنزلها الله في الطائفتين من اليهود...فيهما: والله نزلت، و إياهما عنى الله عزوجل [رواه أحمد حديث رقم: ٢٢١٢، وصححه الشيخ أحمد شاكر في تحقيق المسند رقم الحديث: ٢٢٢٢].**

ژباړه: ابن عباس رضي الله عنهما د دغه آيتونو په اړه ويلي دي: الله تعالى دغه آيتونه د يهودو دوه ډلو په اړه نازل کړي دي.

قسم په الله چې د همدغه دوه ډلو په اړه نازل شوي دي او د الله تعالی مراد ورڅخه همدوی دي.

نو ابن عباس رضي الله عنهما په دغه احاديثو کې په ښکاره توګه دا خبره کړې چې دا آيتونه د يهودو په اړه نازل شوي دي او د يهودو کفر خو اصغر نه دی بلکې اکبر دی نو دغه نقل دليل شو په دې خبره چې ابن عباس رضي الله عنهما د آيت نه کفر اکبر فهم کړی دی.

يو ناشنا اثر چې د علماوو تر منځ ډېر خپور نه دی؛ امام النسائي په خپل صحيح کې د سورة مائدې ذکر شوي آيت په تفسير کې له ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل کړی دی په هغې کې دي:

**عن ابن عباس قال: كانت ملوك بعد عيسى ابن مريم عليه الصلاة والسلام بدلوا التوراة والإنجيل، وكان فيهم مؤمنون يقرءون التوراة قيل لملوكهم: ما نجد شتما أشد من شتم يشتمونا هؤلاء، إنهم يقرءون: {ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون}، وهؤلاء الآيات مع ما يعيبونا به في أعمالنا في قراءتهم، فادعهم فليقرءوا كما نقرأ، وليؤمنوا كما آمنا، فدعاهم، فجمعهم، وعرض**

**عليهم القتل أو يتركوا قراءة التوراة والإنجيل، إلا ما بدلوا منها، [سنن النسائي حديث رقم : ٥٤٠٠].**

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل دي هغه وايي: د عيسى بن مريم عليهما السلام نه وروسته څه پاچا هان وو چې تورات او انجيل يې بدل کړي وو، او په دوی کې مؤمنان وو چې تورات به يې لوستلو، نو پاچا هانو ته يې وويل شو: مونږ داسې سختې بدې ردې نه مونده کوو څومره چې دغه کسان مونږ پسې وايې، دوی دا آيت لولي: چا چې د الله تعالى په رالېږلي قانون فيصله ونکړه هغوی کافر دي. دغه آيتونه چې دوی يې په لوستلو سره زمونږ په کړنو عيب وايي؛ دوی دې ته راوبله چې داسې يې ولولي لکه څنگه چې مونږ لولو او داسې ايمان دې راوړي لکه څنگه چې مونږ ايمان راوړی دی نو دوی يې راوغوښتل، راجمعه يې کړل او د مرگ اخطار يې ورته ورکړ يا دې د تورات او د انجيل لوستل پرېږدي مگر هغه تورات او انجيل چې دوی بدل کړی و(لوستلی شي).

په دې روايت کې هم د دې خبرې تائيد شوی چې د سورة مائده په ذکر شوي آيت کې د کفر نه اکبر کفر مراد دی، په دې اړه درې قرائن شتون لري:

**اوله قرينه:** د "بدّلوا" لفظ يې راوړی او په دې اجماع ده چې د شريعت نصوص بدلول كفر اكبر دی.

**دويمه قرينه دا ده:** د دغه آيت تلاوت يې په سختو كنځلو سره تعبير كړی او د كنځلو يا بدو ردو تر ټولو اوچته كچه په يو چا د كفر تهمت لګول دي او دا خبره مونږ ذكر كړې وه چې د آيت لغوي بنا په اعلی درجه د كفر دليل ده.

**دريمه قرينه:** پاچا دوی ته د دوه خبرو تر منځ اختيار وركړ يا مرګ يا منحرف دين ته اوړېدل. او د مرګ اخطار څوک چا ته د عامو ګناهونو په تهمت سره نه وركوي بلكې دا دليل دی چې دوی دغه د پاچا ډله تكفيروله. د دې معنا تاكيد په يو بل روايت كې هم شوی دی چې په هغه كې دي:

**وأخرج ابن جريروابن أبي حاتم عن ابن عباس قال: كل شيء نسبه الله إلى غير أهل الإسلام من اسم مثل خاسرومسرف وظالم وفاسق فإنما يعني به الكفروما نسبه إلى أهل الإسلام فإنما يعني به الذنب[الدرالمنثورف التفسيربالمأثورللسيوطي ١/ ١٠٥].**

ژباړه: ابن جرير او ابن ابي حاتم د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل كړي چې هغه وايي: هر نوم چې الله تعالی يې كفارو ته منسوب كړي لكه خاسر (تاواني)، مسرف (اسراف

کوونکی)، ظالم، او فاسق؛ نو له دې څخه به کفر مراد وي او په دغو کې چې کوم نوم مسلمانانو ته منسوب شي نو په هغې سره به گناه مراد وي.

نو ابن عباس رضي الله عنهما پخپله د دې تصریح وکړه چې د دغه اوصافو نسبت کله کفارو ته وشي نو مراد به ورڅخه کفر اکبر وي نو د ابن عباس رضي الله عنهما د خپلې قاعدې په اساس په آیت کې د "الکافرون، الظالمون، الفاسقون" نه مراد کفر اکبر دی ځکه چې د آیت شان نزول یهود دي او دغه اوصاف یهودو ته منسوب دي نو کفر اصغر ورڅخه مراد کول هیڅکله صحیح نه دي.

او دا قول د ځینو تابعینو هم دی لکه ابن کثیر وایي: **قال البراء بن عازب وحذيفة بن اليمان و ابن عباس و أبو مجلز و أبو رجاء العطاردي وعكرمة وعبيد الله بن عبد الله والحسن البصري وغيرهم: نزلت في أهل الكتاب، زاد الحسن البصري: وهي علينا واجبة، وقال عبد الرزاق عن سفيان الثوري، عن منصور عن إبراهيم، قال نزلت هذه الآيات في بني إسرائيل، ورضي الله لهذه الأمة بها، رواه ابن جرير. [ابن کثیر۳/۱۰۸].**

ژباړه: براء بن عازب، حذيفه بن اليمان، ابن عباس، ابو مجلز، ابو رجاء العطاردي، عکرمه، عبيد الله بن عبد الله، حسن بصري او نورو ويلي دي: دا آيتونه د اهل کتابو په اړه نازل شوي دي، حسن بصري ورسره زيات کړي دي: او په مونږ واجب دي، عبد الرزاق ويلي دي: له سفيان ثوري څخه نقل دي هغه د منصور څخه هغه له ابراهيم څخه نقل کوي چې ده ويلي دي: دا آيتونه د بني اسرائيلو په اړه نازل شوي دي او الله تعالی د دې امت لپاره غوره کړي دي، دا خبره ابن جرير نقل کړې ده.

ابن مسعود او حسن ويلي دي: **هي عامة في كل من لم يحكم بما أنزل الله من المسلمين واليهود والكفار، [قرطبي ٦/ ١٩٠].**

ژباړه: آيت عام دی د هر هغه چا په اړه دی چې د الله تعالی په قانون فيصله نه کوي که مسلمانان وي، که يهود وي او که کافران وي.

الغرض د صحابه وو، تابعينو اقوال په دې متفق دي چې دغه آيتونو د يهودو په اړه نازل شوي دي نو دا په دې دليل دی چې په دغه آيتونو کې د کفر نه مراد اکبر کفر دی نه اصغر، ځکه د يهودو کفر اصغر نه دی بلکې اکبر دی چې په دې خبره کې يو عاقل هم اختلاف نه لري.

## د الله قانون حاكمول د ټولو دينونو اتفاقي خبره ده .

ورسره دا خبره هم ياده کړه چې د الله تعالى د قانون په تحکيم د ټولو آسماني دينونو اتفاق دی ځکه چې دا د عقيدې يوه اساسي مسئله ده او په عقيده کې ټول پيغمبران له يو بل سره متفق دي لکه دا حديث چې مخکې ذکر شوی دی نبي عليه السلام فرمايي: **الأنبياء إخوة لعلات أمهاتهم شتى ودينهم واحد [أخرجه البخاري: ٣٤٤٣، ومسلم: ٢٣٦٥].**

ژباړه: ټول پيغمبران ناسکه ورونه دي، ميندې مختلفې دي خو دين يې يو دی.

بلکې د الله تعالى قانون ته فيصله وړل د ايمان له واجباتو او لوازماتو څخه ده لکه علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دې ايت په تفسير کې چې الله عز وجل فرمايي: **فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ** [سُورَةُ النِّسَاء: ٥٩]، هغه وايي: **أنه جعل هذا الرد من موجبات الإيمان ولوازمه، فإذا انتفى هذا الرد انتفى الإيمان؛ ضرورة انتفاء الملزوم لانتفاء لازمه، ولا سيما التلازم بين هذين الأمرين فإنه من الطرفين، وكل منهما ينتفي بانتفاء الآخر.[إعلام الموقعين عن رب العالمين ١/ ٤٠].**

ژباړه: الله تعالى قران او حديث ته فيصله وړل د ايمان له واجباتو او لوازماتو څخه ګرځولي، نو کله چې دغه رد( د فيصلې ورګرځول) منتفي شول ايمان به هم منتفي (ختم) وي د وجې د انتفاء د ملزوم په انتفاء د لازم سره، په ځانګړي توګه تلازم د دې دواړو(تحکيم او ايمان) تر منځ له دواړو لورو ثابت دی چې له دې دواړو څخه هر يو د بل په منتفي کېدلو سره منتفي کېږي (يعني چې ايمان وي تحکيم به هم وي او که ايمان نه وي تحکيم به هم نه وي همداسې د تحکيم په اړه وايي: تحکيم دليل په ايمان، عدم تحکيم دليل په عدم ايمان دی).

ابن کثير رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **لما ذكر تعالى التوراة التي أنزلها على موسى كليمه، ومدحها و أثنى عليها وأمر باتباعها حيث كانت سائغة الاتباع، وذكر الإنجيل ومدحه وأمر أهله بإقامته و اتباع ما فيه، كما تقدم بيانه؛ شرع في ذكر القرآن العظيم الذي أنزله على عبده ورسوله الكريم اهـ [تفسير ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٣/ ١١٥].**

ژباړه: کله چې الله تعالى د تورات يادونه وکړه هغه چې په موسى عليه السلام چې خبرې ورسره کړې دي نازل کړی و او صفت او ستاينه يې ورله وکړه او په تابعدارۍ ورله امر کړی و هغه وخت چې تابعداري يې جايز وه او د انجيل يادونه يې

وکړه او ستاينه يې ورله وکړه او نصاراو ته يې د هغې د احکامو د نافذولو او د تابعدارۍ امر کړی و لکه څنګه چې مخکې ذکر شو نو د قران په اړه يې شروع وکړه هغه چې په خپل بنده او عزتمند رسول يې رالېږلی دی.

د ابن کثير رَحِمَهُ ٱللَّهُ له خبرې څخه داسې فهم اخستل کېږي چې د الله تعالی د قانون تحکيم د درې دينونو چې يهوديت، نصرانيت او اسلام دی؛ د دوی تر منځ يوه اتفاقي خبره ده او د دغو درې واړو دينونو ګډه عقيده ده، لکه څنګه چې شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په دې اړه د درې واړه دينونو مرکبه اجماع نقل کړې هغه ويلې دي: **ومعلوم أن من أسقط الأمروالنهي الذي بعث الله به رسله فهوكافرباتفاق المسلمين واليهود والنصارى،** اهـ [مجموع الفتاوى ٨/ ١٠٦].

ژباړه: دا معلومه خبره ده چا چې د الله تعالی امر او نهي هغه چې پيغمبران يې ورباندې رالېږلي دي وغورځوله (يعني عمل يې ورباندې پرېښود) نو هغه د مسلمانانو، يهودو او نصاراو په اتفاق کافر وي.

د شيخ الاسلام له وينا څخه دا هم معلومه شوه چې د وضعي قانون حاکم درې واړو دينونو په نزد کافر دی.

ورسره دا خبره هم په ضمن کې کوو چې د مائدې په آیتونو کې "الکافرون" الظالمون" الفاسقون" دا ټول صفات د یو موصوف دي او موصوف يې متعدد نه دی لکه دې باره کې طرطوشي په خپل کتاب "سراج الملوك" کې ویلي دي چې کتاني ترې په خپل کتاب [نصيحة أهل الإسلام صـ ١٢٤] کې نقل کړي دي: **كل من لم يحكم بما جاء من عند الله تعالى ورسوله** صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **كملت فيه هذه الأوصاف الثلاثة: الكفر والظلم والفسق، اهـ[كتاب سراج الملوك للطرطوشي صـ ١٥٠].**

ژباړه: هر څوک چې په هغه قانون فيصله ونکړي چې د الله تعالى او د هغه د رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له طرفه راغلی دی؛ په هغه کې به دغه درې واړه صفات چې کفر، ظلم او فسق دي په کامله توګه موجودېږي.

نو یوازې دا نه چې کافر به وي بلکې په کامله معنا به کافر وي او په کامله معنا به ظالم او فاسق وي.

امام زرکشي په خپل مشهور کتاب "البرهان في علوم القرآن" کې ویلي دي: **وقيل الكافر والظالم والفاسق كلها بمعنى واحد وهو الكفر، عبّر عنه بألفاظ مختلفة لزيادة الفائدة واجتناب**

صورة التكرار، وقيل غير ذلك، اهـ.[البرهان في علوم القرآن للزركشي ١/ ٨٧].

ژباړه: ویلی شوي دي: (په آیت کې) کافر، ظالم او فاسق ټول په یوه معنا دي چې کفر ده، په مختلفو الفاظو یې ترې تعبیر کړی دی د زیاتي ګټې او د تکرار صورت نه د بچ کېدلو لپاره، او له دې پرته نورې ویناوې هم شته.

## پنځم مبحث: د وضعي قانون حاکم په کفر د امت اجماع ده او دا په شپږو وجو سره ده.

په تیرو مباحثو کې دا خبره په مختلفو طریقو ثابت شوله چې د سورة مائدې په ذکر شوي آیت کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی اوس په دې مبحث کې اجماع رانقلوو چې په دې سره به دوه مسئلې ثابتېږي یو دا چې د سورة مائدې په آیت کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی او دویم د وضعي قانون د حاکم حکم به د اجماع له اړخه هم ثابت شي چې دوی مرتد دي. ځکه چې اجماع مستقل حجت دی کله چې په یوې مسئله کې وموندل شي انکار ورڅخه جائز نه وي.

خو دلته به اجماع د هغه کار په اړه رانقلوو کوم چې یهودو ترسره کړی و چې له امله یې وربانديې د کفر حکم شوی دی نو کله چې یو مسلمان هم د یهودو په څېر کړنه ترسره کړي د یهودو سره به د کفر په حکم کې شریک وي ځکه چې د شریعت له نصوصو دا قاعده ثابت ده چې: **الأحكام السلامية تدور مع عللها أينما وجدت العلة وجد الحكم.**

ژباړه: اسلامي احکام به له خپلو علتونو سره ګرځي، کوم ځای کې چې علت وموندل شو حکم به هم موندل کېږي. نو د یهودو د کړنو په اړه وضاحت په شان نزول د آیتونو کې شوی و، چې حاصل یې همدا جوړېده لکه څنګه چې ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپل تفسیر په دویم جلد صـ ٥٤ کې ویلي دي چې یهودو خپل خواهشات او فکرونه د شریعت په احکامو مخکې کړل هغه یې بدل او تحریف کړل او پر ځای له ځانه جوړ شوي قوانین نافذ کړل، همدا شان نزول ابن عباس رضي الله عنهما او نورو صحابه وو رانقل کړی دی چې مخکې یې وضاحت شوی دی نو آیا د ابن عباس رضي الله عنهما له دغو روایتونو څخه به دا فهمېږي چې قانون سازي کفر نه ده؟ او آیا په دې اړه اجماع شته چې څوک د شریعت یو ثابت حکم په

وضعي قانون بدل کړي د هغه کفر به اصغر وي اکبر به نه وي؟ او که اجماع د دغې په خلاف ده چې کفر به یې اکبر وي اصغر به نه وي او که هېڅ اجماع په دې اړه شتون نه لري؟ نو د دې په وضاحت کې وایو: چې د شریعت احکام د صحابه وو له زمانې نیولې تر د تاتاریانو زمانې پورې په وضعي قوانینو نه وو بدل شوي او د دې کار کومه بېلګه له دغې حادثې مخکې نه وه موندل شوې خو کله چې تاتاریانو په اسلامي علاقو یرغل وکړ او د خراسان او عراق ساحې یې له مسلمانانو ونیولې نو په دوی کې اولنی کس چې په اسلام کې داخل شو احمد بن هولاکو وو چې پلار؛ هولاکو یې اسلامي خلافت سقوط کړی و. نو کله چې تاتاریانو اسلام قبول کړ اولنی کار چې د اسلام په تاریخ کې تر دغه وخت نه و رامنځته شوی دا و: چې دوی د شریعت احکام معطل کړل، بې عمله یې کړل او پر ځای یې د یاسق قانون حاکم کړ کوم چې ورته خپل مشر چنګیز جوړ کړی و، نو دا په اسلامي علاقو کې د وضعي قانون اوله بېلګه وه چې تر دغه وخته یې هېڅ ساري نه موندل کېږي چې دا وخت اومه پېړۍ په ختمېدو وه یعنې تر اومې پېړۍ په اسلامي نړۍ کې د وضعي قانون بېلګه نه وه موندل شوې چې بیا د

تاتاريانو په راتللو او اسلام قبلولو وروسته رامنځته شوه، که چېرې تاتاريان هماغه شان په خپل کفر پاتې وی نو دې خبرې اسلامي تاريخ ته زيان نه رسوه خو دا چې دوی له اسلام قبلولو وروسته داسې کار وکړ نو ځکه په دې موضوع کې اهميت لري چې د ابن عباس رضي الله عنهما د اثر حال چې کفر دون کفر دی هغه هم ورسره واضحه کېږي، وروسته به راشي ان شاء الله.

الغرض کله چې تاتاريانو له اسلام قبلولو وروسته هغه کار وکړ کوم چې يهودو کړی و چې تشريع او تبديل يې وکړ يعنې شريعت يې په وضعي قوانينو بدل کړ نو د هغه وخت ټولو امامانو او علماوو د تاتاريانو په کفر اجماع وکړه، داسې اجماع چې هيچا يې خلاف نه دی کړی، دا ځکه چې دوی د يهودو سره په دغه صفت کې متفق شول نو حکم يې هم د يهودو په څېر شو، نو اوسني حاکمان هم د تاتاريانو او يهودو سره د شريعت خلاف قوانينو وضعه کولو کې برابر دي نو چې هغوی دشريعت په نصوصو او اجماع د امت مرتد وو دوی به هم مرتد وي او دغه اجماع دوی ته هم شامله ده بلکې د دوی

په دغه کړنو له یو څو اړخه اجماع شوې ده چې بیان یې په دې ډوّل دی:

## اوله اجماع: د هغه چا په کفر چې د شریعت خلاف قانون وضعه کوي.

دا چې دغه حاکمانو د شریعت احکام بدل کړي او د شریعت خلاف ډېر قوانین یې وضعه کړي دي نو د دغه کار په اړه د علماوو اجماع رانقلوو:

ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ وایي: **وكما يحكم به التتار من السياسات الملكية المأخوذة عن ملكهم جنكزخان الذي وضع لهم الياسق. فمن فعل ذلك منهم فهو كافر يجب قتاله حتى يرجع إلى حكم الله ورسوله، فلا يحكم سواه في قليل ولا كثير.[ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٣/ ١١٩].**

ژباړه: او لکه څنګه چې به تاتاریانو په خپل پاچا هې سیاست کې د چنګیز خان له جوړ کړي الیاسق قانون څخه په را اخستل شوو قوانینو فیصلې کولې... نو چا چې له دوی څخه دا کار وکړ هغه به کافر وي، جنګ به ورسره واجب وي تر دې چې د الله تعالی او د هغه د رسول صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ فیصلو ته

راوګرځي، نو د الله تعالی له حکم پرته به په بل هېڅ شي فیصله نه کوي نه په لږ او نه په ډېر کې.

نو دلته امام ابن کثیر دا خبره عامه کړې ده او هر هغه چا ته یې شامله کړې چې د یهودو په څېر تشریع تبدیل وکړي، یوازې په کفر یې ورله بسنه نه ده کړې بلکې قتال یې ورسره واجب کړی دی.

ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ بل ځای کې وایي: **نزلت هذه الآيات الكريمات في المسارعين في الكفر، الخارجين عن طاعة الله ورسوله، المقدمين آراءهم وأهواءهم على شرائع الله عزوجل [ابن كثيرط دار الكتب العلمية ٣/ ١٠٢].**

ژباړه: دا آیتونه د هغه چا په اړه نازل شوي دي چې په کفر کې تلوار کوي، د الله تعالی او د هغه د رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له اطاعت څخه وځي، خپلې مفکورې او خواهشات د الله تعالی په احکامو مخکې کوي.

ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د تشریع او تبدیل په اړه داسې حکم کړی دی وایي: **ومعلوم بالاضطرارمن دين المسلمين وباتفاق جميع المسلمين أن من سوغ اتباع غير دين الإسلام أو اتباع شريعة غير شريعة محمد صلى الله عليه وسلم فهو كافر وهو ككفر من آمن**

**ببعض الكتاب وكفر ببعض الكتاب كما قال تعالى: {إن الذين يكفرون بالله ورسله ويريدون أن يفرقوا بين الله ورسله ويقولون نؤمن ببعض ونكفر ببعض ويريدون أن يتخذوا بين ذلك سبيلا} {أولئك هم الكافرون حقا وأعتدنا للكافرين عذابا مهينا} [مجموع الفتاوى ٢٨/ ٥٢٤، الشاملة].**

ژباړه: او د مسلمانانو له دين څخه په اضطراري توګه او په اتفاق د ټولو مسلمانانو دا خبره معلومه ده؛ چا چې له دين اسلام پرته د بل دين تابعداري جايز کړله يا يې د محمد صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ له شريعت پرته د بل شريعت تابعداري جايز کړله نو هغه به کافر وي او دا به د هغه چا په څېر کافر وي چې د دين په ځينو احکامو يې ايمان راوړی و او په ځينو يې ورله کفر کړی و لکه الله عزوجل فرمايي: کوم خلك چې پر الله تعالى او د هغه پر پيغمبرانو کافران کېږي، او غواړي چې د الله تعالى او د هغه د پيغمبرانو په منځ کښې توپير وکړي، او وايي چې موږ به ځيني ومنو او ځينې به ونه منو، او د کفر او ايمان په منځ کښې د يوې لارې ايستلو اراده لري، هغوی ټول پاخه کافران دي او د داسې کافرانو لپاره موږ هغه عذاب تيار کړی دی چې د هغو رسوا کوونکی او سپکوونکی به وي.

او بل ځای کې وايي: **والإنسان متى حلل الحرام - المجمع عليه - أو حرم الحلال - المجمع عليه - أو بدل الشرع - المجمع عليه - كان كافرا مرتدا باتفاق الفقهاء.[مجموع الفتاوى ٣/ ٢٦٧].**

ژباړه: يو انسان چې کله اجماعي حرام حلال کړي يا اجماعي حلال حرام کړي يا د شريعت يو اجماعي حکم بدل کړي؛ نو هغه به په اتفاق د علماوو کافر مرتد وي.

ابن کثير رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل کتاب [البداية والنهاية ١٢/ ١١٩] کې د تاتاريانو په اړه چې د شريعت احکام يې بدل کړي وو او په ځای يې نور قوانين جوړ کړي وو داسي اجماع رانقل کړې وايي : **فمن ترك الشرع المحكم المنزل على محمد بن عبد الله خاتم الأنبياء، وتحاكم إلى غيره من الشرائع المنسوخة كفر؛ فكيف بمن تحاكم إلى الياسق وقدمها عليه؟ من فعل ذلك كفر بإجماع المسلمين. قال الله تعالى: (أَفَحُكم الجاهلية يَبْغُونَ وَمن أَحْسَنُ مِنَ اللهِ حُكْماً لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ ) اهـ.**

ژباړه: چا چې هغه محکم شريعت پريښود چې په محمد بن عبد الله، وروستني پيغمبر باندې رالېږل شوی او له هغه پرته نورو منسوخ شريعتونو ته يې فيصله يوړله نو کافر شو، نو د هغه چا به څه حال وي چې "ياسق" قانون ته فيصلې وړي او د

الله تعالی په شریعت یې مخکې کوي؟ چا چې دا کار وکړ په اجماع د مسلمانانو کافر شو. الله تعالی فرمايي: آیا دوی د جاهلیت فیصله غواړي؟ په داسې حال کښې کوم خلك چې پر الله باور لري، د هغو په نزد له الله تعالی څخه بل غوره فیصله کوونکی هیڅ نشته.

ابن القیم رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې د شیخ الاسلام شاگرد دی هغه هم ویلي دي: **وقد جاء القرآن، وصح الإجماع بأن دين الإسلام نسخ كل دين كان قبله، وأن من التزم ما جاءت به التوراة والإنجيل، ولم يتبع القرآن، فإنه كافر[أحكام أهل الذمة صـ٥٣٣].**

ژباړه: قران راغلی او صحیح اجماع په دې اړه شوې چې اسلامي دين مخکني ټول دينونه منسوخ کړي دي او څوک چې د تورات او انجیل د احکامو پابندي وکړي او د قران تابعداري ونکړي نو دا به کافر وي.

شنقیطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **فهو قسم من الله جل وعلا أقسم به على أن من اتبع الشيطان في تحليل الميتة أنه مشرك، وهذا الشرك مخرج عن الملة بإجماع المسلمين،[أضواء البيان في إيضاح القران بالقران ٣/ ٤١].**

ژباړه: دا د الله له طرفه قسم دی چې په دې سره يې د هغه چا په اړه قسم کړی دی څوک چې د مردارې په حلال ګڼلو کې د شيطان تابعداري کوي نو هغه به هم مشرک وي او دا شرک له اسلام څخه په اجماع د مسلمانانو ويستونکی دی.

شنقيطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ بل ځای کې وايي: **وبهذه النصوص السماوية التي ذكرنا يظهرغاية الظهور: أن الذين يتبعون القوانين الوضعية التي شرعها الشيطان على ألسنة أوليائه مخالفة لما شرعه الله جل وعلا على ألسنة رسله صلى الله عليهم وسلم، أنه لا يشك في كفرهم وشركهم إلا من طمس الله بصيرته، وأعماه عن نور الوحي مثلهم. [أضواء البيان في إيضاح القران بالقران ٣/ ٢٥٩].**

ژباړه: په دې آسماني نصوصو (دلائلو) سره چې مونږ ذکر کړل، دا خبره پوره واضحه کېږي؛ هغه خلک چې د وضعي قوانينو تابعداري کوي، کوم چې شيطان د خپلو دوستانو په ژبو سره تاکلي دي، په داسې حال کې چې له هغه قانون سره مخالف دي، کوم چې الله عزوجل د خپلو پيغمبرانو په ژبو سره ټاکلی دی، د داسې خلکو په کفر او شرک کې شک نه کوي مګر هغه څوک چې الله يې بصيرت او پوهه ختمه کړې وي او د وحې له رڼا څخه يې د هغوی په څېر ړوند کړی وي.

## **دويمه اجماع: د هغه چا په کفر چې په طريقه د امتناع او استکبار د شريعت احکام رد کوي، که څه هم يو حکم هم وي.**

د دې طاغوتي حاکمانو دويمه کړنه دا ده چې دوی د شريعت احکام په طريقه د امتناع او استکبار رد کړي دي چې د داسې خلکو په کفر علماوو اجماع کړې لکه ابن بطه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په [الإبانة الصغری صـ ٢١١] کې وايي: **لو أن رجلاً آمن بجميع ما جاءت به الرسل إلا شيئاً واحداً، كان برد ذلك الشيء كافراً عند جميع العلماء، اهـ.**

ژباړه: که چېرې يو سړی په ټول هغه څه ايمان راوړي چې پيغمبرانو راوړی وي پرته له يو حکم څخه، نو دا به د دغه يو حکم په رد کولو سره د ټولو علماوو په نزد کافر وي.

اسحاق بن راهويه رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم په دې اړه اجماع نقل کړې چې ابن حزم ورله په خپل کتاب کې راوړې ده هغه ويلي دي: **أن إسحاق بن راهويه كان يقول من بلغه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر يقر بصحته ثم رده بغير تقية فهو كافر [الإحكام في أصول الأحكام لابن حزم ١/ ٩٩].**

ژباړه: اسحاق بن راهويه به ويل: چا ته چې د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ يو حديث ورسيد چې په صحيحوالي يې ورله اقرار كوو، بيا يې پرته له تقيه(يعني د اكراه له حالت) رد كړ نو هغه به كافر وي.

ابن عبد البر رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم د اسحاق بن راهويه څخه اجماع نقل كړې چې هغه ويلي دي: **وقد أجمع العلماء أن من سب الله عزوجل، أوسب رسول الله - صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ -، أودفع شيئا أنزله الله، أو قتل نبيا من أنبياء الله، وهو مع ذلك مقر بما أنزل الله أنه كافر.اهـ[كما في التمهيد لابن عبد البر٤/ ٢٦٦].**

ژباړه: علماوو په دې اجماع كړې چې څوک الله تعالى ته يا د هغه رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ ته كنځل وكړي، يا د الله تعالى يو راليږلى حكم رد كړي يا د الله تعالى له پيغمبرانو څخه يو پيغمبر ووژني او هغه له دې سره، سره د الله تعالى په راليږلي احكامو اقرار هم كوي نو كافر به وي.

دا اجماع ورله شيخ الاسلام ابن تيميه هم په خپل كتاب الصارم المسلول كې دوه ځاى راوړې ده.

علامه ابن الوزير اليماني په خپل کتاب [إيثار الحق على الخلق صـ ١١٢] کې هم په دې اړه اجماع نقل کړې هغه وايي:
**اجماع الامة على تكفير من خالف الدين المعلوم بالضرورة والحكم بردته إن كان قد دخل فيه قبل خروجه منه.**

ژباړه: د امت اجماع ده د هغه چا په تکفير چې د دين له ضرورياتو څخه معلوم حکم خلاف وکړي او د دې په ارتداد يې حکم کړی که چېرې د اسلام له وتلو مخکې په اسلام کې داخل وي.

نو دغه حاکمانو خو د شريعت د بې شميره مسئلو خلاف کړی دی.

## دريمه اجماع: د هغه چا په کفر چې يو حرام شی حلال وګڼي او حلال حرام وګڼي که څه هم يوه مسئله هم وي.

دغه طاغوتي حاکمان چې ډېر حلال يې حرام کړي دي لکه جهاد، جزيه، له کفارو وينځې او غلامان نيول او نور، او ډېر حرام شيان يې حلال کړي دي لکه سود، زنا، جواري،

شراب او نور، نو د داسې وصف درلودونکو د کفر په اړه هم علماوو اجماع کړې چې بيان يې په دې ډول دی:

ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **والإنسان متى حلل الحرام - المجمع عليه - أو حرم الحلال - المجمع عليه - أو بدل الشرع - المجمع عليه - كان كافرا مرتدا باتفاق الفقهاء.[مجموع الفتاوى ٣/ ٢٦٧].**

ژباړه: يو انسان چې کله اجماعي حرام حلال کړي يا اجماعي حلال حرام کړي يا د شريعت يو اجماعي حکم بدل کړي؛ نو هغه به په اتفاق د علماوو کافر مرتد وي.

په دې اړه ابو يعلى الحنبلي په خپل کتاب [المعتمد في اصول الدين صـ ١٧١] کې، او ابن قدامه المقدسي په [المغني ٨/ ١٣١] کې اجماع نقل کړې، او قاضي عياض په [الشفا بتعريف حقوق المصطفى ٢/ ٦١٢] کې هم اجماع نقل کړې ده هغه وايي: **وكذلك أجمع المسلمون على تكفير كل من استحل القتل، أو شرب الخمر، أو الزنا، مما حرم الله بعد علمه بتحريمه.**

ژباړه: او همدا راز مسلمانانو د هغه چا په تکفير اجماع کړې چې د مسلمان وژل حلال وګڼي يا شراب حلال وګڼي يا زنا حلاله وګڼي، له هغه شيانو څخه چې الله تعالى حرام کړي وي وروسته له پوهې د ده نه په تحريم د هغې.

نو دې حاکمانو هم د شریعت ډېرى حرام حلال کړي دي زنا يې په شرطونو حلال کړې ده، همجنسبازي يې جايز کړې او قوانين يې ورته جوړ کړي دي، په ځينې ځايونو کې د شرابو خرڅولو او څښلو اجازه ورکړې، د کفارو سره يې د موالات مکفره اجازه ورکړې، او يواځې په اجازه يې هم بسنه نه ده کړې بلکې پوليس او فوځ يې د دې لپاره گمارلي چې څوک د دوی د اجازو خلاف کوي هغوی ته سخته سزا ورکوي چې دا کارونه په تحليل قوي دليل دي، مخکې مونږ د دې په اړه تفصيل هم کړی و چې د شريعت خلاف قوانين وضعه کول د تحليل په صوروتونو کې تر ټولو ښکاره صورت دی.

## څلورمه اجماع:

د هغه چا په کفر چې د یهودو نصاراوو او نورو کافرانو سره موالات کوي که څه هم د قانون په تحکیم کې ورسره موالات کوي او په اسلامي علاقو د هغوی پلیت قانون نافذوي چې دا هم له موالات مکفره څخه دی هغه چې په اړه یې د علماوو اجماع ده.

## پنځمه اجماع:

د هغه چا په کفر چې د الله تعالی په اسماء صفاتو کې سره له پوهې؛ الحاد، تحریف او تأویل کوي. قاضي عیاض په خپل کتاب [الشفا بتعریف حقوق المصطفى ٢/ ٦١٩] کې وایي: فأما من نفى صفة من صفات الله تعالى الذاتية، أو جحدها مستبصرا في ذلك كقوله: ليس بعالم ولا قادر ولا مريد ولا متكلم وشبه ذلك من صفات الكمال الواجبة له تعالى فقد نص أئمتنا على الإجماع على كفر من نفى عنه تعالى الوصف بها وأعراه عنها.

ژباړه: چا چې د الله تعالی له ذاتي صفاتو څخه یو صفت نفي کړ، یا یې سره له پوهې ترې انکار وکړ لکه چې وایي: الله تعالی لپاره د علم، قدرت، اراده، کلام (خبرو) او دې ته ورته

نور د كمال واجبه صفتونه ثابت نه دي، نو زمونږ امامانو په اجماع سره هغه چا ته كافر ويلي دي چې له الله تعالى څخه دغه صفات نفي كړي او رد يې كړي.

نو دغه حاكمانو هم د الله تعالى ډېرى صفات نفي كړي او رد كړي دي لكه د حاكم، حكم، حكيم صفتونه او هم يې تحريف كړي دي، انسانانو ته يې ثابت كړي دي.

## شپږمه اجماع:

د هغه چا په كفر چې مسلمانان يوازې د دين له امله وژني چې بل هيڅ جرم نه لري لكه نن سبا چې دغه طواغيت، مسلمانان يوازې د همدې له امله وژني چې دوى مجاهدين دي، داعيان د حق دى او نور.

ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د ورته مسئلې سوال په ځواب كې وايي:

**أما إذا قتله على دين الإسلام: مثل ما يقاتل النصر اني المسلمين على دينهم: فهذا كافر شر من الكافر المعاهد فإن هذا كافر محارب بمنزلة الكفار الذين يقاتلون النبي صلى الله عليه وسلم وأصحابه وهؤلاء مخلدون في جهنم كتخليد غيرهم من الكفار[مجموع الفتاوى ٣٤/ ١٣٧].**

ژباړه: كه د اسلام له وجې يې ووژني لكه څنګه چې يو نصراني د مسلمانانو سره د دين له وجې جنګيږي نو دا به كافر وي، له معاهد كافر څخه به هم بدتر وي، ځكه دا جنګېدونكى كافر د هغه كافرانو په څېر دى چې د نبي عليه السلام او صحابه وو سره به جنګېدل او دوى به هميشه جهنم كې وي لكه څنګه چې نور كافران هميشه په جهنم كې وي.

شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **وكذلك نكفر من حسنه (أي الشرك) للناس، أو أقام الشبه الباطلة على إباحته، وكذلك من قام بسيفه دون هذه المشاهد التي يشرك بالله عندها، وقاتل من أنكرها وسعى في إزالتها؛ والله المستعان، اهـ [الرسائل الشخصية الرسالة العاشرة.١/ ٦٠].**

ژباړه: او همداراز مونږ هغه څوک تكفيروو چې شرك خلكو ته ښايسته كوي يا باطلې شبهې د شرك په جواز كې خلكو ته اچوي او همداسې چا چې په خپلې توري سره د دغه شركي ځايونو دفاع وكړه هغه ځايونه چې په خوا كې يې په الله تعالى كفر كيږي او له هغه چا سره وجنګېده چې له دغه زيارتونو څخه انكار كوي او د نړولو كوښښ يې كوي.

شیخ عبد اللطيف بن عبد الرحمن بن حسن بن محمد بن عبد الوهاب چې د فتح المجيد مصنف دی هغه ويلي دي: **والشيخ (أي الشيخ محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ) لم يكفر إلا من كفره الله ورسوله وأجمعت الأمة على كفره؛ كمن اتخذ الآلهة والأنداد لرب العالمين، ولم يلتزم ما جاءت به الرسل من الإسلام والدين، أو جحد ما نطق به الكتاب المبين، من صفات الكمال، ونعوت الجلال لرب العالمين، وكذلك من نصب نفسه لنصرة الشرك والمشركين. اهـ.**

**[عيون الرسائل والأجوبة على المسائل للشيخ عبد اللطيف بن عبد الرحمن آل الشيخ ٢/٩٧٣ ].**

ژباړه: شیخ محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ پرته له هغه چا چې الله تعالی او د هغه رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تکفير کړی وي او امت يې په تکفير اجماع کړي وي؛ بل څوک نه دی تکفير کړی، لکه هغه څوک چې له الله تعالی سره نور برخه داران جوړوي او د دين اسلام د هغه احکامو پابندي ونکړي چې پيغمبرانو راوړي دي يا د الله تعالی د کمال او جلال صفاتو څخه انکار وکړي هغه چې قران کې ذکر دي او همدا راز څوک چې د شرک او مشرکانو د کومک لپاره ودريږي.

په دې کې د اجماع لپاره استدلال په دې خبره کېږي چې وايي: **وكذلك من نصب نفسه لنصرة الشرك والمشركين.** نو دوی هم مسلمانان د شرک د ترويج د مخنيوي له امله وژني چې په کفر يې اجماع شوې.

نو دا اجماع ګاڼي چې په کومو اوصافو مونږ رانقل کړې هغه اوصاف په دغه حاکمانو کې په اوچته کچه شتون لري چې له هېڅا څخه پټ نه دي نو د امت په اجماع کافر دي، سره له دې چې په کفر يې نور ګڼ دلايل هم شتون لري خو يوازې اجماع هم په دې اړه بسنه کوي ځکه چې اجماع په شريعت کې مستقل دليل ده لکه شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **وإذا ثبت إجماع الأمة على حكم من الأحكام لم يكن لأحد أن يخرج عن إجماعهم؛ فإن الأمة لا تجتمع على ضلالة[مجموع الفتاوى ٢٠/ ١٠].**

ژباړه: کله چې د امت اجماع د الله تعالی د يو حکم په اړه ثابته شي؛ هېڅا ته جايز نه دي چې د دوی له اجماع څخه وځي ځکه دا امت په ګمراهۍ نه متفق کېږي.

او په بل ځای کې وايي: **فالإجماع مع النص دليلان كالكتاب والسنة. [مجموع الفتاوى ١٩/ ٢٧٠].**

ژباړه: اجماع سره له نص(دليل) دواړه د کتاب او سنت په څېر دليلونه دي.

امام شوکاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ په ارشاد الفحول کې دې ته اشاره کړې چې اجماع مستقل حجت دی [ارشاد الفحول صـ ٧٦]

نو اجماع د ټول امت په نزد مستقل حجت ده په ځانګړې توګه د هغه خلکو په نزد چې د سلفيت دعوه لري، نو اوس که ريښتيا هم د کتاب ليکوال او پلويان يې ريښتني سلفيان وای نو د وضعي قانون حاکم به يې تکفير کړی وای او دفاع به يې ورڅخه نه وی کړې خو دوی د دغه حاکمانو ډېره کلکه دفاع کړې او د دوی هغه کړنو ته چې په کفر يې اجماع شوې؛ له ځانه يې ورته دلايل تراشلي چې دا د مسلمانانو طريقه نه ده.

## شپږم مبحث: په آيتونو د سورة مائده کې د ابن عباس د اثر نه په کفر دون کفر سره استدلال شبهې رد.

## د اثر د ابن عباس "کفر دون کفر" تحقيق.

وس د هغه اثر تحقيق کوو کوم چې د سورة مائده د آيتونو په تفسير کې ابن عباس رضي الله عنهما ته منسوب دی چې کفر دون کفر دی نو د دغه اثر په اړه مونږ وايو چې کله

په مسئله کې داسې قاطع دلايل موجود شو چې ټولو په دې دلالت کاوه چې په آيت کې د کفر نه اکبر کفر مراد دی نو له دغې دلايلو وروسته دغه شبهې ته هېڅ لار نه پاتې کېږي بلکې داسې شبهات کول د صحابه وو د شان سره مناسب نه دي د هغوی سيرت د مرتدينو په اړه بيخي واضح دی چې د زکات مانعينو سره يې يوازې د امتناع الزكاة له امله جهاد کړی و او په کفر يې ورله اجماع کړې نو په داسې غټو مسئلو کې چې د شريعت خلاف قانون سازي او تبديل د احکامو دی په دې کې خو ورباندې هېڅکله دا گومان نه دی پکار چې داسې خلکو کفر ته دون کفر وايي او د صحابه وو خبره د داسې خلکو په اړه هم مراد کړي نو دا انصاف نه دی، له دې امله مونږ ويلی شو چې ابن عباس رضي الله عنهما ته د دغه اثر نسبت د دوه حالاتو نه خالي نه دی يا به د دغه اثر نسبت صحيح ثابت نه وي او يا به هم دغه اثر د بلې موضوع په اړه وي چې زمونږ له بحث څخه به بيخي جدا وي نو له دې امله د دغه خبرو په اړه تحقيق ته راځو نو اول يې د سند تحقيق کوو:

## ضعف أثر ابن عباس "وليس كمن كفر بالله واليوم الآخر، وبكذا وكذا"،من ناحية السند.

په دې اړه دوه روايتونه نقل دي:

اول روايت په دې الفاظو دی: وليس كمن كفر بالله واليوم الآخر، وبكذا وكذا، دا ابن جرير راوړی.

لکه ابن جرير وايي: **حدثني الحسن قال، حدثنا أبوأسامة، عن سفيان، عن معمر، عن ابن طاوس، عن أبيه قال: قال رجل لابن عباس في هذه الآيات:"ومن لم يحكم بما أنزل الله"، فمن فعل هذا فقد كفر؟ قال ابن عباس: إذا فعل ذلك فهو به كفر، وليس كمن كفر بالله واليوم الآخر، وبكذا وكذا. [تفسير الطبري ١٠/ ٣٥٦ رقم: ١٢٠٥٤].**

ژباړه: ماته حسن حديث بيان کړی هغه ته ابو اسامه حديث بيان کړی، هغه د سفيان نه، هغه د معمر هغه د ابن طاوس او ابن طاوس يې د خپل پلار نه نقل کوي هغه وايي: يو سړي ابن عباس ته د دې آيتونو په اړه وويل چې الله تعالی فرمايي: "ومن لم يحكم بما أنزل الله"،آيا چا چې داسې وکړل هغه به کافر وي؟ ابن عباس رضي الله عنهما وويل: کله چې داسې کار وکړي نو دا به په دې سره کافر وي خو د هغه چا

پشانته کافر به نه وي چې په الله او په ورځ د آخرت او په دې، دې يې کفر کړی وي.

دا روايت مدرج المتن دی، مدرج هغه روايت دی چې د اصل نه په کې زيادت شوی وي برابره ده که مدرج المتن وي او که مدرج السند وي او که ادراج په مرفوع کې وي او که موقوف کې وي، خو دا زيادت به په دې طريقه پېژندل کېږي چې کله د دې حديث ټول سندونه راجمعه کړې او په يو سند سره يې دغه کلمات جدا راوړل شوي وي يا راوي پخپله د دې بيان کړی وي او يا هم د دې فن ماهرينو دغه خبر ورکړی وي، باعث د ادراج؛ تفسير د حديث وي يا استنباط د مسايلو وي.

شيخ احمد شاکر په خپل کتاب [الباعث الحثيث إلى إختصار علوم الحديث صـ ٦٤] کې وايي: **أما الإدراج في تفسير شيء من معنى الحديث ففيه بعض التفاوت والأولى أن ينص الراوي على بيانه" اهـ**

ژباړه: هر چې ادراج دی په تفسير د يو شي کې د حديث له معنا څخه؛ په دې کې ځينې توپير شته خو غوره دا ده چې راوي پخپله دا خبره بيان کړي.

استدلال ترې په دې خبره کې کوو چې مدرج روایت هغه ته وایي چې د حدیث د الفاظو تفسیر په کې پرته له جداوالي شوی وي نو لیدونکي ته دا وهم راځي چې دغه الفاظ به هم د اصلي حدیث له الفاظو څخه وي.

او بیا وروسته شیخ احمد شاکر په همدغه کتاب کې وایي: **ويعرف المدرج بوروده منفصلا في رواية أخرى أو بالنص على ذلك من الراوي.**

ژباړه: مدرج روایت به په دې طریقه پېژندل کېږي چې کله په بل روایت کې دغه زیاتي الفاظ جدا راغلي وي او یا هم په دغه زیادت باندې پخپله راوي خبر ورکړي.

بیا د مدرج حدیث حکم دا دی چې دغه زیادت به یې مردود وي خو نور الفاظ چې یې صحیح ثابت وي هغه به یې قبول وي. نو علماء د حدیث چې کله د یو حدیث په اړه بحث کوي اول یې د علت په اړه بحث کوي چې آیا مدرج خو نه دی که مدرج وي نو هغه الفاظ ورله پرېږدي او نور صحیح الفاظ ورله قبلوي، همدا راز شاذ یا نور علتونه د ضعف ورله معلوموي بیا په حدیث حکم کوي. نو دلته هم د ابن عباس رضي الله عنهما دغه ذکر شوی اثر مدرج دی په دې دلیل چې همدغه روایت په

بل صحيح سند سره نقل دی هغه کې راوي پخپله په ادراج تصريح کړې ده لکه هغه حديث داسې دی:

**حدثنا الحسن بن يحيى قال، أخبرنا عبد الرزاق قال، أخبرنا معمر، عن ابن طاوس، عن أبيه قال: سئل ابن عباس عن قوله:"ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون"، قال هي به كفر= قال: ابن طاوس: وليس كمن كفر بالله وملائكته وكتبه ورسله.[تفسير الطبري رقم الحديث: ١٢٠٥٥].**

ژباړه: مونږ ته حسن بن يحيى حديث بيان کړی دی هغه وايي مونږ ته عبد الرزاق خبر راکړی دی هغه وايي مونږ ته معمر خبر راکړی دی هغه يې د طاوس نه نقل کوي هغه يې د خپل پلار نه نقل کوي هغه وايي: ابن عباس نه د الله تعالى د دې وينا په اړه پوښتنه وشوه چې الله تعالى فرمايي: ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون، ابن عباس رضي الله عنهما وويل: دا په دې سره کافر شوی دی، ابن طاوس ويلي دي: خو د هغه چا په څېر کافر نه دی چې په الله، ملايکو، کتابونو او په رسولانو يې کفر کړی وي.

نو په دې روايت کې پخپله راوي د دې تصريح وکړه چې په حديث کې ادراج شوی دی، برابره ده که بل راوي ادراج

کړی وي او که ابن طاوس پخپله ادراج کړی وي خو راجح همدا ښکاري چې پخپله يې ادراج کړی دی. نو دا حديث د مخکني حديث په پرتله صحيح دی او هغه حديث ضعيف هم دی نو دغه ادراج به ترې ختم شي او د ابن عباس خپله خبره به پاتې شي، له همدې امله ابن کثير چې خپل تفسير يې د ابن جرير له تفسير څخه خلاصه کړی او ډېر احاديث په کې د ابن جرير دي هغه چې دا حديث راوړي نو يوازې د عبد الرزاق په سند سره يې راوړي او د سفيان بن عيينه په سند سره يې نه راوړي چې دا هم د دې روايت ادراج ته اشاره ده او همداسې کار محمد بن نصر المروزي په خپل کتاب "قدر الصلاة" کې کړی دی چې همدغه د عبد الرزاق په سند سره يې دا روايت نقل کړی او سفيان بن عيينه روايت ته يې هيڅ اشاره نه ده کړې. معلومه شوه چې دغه خبره د ابن عباس رضي الله عنهما نه ده بلکې د ابن طاوس يا د بل راوي ده.

## دویم روایت: لیس بالکفر الذي تذهبون الیه. یا کفر دون کفر.

دویم روایت چې په دې اړه ابن عباس ته منسوب دی ابن جریر نه دی راوړی بلکې ابن کثیر او حاکم راوړی دی دواړو د سفیان بن عیینه په سند سره راوړی دی لکه ابن کثیر وایي:

**حدثنا سفيان بن عيينة، عن هشام بن حجير، عن طاوس، عن ابن عباس في قوله ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون قال: ليس بالكفر الذي تذهبون إليه [ورواه الحاكم في مستدركه من حديث سفيان بن عيينة، وقال: صحيح على شرط الشيخين، ولم يخرجاه.[ابن كثيرط دارالكتب العلمية ٣/ ١٠٩].**

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل دي د الله تعالی د دې وینا په اړه چې فرمایي: ومن لم یحکم بما أنزل الله فأولئك هم الکافرون، ابن عباس وایي: دا هغه کفر نه دی چې تاسو یې ترې مراد کوئ. خو حاکم چې دا حدیث راوړی دی نو ویلي دي: دا حدیث د شیخینو په شرطونو صحیح دی خو هغوی نه دی راوړی.

## د حاكم په اړه د علماء الحديث جرحه.

حاكم چې دې حديث ته صحيح ويلي دي په اړه يې د علماوو جرحه رانقلوو:

ابن صلاح په خپله مقدمه کې ويلي دي: **وهوواسع الخطو في شرط الصحيح، متساهل في القضاء به [مقدة ابن صلاح صـ٢٢].**

ژباړه: حاكم د شيخينو په شرطونو کې ډېره پراخي کړې، په حديث باندې د حکم په اړه ډېر متساهل(نرمي کوونکی) دی.

حافظ العراقي په خپل کتاب "التقييد والإيضاح شرح مقدمة ابن الصلاح" کې ويلي دي: **وقد تعقبه بعض من اختصر كلامه وهو مولانا قاضي القضاة بدر الدين بن جماعة فقال إنه يُتتبع ويُحكم عليه بما يليق بحاله من الحسن أو الصحة أو الضعف وهذا هو الصواب. اهـ**

ژباړه: ځينو چې د حاكم خبره رانده کړې نو اعتراض يې پرې کړی دی چې هغه مولانا قاضي القضاة بدر الدين بن جماعه دی، نو ويلي دي: د حاكم د احاديثو تالاش به کېږي او مناسب

حکم به وربانديږ کيږي چې حسن يا صحيح يا ضعيف دي او همدا خبره حق ده.

د حاکم په اړه زيات تفصيل لپاره "تدريب الراوي" د سيوطي ته رجوع وکړئ.

## د حاکم د دغه اثر د توثيق رد:

حاکم دغه روايت کې د هشام ابن حجير څخه نقل کړی چې ضعيف راوي دی حديث يې د متابع په وجود کې د اعتبار وړ دی خو د احتجاج وړ نه دی لکه څنگه چې د علم الحديث فن علماوو ويلي دي. بخاري او مسلم هم په متابعات کې ورله راوايت راوړی دی، مستقل احتجاج يې وربانديږ نه دی کړی. حافظ زيلعي هم دې خبرې ته اشاره کړې هغه وايي: **ومن أكثرهم تساهلا، الحاكم أبوعبد الله في كتابه المستدرك، فإنه يقول: هذا حديث على شرط الشيخين، أو أحدهما، وفيه هذه العلة، إذ لا يلزم من كون الراوي محتجا به في الصحيح أنه إذا وجد في أي حديث، كان ذلك الحديث على شرطه لما بيناه،بل الحاكم كثيرا ما يجيء إلى حديث لم يخرج لغالب روا اته في الصحيح، كحديث روي عن عكرمة عن ابن عباس، فيقول فيه: هذا حديث على شرط البخاري يعني لكون البخاري أخرج لعكرمة، وهذا أيضا تساهل،**

**وكثيرا ما يخرج حديثا بعض رجاله للبخاري، وبعضهم لمسلم، فيقول: هذا على شرط الشيخين، وهذا أيضا تساهل، وربما جاء إلى حديث فيه رجل قد أخرج له صاحبا الصحيح عن شيخ معين لضبطه حديثه وخصوصيته به، ولم يخرجا حديثه عن غيره لضعفه فيه، أولعدم ضبطه حديثه، أولكونه غير مشهوربالرواية عنه، أولغير ذلك، فيخرجه هو عن غير ذلك الشيخ، ثم يقول: هذا على شرط الشيخين، أوالبخاري. أومسلم، وهذا أيضا تساهل، لأن صاحبي الصحيح لم يحتجا به إلا في شيخ معين، لا في غيره، فلا يكون على شرطهما[نصب الراية للحافظ الزيلعي ١/ ١١].**

ژباړه: د حديثو په توثيق کې ډېره نرمي حاکم ابو عبد الله په خپل کتاب "المستدرك" کې کړې ځکه هغه وايي: دا حديث د شيخينو په شرط برابر دی يا په کې د يو په شرط برابر دی او په دې کې دا علت دی، ځکه له دې څخه دا نه لازمېږي چې يو راوي باندې په صحيحينو کې احتجاج شوی وي، چې دا راوي په هر حديث کې راغلی نو دا حديث به د صحيح په شرط وي له هغه امله چې مونږ ذکر کړ، بلکې حاکم ډېر کرت يو حديث ته راشي چې د هغه روايت زياتره راويان په صحيح کې نه وي راغلي لکه هغه حديث چې د عکرمه عن ابن عباس په سند سره راغلی وي نو حاکم د داسې حديث په اړه وايي: دا

حديث د بخاري په شرط برابر دی يعني ځکه چې بخاري د عکرمه حديث په خپل صحيح کې راوړی وي، نو دا هم تساهل دی او ډېر کرت يو حديث راوړي چې ځيني راويان يې د بخاري وي او ځيني يې د مسلم وي نو د هغې په اړه وايې: دا د شيخينو په شرط برابر دی، او دا هم تساهل(نرمي) ده او ډېر کرت يو حديث ته راشي چې په هغې کې يو سړی وي چې شيخينو ورله حديث په خپل صحيحينو کې د يو معيّن شيخ څخه نقل کړی وي له دې امله چې (راوي ته) د دغه شيخ حديث ورته ياد وي او همدغه شيخ پورې د ده د حديث صحت خاص وي، خو دغه راوي چې له نورو شيخانو څخه کوم حديث نقل کړی وي هغه يې ورله په خپل صحيح کې نه وي راوړی ځکه چې دې راوي ته د دغه شيخ حديثونه ياد نه وي يا له هغه څخه په روايت کې مشهور نه وي يا له نورو وجو نه، نو حاکم دغه حديث چې له نورو شيخانو څخه يې نقل کړی دی هم په خپل کتاب کې راوړي او بيا وايي: دا حديث د شيخينو په شرطونو برابر دی يا د بخاري يا د مسلم په شرط برابر دی، نو دا هم تساهل دی ځکه چې شيخينو د دغه راوي حديث په يو معلومداره شيخ کې احتجاج کړی وي او په نورو

شيخانو کې يې پرې احتجاج نه وي کړی نو دا حديث به د شيخينو په شرط برابر نه وي.

نو په دغه اثر کې د هشام ابن حجير متابع نشته.

هشام ابن حجير ته ډېرو محدثينو ضعيف ويلي دي:

امام احمد ويلي دي: **ليس بقوي**،

مکي ويلي دي: ضعيف الحديث،

يحيى بن القطان ورته ضعيف ويلي دي.

علي بن المديني، عقيلي په خپلو کتابونو، او ابن عدي په "الکامل کې ورته ضعيف ويلي دي. ابن معين ورته ضعيف جدًّا ويلي دي

که څه هم دغه راوی نيک سړی تير شوی عدالت کې يې خبره نشته، خو په ضبط الحديث کې قوي نه دی.

ابن حجر ويلي دي: **صدوق له اوهام**، دا اصطلاح محدثين د هغه راوي په اړه کاروي چې عند المتابعة يې روايت قبول وي.

سفيان بن عيينه وايي: **لم نأخذ عنه الا ما لم نجد عند غيره،** نو هشام په دې روايت کې تفرد کړی دی چې صحيح متابع او شاهد يې نشته.

ابو حاتم ويلي دي: **هشام يكتب حديثه،** حافظ ذهبي په خپل كتاب [ميزان الاعتدال ٢/ ٣٨٥]، کې وايي: د ابن ابى حاتم دغه اصطلاح د هغه چا په اړه کاروي: **أنه عنده ليس بحجة.** يعني بالذات حجت نه وي، خو عند المتابعة حجت وي.

په دې اړه د ابن حجر كتاب[ فتح الباري ١/ ٤٤٧] كتلى شئ.

ابن حجر ويلي دي: **صدوق له أوهام.** [تقريب التهذيب: ١/ ٥٧٢]، يعني پرته له شاهد او متابع يې روايت قبول نه دی.

نو امام بخاري چې ورله كوم حديث راوړی دی په هغه کې يې متابع عبد الله بن طاوس دی.

او مسلم هم ورله دوه حديثونه راوړي دي چې بل ځای کې يې ورله متابعات او شواهد راوړي دي.

نو په ذكر شوي روايت کې يې نه متابع شته او نه شاهد.

هغه علماء چې د هشام بن حجير توثيق يې کړی:

حاکم، ابن حبان، او عجلي دي چې په تساهل معروف دي.

حافظ محدث عبد الرحمن بن يحيى المعلمي اليماني (المتوفى ١٣٨٦هـ )په خپل کتاب [الأنوار الكاشفة صـ ٦٨] کې وايي: **وتوثيق العجلي وجدته بالاستقراء، كتوثيق ابن حبان أو أوسع.**

ژباړه: د عجلي توثيق ما له پوره تالاش وروسته موندلی دی چې د ابن حبان د تو ثيق په څير دی يا له هغې نه هم وراخواته.

او بل دا چې: عجلي په توثيق د دغه راوي کې د نورو ثقة امامانو خلاف هم کړی دی لکه امام احمد، ابن معين، مدني، مکي، نو له دې وجې توثيق يې قبول نه دی.

دا د هشام بن حُجير د هغه اثر حال و چې متابع يې نشته نو له دې امله ضعيف دی.

## دويمه وجه د ضعف: عنعنة سفيان بن عيينة.

سفيان بن عيينه چې د راويانو له دويمې طبقې څخه دی او مشهور په تدليس دی،خو دا چې نوموړی حافظ او ثقه دی؛ تدليس يې له ثقات څخه صحيح دی. خو دلته يې تصريح په سماع نه ده کړې بلکې عنعنه يې کړې چې تدليس ترې فهمېږي نو له دې وجې تدليس يې قبول نه دی. نو هشام بن حجير چې په عدالت کې يې عيب نشته خو ضبط کې خبره ده نو له دې وجې ضعيف دی نو سفيان بن عيينه چې تدليس د ضعيف راوي څخه کړی؛ د منلو وړ نه دی. نو دا يې د سند په لحاظ سره د ضعف دويم علت شو.

## دويم مبحث: دغه اثر د متن له اړخه هم ضعيف دی.

## او د دې پنځه وجې دي:

**اوله وجه:** له ابن عباس څخه پخپله د آيت شان نزول په دواړو وجو سره ثابت دی چې دا آيتونه د يهودو په اړه نازل شوي دي برابره ده که د زنا په مسئله کې نازل شوي وي او که د ديت په مسئله کې. او د يهودو کفر خو اصغر نه دی بلکې اکبر دی.

**دويمه وجه**: له ابن عباس رضي الله عنهما څخه د دغه آيتونو دويم شان نزول د يهودو ديت مسئله ذکر شوې چې د دغه روايت په اخر کې راځي: **فيهما والله نزلت و إياهما عنى الله عزوجل.[مسند أحمد بن حنبل رقم: ٢٢١٢]**، ژباړه: قسم په الله چې د دغه دوه کسانو په اړه نازل شوی او همدوی ورڅخه د الله تعالى مراد دي. دې روايت ته شيخ احمد شاکر په تحقيق د مسند کې صحيح ويلي دي، مخکې ذکر شو. بيا دا حديث د براء بن عازب رضي الله عنه د حديث په څېر دی چې د دغه آيتونو شان نزول په کې بيان شوی او په آخر کې يې دي: **في الكفاركلها. [صحيح مسلم رقم: ١٧٠٠]**، ژباړه: د ټولو کفارو په اړه دی، نو دا قاطع دليل دی په دې چې په آيت کې د کفر نه مراد اکبر کفر دی ځکه د يهودو کفر اصغر نه دی.

**دريمه وجه**: يو سند يې داسې دی: - **حدثنا الحسن بن يحيى قال، أخبرنا عبد الرزاق قال، أخبرنا معمر، عن ابن طاوس، عن أبيه قال: سئل ابن عباس عن قوله:ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون، قال هي به كفر،قال: ابن طاوس: وليس كمن كفر بالله وملائكته وكتبه ورسله [تفسير الطبري حديث رقم : ١٢٠٥٥]**.

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه د دې آيت په اړه پوښتنه وشوه چې الله تعالى فرمايي: ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون، هغه وفرمايل: دا په دې سره كافر دی، ابن طاوس وايې: دا د هغه چا په څېر كافر نه دی چې په الله تعالى، په ملايكو، كتابونو او رسولانو يې كفر كړی وي.

نو ابن عباس پخپله په دې روايت كې ورته كفر ويلي دي او كفر چې كله مطلق ذكر شي مراد ترې كفر اكبر دی. او وروسته چې ابن طاوس كوم تفسير كړی دی نو هغه يې ابن عباس ته نه دی منسوب كړی معلومه شوه چې د ابن عباس دغه قول نه دی.

خو په سند د هشام بن حجير عن طاوس كې چې ابن عباس ته د كفر دون كفر نسبت شوی دی نو هغه روايت د هشام له امله ضعيف دی ځكه چې هشام بن حجير ضعيف راوي دی او متابع يې نشته، سفيان بن عيينه په كې عنعنه كړی چې په تدليس دليل ده او تدليس يې له ضعيف راوي صحيح نه دی او هم يې د ابن طاوس چې ثقه راوي دی خلاف كړی دی، نو داسې حديث معلّل وي  په ځانګړي توګه كله چې ضعيف

راوي د ثقه خلاف وکړي نو هغه روایت ته منکر وایي او که ثقه په کې د اوثق خلاف وکړي هغه ته شاذ وایي.

الغرض دغه روایت په دوه سندونو سره راغلی چې یو کې هشام عن طاوس دی دا روایت ضعیف دی او دویم طاوس عن أبیه طاوس چې دا صحیح دی او همدا محفوظ روایت دی او په دې کې د کفر دون کفر نسبت ابن عباس ته نه دی شوی. نو کفر یې مطلق ویلي او صحیح قرینه نشته چې مقید یې کړي په کفر دون کفر سره، نو مراد ورڅخه کفر اکبر دی.

**څلورمه وجه:**

د نسائي صحیح ثابت روایت چې مخکې د ابن عباس رضي الله عنهما په سند سره ذکر شو هغه کې دي: **عن ابن عباس قال: كانت ملوك بعد عيسى ابن مريم عليه الصلاة والسلام بدلوا التوراة والإنجيل، وكان فيهم مؤمنون يقرءون التوراة قيل لملوكهم: ما نجد شتما أشد من شتم يشتمونا هؤلاء، إنهم يقرءون: {من لم يحكم بما نز الله فألئك هم الكافر}، وهؤلاء الآيات مع ما يعيبونا به في أعمالنا في قراءتهم، فادعهم فليقرءوا كما نقرأ، وليؤمنوا كما آمنا،**

**فدعاهم، فجمعهم، وعرض عليهم القتل أو يتركوا قراءة التوراة والإنجيل، إلا ما بدلوا منها، [سنن النسائي حديث رقم : ٥٤٠٠].**

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل دي هغه وايي: د عيسی بن مريم عليهما السلام څخه وروسته څه پاچاهان وو چې تورات او انجيل يې بدل کړي وو، او په دوی کې مؤمنان وو چې تورات به يې لوستلو، نو پاچاهانو ته يې وويل شو: مونږ داسې سختې بدې ردې نه مونده کوو څومره چې دغه کسان مونږ پسې وايي، دوی دا آيت لولي: چا چې د الله تعالی په رالېږلي قانون فيصله ونکړه هغوی کافر دي. دغه آيتونه چې دوی يې په لوستلو سره زمونږ په کړنو عيب وايي؛ دوی دې ته راوبله چې داسې يې ولولي لکه څنګه چې مونږ لولو او داسې ايمان دې راوړي لکه څنګه چې مونږ ايمان راوړی دی نو دوی يې راوغوښتل، راجمعه يې کړل او د مرګ اخطار يې ورته ورکړ يا دې د تورات او د انجيل لوستل پرېږدي مګر هغه تورات او انجيل چې دوی بدل کړی و(لوستلی شي).

په دې روايت کې هم د دې خبرې تائيد شوی چې د سورة مائده په ذکر شوي آيت کې د کفر نه اکبر کفر مراد دی، په دې اړه څلور قرائن شتون لري:

**اوله قرينه:** د "بدّلوا" لفظ يې راوړی او په دې اجماع ده چې د شريعت نصوص بدلول کفر اکبر دی.

شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: **ومعلوم أن من أسقط الأمر والنهي الذي بعث الله به رسله فهو كافر باتفاق المسلمين واليهود والنصارى، اهـ [مجموع الفتاوى ٨/ ١٠٦]،**

ژباړه: دا معلومه خبره ده چا چې د الله تعالی امر او نهي هغه چې پيغمبران يې ورباندې راليږلي دي وغورځوله (يعنې عمل يې ورباندې پريښود) نو هغه د مسلمانانو، يهودو او نصاراو په اتفاق کافر دی.

**دويمه قرينه دا ده:** د دغه آيت تلاوت يې په سختو کنځلو سره تعبير کړی او د کنځلو يا بدو ردو تر ټولو اوچته کچه په يو چا د کفر تهمت لګول دي او دا خبره مونږ ذکر کړې وه چې د آيت لغوي بنا په اعلی درجه د کفر دليل ده.

**دريمه قرينه دا ده:** چې دوی وويل: وليؤمنوا كما آمنا، او ايمان په مقابل د کفر کې راځي ځکه د شريعت احکام په ظاهر جاري کېږي چې قرينه کله نه وي نو د ايمان مقابل کې به کفر مراد وي.

**څلورمه قرينه**: پاچا دوی ته د دوه خبرو تر منځ اختيار ورکړ يا مرګ يا منحرف دين ته اوړيدل. او د مرګ اخطار څوک چا ته د عامو ګناهونو په تهمت سره نه ورکوي بلکې دا دليل دی چې دوی د پاچا ډله تکفيروله.

**پنځمه وجه**: ابن جرير طبري او ابن ابي حاتم د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل کړي چې هغه وايي: **كل شيء نسبه الله إلى غير أهل الإسلام من اسم مثل خاسر ومسرف وظالم وفاسق فإنما يعني به الكفر وما نسبه إلى أهل الإسلام فإنما يعني به الذنب[الدر المنثور في التفسير بالمأثور للسيوطي ١/ ١٠٥]**.

ژباړه: هر نوم چې الله تعالی يې کفارو ته منسوب کړي لکه خاسر (تاواني)، مسرف (اسراف کوونکی)، ظالم، او فاسق؛ نو له دې څخه به کفر مراد وي او په دغو کې چې کوم نوم مسلمانانو ته منسوب شي نو په هغې سره به ګناه مراد وي.

نو ابن عباس رضي الله عنهما پخپله د دې تصريح وکړه چې د دغه اوصافو نسبت کله کفارو ته وشي مراد به ترې کفر اکبر وي. نو دا سره له دې چې ابن عباس پخپله په شان نزول کې داسې ويلي دي چې دا آيتونه د يهودو په اړه نازل شوي دي او

نسبت يې کفارو ته شوی، نو فلهذا کفر اکبر به ورڅخه مراد وي نه اصغر.

**شپږمه وجه**: ابن عباس مونږ ته د بل آيت شان نزول هم نقل کړی چې هغه د تشريع او تبديل په کفر کې قاطع دليل دی او هغه دا آيت دی چې الله تعالى فرمايي: وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ إِنَّكُمۡ لَمُشۡرِكُونَ. ابن عباس رضي الله عنهما د دې آيت په شان نزول کې وايي: **يوحي الشياطين إلى أوليائهم تأكلون مما قتلتم، ولا تأكلون مما قتل الله؟ [ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٣/ ٢٩٥]**.

ژباړه: شيطانان خپلو دوستانو ته وحي کوي چې تاسو څنګه د هغه څه نه خوراک کوئ چې تاسو وژلی وي او له هغه څه نه يې نه کوئ چې الله وژلی وي؟. دا آيت په دې خبره ښکاره دليل دی چې د الله تعالى له يو حکم څخه اوښتل او پر ځای يې د شريعت خلاف بل قانون حاکمول کفر دی چې مخکې مو په دې اړه د شيخ شنقيطي قول هم نقل کړی و چې هغه وايي: **وهذا الشرك مخرج عن الملة بإجماع المسلمين،[أضواء البيان في إيضاح القران بالقران ٣/ ٤١]**.

ژباړه: او دا شرک له اسلام څخه په اجماع د مسلمانانو ویستونکی دی. نو شیخ د هغه چا په کفر اجماع رانقل کړې چې د شریعت قوانین په نورو سره بدلوي چې د دې اجماع سر صحابه دي هغه چې د علم سرچینې او د پیغمبر حقیقي وارثان دي چې له دغه صحابه و څخه یو ابن عباس رضي الله عنهما هم دی چې مونږ ته یې دغه اثر رانقل کړی دی.

نو دا شپږ وجې شوې چې په دې قطعي دلیل دي چې په آیت کې د کفر نه مراد کفر اکبر دی، نو کله چې اولني درې علتونه چې په سند کې وو هغه راجمعه شي هغه دا چې: هشام بن حجیر په کې ضعیف دی، سفیان په کې عنعنه کړی او هشام د ابن طاوس څخه خلاف کړی او دغه شپږ علتونه د متن د ضعف ورسره یو ځای شي نو هیڅ احتمال د دې نه پاتې کیږي چې ابن عباس ته دې کفر دون کفر تفسیر منسوب شي. نو اثر ضعیف دی ځکه چې د صحیح حدیث شرطونه په کې نه موندل کیږي چې هغه د علت څخه خالي والی دی.

## ابن عباس ته منسوب د"كفر دون كفر" صحيح محمل.

د ابن عباس دغه اثر که بالفرض صحيح هم شي خو دغه معنا يې نه ده کومه چې ترې د دې زمانې مرجئه اخلي بلکې دا خبره يې يو خاص موضوع، او خاص محمل لري چې وروسته به ذکر شي خو وس دومره وايو چې د ابن عباس رضي الله عنهما په زړه کې به هم داسې نه وو تير شوې چې داسې زمانه به راشي چې د الله تعالى احکام به په وضعي قوانينو بدليږي او بدلوونکو ته به يې څوک کافر نه وايي، دا ځکه چې د صحابه وو دريځ د شريعت د تبديل او د تشريع په اړه روښانه دی، هغوی د شريعت د احکامو تعطيل هېڅکله نه دي منلي بلکې مانعينو د زکات سره يې يوازې د شريعت د يو حکم له امله جهاد کړی دی او تکفير کړي يې دي حال دا چې د هغوی کفر د دې زمانې له حاکمانو ډېر کم و، د هغوی په زمانه کې تشريع د قوانينو او تبديل د احکامو معروف نه و بلکې له هغوی وروسته تر اوه پېړيو پورې چا د قوانينو تشريع او تبديل نه پېژنده، د هغوی د زمانې حاکمان که د دې زمانې له حاکمانو سره پرتله کول وغواړو نو حجاج به يې په مثال کې ورکړو هغه چې په ظلم او په وژنو مشهور و تر دې چې ځينو سلفو

تكفير کړی هم دی لکه سعيد بن جبير، شعبي او نورو، خو د کفر لامل يې ورله تشريع او تبديل نه دی ياد کړی که څه هم راجح خبره همدا ده چې حجاج کافر نه و بلکې ظالم و لکه په يو حديث کې ورته اشاره شوې او "مبير" نوم ورته کارول شوی چې اسماء بنت ابي بکر د دغه حديث نه د حجاج په اړه استدلال کړی دی خو که د حجاج حال ته هم فکر وکړو نو د دې زماني د حاکمانو په پرتله د الله تعالی ولي او د رَحِمَهُ ٱللَّهُ کلمې مستحق دی، خو دغه قوانين چې په دې زماني کې وضعه شوي دي، د دې ېبلګه يوازې د تاتاريانو په زمانه کې رامنځته شوې چې دا خبره شيخ احمد شاکر په خپل کتاب کې کړې او نورو ډېرو علماوو هم کړې نو د سلفو حال د دې زماني له هغو حاکمانو سره چې تشريع د قوانينو او تبديل يې کړی پرتله کول او بيا د دوی د اسلام لپاره د هغوی ويناوې پيش کول د هغه چا کار دی چې د سلفو د حاکمانو له حال څخه خبر نه لري او يو غبي جاهل مرجي وي، شيخ احمد شاکر په خپل کتاب [عمدة التفسير ٤/ ١٧١] کې وايي: **أفيجوز مع هذا في شرع الله أن يحكم المسلمون في بلادهم بتشريع مقتبس من تشريعات أوروبا الوثنية الملحدة لا يبالي واضعه أوافق شرعة الإسلام أم خالفها؟إن المسلمين لم يبلوا بهذا قط فيما نعلم من تاريخهم إلا في ذلك العهد**

**- عهد التتار- ثم كان المسلمون الآن أسوأ حالا وأشد ظلما وظلاما منهم من أكثرلأن الأمم الإسلامية الآن تكاد تندمج في هذه القوانين المخالفة للشريعة والتي هي أشبه شيء بذلك الباسق. اهـ.**

ژباړه: آیا د الله تعالی په شریعت کې دا جایز دي چې مسلمانان دې په خپلو علاقو کې هغه قانون نافذ کړي چې د ملحدې بوت پاله اروپا له قوانینو څخه راخستل شوی وي چې جوړونکي یې د دې پرواه نه وي ساتلې چې آیا قانون یې له اسلام سره موافق دی که مخالف؟ مسلمانان په دې مصیبت هېڅکله له دې پخوا نه دي اخته شوي څومره چې مونږ ته د تاریخ په اړه معلومات دی، پرته د تاتاریانو له زمانې، بیا د دې زمانې مسلمانانو حال له هغه زمانې له مسلمانانو ډېر بد تر او ډېر د ظلمونو او تورتمونو ډک دی ځکه چې اسلامي ټولنه نژدې ده چې په دغه مخالف قوانینو کې ورگډ شي هغه قوانین چې د دغه الیاسق قانون سره ډېر ورته والی لري.

شیخ عبد القادر بن عبد العزیز په خپل کتاب [الجامع في طلب العلم الشريف٢ /٢٩٨] کې وایي: **أن المناطات المكفرة التي ذكرناها في هذه المسألة (ترك حكم الله، أو تشريع ما يخالفه، أو الحكم بتشريع مخالف) لم يقع شيء منها في زمن ابن عباس ت ٦٨**

**ه، ولا فيما بعده بعدة قرون، وقد طالعت كثيراً من كتب (الأوائل) وغاية ما كان يقع من الحكام والقضاة هو الجور في الحكم في بعض الأمور بحيلة أو تأويل يصعب معه تأثيمه قضاءً وإن كان يأثم ديانة، ومن هذا ما ذكره أبو هلال العسكري في كتابه (الأوائل)..." اهـ.**

ژباړه: هغه د تکفير لاملونه چې مونږ په دې مسئله کې ذکر کړل (چې د الله تعالی حکم پريښودل، يا د شريعت خلاف قوانين وضعه کول، يا د شريعت خلاف قوانينو باندې فيصلې کول)؛ له دغو څخه هيڅ شی هم د ابن عباس رضي الله عنهما په زمانه کې چې په ٦٨ هجري کې وفات شوی دی نه دي رامنځته شوي، او له هغه څخه وروسته تر ډېرو پېړيو هم نه دي رامنځته شوي، ما د سلفو کتابونه ډېر کتلي دي خو نهايي کار چې د حاکمانو او قاضيانو څخه صادر شوی دی؛ په ځينو مسئلو کې په حيلې يا تأويل سره ظلم رامنځته شوی هغه چې له امله يې هغوی ته د گناه نسبت په قضاء سره نشې کولی که څه هم له ديانت له اړخه گناهگار هم وي چې له دغو قضاگانو څخه ځيني هغه دي چې ابو هلال العسکري په خپل کتاب "الأوائل" کې ذکر کړي دي..اهـ.

شيخ محمد بن إبراهيم وايي: **إن من الكفر الأكبر المستبين تنزيل القانون اللعين منزلة ما نزل به الروح الأمين على قلب محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليكون من المنذرين بلسان عربي مبين.**

ژباړه: له لوی، ښکاره کفر څخه دا دي چې ملعون قانون د هغه قانون په ځای راوستل چې روح الامين (جبرئيل عليه السلام) د محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زړه باندې نازل کړی، دې لپاره چې د وېره ورکوونکو څخه شي، په عربي واضحه ژبه يې نازل کړی دی (بيا د ابن عباس اثر ذکر کولو نه وروسته وايي:) **فهذا الحاكم، هو قضيتنا اليوم وهو كافر خارج عن ملة المسلمين عند جميع فرق وطوائف وعلماء المسلمين حتى ولو كان في قضية مفردة اهـ [فتاوى ورسائل سماحة الشيخ محمد بن إبراهيم بن عبد اللطيف آل الشيخ ٢/٢٨١ فتوى رقم: ٤٠٦٥].**

ژباړه: دغه حاكم زمونږ د نن ورځې اصلي مسئله ده، چې دغه کافر دی د مسلمانانو له دين څخه د ټولو ډلو او علماوو په نزد وتلی دی، تر دې که په يوې مسئله کې هم وضعي قانون حاكم کړي.

نو د ابن عباس رضي الله عنهما اثر د دې زمانې په حاکمانو حملول او دوی ترې مراد کول لوی ظلم او د انصاف خلاف دي.

له همدې امله امام شاطبي په خپل کتاب "الاعتصام" کې ليکلي دي چې شرعي دلايل له خپل صحيح سبب څخه بل سبب ته اړول د بدعتيانو کار دی [وګورئ: الإعتصام للشاطبي ط دار بن الجوزي ٢/ ٦٩]، نو دوی چې کوم محمل د ابن عباس رضي الله عنهما د دغه قول لپاره ذکر کوي دا يې صحيح محمل نه دی.

## د ابن عباس اثر "کفر دون کفر" د خوارجو په رد کې دی، د سورة مائدې د آيتونو تفسير نه دی.

د ابن عباس رضي الله عنهما د اثر صحيح محمل خوارج دي او د سورة مائدې د آيتونو تفسير نه دی بلکې د دې اصلي لامل هغه خوارج دي چې د ابن عباس رضي الله عنهما په زمانه کې يې د عثمان رضي الله عنه په خلاف د پاڅون دسيسه يې جوړه کړه او هغه يې شهيد کړ، بيا له هغې وروسته د علي رضي الله عنه سره په صف کې ملګري وو چې د معاويه رضي الله عنه په خلاف جنګېدل تر دې چې علي رضي الله عنه او معاويه

رضي الله عنه او نور صحابه يې تکفير کړل له دې امله چې دوی عمرو بن العاص او ابو موسی الاشعري رضي الله عنهما حکمين(فيصله کوونکي) مقرر کړل او دولس زره کسان د حروراء نومې ځای ته راجمعه شول چې بيا ورته علي رضي الله دعوت ورکړ او حجت يې پرې قايم کړ نو اته زره کسان بېرته له خپلې خطا نظريي راوګرځېدل او څلور زره کسان پاتې شول چې له هغوی سره يې جنګ وکړ تر دې چې دغه فتنه يې ختمه کړه، بيا خوارج په وروستنۍ زمانه کې هم د بنو اميه او بنو العباس خليفه ګانو سره جنګېدلي دي چې د جنګ قيصې يې مشهورې دي تر دې چې د عمر بن عبد العزيز زمانه شوه چې کله يې د نوموړي عدل او انصاف وليده نو ترې متاثره شول او مخالفت يې پريښود، دا هم د دې خبرې تائيد دی چې دوی د حاکمانو سره د خپل فکر له مخې د ګناه او ظلم له امله جنګېدلي دي او د تشريع يا تبديل له امله نه دي جنګېدلي، بيا چې کله عمر بن عبد العزيز وفات شو نو بېرته د شرعي حاکمانو خلاف ته ستانه شول، او د دوی لړۍ همداسې جاري ده په مختلفو ډلو ويشل شوي او تر ننه پورې شتون لري، نو ابن عباس رضي الله عنهما او طاوس او نور تابعين د خوارجو په

زمانه کې پاتې شوي دي او د دغه فتنې يې هم علمي او هم عملي مقابله کړې ده له همدې امله د ابن عباس رضي الله عنهما دغه اثر د خوارجو په اړه دی هغه چې په عامو گناهونو سره يې هم مسلمانان تکفيرول نو دغه صحابه او تابعينو ورله اصلاح کوله او دوی ته يې د دې خبرې قناعت ورکاوه چې دا تاسو ته څوک په خپل ذهن کې گناهگار او مرتکب د کبيرې ښکاري دوی کافر نه دي او د مائدې په آيتونو کې چې د يهودو په اړه د تشريع او تبديل له امله نازل شوي دي؛ دوی په کې داخل نه دي بلکې د دوی دغه گناه چې تاسو ورته کفر واياست کفر دون کفر ده او کفر اکبر نه ده، همدې خبرې ته امام رازي هم اشاره کړې ده نو ويلي دي: **أما الخوارج فقد احتجوا بهذه الآية وقالوا: إنها نص في أن كل من حكم بغير ما أنزل الله فهو كافر، وكل من أذنب فقد حكم بغير ما أنزل الله، فوجب أن يكون كافرا، اهـ[التفسير الكبير للرازي ١٢/ ٣٦٧].**

ژباړه: هر چې خوارج دي نو په دې آيت يې دليل نيولی دی ويلي دي: دا آيت دليل دی د هغه چا په اړه چې په وضعي قانون فيصلې کوي چې کافر به وي او هر څوک چې گناه کوي نو هغه په وضعي قانون فيصله کوي نو خامخا به کافر وي.

نو خوارجو د تحکیم مسئله یوازې تر د وضعي قانون حاکم نه ده رابنده کړې بلکې له دې څخه یې تجاوز وکړ او د هرې کبیرې گناه والا ته یې شامل کړ، نو ابن عباس رضي الله عنهما او نورو تابعینو د دوی په همدغه عقیده رد کړی دی چې دا کوم مسلمانان تاسو په خپل گومان د گناه او د ظلم مرتکب گڼئ دوی په داسې گناه کې نه دي واقع شوی چې د دې آیت په حکم کې داخل شي بلکې دغه گناهونه کفر دون کفر په درجه کې دي.

په خوارجو باندې په دغه استدلال کې تشریع یا تبدیل باعث نه و او نه هم دغه کار واقع شوی بلکې په دوی دغه ذکر شوي پلیته عقیده باعث وه او که چیرېورباندې تشریع یا تبدیل د قوانینو په اړه حکم باعث وی نو د سورة مائدې له آیتونو څخه پرته په نورو صریحو آیتونو به یې استدلال کړی وی لکه دا آیتونه چې الله عزوجل فرمایي: {اتخذوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ الله} {أم لم شُرَكَاءُ شَرَعُوا لهم من الذين ما لم يأذن به الله} {وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لمشركون}.

چې دغه آيتونه په مدعی کې بيخي واضح دي خو دوی پرې استدلال نه دی کړی معلومه شوه چې د صحابه ؤ تابعينو په زمانه کې تشريع او تبديل نه و شوی، او داسې شوي چې په ځينو مسايلو کې به قاضيانو له حيلې څخه کار اخسته او په فيصله کې به يې ظلم کاوه چې دې ته مخکې اشاره شوې ده خو تشريع او تبديل نه دی شوی چې آيتونو کې دغه تاويل معتبر شي. دا خبره په هغه دوه اثارو کې هم ښه واضحه شوې کوم چې طبري په خپل تفسير کې نقل کړي دي چې په هغې کې راځي: **أتى أبا مجلز ناس من بني عمرو بن سدوس، فقالوا: يا أبا مجلز، أرأيت قول الله:"ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون"، أحق هو؟ قال: نعم! قالوا: (ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الظالمون) ، أحق هو؟ قال: نعم! قالوا: (ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الفاسقون) ، أحق هو؟ قال: نعم! قال فقالوا: يا أبا مجلز، فيحكم هؤلاء بما أنزل الله؟ قال: هو دينهم الذي يدينون به، وبه يقولون، وإليه يدعون، فإن هم تركوا شيئا منه عرفوا أنهم قد أصابوا ذنبا! فقالوا: لا والله، ولكنك تفرق! قال: أنتم أولى بهذا مني! لا أرى، وإنكم أنتم ترون هذا ولا تحرجون، ولكنها أنزلت في اليهود والنصارى وأهل الشرك= أو نحوا من هذا.[تفسير الطبري اثر رقم: ١٢٠٢٥].**

ژباړه: ابو مجلز ته د بني عمرو بن سدوس قبيلي څه خلک راغلل نو وېې ويل: اى ابو مجلزه! د الله تعالى د دې وينا په اړه خبر راکړه چې فرمايي: ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون"،آيا دا حق ده؟ هغه وويل: هو! بيا يې وويل: ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الظالمون، ايا دا آيت حق دی؟ هغه ورته وويل: هو! بيا يې وويل:ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الفاسقون، آيا دا آيت حق دی؟ هغه ورته وويل: هو! راوي وايي: دوی وويل: اى ابو مجلزه! آيا دا حاكمان د الله تعالى په قانون فيصلې کوي؟ نو ابو مجلز ورته وويل: دا خو د دوی دين دی چې عمل ورباندې کوي او همدغه دين خلکو ته بيانوي او خلک ورته رابلي، که چېرې دوی د دين څه خبره پرېږدي نو دوی په دې پوهېږي چې گناه يې وکړه، نو دغه خلکو وويل: نه داسې نه ده قسم په الله، بلکې ته وېرېږې. هغه ورته وويل: تاسو له ما څخه ډېر لايق ياست چې ووېرېږئ زه خو دغه نظر نه لرم خو تاسو دغه نظر لرئ او گناه يې نه گنئ، ليکن دا آيتونه د يهودو، نصارا او مشرکينو په اړه نازل شوي دي، يا د دوی په څېر نور.

او په بل اثر کې داسې راغلي دي: **قعد إلى أبي مجلز نفر من الإباضية، قال: فقالوا له: يقول الله:"ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون"،"فأولئك هم الظالمون"،"فأولئك هم الفاسقون"! قال أبو مجلز: إنهم يعملون بما يعلمون = يعني الأمراء = ويعلمون أنه ذنب! قال: وإنما أنزلت هذه الآية في اليهود! والنصارى قالوا:أما والله إنك لتعلم مثل ما نعلم، ولكنك تخشاهم! قال: أنتم أحق بذلك منا! أما نحن فلا نعرف ما تعرفون! [ قالوا] : ولكنكم تعرفونه، ولكن يمنعكم أن تمضوا أمركم من خشيتهم![تفسير الطبري أثر رقم: ١٢٠٢٦].**

ژباړه: له اباضيه (خوارجو) څخه څه کسان د ابو مجلز سره کيناستل، راوي وايي: ابو مجلز ته يې دغه آيتونه وويل.. نو ابو مجلز ورته وويل: دوی (اميران)په خپل علم عمل کوي او په دې پوهېږي چې دا گناه ده، او بيا يې وويل: دغه آيتونه د يهودو او نصاراوو په اړه نازل شوي دي نو دوی ورته وويل: خبردار! قسم په الله چې ته هم زمونږ په څېر پوهېږې خو له دوی څخه وېرېږې، هغه ورته وويل: تاسو د دې ډېر لايق ياست چې ووېرېږئ خو مونږ هغه څه نه پېژنو څه چې تاسو پېژنئ (يعنې ستاسو په څېر عقيده نه لرو) نو دوی وويل: تاسو

دا خبرې پېژنئ خو تاسو د هغوی له وېرې امر نشئ جاري کولی.

نو دا اثار هم په دې دلیل دي چې د هغه زماني خوارجو د کبیره گناهونو، ظلم او نورو منکراتو له امله مسلمانان حاکمان تکفیرول او په دې آیت سره یې استدلال کاوه. هغه حاکمان چې د یهودو په څېر تشریع د قوانینو او تبدیل یې نه و کړی، دا اثار په اصل کې په همدې خبره دلیل دي خو د دې زماني مرجئه وو د هغه حاکم د تکفیر مانع گرځولي دي چې د یهودو په څېر تشریع او تبدیل کوي!

علامه أحمد شاكر رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل کتاب کې وروسته له هغه چې د ابن عباس رضي الله عنهما اثر یې نقل کړی دی ویلي دي: **وهذه الآثار عن ابن عباس وغيره - مما يلعب به المضللون في عصرنا هذا، من المنتسبين للعلم، ومن غيرهم من الجرّاء على الدين يجعلونها عذراً أو إباحية للقوانين الوثنية الموضوعة التي ضربت على بلاد الإسلام، اهـ [كتاب عمدة التفسر لأحمد شاكر: ١/٦٨٤].**

ژباړه: او دا اثار چې د ابن عباس او نورو څخه نقل دي له هغو څخه دي چې زمونږ د زماني گمراه کوونکي خلک پرې لوبې کوي، هغه چې علم ته منسوب دي او له دوی پرته نور

هغه خلک چې په دين زړور دي؛ دوی دغه آيتونه عذر ګرځوي او هغه بوت پاله جوړ شوي قوانين پرې جايز کوي کومو چې په اسلامي علاقو يرغل کړی دی.

بيا يې د دغه اثارو په اړه د خپل ورور محمد شاکر خبره يې رانقل کړې ده چې په آخر کې يې راغلي دي وايي: **فمن احتج بهذين الأثرين وغيرهما في غير بابها، وصرفها إلى غير معناها، رغبة في نصرة سلطان، أو احتيالاً على تسويغ الحكم بغير ما أنزل الله وفرض على عباده، فحكمه في الشريعة حكم الجاحد لحكم من أحكام الله: أن يستتاب، فإن أصر وكابر وجحد حكم الله، ورضي بتبديل الأحكام؛ فحكم الكافر المصر على كفره معروف لأهل هذا الدين وكتبه محمود محمد شاكر" اهـ [عمدة التفسير لأحمد شاكر ١/ ٦٤٨].**

ژباړه: څوک چې په دغه دوه اثارو او په نورو، پرته له خپل اصلي ځای په بل ځای استدلال وکړ او له خپلې معنا څخه يې بلې ته واړول، د پاچا د کومک له امله يا په وضعي قانون د فيصلو لپاره يې حيله جوړه کړه او د الله په بندګانو يې فرض کړ نو حکم يې په شريعت کې د الله تعالی له حکم څخه د انکار کوونکي دی، استتابه به ترې کيږي که په خپله خبره کلک پاتې شو او ځان يې لوی وګاڼه او د الله تعالی له حکم

څخه يې انکار وکړ او د شرعي احکامو په تبديل راضي شو نو حکم يې د هغه کافر دی چې په خپل کفر کلک پاتې کېږي، مسلمانان ترې خبر دي او دا محمود محمد شاکر ليکلي دي.

نو دا خبرې يې د دې زمانې د مرجئه وو په اړه ډېرې وېرووونکي دي.

نو د ابن عباس دغه اثر د خوارجو په اړه دی هغه چې په ظلم او ګناه سره به يې حاکمان تکفيرول او د تشريع او تبديل په اړه يې نه دي تکفير کړي، او نه هم تشريع او تبديل هغه وخت کې رامنځته شوی و. د خوارجو سره د ابن عباس مناظرې مشهورې دي ډېرو کتابونو راخستي دي لکه ابن عبد البر په خپل کتاب [جامع بيان العلم وفضله ٢/ ١٠٣] کې ورته اشاره کړې او شيخ الاسلام ابن تيميه په مجموع الفتاوی کې ورته اشاره کړې ده هغه وايي: **فأرسل إليهم [أي عليٌّ بن أبي طالب] ابنَ عباس فناظرهم فرجع نصفهم. [مجموع فتاوى ابن تيمية ١٣/٢٠٨].**

ژباړه: علي بن ابي طالب، ابن عباس رضي الله عنهما دوی ته ولېږه مناظره يې ورسره وکړه نو نيمايي کسان ترې راوګرځېدل.

استدلال ترې په دې طريقه کېږي چې ابن عباس رضي الله عنهما له خوارجو سره مناظرې شوي دي او هغوی ته يې د هغوی فاسده عقيده واضحه کړې چې په عامو گناهونو سره د خلکو تکفيرول دي او د تشريع يا د تبديل کومه خبره په کې نشته، بلکې ابن کثير د ابن عباس داسې الفاظ هم راوړي چې دا خبره پوره ثابتوي چې په دې ډۆل دي: **عن ابن عباس في قوله: ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون، قال: ليس بالكفر الذي تذهبون إليه، [ابن كثيرط دارالكتب العلمية ٣/ ١٠٩ قال ابن كثيررواه الحاكم في مستدركه من حديث سفيان بن عيينة، وقال: صحيح على شرط الشيخين، ولم يخرجاه.]**

ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما څخه د دې ايت په اړه نقل دي چې الله تعالی فرمايي: ومن لم يحكم بما أنزل الله فأولئك هم الكافرون، هغه وايي: دا هغه کفر نه دی چې تاسو يې مراد کوئ.

نو دلته ابن عباس معين کسانو ته خطاب کې دا خبره کړې ده نو آيا دغه کسان به صحابه يا تابعين وو؟ د دې بل احتمال نشته مگر همدا چې دا خطاب يې خوراجو ته کړی دی کومو چې به په کبيره گناهونو خلک تکفيرول. بلکې د حاکم الفاظ

په دې خبره نور هم ښکاره دليل دي چې په هغې کې دي: **ليس بالكفر الذي يذهبون إليه،[المستدرك للحاكم حديث رقم: ٣٢١٩ ، قال الحاكم: هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه، وصححه الذهبي].**

ژباړه: دا هغه كفر نه دى چې دوى يې مراد کوي، نو په دغه غائب صيغه کې قوي اشاره ده دې ته چې خوارج او يوه نوې ډله او خاص خلک ورڅخه مراد دي. او د خوارجو دغه عقيدي ته شيخ الاسلام ابن تيميه اشاره کړې چې دوى په خپل گومان صحابه گناهگار گڼل نو د کفر نسبت يې ورته کاوه لکه هغه وايي: **قالوا: فمن لم يكن برا تقيا فهو كافر وهو مخلد في النار. ثم قالوا: وعثمان وعلي ومن والاهما ليسوا بمؤمنين؛ لأنهم حكموا بغير ما أنزل الله فكانت بدعتهم لها مقدمتان. " الواحدة " أن من خالف القرآن بعمل أو برأي أخطأ فيه فهو كافر. " والثانية " أن عثمان وعليا ومن والاهما كانوا كذلك [مجموع الفتاوى لابن تيمية ١٣/ ٣٠].**

ژباړه: دوى(خوارجو) ويلي دي: څوک چې نيک، پرهېزگاره نه وي نو هغه به كافر وي او هميشه جهنمي به وي، بيا دوى وويل: عثمان او علي او د دوى ملگري مؤمنان نه دي ځکه چې دوى په وضعي قانون فيصله کړې ده، نو د دوى د

بدعت لپاره دوه مقدمې وې اوله مقدمه یې دا وه: چا چې د قران خلاف، په عمل یا رای سره وکړ چې په کې خطا شوی و نو هغه به کافر وي.او دویمه مقدمه یې دا وه: عثمان، علي او د دوی ملګري همداسې وو.

نو د خوارجو په عقیده صحابه کافر وو او په آیت د مائدې سره یې استدلال کاوه، نو د هغوی موضوع بیخي د هغه حاکمانو له موضوع څخه بدله وه چې تشریع او تبدیل کوي بلکې هغوی یوازې په کبیره ګناه سره خلک تکفیرول.

## فقه الواقع د فتوې لپاره شرط ده.

له دې امله هر څوک چې یوه فتوه ورکوي باید چې له واقع او حقیقت څخه ځان خبر کړي لکه شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وایي: **یجب قتال هؤلاء بكتاب الله وسنة رسوله، و اتفاق أئمة المسلمين. وهذا مبني على أصلين: أحدهما المعرفة بحالهم. والثاني معرفة حكم الله في مثلهم.[مجموع الفتاوى ٢٨/ ٥١٠].**

ژباړه: د تاتاریانو سره جنګ د الله تعالی په کتاب او د رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ په سنتو او د امامانو په اتفاق واجب دی او دا خبره په دوه اصولو بنا ده: یو دا چې د هغوی په حال

ځان خبرول او دويم دا چې د الله تعالی حکم د دغه ځېر خلکو په اړه معلومول.

نو په فتوی کې فقه الواقع او حقيقت نه ځان خبرول لازم دي خو داسې به هم نه کوې چې فقه الواقع همدغه علم ته وايي کوم چې درسره دی او د نور حقيقت نه ځان نه خبروې او يا هم په فقه الواقع کې دومره مبالغه وکړې چې په قران او حديث يې هم مخکې کړې لکه څنګه چې اوسنۍ زمانه کې خلکو د شريعت خلاف سياست د مصالحو له وجې حاکم کړی دی. نه بلکې د فقه الواقع او د هغې په حقيقت ځان خبرول غواړي او بيا يې تطبيقول غواړي او داسې نه چې يو کس دا هر څه مني خو د تطبيق نه ډډه کوي وايي چې دا حاکمان کافر دي او د کفر لاملونه په کې ټول موجود دي زه ترې خبر يم خو تطبيق د حکم پرې نه کوي توقف ته ترجيح ورکوي دا خو فقه الوقع نه شوه. نو څوک چې د ابن عباس د اثر نه د مائدې په آيتونو کې په کفر دون کفر سره استدلال کوي بايد چې د فقه الواقع مطابق يې وکړي او د سلفو له زمانې څخه ځان په پوره توګه خبر کړي چې آيا هغوی کې داسې څوک وو چې تشريع يا تبديل يې کړی وي؟ نو چې په کې نه و؛ په دغه اثر سره هم بايد

د سورة مائدې د آیتونو تفسير ونشي بلکې د هغه زمانې د خوارجو په اړه دغه تفسير وشي هغه چې په هره گناه يې خلک تکفيرول خو د دې زمانې د حاکمانو د حال نه ځان خبر کړي چې دوی څومره قوانين د شريعت خلاف وضعه کړي او تبديل د احکامو يې کړی دی او بيا د يهودو له حال سره چې دغه آيتونه يې په اړه نازل شوي دي پرتله کړي او د هغې مطابق حکم ورباندې وکړي.

## له قران، حديث او اجماع وروسته د هېچا قول حجت نه دی که څه هم صحابي هم وي.

که مونږ د خصم سره دا خبره ومنو چې د ابن عباس رضي الله عنهما دغه اثر چې کفر دون کفر دی د هغه حاکم په اړه دی چې تبديل د احکام او تشريع د قوانينو کوي او د ابن عباس دغه اثر همدوی ته شامل دی او په آيتونو د مائده کې د کفر نه مراد اصغر کفر دی، نو آيا د ابن عباس او د دغه امامانو خبره به د قران، حديث او اجماع له پاسه وي هغه چې تبديل او تشريع کوونکی يې تکفير کړی دی او د قران او د حديث او د اجماع په خلاف به د دوی قول حجت وي؟ آيا د دغه قاطع نصوصو په مقابل کې به د دوی خبره حجت وي؟ د يو ادنی علم

لرونکي جواب به په نفي سره وي، د هيڅچا قول د الله تعالى او د هغه د رسول د قول له پاسه حجت نه دى كه څه هم د ابو بكر او عمر رضي الله عنهما قول هم وي، الله عز وجل فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تُقدِمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللهِ وَرَسُولِه **[سورة الحجرات: ١].**

ژباړه: اى مؤمنانو له الله تعالى او رسول څخه مه مخكې كيږئ. او بل ځاى كې فرمايي: فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِر ،[سورة النساء: ٥٩].

ژباړه: كه چېرې تاسو په يوې مسئله كې اختلاف وكړئ نو حكم يې الله تعالى او د هغه رسول ته وگرځوئ كه چېرې په الله تعالى او په ورځ د آخرت ايمان لرئ.

او نبي عليه السلام فرمايي: **تركت فيكم أمرين لن تضلوا ما تمسكتم بهما كتاب الله وسنة نبيه، [موطأ مالك حديث رقم: ٦٧٨].**

ژباړه: ما تاسو ته دوه خبرې پريښې دي هېڅكله به تاسو بې لارې نشئ تر څو چې مو ورباندې منگولې لگولې وي چې د الله كتاب او د نبي عليه السلام سنت دي.

نو دا دليل شو په دې چې د قران او حديث په خلاف د هېچا خبره حجت نه ده نو كه ابن عباس رضي الله عنهما دغه تفسير د سورة مائدې د آيتونو په اړه هم وي د نورو ډېرو قاطعو نصوصو خلاف دى هغه چې د تشريع او د تبديل كوونكي حاكم تكفير واجبوي او په ځانګړي توګه كله چې ورسره داسې اجماع هم ملګرې شي چې په شپړو وجو سره ثابت وي نو بيا خو هېڅ اشكال نه پاتې كېږي. بيا دا مسئِله چې قول د صحابي حجت دى او كه نه؟ په دې سره زمونږ د صحابه وو سپكاوى مقصد نه دى بلكې د شرعي مسئلې حكم واضح كول مو مقصد دي او دا يې سپكاوى نه دى چې مونږ ابن عباس رضي الله عنهما ته منسوب يوه داسې وينا چې د ډيرو دلايلو خلاف وي په صحيح محمل يې ورله حمل كړو او يا يې بيخي د نص په مقابل كې پريږدو چې ديكې د دوى عزت دى، په ځانګړي توګه دا خبره له ابن عباس رضي الله عنهما پخپله هم ثابته ده چې هغه به په هغه چا سخت رد كوو چې د قران او حديث په مقابل كې به يې د بل چا راى قبلولې لكه شيخ الاسلام ابن تيميه په خپله فتاوى كې وايي: **كَانَ بَعْضُ النَّاسِ يُنَاظِرُ ابْنَ عَبَّاسٍ فِي الْمُتْعَةِ فَقَالَ لَهُ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: " يُوشِكُ أَنْ تَنْزِلَ**

**عَلَيْكُمْ حِجَارَةٌ مِنْ السَّمَاءِ! أَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُولُونَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ؟ [مجموع الفتاوى" (٢٠/ ٢١٥].**

ژباړه: ځيني خلکو د ابن عباس رضي الله عنهما سره د حج تمتع په اړه مناظره کوله ورته وې ويل: ابو بکر او عمر داسې ويلي دي، نو ابن عباس رضي الله عنهما وويل: نژدې ده چې په تاسو باندې د آسمان له طرفه د کاڼو باران وشي زه وايم د الله رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې ويلي دي او تاسو وايئ چې ابو بکر او عمر داسې ويلي دي.

## له صحابه وو څخه ولې د ځيني شرعي نصوصو خلاف شوی دی؟

د دې لپاره علماوو لس اسباب ذکر کړي دي چې ابن حزم په خپل کتاب[الإحكام في أصول الأحكام ٢/ ١٢٩] کې راوړي دي خو مونږ ورڅخه هغه اسباب راخلو چې زمونږ د موضوع سره مناسب دي هغه وايي: **"وسابعها أن يخصص عموما بظنه، وثامنها أن يأخذ بعموم لم يجب الأخذ به ويترك الذي يثبت تخصيصه، وتاسعها أن يتأول في الخبر غير ظاهره بغير برهان لعله ظنها بغير برهان، اهـ.**

ژباړه: اوم: يو عموم په خپل گومان سره خاص كول، اتم: په داسې عموم عمل وكړي چې عمل پرې واجب نه وي او هغه روايت پريږدي چې د دغه عموم تخصيص ثابتوي، نهم: په يو حديث كې پرته له دليل څخه داسې تأويل كول چې ظاهر نه وي چې هغه ورباندې گومان كړی وي پرته له دليل څخه.

نو د اختلاف په دې سببونو كې دا نهم سبب زمونږ د موضوع سره مناسب دی، نو كه مونږ بالفرض دا ومنو چې د كفر دون كفر نسبت ابن عباس ته صحيح دی كه څه هم دا خبره په دلايلو ثابت شوې ده چې دغه ايتونو كې د كفر نه مراد اكبر كفر دی؛ نو د ابن عباس رضي الله عنهما دغه تفسير به د اختلاف د اسبابو څخه د نهم سبب له جملې څخه وي. بيا دا خبره شيخ الاسلام ابن تيميه هم په خپل كتاب "رفع الملام عن أئمة الأعلام" كې كړې ده، هلته يې د اختلاف دغه لس اسباب راوړي دي او ويلي دي چې كله ناكله صحابي ظاهر د قران، ظاهر د حديث په خپل اجتهاد سره پريږدي. او داسې ډير مثالونه شته چې ابن عباس رضي الله عنهما او نورو صحابه وو په كې د نص خلاف كړی دی، خو دلته يې د اختصار له امله نه رانقلوو ، نو هغوی انسانان وو د خطا نه معصوم نه وو، د اهل

السنة والجماعة په دې اتفاق دی چې وايي: كل أحد يؤخذ من قوله ويرد إلا صاحب هذا القبر - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم. د هر چا له خبرو به اخستل کیږي او رد کیږي پرته د دې قبر والا څخه چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی. نو د صحابي قول به د نصوصو خلاف حجت نه وي او نه به هم په اختلافي مسئله کې حجت وي بلکې کله چې صحابه په يوې مسئله کې اختلاف وکړي نو د قران او حديث سره چې د چا قول ډېر مناسب و هماغه به اخستل کېږي، دې باره کې شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **ومن قال من العلماء (إن قول الصحابي حجة) فإنما قاله إذا لم يخالفه غيره من الصحابة ولا عرف نص يخالفه... وأما إذا عرف أنه خالفه فليس بحجة بالاتفاق... اهـ[مجموع الفتاوى ١/ ٢٨٣].**

ژباړه: او کومو علماوو چې ويلي دي: قول د صحابي به حجت وي، نو دا يې هغه صورت کې ويلي دي چې کله يې بل صحابي خلاف نه وي کړی او نه يې هم له نص(دليل) څخه خلاف کړی وي...خو کله چې دا خبره معلومه وي چې ده خلاف کړی دی نو قول يې په اتفاق د علماوو حجت نه دی.

امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل کتاب "الرسالة" کې وايي: **قد سمعت قولك في الإجماع والقياس، بعد قولك في حكم كتاب الله**

**وسنة رسوله، أرأيت أقاويل أصحاب رسول الله إذا تفرقوا فيها؟ فقلت: نصير منها إلى ما وافق الكتاب، أو السنة، أو الإجماع، أو كان أصح في القياس. اهـ [الرسالة للشافعي تحقيق أحمد شاكر ص ٥٩٦].**

ژباړه: ما ستا وينا د اجماع او قياس په اړه واوريده وروسته له وينا ستا د قران او د حديث د حكم په اړه، چې كه چېرې اقوال د صحابه وو مختلف شي نو څه به كوو؟ نو ما وويل: مونږ به ترې هغه قول ته ځو چې د قران، يا حديث او يا د اجماع موافق وي يا په صحيح قياس سره ثابت وي.

نو امام شافعي صحيح قياس هم په وخت د اختلاف كې د صحابي په قول مخكې كړی.

علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ ٱللَّهُ د اصولو په اړه وايي: **الأصل الثالث من أصوله: إذا اختلف الصحابة تخير من أقوالهم ما كان أقربها إلى الكتاب والسنة، ولم يخرج عن أقوالهم.اهـ [الإعلام الموقعين عن رب العالمين لابن القيم١/ ٢٥].**

ژباړه: د امام احمد له اصولو څخه دريم اصل دا دی: كله چې به صحابه وو اختلاف كړی و نو د هغوی له اقوالو څخه

به يې هغه قول ته ترجيح ورکوله کوم چې قران او حديث ته ډېر نېژدې و او د هغوی له اقوالو څخه به نه وتلو.

او ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **وأجمع العلماء على تحريم الحكم والفتيا بالهوى وبقول أووجه من غيرنظرفي الترجيح [المستدرك على مجموع الفتاوى ٥/ ١٥٥].**

ژباړه: د علماوو اجماع ده په دې چې په يو شي حکم لګول او په اړه يې فتوه ورکول په خواهش او په وينا سره يا په يوې توجيه سره پرته له نظر کولو نه په ترجيح کې حرام دي.

الغرض د ابن عباس رضي الله عنهما دغه اثر که صحيح ثابت هم وي او مراد ترې همدغه د سورة مائدې ايتونه وي نو دا د قران او حديث د صريحو نصوصو په مقابل کې حجت نه دی او نه هم د اجماع په مقابل کې حجت دی. که څه هم دا خبره په دلايلو ثابت شوله چې د ابن عباس رضي الله عنهما دغه اثر صحيح نه دی او په څو وجو سره ضعيف دی او نه يې هم دغه محمل دی کوم چې د دې زماني مرجئه ورله وايي او که بالفرض صحيح هم شي نو د قران، حديث او اجماع په مقابل کې حجت نشي کېدای. نو د نورستاني او د هغه د ملګرو دا خبره کول چې د وضعي قانون حاکم کافر نه دی بلکې په کفر

دون کفر کې اخته دی؛ په ډېرو وجو سره باطله او مردود ده چې وضاحت یې وشو، او نه یې هم په دې اړه د ابن عباس په اثر سره استدلال صحیح شو بلکې حال یې تاسو ولیده، نو اوس مونږ عامو مسلمانانو ته وایو چې تاسو د چا په اوړو ځانونه مه باروئ بلکې د دې مسایلو د انصاف په نظر تحقیق وکړئ او دلیل پسې لاړ شئ نومونو پسې مه ځئ چې دا مسله فلاني شیخ او بیستاني شیخ کړې او ګویا دا به حق وي، نه حق هغه دی چې د قران او د حدیث موافق وي، خو دا خلک چې د سلفیت دعوه کوي د قال الله، قال الرسول دعوه کوي د عقیدې په اساسي مسایلو کې ښوېدلي دي او دغه قال الله قال الرسول یوازې د شعار په توګه کاروي لکه ډیموکراتان چې وایي: پاکستان کا مطلب کیا؟ نو جواب یې: لا إله إلا الله وي، نور د کلمې دوښمني یې له چا پټه نه ده، نو د چا په داسې بې عمله شعارونو مه دوکه کېږئ، او مه یې هم په نومونو، تدریسونو، مینوالو، شاګردانو او لقبونو دوکه کېږئ، تاسو وکتل چې د تبدیل او تشریع ډېره یوه ساده او ښکاره مسئله ده خو دوی په کې بل طرفته تللي دي نو داسې خلک چې د دین په دومره غټو او روښانه مسایلو کې ښوېږي په هغوی به څه اعتماد وشي؟ د دوی

د دغه فتوو په برکت خو نن اصلي کافر او مرتد حاکمان د مسلمانانو په عزتونو لوبې کوي، جهاد معطل شوی، د ولاء براء عقیده لمنځه تللې پر ځای یې وطني او قومي ولاء رامنځته شوې، دغه قوانین چې دوی یې تنفیذ کفر نه ګڼي؛ تر چتر لاندې یې د اسلام د شعائرو سپکاوی کېږي، د نبي علیه السلام سپکاوی کېږي، هر کفر، الحاد او زندقت ته آزادي ده خو بیا هم دا شیخان د دې قانون په دفاع کې غونډې کوي، لیکنې او بیانونه کوي او مسلمانان دې ته آماده کوي چې دغه قوانین له زړه څخه ومني او هېڅ خلاف یې ونکړي ـ فإلى الله المشتكى ـ بس الله ته ورتګ دی هر څوک به د خپلو کړنو ځواب وایي.

إِلَى الدَّيَّانِ يَوْمَ الدِّيْنِ نَمْضِي　　وعند الله تجتمعُ الخصومُ

ستعلمُ في الحساب إذا التقينا　　غَدا عِنْدَ المَلِيكَ مَنِ الغَشُوم

## د مرتد حاکم مکفره ګناه به د غیر مکفره ګناهونو سره نشي پرتله کېدای.

بیا د رسالې لیکوال د وضعي قانون حاکم کفر د عامو ګناهونو سره پرتله کړی دی نو ویلي دي: فكل المعاصي - وبخاصة ما فشا في هذا الزمان من استحلال عملي للربا و الزنى و

شرب الخمر وغيرها - هي من الكفر العملي، فلا يجوز أن نكفر العصاة المتلبسين بشيء من المعاصي لمجرد ارتكابهم لها،واستحلالهم إياها عمليا إلا إذا ظهر - يقينا - لنا منهم – يقينا - ما يكشف لنا عما في قرارة نفوسهم أنهم لا يحرمون ما حرم الله و رسوله اعتقادا، فإذا عرفنا أنهم وقعوا في هذه المخالفة القلبية حكمنا حينئذ بأنهم كفروا كفر ردة. أما إذا لم نعلم ذلك فلا سبيل لنا إلى الحكم بكفرهم [المنهج المتفق عليه صـ ١٩].

ژباړه: نو ټول گناهونه او په ځانګړي توګه هغه ګناهونه چې په دې زمانه کې عام شوي دي چې د سود، زنا، شرابو او د نورو ګناهونو عملي استحلال دی؛ دا له عملي کفر څخه دی نو جایز نه دي چې مونږ د یوې ګناه مرتکب یوازې له دې امله تکفیر کړو چې د دغه ګناه ارتکاب یې کړی. او عملي استحلال یې ورله کړی، تر څو چې مونږ ته په یقیني توګه د دوی د زړونو له بیخ څخه دا نه وي راښکاره شوې چې دوی د زړه له عقیدې څخه هغه څه حرام نه ګڼي چې الله او رسول حرام کړي دي نو کله چې مونږ په دې پوهه شو چې دوی له زړه څخه په دغه مخالفت کې اخته شوي دي نو مونږ به وربانديې

د ارتداد حکم کوو خو تر څو چې د دې معلومات مونږ ته نه وي شوی نو مونږ ته هېڅ لار نشته چې په کفر یې حکم وکړو.

او بیا یې حواله په فتنة التکفیر د الباني ورکړې.

نو د دې په اړه مونږ وایو: چې په دغه عبارت کې یې له ډیر تلبیس څخه کار اخستی او وضعه د غیر شرعي قوانینو چې د قران، حدیث په صریحو نصوصو او اجماع د امت سره کفر دی؛ دا یې له عامو ګناهونو سره پرتله کړي نو ویلي دي چې زنا او سود او نور ګناهونه که څوک کوي نو پرته له قلبي استحلال یې تکفیر نشو کولی، حال دا چې د عامو ګناهونو او تشریع د قوانینو او تبدیل د شرعي احکامو تر منځ ډېر توپیر دی، دا یو کفري عمل دی چې استحلال او نورو شرطونو ته په کې اعتبار نشته او عام ګناهونه کول کفري عمل نه دی فسق دی چې پرته له استحلال وربانديې د کفر حکم نشي کېدای نو د فسق او د کفر تر منځ تمیز نه کول او په دواړو یو شېر حکم کول لوی تلبیس او د مرجئه یا هم د خوارجو کار دی چې یو یې پرته له ویش کفر نه ګڼي او بل یې پرته له ویش کفر ګڼي چې همدې ته افراط تفریط ویلی کېږي خو اهل السنة والجماعة داسې نه دي، بلکې په ګناهونو کې تقسیم کوي مکفره او غیر مکفره

گناه ته، نو کومه گناه چې مکفره وي لکه تشریع د قوانینو او تبدیل د شرعي احکامو؛ پرته له استحلال او جحود یې کفر ګڼي، خو کوم ګناهونه چې غیر مکفره دي لکه سود، زنا، شراب او نور، نو دا پرته له استحلال کفر نه ګڼي بلکې فسق یې ګڼي چې په دې اړه دلایل مخکې ذکر شوي دي. او وضعه د غیر شرعي قوانینو چې مکفره ګناه ده او پرته له استحلال کفر ده؛ د دې په رد کې د دوی د یو کس امین الله پشاوري فتوه هم کافي ده چې هغه ویلي دي: ومنها : **أن وضع القانون الذى فيه التحليل والتحريم شرك سواء استحله أولم يستحله لأنه لا حاجة إلى استحلال الشرك في كفر صاحبه. [الدين الخالص ٩/ ٢٠٤]**، ژباړه: بله وجه د کفر یې دا ده: چې داسې قانون وضعه کول چې له ځانه تحلیل تحریم په کې شوی وي شرک دی، برابره ده که له زړه څخه یې حلال ګڼي او که نه، ځکه چې د کافر په کفر کې له زړه څخه شرک حلال ګڼلو ته اړتیا نشته.

او د زړه په استحلال سره به یو مرجي تر قیامته څوک تکفیر نه کړی شي نو باب المرتدین چې د فقه په کتابونو کې راځي او د قران او حدیث ډېر نصوص ورباندې دلیل دي، د دوی په دغه اصل سره معطل کېږي او د تطبیق هېڅ لار یې نه

پاتې کېږي مگر د هغه کس چې يو کفري عمل وکړي او بيا ميډيا ته راوځي او ښکاره دا اعلان وکړي چې ای خلکو زه دا کفري کار له زړه څخه حلال گڼم نو بيا به مرجئه ورته مرتد وايي، ځکه چې پرته له اعلان څخه يو مرجي خو د چا زړه ته نشي ورننوتلی چې د زړه حال يې معلوم کړي، او همدا لامل دی چې مرتد حاکمان له مرجئه وو څخه ډېر خوشاله دي، د دوی د دغه فتواوو له امله يې د ارام ساه اخستې، د ظلم، کفر او استبداد موقع ورته په لاس ورغلې، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

او په دې سره د فتنة التكفير ليکوال عقيدوي انحراف هم راڅرگنديږي چې د مرجئه وو امام دی، د اهل السنة والجماعة سره يې هيڅ اړيکه نشته.

**د رسالې ليکوال بيا وايي: أما من حكم بغير ما أنزل الله إتباعا للهوى الخ [المنهج المتفق عليه صـ ٢١].**

دلته يې د خواهش له امله په وضعي قانون فيصله کول کفر اصغر گڼلي او په آخر کې يې هماغه د ابن عباس رضي الله عنهما اثر راوړی چې کفر دون کفر دی چې وضاحت يې مخکې شوی دی، خو مونږ له دوی څخه دا يوه پوښتنه کوو چې د دې زمانې د وضعي قانون حاکمان که قاضيان دي او که

نور دي دوی د وضعي قانون تحکیم، تنفیذ خپله وجیبه او وظیفه گرځولې او همدغه یې کار دی هېڅ خلاف یې نشي کولی، نو آیا د ابن عباس رضي الله عنهما په زمانه کې په مسلمانانو کې داسې څوک وو چې هغوی هم د دوی په څېر د وضعي قانون تحکیم، تنفیذ خپله وظیفه گرځولې وي چې په اړه یې ابن عباس رضي الله عنهما د کفر دون کفر فتوه ورکړې وي؟ که وي مونږ ته یې بیلگه وښایئ؟ خو تر قیامته یې هم په خیر القرون کې د وضعي قانون بیلگه نشئ ښودلی بلکې دا ستاسو یو تهمت دی چې په ابن عباس رضي الله عنهما یې لگوئ، هغه ستاسو د دغه فاسدې عقیدې څخه بېزاره دی.

## تقنین د حرامو پرته له استحلال کفر دی.

**بیا وایي: و مجرد التقنین لیس کفرا بل هو راجع إلى حال المقنن.**

**الحال الأول: تقنين أنظمة دنيوية معاشية لا تتعارض مع الشرع، مثل: تقنين أنظمة المرور مما لا يتعارض مع الشرع فهذا التقنين جائز اتفاقا. [المنهج المتفق عليه صـ٢٢].**

په دې سره یې قانون سازۍ کې ویش کړی دی درې ډۆلونو ته: حلال، حرام، کفر.

خو هغه کار چې د شریعت موافق وي او حلال وي او دوی يې په خپل قانون کې داخلوي نو هغې ته هم مونږ اسلام نشو ويلی د دې درې لاملونه دي:

**اول لامل**: دوی چې دغه قوانين وضعه کوي نو په پارلمان کې يې ناست يهودي، نصراني، يزيدي، رافضي، ملحد، سيکولر، کمونسټ او نور، ټولو سره پرې مشوره کوي او له هغوی څخه په کې نظر او تائد اخلي، بيا چې کله رای د دغه قانون په اړه ډيرې شي نو په قانون کې يې داخلوي، حال دا چې د الله تعالی په صحيح ثابت حکم کې خو له چا څخه مشوره يا رای اخستل جايز نه دي بلکې مونږ ته يې يوازې د نافذولو اختيار دی نور د هيڅ شي اختيار نشته الله تعالی فرمايي: وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمْرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَٰلًا مُّبِينًا[سُورَةُ الأحزَاب: ٣٦].

ژباړه: هيڅ يو مؤمن او هيڅ يوه مؤمنه دا حق نه لري چې کله الله تعالی او د هغه رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کومې معاملې فيصله وکړي او بيا (د الله تعالی او د هغه د رسول په خلاف) هغه پخپله د خپلې هغې معاملې د فيصله کولو اختيار ولري. او

ځوك چي له الله تعالى او د هغه له رسول څخه سرغړاوى وكړي، نو هغه په ښکاره گمراهۍ کښې وغـورځیده.

نو د الله تعالى په امر كې چا ته دا اختيار نشته چې راى ته يې پيش كړي او ووايي چې نافذ يې كړو او كه نه؟ دغه اختيار يې چا ته نه دى وركړى خو د دوى په نظام كې د الله تعالى ثابت حكم راى ته وړاندې كيږي او هغه هم د هغه چا راى ته چې د الله تعالى ښكاره دوښمنان دي. كه دغه قانون د دوى په تايدولو سره اسلامي شي نو بيا خو بايد چې مرجي خبيث په پارلمان كې ناست يهودي، نصراني، هندو او نورو غير مسلم خلكو ته چې د دغه قانون په تايد كې يې برخه اخستې؛ هم مسلمانان ووايي!

**دويم لامل**: د دوى دغه د اسلام سره موافق قانون كې تغير او تبديل راتللى شي كله چې د حكومت دوره تيره شي نو ډېرى قوانين بدلېږي رابدلېږي د بيلگې په توگه: چې په مخكې قانون كې د ځلورو ښځو سره نكاح جايز كړې وي خو بيا يې وروسته بدلوي او د يوې ښځې سره نكاح په قانون كې داخلوي او مخكنى قانون منسوخ كوي. نو آيا د الله تعالى حكم كې تغير او تبديل راتلى شي؟ دا هېڅ امكان نه لري. خو د دوى په قانون

کې دا تغير راتللی شي، معلومه شوه چې د دوی د شريعت موافق قانون هم اسلامي نشي کېدای.

**دريم لامل:** دوی چې د شريعت موافق قانون ليکي نو نسبت يې قران او حديث ته نشي کولی او نه يې هم د قران او د حديث په نوم صادرولی شي ځکه چې بيا وربانديې په پارلمان کې ناست يهودي، نصراني، يزيدي، هندو او نور اعتراض کوي او هغوی به هم د خپل کتاب نه دلايل وړاندې کوي، بلکې دوی د دغه حکم نسبت د قانون مادو ته کوي او قران او حديث ته يې نشي کولی.

نو له همدې امله ويلی شو چې د دغه طاغوتي نظامونو هغه قوانين چې د اسلام سره موافق دي هم اسلامي نشي کېدای بلکې د دغه قانون په ليکلو او نافذولو سره هم دوی مرتد شوي دي.

**بيا وايي: والحال الثاني: تقنين الأمر المحرم الممنوع شرعا، مثل: الربا و شرب الخمر، مثلا رجل عنده محل لبيع الخمور و هو معتقد حرمتها، فقنن القوانين لصناعتها، و تعليبها، و تغليفها، ولبيعها، فهذا الرجل عاص، و آثم، وليس بكافر، إذا لم يستحل هذا العمل، وكذلك تقنين الربا، و جعل الضوابط المقيدة له، فهذا**

**فسق و فجور، وليس بكفر، إذا لم يستحل هذا العمل. [المنهج المتفق عليه صـ٢٢].**

دلته یې د حرام کار تقنین ته فسق ویلي دي، دا مسئله مونږ مخکې د وضعي قانون حاکم د تکفیر په لاملونو کې تفصیلي بیان کړې ده هلته مونږ د وضعي قانون حاکم د کفر لومړی لامل همدا بیان کړی و چې: تشریع ما لم یأذن به الله، د شریعت خلاف قوانین وضعه کول، په دې اړه مو د قران او د حدیث صریح نصوص پیش کړي وو او د سلفو علماوو اقوال او فتوې مو ذکر کړې وې که تفصیلي معلومات غواړئ نو هماغه ته رجوع وکړئ دلته یې بیرته نه رامعاد کوو.

خو د یوې خبرې یادونه دلته اړینه ګڼو چې د رسالې لیکوال هر ځای دا تلبیس کوي چې مکفره ګناه په غیر مکفره ګناه کې ورداخله او د خلکو له نظره یې پناه کړي چې خلک یې تر منځ توپیر ونکړای شي او دا ډېر لوی خیانت دی چې د رسالې لیکوال او مل پلاوی یې مرتکب شوي دي، خو مونږ وایو چې دلته د دوه خبرو تر منځ توپیر پکار دی که دا توپیر ونشي نو په افراط تفریط کې به اخته شو، یو: د کبیرې ګناه عملي کول دي لکه شراب جوړول، خرڅول، ښبنل او داسې

نور، یا له دې پرته نور هغه کبیره ګناهونه چې په ټولنه کې عام دي لکه زنا، سود، غلا او نور. نو دا ګناهونه یوازې په کولو سره د کفر لامل نه دي بلکې د فسق لامل دي نو څوک چې یوه کبیره ګناه کوي هغې ته مونږ کافر نشو ویلی بلکې فاسق به ورته وایو، خو که څوک یې حلاله وګڼي نو پرته له کولو یې هم کافر دی هغه جدا مسئله ده، تحلیل ما حرم الله، د الله تعالی حرام حلال ګڼلو سره عمل لازم نه دی، بس یوازې دغه عقیده هم د کفر لامل ده چې په دې خبره یو عامي هم پوهیږي. خو دلته دویمه خبره مهمه ده او هغه دا چې د یوې ګناه په اړه د جواز قانون جوړول لکه په پاکستان کې چې د همجنسبازۍ قانون منظور شو یا د زنا په رضا سره د جواز قانون، یا سودي قوانین او نور، چې په ټولو طاغوتي هیوادونو کې دغه قوانین منظور شوي دي، او د عملي کولو لپاره یې فوځ، پولیس، استخبارات، قضاء، محکمه او نور مختلف ارګانونه ګمارل شوي دي، مخالفینو ته یې سزاګانې ټاکل شوي دي، نو همدا کار کفر دی او تشریع مالم یأذن به الله ده، د الله تعالی سره د هغه په ځانګړي صفت کې ځان برخه دار جوړول دي، او دا بیا یوازې عمل پورې خاص نه دی بلکې هر څوک چې د شریعت

خلاف قانون سازي کوي که پخپله ورباندې عمل کوي او که نه يې کوي خو کافر دی، د کفر لامل يې تشريع مالم يأذن به الله دی چې په اړه يې دلايل مخکې ذکر شوي دي. خو دا کار يعنې تشريع ما لم يأذن به الله په عوامو کې معروف نه دی، او نه هم داسې خود مختاره علاقې شته چې هلته د هر سړي خپل حکومت وي او خپل قوانين او خپل فوځ او پوليس لري که چېرې موجود شي نو د هغوی به هم دغه حکم وي ځکه هر چا کې چې د کفر بواح لامل موجود شي هغه به کافر وي، دېکې بيا د چا لحاظ نشي کېدای، خو تشريع او تبديل د احکامو په آحادو کې معروف نه دی، بلکې دې لپاره په طاغوتي حکومتونو کې ځانګړي کميسونونه جوړ شوي دي چې له هغوی پرته هېچا ته د قانون سازۍ حق نشته او که له هغوی پرته څوک په دغه کار کې مداخله وکړي او له خپله ځانه قوانين جوړ کړي نو هېڅ اعتبار ورته نه ورکول کېږي بلکې د سزا مستحق وي، نو له همدې امله وايو چې عام مسلمانان د تشريع وظيفه نه ترسره کوي، او نه هم د ګناه کول په تشريع دليل ده چې له امله يې يا هم عام مسلمانان تکفير شي نو د خوارجو عقيده به رامنځته شي او يا به په تشريع او تبديل سره

هم څوک نه تکفیروي نو د مرجئه وو عقیده به رامنځته شي خو اهل السنة والجماعة د دې تر منځ دي، هغوی دغه کبیره گناهونه کول کفر نه گڼي خو د کبیره گناهونو تشریع کفر گڼي. نو د رسالې لیکوال دې د حاکم مکفره گناه چې تشریع او تبدیل د احکامو ده د عامو مسلمانانو په غیر مکفره گناه چې یوازې د گناه ترسره کول دي پرته له استحلال او پرته له تشریع یا تقنین نه، دا دې په کې نه پټوي، په مسلمانانو دې تلبیس نه کوي، او د ضد له وجې یا د طواغیتو د محبت له وجې دې په مسلمانانو خپل دین نه گډوډوي.

**بیا وایي: والحال الثالث: تقنين الأمر الكفري، كفر مخرج من الملة، ولا يحتاج إلى استحلال أصلا، مثل: تقنين الطواف حول القبور و الاستغاثات الشركية و تقنين السجود لغير الله و إهانة الشعائر الدينية وقتل الموحدين لتوحيدهم، فهذا يكفر صاحبه إذا علم حكم الله ثم عاند.[المنهج المتفق عليه صـ٢٣].**

دلته یې د کفري کار په اړه قانون سازۍ ته پرته له استحلال کفر ویلي دي، او د کفري کارونو په بیلگه کې یې د قبرونو څخه طواف، شرکي استغاثه (غیر الله ته رامدد شه ویل)، غیر الله ته سجده او نور، یې راوړي دي. دا خبره یې هم

د منهج په فساد دليل ده، ځکه چې دغه گناهونه مکفره دي، پرته له تشريع هم کفر دي، تشريع ورسره لازم نه ده، که هر څوک غير الله ته سجده وکړي هغه به مشرک وي چې په دې کې هيڅ شک نشته، خو د رسالې ليکوال ورسره د تقنين قيد هم زيات کړی دی نو مونږ ترې دا پوښتنه کوو چې آيا که په آحادو کې يو څوک غير الله ته سجده وکړي هغه به مشرک نه وي؟ څوک له قبر څخه طواف وکړي هغه به ستاسو په نزد مسلمان وي مگر هغه کس چې اول د دغې مکفره گناه په اړه يو قانون د ځان سره وليکي او بيا يې عملي کړي؟

دا ډېره د احمق سړي خبره نه ده چې تاسو کړې؟، دا کوم خلک چې قبرونو ته سجدې کوي يا بت ته سجده کوي آيا دوی لومړی د دغه گناه په اړه له ځانه سره قانون ليکي بيا يې کوي او که پرته له قانون د شيطان د تابعدارۍ له امله يې کوي؟ داسې خو هيڅوک نه کوي، خو تاسو سره له دومره شيخۍ او د علم د دعوو بيا هم احمقانه خبرې کوئ!!، داسې معلوميږي لکه چې عقل او شعور دواړه درنه الله رب العالمين اخستلي وي.

نو که زمونږ د دغه پوښتنو ځواب يې منفي وي او وايي چې هو، پرته له تقنين څخه غير الله ته سجده کفر نه ده بلکې

د كفر لپاره يې مخکې له سجدې کولو تقنين ضرور دی بيا به ورباندې د کفر حکم کيږي، نو د دې خبرې بطلان خو يې په هېڅا پټ نه دی او دا ډول عقيده په امت کې پرته له جهميه وو د بل چا نه ده، نو دوی بيا سلفيان نه بلکې د دې زمانې حقيقي جهميه دي. خو که ځواب مثبت وي او وايي چې هو غير الله ته سجده کول پرته له تقنين او استحلال کفر ده او کوونکي ته يې مشرک ويل کيږي، نو بيا ورته مونږ وايو چې د تقنين قيد ته څه ضرورت چې تاسو دلته راوړو؟ تقنين د حرام کار خو مستقل کفر دی چې په هغې کې پرته له مرجئه وو د بل هېڅا شک نشته، چې وضاحت يې مخکې شوی دی، خو د رسالې ليکوال له دغه عبارت څخه دا خبره هم معلومېږي چې شايد دوی غير الله ته سجده مکفره گناه گڼي نو ځکه يې د استحلال قيد ته هم اعتبار نه دی ورکړی خو دغه بل قيد زياتولو کې ښوېدلی دی، خير په هغې نور بحث نه کوو، خو په دې خبره لږ نظر اچوو چې دا يې څنگه دغه گناهونه مکفره گڼلي دي او استحلال ته يې په کې اعتبار نه دی ورکړی؟ له دې څخه خو هماغه زمونږ د خبرې تايد راځي چې مکفره گناه کې استحلال شرط نه دی چې مخکې يې په اړه وضاحت شوی دی او همدا

خبره صحیح ده، خو د رسالې لیکوال له دې خبرې څخه په ډېرو ځایونو کې خلاف کړی دی، یوازې په همدې ځای کې یې دا خبره څه نا څه صحیح کړې ده، ارمان که نورو ځایونو کې یې هم دغه حق دریځ اختیار کړی وی نو دومره فساد به یې نه وی خپور کړی، خو د دې اصلي لامل دا هم کیدای شي چې د رسالې لیکوال د شریعت خلاف تشریع د قوانینو مکفره گناه نه گڼي نو ځکه یې په اړه د استحلال قید راوړي، حال دا چې مخکې په دلایلو سره دا خبره ثابته شوې چې تشریع یا تبدیل د احکامو هم مکفره گناه ده لکه څنگه چې غیر الله ته سجده کول یا له قبر څخه طواف کول یا شرکي استغاثه مکفره گناهونه دي، دا ځکه چې کومې گناه ته مونږ مکفره وایو نو د خواهش له وجې به یې ورته نه وایو بلکې د شارع له وجې به ورته مکفر گناه وایو، نو شارع ذات لکه څنگه چې غیر الله ته سجده، له قبر څخه طواف او نورو، ته مکفره گناهونه ویلي دي نو همداسې یې د شریعت خلاف قانون سازۍ ته هم مکفره گناه ویلي ده او دغه کار ته یې د شرک لفظ کارولی دی، فرمایلي دي:

أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ [سُورَةُ الشّورىٰ : ٢١]. ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ [سُورَةُ التّوبَة : ٣١].

نو دواړه ځای ګناهونه په وحې سره مکفره ګرځېدلي، خو تاسو څنګه يوه مکفره ګڼئ او بله مکفره نه ګڼئ د دې څه لامل دی؟ معلومېږي چې تاسو دين د خواهش تابع کړی دی، حکم مو د خواهش تابع دی، د شريعت کومه خبره چې ستاسو په خواهش برابره وي هغه منئ خو چې برابره نه وي بيا په کې تاويلات کوئ چې دا د مسلمان کار نه دی، مسلمان به خپل ځان د شريعت تابع کوي، کومه ګناه مکفره وګڼي کومه نه؟ په چا د کافر حکم وکړي، په چا نه؟ څه شی حلال وګڼي څه شی حرام؟ په دې ټولو خبرو کې به د شريعت تابع وي، خو تاسو چې داسې نه دي کړي نو لامل يې د خواهش تابعداري رامعلوميږي او بل لامل يې د طاغوتي حاکمانو دفاع رامعلومېږي ځکه دا تاسو خپله وجيبه ګرځولې او د رسالې ټوله خلاصه مو په همدې خبره راڅرخې چې په څه ډول د دغه طاغوتي حاکمانو کفر په اسلام سره تعبير کړئ او بس، نور دين او صحيح منهج يا له توحيد څخه دفاع مو غرض نه ده. او بل لامل

دا دی چې دا خبرې تاسو سره طواغیت هم مني که چیرې دا یې هم درسره نه منلی نو بیا به مو دې ته هم پرتوګ جوړولی او یوه لار به مو ورته کتلی خو په دې کې درسره طواغیت موافق دي نو ځکه مو په ډاډه زړه دا خبره بیان کړې او دغه شرک ته مو شرک ویلي دي.

## یوه غیر مکفره ګناه د قانون په توګه د چا سره منل او تابعداري یې کول د طاعت شرک دی.

د رسالې لیکوال بیا وایي: الطاعة في التشريع من غير الله عز وجل...: ويختلف أيضاً الحكم باختلاف موضوع هذه الطاعة:

١- فمن أطاع في تشريع إقراراً بحق من أصدره بالتشريع من دون الله، ومتابعة له على ذلك كان مشركاً بالله عزوجل.

٢- ومن أطاع في التشريع لأسباب أخرى، فقد تجاوز هذا المضيق، وكان حكمه حكم ما أطاع فيه، إن كان أطاع في كفر فهو كفر، وإن كان في فسوق فهو فسوق، وإن كان في معصية فهي معصية.[المنهج المتفق عليه صـ٢٤].

نو دلته یې د شریعت خلاف قانون کې د چا طاعت ته هله شرک ویلي دي چې کله دغه قانون ساز د الله په ځیر د قانون سازۍ حقدار وګڼي او بیا یې د قانون تابعداري وکړي. خو که

د الله په څیر یې د قانون سازۍ حقدار ونه ګڼي او هسې د نورو لاملونو په اساس یې قانون ومني نو بیا به یې حکم د هغه کار د حکم تابع وي په کوم کې چې ورله تابعداري کړې ده که په کفر کې ورله تابعدري کړې وه کافر به وي او که فسق یا ګناه کې یې ورله تابعداري کړې وه نو فاسق عاصي به وي.

د دې عبارت توضیح په یو مثال سره کوو چې خبره ښه روښانه شي:

د پاکستاني د ډیموکراتیک نظام قانون ساز د شریعت خلاف ډیر قوانین لیکلي دي چې د هغې له جملې څخه: د انتخاباتو قانون، د همجنسبازۍ قانون، په رضا سره د زنا قانون، د سود قانون، د فردي ازادۍ قانون، د مساوات قانون اونور، دا که څوک ومني او په دې قوانینو کې یې له دې امله تابعداري وکړي چې پاکستانی قانون ساز د الله تعالی سره د قانون سازۍ په حق یا صفت کې شریک ګڼي(یعني د زړه له عقیدې څخه یې دغه قانون ومني او بیا یې ظاهراً تابعداري هم وکړي) نو دا تابعداري شرک ده او یوازې همدې ډؤل طاعت ته د رسالې لیکوال د طاعت شرک ویلي دي.

خو که دغه قوانینو کې یې پاکستانی قانون ساز د الله تعالی سره برابر ونه ګڼلو او د الله تعالی په څېر یې د قانون سازۍ حقدار ونه ګڼلو(یعني د زړه د عقیدي څخه یې دغه مخالف قانون ونه مانه) خو هسې په عمل کې یې ورله د نورو لاملونو لکه خواهش، د دنیا مینه او نورو، په اساس یې د دغه قوانینو تابعداري وکړه نو کافر به نه وي، بلکې په کوم کار کې چې د قانون ساز تابعداري کړي وي نو د هماغه کار د حکم مطابق حکم به په ده باندې کېږي، که داسې قانون کې ورله تابعداري کړي وي چې هغه صریح کفر وي لکه غیر الله ته سجده او نور، نو بیا به دغه تابعداري کوونکی کافر وي او که داسې قانون کې ورله تابعداري کړي وي چې موجب د فسق یا معصیة وي لکه د زنا په رضا سره قانون یې ورله منلی وي یا یې د همجنسبازۍ قانون ورله منلی وي یا یې د انتخاباتو یا د مساوات قانون کې ورله تابعداري کړي وي یا د ترهګرۍ ضد (جهاد ضد) مبارزه کې یې ورله د قانون تابعداري کړي وي یا یې سودي قانون کې ورله تابعداري کړي وي او دغه قوانین یې عملي کړي وي نو دا به کافر نه وي بلکې ګناه ته په کتلو سره د فاسق یا عاصي حکم بهورباندې کیږي، دا یې د عبارت

وضاحت و. خو دلته يې ډېره په باريکه طريقه خلک دې ته اماده کړي دي چې څوک د دغه طاغوتي نظامونو د شريعت خلاف وضعه کړي قوانين د قانون په توګه ومني او عملي کړي نو نه کافر کيږي بلکې دغه کار يې د فسق په حکم کې داخل کړی او خلک يې په همدې زړور کړي دي چې خير که دغه قوانين د شريعت خلاف هم وي که څوک يې د قانون په توګه ومني او تابعداري يې وکړي، نه کافر کيږي خو وروسته به د دې خبرې بطلان واضح شي ان شاء الله، بيا يې د شيخ الاسلام ابن تيميه يو قول ته په اشارې ويلي دي چې دا ويش شيخ الاسلام ابن تيميه کړی دی او د هغه خبره يې داسې بې ځايه توجيه کړې ده چې په نتيجه کې يې دغه ويش د بني اسرائيلو هغه ډلې ته هم عام کيږي د کومو په اړه چې الله تعالی فرمايي: اتَّخَذُوٓاْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ [سُورَةُ التّوبَة : ٣١]، حال دا چې د يهودو د کفر کوم لامل چې په دغه آيت کې ذکر دی هغه ټولو يهودو ته شامل دی او هېڅ يو يهودي له دغه حکم څخه د عدم اعتقاد له امله نه دی بهر شوی چې مسلمان ورته وويل شي او يا يې هم کفر ته کفر دون کفر وويل شي د يهودي کفر اصغر نه دی اکبر دی، نو د شيخ الاسلام وينا يې بې ځايه توجيه

کړې ده چې وروسته يې اقوال ذکر کوو، خو دلته مو يوازې اشارات وکړل.

له دې وروسته د مسئلې تفصيل ته راځو نو وايو: د رسالې ليکوال ځای په ځای داسې تلبيسات کړي دي چې د هر چا ذهن يې نه راخلي تر څو چې څوک په دې باب کې د الله تعالی له مدد وروسته ژور علم او مطالعه ونه لري نو دلته يې هم داسې کړي دي: د طاعت شرک په اړه چې يې اوله کومه توجيه کړې ده مقصد يې دا دی: د چا قانون له زړه څخه منل او بيا يې تابعداري کول يعنې څوک چې د قانون ساز په قانون داسې عقيده ولري لکه څنګه چې د الله تعالی په قانون عقيده لري او قانون ساز د الله تعالی په څېر د قانون سازۍ حقدار وګڼي او بيا د همدغه عقيدې په اساس ورله قانون عملي کړي نو دا به کافر وي او په دې کې هيڅ شک نشته. خو داسې به څوک وي چې هغه خپل مقننين بعينه د الله په شان شارعان او قانون سازان ګڼي څکه مشرکانو چې د بوتانو او يا د نورو باطلو معبودانو عبادت کولو نو هغوی هم خپل معبودان د الله سره براه راست شريکان نه ګڼل بلکې ويل يې: ما نعبدهم الا ليقربونا الى الله زلفى الاية [سورة الزمر:٣].

ژباړه: (او د خپل کار دا توجیه کوي چې) موږ خو د هغوی عبادت یوازې په دې خاطر کوو چې الله ته مو ورسوي.

بلکې یهود چې یهود دي هغوی هم خپل تحریفات د الله احکام نه ګڼل په دې معترف وو چې مونږ دا څه کوو نو دا د خپل دنیوي لالچ له کبله کوو خو الله بار بار تکفیر کړي دي نو د نورستاني او د ده د پلویانو په تله که څوک وتلل شي او ولتول شي نو داسې هېڅوک به پیدا نه شي چې خپل قانون سازان د الله غوندې قانون سازان ګني نو بیا به هیڅ کافر او مرتد نه وي نو د ټول قران تکذیب به لازم شي فالی الله المشتکی، نو په دې توجیه کې یې هم نه جبرانیدونکی تلبیس کړی دی.

او دویمه توجیه چې: د چا د شریعت خلاف قانون کې پرته له اعتقاده تابعداري کول؛ دې کې هم تلبیس کړی دی او حکم یې ورله د عامو ګناهونو د حکم تابع کړی دی،

نو د دې په اړه مونږ وایو: په ګناه کې د چا تابعداري کول په دوه ډوله دي:

**اول ډول:** دا چې څوک ورته ګناه هسې ښایسته کړي، ترغیب ورته ورکړي او په ګناه کولو یې راوو پاروي پرته له دې چې د قانون په توګه یې ورباندې ومني لکه نن سبا چې مسلمانان په مختلفو ګناهونو کې اخته دي د ناکاره ملګرو په لمسه سود کوي، غلاوې کوي، زنا ګانې کوي، خو دا د ناکاره ملګرو په لمسه او رغبت، د شیطان او نفسي خواهشاتو او شهواتو له امله کوي او دا ګناهونه د مستقل قانون په توګه نه پیژني بلکې ګناه یې ګڼي نو دا خلک کافر نه دي بلکې فاسقان دي، دې خبره کې هم شک نشته.

**په ګناه کې د طاعت دویم ډول:** دا چې څوک ورته د ګناه دعوت ورکړي او دا یې ورسره د قانون په توګه ومني او تابعداري یې وکړي لکه څنګه چې اوسني طاغوتي حکومتونه د همجنسبازۍ حکم په خلکو باندې د قانون په توګه مني، په رضا سره د زنا حکم ورباندې د قانون په توګه مني، سود ورباندې د قانون په توګه مني، مساوات ورباندې د قانون په توګه مني، انتخابات ورباندې د قانون په توګه مني او داسې نور، چې د همدغه قانون د تحکیم لپاره یې فوځ، پولیس، استخبارات او نور مختلف ارګانونه ګمارلي دي، خلاف

كوونكو ته يې سزاګانې مقرر کړي دي، نو دغه ګناهونه چې دې طاغوتي حاکمانو په خپلو قوانينو کې داخل کړي دي؛ که څوک يې د قانون په توګه ورسره ومني او عملي کړي نو د طاعت په شرک کې اخته شو او له اسلام څخه ووتلو. نو د طاغوتي حکومتونو دعوت دغه ګناهونو ته يوازې من باب الإغراء والتزين(د ښايسته کولو او ګناه ته هڅولو) نه دی بلکې د دوی دعوت دغه ګناهونو ته من باب التشريع والتقنين دی چې د قانون په توګه يې ورسره ومني او تابعداري ورله وکړي، نو يوه ګناه له چا سره د قانون په توګه منل او عملي کول او يوه ګناه د قانون په توګه نه منل خو هسې د چا د ترغيب له امله يې عملي کول؛ د دې دواړو تر منځ توپير شتون لري، يو طاعت د شرک لامل دی او بل د شرک لامل نه دی تر څو چې ورله په شرک کې تابعداري ونکړي، او توپير يې په دې کې راڅرګندېږي چې د يو خلاف کول د سزا موجب نه وي خو د بل خلاف کول د سزا موجب وي، څوک چې د حکومت وضعه شويو قوانينو خلاف وکړي د سزا مستحق ګرځي چې دا يوه ښکاره خبره ده.

نو يهودو چې د خپلو مشرانو تابعداري کړې وه او له امله يې مشران اربابان او دوی يې عبادت کوونکي وګرځېدل؛ لامل يې همدا و چې د خپلو مشرانو د شريعت خلاف قانون تابعداري يې کړې وه که څه هم په زړه سره يې دغه قانون نه و منلی بلکې يواځې په عمل سره يې ومانه نو الله عزوجل پرې د شرک حکم وکړ چې دا خبره مخکې د وضعي قانون حاکم د تکفير په لاملونو کې تفصيلي ذکر شوې ده، د اعتقاد قيد چې په دې باب کې څوک شرط کوي وضاحت يې هلته شوی دی.

خو د رسالې ليکوال دلته دغه توپير نه دی کړی بلکې ډېر په جرائت سره يې دغه ډول طاعت ته د فسق نوم ورکړی او د عامو ګناهونو سره يې پرتله کړی حال دا چې دا فسق نه بلکې شرک دی چې د طاعت په شرک سره نومول شوی دی، دلايل يې په اړه ډېر زيات دي الله عزوجل فرمايي: وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ[سُورَةُ الأنعَام : ١٢١].

ژباړه: او کوم څاروي چي د الله د نوم په اخيستلو نه وي حلال کړای شوي، د هغه غوښه مه خورئ؛ دا کار فسق دی. شيطانان د خپلو ملګرو په زړونو کښي شکونه او اعتراضونه اچوي چي هغوی له تاسي سره شخړه وکړي. خو که تاسي د هغوی تابعداري وکړه نو بيله شکه به تاسي مشرکان ياست.

له آيت څخه استدلال په دې طريقه کيږي چي دلته الله تعالی په يوې فرعي مسئله کې د کفارو قانون تابعداری ته شرک ويلي دي نو د هغه چا به څه حال وي چي په ډيرو مسايلو کې د کفارو خبره د قانون په توګه مني او تابعداري يې کوي لکه د زنا قانون، د سود قانون او نور؟ بلکې د هغه چا به څه حال وي چي د دغه قانون عملي کولو لپاره يې فوځ، پوليس او مستقل ځواک روزلی وي؟ خامخا به د آيت په حکم کې داخل وي.

همداراز د دې آيت په تفسير کې چي الله تعالی فرمايي:اتَّخَذُوٓا۟ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ[سُورَةُ التّوبَة : ٣١] ؛ ابن کثير رَحِمَهُ ٱللَّهُ حديث د عدي بن حاتم راوړی دی چي هغه له نبي عليه السلام څخه پوښتنه کړې وه ويلي وو:

دوی خو به يې عبادت نه کاوه، نبي عليه السلام ورته فرمايلي وو: **بلى إنهم أحلوا لهم الحرام وحرموا عليهم الحلال فاتبعوهم؛ فذلك عبادتهم إياهم [تفسير ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٣/ ٢٩٥].**

ژباړه: ولې نه، دوی ورته حرام حلال کړل او حلال يې پرې حرام کړل نو تابعداري يې وکړه، همدغه د دوی عبادت و.

امام شنقيطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل تفسير کې ويلي دي: **ولما كان التشريع وجميع الأحكام - شرعية كانت أو كونية قدرية - من خصائص الربوبية - كما دلت عليه الآيات المذكورة - كان كل من اتبع تشريعا غير تشريع الله قد اتخذ ذلك المشرع ربا، وأشركه مع الله [أضواء البيان ٧/ ٥٣].**

ژباړه: او هر کله چې قانون سازي او ټول حکمونه که شرعي وي او که تقديري کوني وي؛ د الله تعالى له ځانګړتياو څخه دي لکه څنګه چې پرې ذکر شوي آيتونه دلالت کوي، نو هر هغه څوک چې د الله تعالى له قانون څخه پرته يې د بل چا د قانون تابعداري وکړه؛ دغه قانون ساز يې د خپل ځان لپاره رب ونيوه او د الله تعالى سره يې برخه دار جوړ کړ.

طاعت د عبادت مهمه برخه ده ځکه عبادت چې له خوف، رجا او محبت څخه مرکب دی په ظاهري اندامونو پرته له طاعت څخه نه راڅرګندېږي نو له دې امله څوک چې د الله تعالی طاعت کوي هغه د الله تعالی بنده دی او څوک چې د غیر الله طاعت کوي نو هغه به د غیر الله بنده وي، ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ د عبادت په تعریف کې وايي: **العبادة إنما هي الإتباع والانقياد مأخوذة من العبودية وإنما يعبد المرء من ينقاد له ومن يتبع أمره،اهـ[الإحكام في أصول الأحكام لابن حزم ١/٩٣].**

ژباړه: عبادت تابعداري او غاړه ایښودلو ته وايي چې له "عبودية" څخه اخستل شوی، بنده د هغه چا عبادت کوي چې امر ته یې غاړه ږدي او تابعداري یې کوي.

د شریعت په ډېرو نصوصو کې طاعت ته عبادت ویل شوي دي چې ځینې په دې ډول دي:

الله عزوجل فرمايي: أَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ [سُورَةُ الفُرقان : ٤٣].

ژباړه: ته کله د هغه چا حال ته ځیر شوی یې چي خپل نفسي خواهش یې خپل معبود ګرځولی وي؟

په دې آيت کې خواهش ته معبود ويل شوي دي، له همدې امله چې د شريعت خلاف تابعداري يې کېږي.

بل ځای کې فرمايي: أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَٰنَ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ[سُورَةُ يٰسٓ : ٦٠].

ژباړه: د ادم اولادونو، آيا ما تاسي نه لوظ نه دی اخستی چې د شيطان بندګي مه کوئ؛ هغه ستاسې ښکاره دښمن دی.

په دې آيت کې د شيطان له عبادت څخه منعه راغلې حال دا چې شيطان ته خو پرته له ځينو اشخاصو هېڅوک لمونځ، نذر او روژه نه نيسي، معلومه شوه چې له عبادت څخه د شيطان طاعت مراد دی او له طاعت څخه يې منعه راغلې.

بل ځای کې د ابراهيم عليه السلام څخه حکايت کوي فرمايي: يَٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَٰنَ إِنَّ الشَّيْطَٰنَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا [سُورَةُ مَريَم : ٤٤].

ژباړه: پلاره! ته د شيطان بندګي مکوه، شيطان خو له رحمن ذات څخه سر غړوونکی دی.

دلته هم د شيطان له عبادت څخه منعه راغلې چې مراد ورڅخه د شريعت خلاف د شيطان تابعداري ده ځکه د ابراهيم عليه السلام پلار شيطان ته لمونځ، سجده او طواف نه کوو بلکې د شيطان د امر او وسوسو تابعداري يې کوله، نو دغه طاعت نه يې تعبير په عبادت سره کړی، معلومه شوه چې د طاعت اطلاق په عبادت لغة او شرعا شوی.

مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى [سُورَةُ القَصَص : ٣٨].

ژباړه: (فرعون ويلي وو ای د دربار خلکو) زه پرته له خپل ځانه ستاسو لپاره بل معبود نه پېژنم.

دلته چې فرعون د الوهية دعوه کړې نو آيا قوم يې ورته سجده، لمونځ، روژه او نور عبادتونه کول؟ نه، بلکې د فرعون د امر تابعداري يې کوله. معلومه شوه چې د شريعت خلاف د چا طاعت کول عبادت بلل کېږي.

نو د غير الله عبادت يواځې په يو ډؤل کې نه دی راښکارند شوی چې بوت ته سجده کول يا له قبر څخه طواف کول، بلکې د غير الله عبادت وخت په وخت په نوو ډؤلونو سره رامنځته شوی، کله هم غير الله ته د سجدې، لمونځ، منښته او د روژې

په ډول، او کله هم الله تعالی ته د شرکي وسیلې په ډول لکه د مشرکانو شرکي وسیله نیول، چې الله تعالی یې په اړه فرمایي: ﴿وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰٓ﴾[سُورَةُ الزُّمَر: ٣].

ژباړه: هغه کسان چې له الله تعالی پرته یې نور سرپرستان نیولي دي (او د خپل دغه کار دا توجیه کوي چې) «موږ خو د هغو عبادت یوازې په دې خاطر کوو چې الله ته مو ورسوي.»

او کله هم د الله تعالی د قانون خلاف د بل چا د قانون طاعت او تابعدارۍ په ډول رامنځته شوی چې په اوس زمانه کې د شرک همدا ډول یعنې شرک الطاعة ډېر عام شوی دی او د نړۍ ډېری خلک په دې ډول شرک کې اخته دي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه د عدي بن حاتم د حدیث په شرح کې وایي: **فقد بين النبي عليه الصلاة والسلام أن عبادتهم إياهم كانت في تحريم الحلال وتحليل الحرام لا في أنهم صلوا لهم وصاموا لهم ودعوهم من دون الله؛ فهذه عبادة الرجال، وقد ذكرالله أن ذلك شرك بقوله (لا إله إلا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ) اهـ [مجموع الفتاوى ٧/ ٧٦].**

ژباړه: نبي عليه السلام دا خبره بيان کړې چې د دوی د خپلو مشرانو عبادت د حلال په حرام ګڼلو او حرام په حلال ګڼلو سره و، نه په دې توګه چې دوی ته يې لمونځ کړی وي، روژه يې ورته نيولې وي او له الله تعالى پرته يې رابللي وي؛ دا خو د خلکو عبادت دی چې الله تعالى ورته په دې وينا سره شرک ويلي دي فرمايلي دي: له الله تعالى پرته هېڅ حقدار د عبادت نشته هغه ذات پاک دی له هغه څه چې دوی يې ورسره شريکان جوړوي.

بل ځای کې وايي: **فمن طلب أن يطاع دون الله فهذا حال فرعون؛ ومن طلب أن يطاع مع الله فهذا يريد من الناس أن يتخذوا من دون الله أندادا يحبونهم كحب الله؛ والله سبحانه أمر أن لا يعبد إلا إياه ولا يكون الدين إلا له وتكون الموالاة فيه والمعاداة فيه؛ ولا يتوكل إلا عليه؛ ولا يستعان إلا به.[مجموع الفتاوى ١٤/ ٣٢٨].**

ژباړه: چا چې دا وغوښتل چې له الله تعالى پرته يې تابعداري وشي نو دا د فرعون حال و (چې هغه هم په دغه څېر غوښتنه کړې وه) او چا چې وغوښتل چې د الله تعالى له تابعدارۍ سره د ده تابعداري هم وشي نو دا له خلکو څخه د دې اراده لري چې له الله تعالى پرته نور معبودان ونيسي، داسې

مينه ورسره ولري لكه څنګه مينه چې له الله تعالى سره لري، الله تعالى د دې امر کړی دی چې له الله تعالى پرته د بل هيچا عبادت دې نه کېږي او دين دې يوازې الله تعالى ته خاص شي او دوستي دوښمني دې د دين له وجې وشي او پرته له الله تعالى دې په بل چا توکل او مدد نه غوښتل کېږي.

بل ځای کې د دې آيت په تفسير کې: اتَّخَذُوٓا۟ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ [سُورَةُ التَّوبَة : ٣١]؛ د ابو البختري قول راوړي نو وايي: **"قال أبو البختري: أما إنهم لم يصلوا لهم، ولو أمروهم أن يعبدوهم من دون الله ما أطاعوهم، ولكن أمروهم فجعلوا حلال الله حرامه وحرامه حلاله؛ فأطاعوهم فكانت تلك الربوبية. اهـ [مجموع الفتاوى لابن تيمية: ٧/ ٦٧].**

ژباړه: ابو البختري ويلي دي: خبردار دوی دغه مشرانو ته لمونځ نه دی کړی او که چېرې يې دوی ته امر کړی وی چې له الله تعالى پرته دې عبادت وکړي؛ اطاعت به يې نه وای کړی، خو دوی ورته په دې طريقه امر وکړ چې (دغه مشرانو يې) د الله تعالى حلال يې حرام کړل او حرام يې حلال کړل، پس دوی په دغه کې اطاعت وکړ (يعني دغه حلال، حرام يې ورسره ومنل) نو همدا د دوی ربوبيت وبلل شو.

او بیا وروسته په همدغه صفحه کې وایي: **وقال الرِّبِيع بن أنس: قلت لأبي العالية: كيف كانت تلك الربوبية في بني إسرائيل؟ قال: كانت الربوبية أنهم وجدوا في كتاب الله ما أُمروا به ونُهوا عنه فقالوا: لن نسبق أحبارنا بشيء؛ فما أمرونا به ائتمرنا وما نهونا عنه انتهينا لقولهم فاستنصحوا الرجال ونبذوا كتاب الله وراء ظهورهم، اهـ[مجموع الفتاوى لابن تيمية: ٧/ ٦٧].**

ژباړه: ربیع بن انس وایي: ما د ابو العالیه نه وپوښتل: په بني اسرائیلو کې دغه ربوبیت څنګه رامنځته شو؟ (یعنې څنګه د دوی مشران ارباب وګرځېدل) هغه وویل: په دوی کې ربوبیت داسې رامنځته شو چې دوی د الله تعالی په کتاب کې د الله تعالی اوامر او نواهي ولیدل، نو وې ویل: مونږ به د خپلو علماوو له یوې خبرې څخه هم مخکې نه شو (یعنې خلاف به یې ونکړو) هغوی چې مونږ ته څه امر کاوه د هغې تابعداري به کوو او د څه شي نه چې یې منعه کولو ترې منعه کېږو به، نو دوی د خلکو نصحیت قبول کړ او د الله تعالی کتاب یې شاه ته پریښود.

او دا حال اوس هم دی، دغه طاغوتي حاکمان د بوت پاله اروپا له قوانینو څخه راخستل شوي قوانین په مسلمانانو باندې

مني نو هر چا چې ورسره ومنل په شرک الطاعة کې اخته شو که څه هم دغه کار بذات خود شرک نه و خو د دوی د قانون د تابعدارۍ له امله شرک گرځي.

الله عزوجل چې د اور والاو حال رانقلوي نو په هغه کې يې د دوی جهنم ته داخلېدلو لامل داسې بيان کړی دی فرمايي: تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ **[سورة الشعراء ٩٧، ٩٨].**

ژباړه: قسم په الله يقينًا مونږ په گمراهۍ ښکاره کې وو کله چې مو تاسو د رب العالمين سره په درجه کې برابرولئ.

نو چې هر څوک يې په دنيا کې له الله تعالی سره برابر کړي وي که انسان وي که گټه او بل څه؛ په آخرت کې به يې دغه حال وي.

علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **ومعلوم أنهم ما سووهم به سبحانه في الخلق، والرزق، والإماتة، والإحياء، والملك، والقدرة، وإنما سووهم به في الحب والتأله والخضوع لهم والتذلل، وهذا غاية الجهل والظلم.اهـ [الجواب الكافي لابن القيم ١/١٣٢].**

ژباړه: او دا معلومه خبره ده چې دوی خپل معبودان له الله تعالی سره د مخلوق په پیدا کولو کې، رزق، وژل، ژوندي کول، پاچاهي او قدرت کې نه وو برابر کړي بلکې دوی خپل باطل معبودان له الله تعالی سره په مینه ، د الوهیت په دعوه ، هغوی ته په عاجزي کولو او هغوی ته په غاړه ایښودلو کې برابر کړي وو نو دا ډیر لوی ظلم او جهل و.

د طاعت شرک چې د شریعت له نصوصو څخه ثابت دی، د دې زماني خلکو له ذهنونو څخه وتلی او ډیری خلک په کې اخته شوي دي لکه شیخ الاسلام محمد بن الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ په دې اړه په خپل کتاب کې مستقل باب راوړی او د شرک په ډولونو کې یې دریم ډول د طاعت شرک شمار کړی دی او ډیر ښایسته تفصیل یې کړی دی[اوګورئ: الرسالة المفيدة للشيخ محمد بن عبد الوهاب ١/ ٤٤].

دلایل په دې مسئله کې نور هم ډیر دي خو په همدې بسنه کوو او د الله تعالی له ذات څخه امید لرو چې دا مسئله ښه واضحه شوي وي. ان شاء الله تعالی.

# د موالات مسئله.

**د رسالې ليکوال د موالات مسئله راوړې ده نو ويلي دي: الفرق بين الموالاة والتولي:**

**الموالاة باسمها العام تنقسم إلى قسمين.... فالتولي محبة الشرك، والكفر، وأهلهما، أو نصرة المشركين و الكفار على المسلمين قاصدا ظهور الكفر على الإسلام، فهذا كفر أكبر.[المنهج المتفق عليه : ٢٨].**

ژباړه: د موالات او تولي تر منځ توپير: موالات د خپل عام نوم په توگه دوه ډولونو ته تقسيم دى(بيا وايي:) "تولّي" د شرک، کفر او د کافرو سره مينه کول يا د مشرکانو او کافرانو سره د مسلمانانو په خلاف په دې نيت مرسته کول چې کفر په اسلام غالب شي، نو دا لوى کفر دى.

نو د موالات مسئله يې هم د خپلې فاسدې عقيدې په اساس بيان کړې او د نورو مسئلو په څېر يې له ځانه قيودات ورزيات کړي دي، د مسلمانانو په خلاف د کفارو سره کومک کول يې هله موالات مکفره گڼلي چې کله يې له زړه څخه د کفر د غلبې اراده کړي وي، يعني له زړه څخه کافر شوى وي، نو د زړه قصد او اعتقاد يې دلته هم شرط کړ، د اول نه همداسې لگيا دى هره

مسئله زړه ته راجع کوي تاسو يې دې خبرو ته پوره توجو وکړئ مسلمانانو ورونو! له دې څخه به تاسو ته د دوی اصل معلوم شي چې دوی عمل له ايمان څخه ويستی دی او په ايمان کې د عمل په نوم څه نه پېژني يوازې په هغه شرکياتو کې چې حاکم ته په کې کوم زيان نه رسېږي عمل ته اعتبار ورکوي خو په نورو شرکياتو يا نواقضو د اسلام کې عمل ته اعتبار نه ورکوي بلکې هره مسئله زړه ته راجع کوي، دوی د مرجئة الفقهاء نه هم بدتر دي، هغوی که څه هم عمل د ايمان په ارکانو کې داخل نه گڼي خو د کفر په حکم کې د اهل السنة سره موافق دي نو څوک چې يو کار يا وينا د کفر وکړي د کفر حکم وربانديې کوي اختلاف يې د اهل السنة سره په دې کې دی چې هغوی دغه کفري وينا يا کار له زړه څخه د تصديق په نشوالي دليل گرځوي او تلازم يې تر منځ وايي خو اهل السنة يې زړه ته نه راجع کوي بلکې کفري عمل بذات خود د کفر لامل گڼي او دغه تلازم يې ترمنځ نه وايي چې په دې اړه تفصيل د جحود قيد رد په ضمن کې شوی دی، خو د رسالې ليکوال له مرجئة الفقهاء څخه هم لرې تلی دی او په ډېرو مسايلو کې يې عملي کفر ته اعتبار نه دی ورکړی چې يو له هغو څخه د کفارو

سره د مسلمانانو په خلاف جنگ کې برخه اخستل دي نو په دې کې يې د غلاة المرجئة په څېر قول کړی چې که چېرې يې له زړه څخه د کفر د غلبې اراده وه نو کافر به وي او که له زړه څخه يې دغه اراده نه وه نو يوازې د عمل له وجې وربانديې د کفر حکم نه کوي. د پورته عبارت وضاحت يې په يو مثال سره کوو: يهودو په فلسطين يرغل کړی دی د يهودو په کفر کې خو هېڅوک اختلاف نه لري نو په مسلمانانو کې چې څوک هم د يهودو سره په صف کې ودرېږي او د مظلومو بې دفاع مسلمانانو په خلاف وجنگېږي خو له زړه څخه يې دا اراده نه وي چې کفر په اسلام غالب شي بلکې نور دنياوي ماديات يې په زړه کې نيولي وي نو د دې کس به څه حکم وی؟ ايا دا به مرتد وي او که نه؟ د رسالې ليکوال قيدونو ته په کتو سره داسې کس مرتد نه دی، همدا راز د صليبي ټلوالې په مشرۍ د عراق، شام، خراسان ساحو باندې کفارو يرغل کړی و، دوی سره چې کومو کسانو فوځ، پوليس، اردو، اربکي، استخبارات ،علماء سوء او نورو وظيفو کې برخه اخستې وه چې د مسلمانانو په خلاف يې ورسره جنگ کې همکاري کوله؛ په خولې يې د بې وسۍ او مجبورۍ چغې وهلې، داسې يې نه ويل چې مونږ د

كفر غلبه غواړو بلکې ځانونه یې د اسلام او د وطن اصلي ساتونکي ګڼل او اوس یې هم ګڼي، نو د دوی به څه حکم وي؟ آیا مرتد به وي او که نه؟ د رسالې لیکوال قید ته په کتو دوی هم مرتد نه دي، بلکې هغه اسلامي هېوادونه چې د صلیبي ټلوالې سره په دغه یرغل کې عسکري، مالي، اقتصادي، تخنیکي، زمیني او هوایي مرستې د امریکا د فشارونو په بهانه یا د نورو مادیاتو له امله کړي دي او هم یې کوي؛ دغه قید ته په کتو مرتد نه دي، ځکه ما ته چې څومره معلومات دی نو په دوی کې مې له هېچا څخه داسې نه دي اورېدلي چې زه د کفر غلبه او د اسلام مغلوب کېدل غواړم، نو د رسالې لیکوال چې دا کوم قید لګولی تر قیامته به هم څوک په اتم ناقض د اسلام سره چې شیخ محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ ذکر کړی او د شریعت په صریحو نصوصو او اجماع د امت سره ثابت دی؛ څوک به ورباندې کافر نه کړی شي ځکه "قصد" د زړه ارادې ته وایي او د زړه ارادې نه یوازې الله تعالی خبر دی نور څوک ترې نشي خبرېدی تر څو چې یې پخپله خوله اقرار نه وي کړی.

اوس هم هماغه امریکایي سپیشل فورس، صفري قطعات او نور قطعات او ځواکونه د امریکا نیابتي جګړه ماران طالب

مليشو په حکومت کې شته تاسو ترې پوښتنه کولی شئ چې آیا هغه وخت چې تاسو امریکایانو سره وظیفه ترسره کوله نو هدف مو د کفر غلبه او د اسلام مغلوبول وو که څنګه؟ هغوی به تاسو ته په مرګ هم د دې اقرار ونکړي هماغه د امریکانو وخت کې دا خبره نه کوله نو اوس به یې څنګه وکړي، نو بناءً د رسالې لیکوال په نزد د اسلام دغه اجماعي ناقض معطل دی او هېڅوک مرتد نه دی، پرته له هغه چا چې د کفارو سره د مسلمانانو په خلاف صف کې ودرېږي او دا اعلان وکړي چې ای خلکو خبر شئ زه د کفر غلبه له زړه څخه غواړم ـ العیاذ بالله ـ خو اهل السنة والجماعه بیا داسې نه وایي بلکې د هغوی دریځ د داسې خلکو په اړه واضح دی شیخ الاسلام ابن تیمیه په "الصارم المسلول" کې وایي: **وبالجملة فمن قال، أوفعل ما هوكفر كفربذلك وإن لم يقصد أن يكون كافرا، إذ لا يقصد الكفرأحد إلا ما شاء الله.[الصارم المسلول على شاتم الرسول ص١٧٨].**

ژباړه: خلاصه دا ده چې څوک یوه خبره یا کار د کفر وکړي نو هغه په دې سره کافر کېږي، که څه هم د کفر اراده یې (له زړه څخه) نه وي ځکه د کفر اراده هېڅوک نه کوي مګر که الله اوغواړي(او یو کس نیم داسې وي چې د کفر قصد

يې کړې وي هغه به جدا وي نور غالب څوک د کفر قصد نه کوي)

نو د رسالې ليکوال قيد د "**قاصدا ظهورالکفر**" ويلی دی خو شيخ الاسلام "**ان لم يقصد**" ويلی دی، نو "**قاصدا**" = "**لم يقصد**" کې څومره توپير دی ماده يوه ده باب يو دی خو يو نفي او بل اثبات، نو نفي او اثبات خو د يو بل متضاد دي نو څنګه چې په الفاظو او عبارتونو کې تضاد ثابت شو دغه لفظي تضاد په عقيدوي تضاد هم دليل دی چې دوی سلفيان نه دي او نه هم د هغوی په منهج دي، دوی خپل ځان ته نوی منهج جوړ کړی دی چې د "المنهج المتفق عليه " په نوم سره يې نومولی، چې د سلفو له منهج څخه سراسر خلاف دی، تاسو ته دا خبره په دلايلو ځای په ځای ثابته شوه ـ بحمد الله ـ دوی په خپل نوي منهج کې د شرعي الفاظو لپاره نوي اصطلاحات او تعبيرات راوباسي، دې لپاره چې دا دين د ډيموکراسۍ په قالب کې برابر کړي د ماډرن زمانې له تقاضاوو سره يې ولګوي ځکه د سلفو په تعبيراتو سره خو نه برابرېږي.

الغرض دغه قيد چې دوی د اسلام په اتم ناقض کې زياتوي؛ هيڅ اعتبار ورته نشته بلکې چا چې هم د کفارو سره

د مسلمانانو په خلاف مرسته يا کومک وکړ که هر ډول مرسته وه نو هغه به مرتد وي برابره ده که د کفر غلبې اراده يې له زړه څخه وي او که نه.

الله تعالى فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَتَّخِذُوا ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ [سُورَةُ المَائدة : ٥١].

ژباړه: اې مؤمنانو! يهوديان او نصارا خپل ملګري مه نيسئ، دوى په خپلو منځو کښې سره ملګري دي. او که ستاسې څخه څوك هغوى خپل ملګري نيسي، نو بيا هغه هم په هماغو کښې شمېرل کېږي. په دې کښې شك نشته چې الله تعالى ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي.

امام ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دې آيت په تفسير کې وايي: إِنَّمَا هُوَ عَلَى ظَاهِرِهِ بِأَنَّهُ كَافِرٌ مِنْ جُمْلَةِ الْكُفَّارِ ، وَهَذَا حَقٌّ لَا يَخْتَلِفُ فِيهِ اثْنَانِ مِنْ الْمُسْلِمِينَ. [المحلى ١١/٧١].

ژباړه: دا آيت په خپل ظاهر باندې دى چې دا به کافر وي، د نورو کافرانو له ډلې څخه به وي. او دا حق خبره ده چې دوه مسلمانان هم په کې اختلاف نه کوي.

ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ دغه ناقض چې د آيت له ظاهر څخه يې مستنبط کړی دی؛ دوی په کې خلاف ظاهر قيد راويستی دی.

شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي:

**إن الأدلة على كفر المسلم إذا أشرك بالله أو صار مع المشركين على المسلمين. ولو لم يشرك. أكثر من أن تحصر من كلام الله وكلام رسوله وكلام أهل العلم المعتمدين. [ الرسائل الشخصية ص ٢٧٢].**

ژباړه: دلايل په کفر د مسلمان کله چې د الله تعالی سره برخه دار جوړ کړي يا د مشرکانو سره د مسلمانانو په خلاف ملګری شي که څه هم شرک يې نه وي کړی؛ بې شماره دي د الله تعالی د کتاب او رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له احاديثو او د معتمدو علماوو له اقوالو څخه.

شيخ عبد الله بن عبد اللطيف آل الشيخ رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **ومن جرهم وأعانهم على المسلمين بأي إعانة فهي ردة صريحة. [ الدرر السنية ٤٢٩/١٠].**

ژباړه: چا چې دوی راوستل او د مسلمانانو په ضد يې د دوی سره کومک وکړ که هر ډول کومک وي نو دا ښکاره ارتداد دی.

شيخ الاسلام ابن تيميه د طائفه ممتنعه د عسكرو په اړه وايي: **لو ادعى مدع أنه خرج مكرها لم ينفعه ذلك بمجرد دعواه كما روي: {أن العباس بن عبد المطلب قال للنبي صلى الله عليه وسلم لما أسره المسلمون يوم بدر: يا رسول الله إني كنت مكرها. فقال: أما ظاهرك فكان علينا وأما سريرتك فإلى الله} [مجوع الفتاوى ٢٨/ ٥٣٧].**

ژباړه: كه چېرې له دوى څخه څوک دعوه وکړي چې په زور (جنگ) ته راويستل شوى دى؛ دغه دعوه ورته فايده نه ورکوي لکه په روايت کې چې راغلي دي: عباس بن عبد المطلب نبي عليه السلام ته وويل کله چې مسلمانانو د جنگ بدر په ورځ بندي کړى و؛ اى د الله رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما باندې زور شوى و، نبي عليه السلام ورته وفرمايل: ستا ظاهر زمونږ په خلاف و او ستا باطن (پټ حال) الله تعالى ته حواله دى.

نو وگوره دلته نبي عليه السلام د عباس رضي الله عنه په ظاهر فيصله کړې او د زړه قصد يا ارادې ته يې نه ده راجع کړې، خو زمونږ د زماني مرجئه په کې د زړه قصد هم د قيد په توگه ورزياتوي او د نبي عليه السلام نه هم ځانونه په دې مسئله کې زيات محتاط گڼي ـ العياذ بالله ـ

دوى چې هر ځای کې د کفر لپاره د زړه قصد شرط کوي نو د دې آیت سره به څه کوي چې الله تعالی فرمایي: وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا [سُورَةُ النَّمل : ١٤] ،

ژباړه: هغوی له سره تر پایه د ظلم او غرور له لارې له دغو نښانو څخه انکار وکړ، پداسې حال کښې چې زړونه يې پرې قائل شوي ول. ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: **يقينهم في قلوبهم، [تفسير الطبري تحقيق أحمد شاكر ط الرسالة ١٩/ ٤٣٦]،**

ژباړه: د دوی په زړونو کې یقین و. نو غبي مرجي چې کفر يې يوازې تر کفر الجحود او کفر التكذيب رابند کړی دی او عملي کفر نه مني، كفر الإباء والإستكبار نه مني نو دلته به څه کوي آیا فرعون ته به مسلمان وايي؟ ځکه هغه خو له زړه څخه کفر نه وو کړی بلکې زړه يې له تصديق څخه ډک و، همداسې د ابلیس په اړه به څه وايي چې هغه هم د إباء او استكبار په کفر کې اخته وو د جحود په کفر کې نه و اخته!

او په بخاري کې دي: عمر بن الخطاب رضي الله عنه ويلي دي: **إن أناسا كانوا يؤخذون بالوحي في عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم، وإن الوحي قد انقطع، وإنما نأخذكم الآن بما ظهر لنا من**

**أعمالكم، فمن أظهر لنا خيرا، أمناه، وقربناه، وليس إلينا من سريرته شيء الله يحاسبه في سريرته، ومن أظهر لنا سوءا لم نأمنه، ولم نصدقه، وإن قال: إن سريرته حسنة [رواه البخاري رقم الحديث: ٢٦٤١].**

ژباړه: خلک به د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې په وحي سره رانیول کېدل او وحي بنده شوې، اوس به مونږ تاسو په هغه کارونو رانیسو چې مونږ ته راڅرګند دي، نو چا چې مونږ ته خیر راڅرګند کړ، مونږ ورته امن ورکوو او ځان ته یې رانېژدې کوو او مونږ یې په پټ حال مکلف نه یو، الله تعالی به ورسره په پټ حال حساب کوي او چا چې مونږ ته بدي راڅرګنده کړه مونږ ورته امن نه ورکوو او نه یې تصدیق کوو که څه هم دا خبره وکړي چې پټ حال یې ښایسته دی.

نو دا د صحابه وو فهم دی چې د شریعت له نصوصو یې اخستی دی خو د دې زماني غالي مرجئه چې د سلفیت دعوه لري داسې نصوص شاه ته کوي او له خپل ځانه شرعي نصوص مقیّد کوي.

همدا راز صحابه وو چې کله د زکات له مانعینو سره جنګ کوو نو له هغوی څخه یې د دې پوښتنه نه وه کړې چې

تاسو له زړه څخه د دې حکم نه انکار کوئ او که نه؟ بلکې د ټولو سره يې يو شانته جنګ کړی او ټول يې تکفير کړي دي او په مړو يې ورله د جهنم ګواهي کړې ده پرته له تميز نه. [وګورئ: مفيد المستفيد في كفر تارك التوحيد للشيخ محمد بن عبد الوهاب صـ ٢٧ مكتبة الهمة].

خو مرجي چې يو کس کفارو سره د مسلمانانو په خلاف کومک له امله تکفيروي نو مخکې به ورته زړه راسپړي او ورته ګوري به چې په زړه کې کفر شته او که نه؟ چې دا کار محال دی.

د دغه اجماعي ناقض په اړه مونږ نور تفصيل نه کوو خو د دوی په دغه بې ځايه قيد باندې مو رد کول غرض وو، نور که څوک د دغه ناقض په اړه معلومات غواړي نو قران، حديث او د سلفو کتابونه ورڅخه ډک دي، خو نورستاني او د هغه مل پلاوي ته مونږ لرې ادرس نه ورکوو ځکه لرې نظر يې کار نه کوي بلکې د هغوی د خپل د کور کس ابو محمد امين الله بشاوري په کتاب [الدين الخالص نهم جلد صـ ٢١٩ ـ ٢٢٩] باندې ورته حواله ورکوو دا دې وګوري د زړه اطمينان به يې وشي،

دوی چې کوم قید اوس ورزیات کړی دی؛ دغه قید ته په کې نوموړي هيڅ اشاره نه ده کړې.

## ډپلوماتيکي اړيکي.

**د رسالې ليکوال بيا وايي: ولا يدخل فيها العلاقات الدبلوماسية، و التجارية مع الدول الكافرة،[المنهج المتفق عليه ص ٢٩].**

ژباړه: د موالات په ډؤلونو کې د کفري دولتونو سره دپلوماتيکې او تجارتي اړيکې پالل داخل نه دي.

دلته يې د طاغوتي حاکمانو يو بل کار ته د اسلام جامه وراغوستې ده او هغه دا چې د دغه حاکمانو هغه دپلوماتيکي اړيکي چې د بين الملل له قوانينو او اصولو سرچينه اخلي؛ جايز يې ګڼلي دي، او د موالات مکفره له دايرې څخه يې ويستي دي.

دا مونږ منو چې دپلوماتيکې اړيکي د کفارو سره پالل موالات نه دي ځکه چې اصل يې د قران او حديث څخه ثابت دی او صحابه وو ورباندې عمل کړی دی خو دغه اړيکي به له کومو اصولو او اساساتو سرچينه اخلي؟ آيا د بين الملل له کفري اصولو او که له اسلامي اصولو څخه به سرچينه اخلي؟ څوک

چې په دې اړه مطالعه نه لري نو سمدست دوکه کېږي او وايي چې دپلوماتيکې اړيکې په شريعت کې جايز دي نبي عليه السلام سفيران ليږلي دي، کفارو ته يې دعوت ورکړی دی. مونږ وايو دا خبره صحيح ده خو دلته په اسلام کې کوم ډول دپلوماسۍ ته اجازه راغلې ده او کومې ته اجازه نشته، بايد د دې په اړه هر مسلمان خبر وي، نو په اسلام کې سفارتي اړيکې يا دپلوماسي چې له نظامي ستراتېژۍ يوه برخه ګڼل کيږي له درې خبرو څخه راڅرخي:

۱ـ اسلامي دعوت ته رشد او پراخي، چې بل تعبير يې کفارو ته د اسلام دعوت رسول.

۲ـ اسلامي قلمرو پراخېدل چې بل تعبير يې کفارو ته د جزيه دعوت دی.

۳ـ د قتال ستراتژي يعني کله چې کافران له دغه مخکنو دوه خبرو څخه انکار وکړي نو بيا به ورسره جنګ کېږي او تر هغه به جنګ دوام مومي چې اسلام يا جزيه ته غاړه کېږدي. د اسلام په سياسي نظام کې به دپلوماتيکې اړيکي همدغه درې کارونو پورې رابندې وي او د همدغه ستراتېژي د مخ ته وړلو

لپاره به په موقت ډول د سفیرانو تګ راتګ او له یو بل سره خبرې او ناستې کېږي، که خبرو نتیجه ورنکړه نو بیا به د کفارو سره نه دېره کېږي بلکې خپلې علاقې ته به راځي او د قتال ستراتېژي به په مخ وړي، همدې ډول دیپلوماتیکو اړیکو ته په شریعت کې اجازه راغلې او د نبي علیه السلام او صحابه وو په زمانه کې سفیران تلي راغلي دي، چې په نتیجه کې یې ځینو کفارو د اسلام دعوت قبول کړی، ځینو جزیه ورکړې او ځینو سره جنګ شوی دی، ځومره احادیث چې هم په دې باب کې راغلي دي نو دپلوماتیکې اړیکې په کې همدغه درې کارونو پورې رابندې دي، صلاحیت په کې محدود دی، موده یې محدوده ده.

ابن سعد په [الطبقات الکبری] کې د هغو صحابه وو نومونه راوړي دي چې نبي علیه السلام کفارو ته د سفیرانو په توګه لیږلي وو چې د هغوی له جملې څخه د ځینو یادونه کوو:

۱ـ عمرو بن امیه الضمري رضي الله عنه چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ د حبشې پاچا ته لیږلی و او خط یې ورته ورکړی و، چې بیا د حبشې پاچا اسلام قبول کړ.

۲ـ دحية بن خليفة الكلبي رضي الله عنه چې د رسول الله عليه وسلم خط يې د روم پاچا هرقل ته وړی و [وګورئ: صحيح البخاري حديث رقم: ٤٥٥٣].

۳ـ جرير بن عبد الله البجلي رضي الله عنه چې رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سفير په توګه ذي الكلاع بن ناكور او ذي عمرو ته ليږلی و، راوي وايي: **يدعوهما إلى الإسلام** [الطبقات ١/ ٢٠٣]

ژباړه: دغه دواړه قبيلي يې اسلام ته رابللې.

۴ـ حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه يې د اسکندريه پاچا مقوقس ته چې د قبط مشر و؛ ليږلی و چې عمرو رضي الله عنه د ده په اړه فرمايي: **يدعوه إلى الإسلام وكتب كتابا**،

ژباړه: مقوقس يې اسلام ته رابلو او يو خط يې ورته وليکه. بيا حاطب رضي الله عنه وايي: **ما أقمت عنده إلا خمسة أيام [الطبقات الكبرى ١/ ٢٠٠]**.

ژباړه: زه د هغه سره تر پنځو ورځو پاتې شوم.

۵ـ معاذ بن جبل رضي الله عنه يې يمن والاو ته د اسلام دعوت لپاره ليږلی و چې په اړه يې امام ابن حزم په "جوامع

السيرة" کی ویلي دي: **وبعث معاذ بن جبل إلى جملة اليمن، داعيا إلى الإسلام، فأسلم جميع ملوكهم، كذى الكلاع وذي ظليم وذي زرود وذي مران وغيرهم. [جوامع السيرة صـ ٣٠].**

ژباړه: نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معاذ بن جبل ټول یمن والاو ته ولیږه چې هغوی ته یې د اسلام دعوت ورکوو نو د هغوی ټولو پاچاهانو اسلام راوړ لکه ذی الکلاع ،ذی ظلیم ،ذی ذرود، ذی مران او نورو.

همدا راز کفارو له خوا هم رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته سفیران راغلي دي لکه باذان د کسرى په امر دوه استازي رالیږلي وو ، چې نبي صلی الله علیه کسرى ته حاضر کړي، مسیلمة الکذاب هم دوه سفیران رالیږلي وو ،چې د مسیلمه خط یې راوړی و،

او ځیني نور هم د نبي علیه السلام خوا ته د مختلفو مسایلو لپاره راغلي دي. د زیات تفصیل لپاره د العزائم اداري څخه نشر شوی کتاب [حربي کفارو سره د دوستۍ او سفارتي تعلقاتو شرعي ارزونه] وګورئ. او هم د استاذ محترم د خـــراســـان د والـــي دکـــتور شهـــاب المهاجر حفظه الله " له دوري څخه لیکل شوی د (اسلام سیاسي نظام) په نوم کتاب چې

ډيپلوماسي په کې ډېر په ښه مدلل انداز تشريح شوی او نور هم ډېر گټور او د وخت مناسب مسايل په کې بيان شوي؛ مطالعه يې مه هيروئ.

الغرض نبي عليه السلام سفيران ليږلي دي خو محدود صلاحيت يې ورته ورکړی او محدودې ورځې تېرې کړي دي لکه د حاطب بن ابي بلتعه په اړه چې ذکر شول چې پنځه ورځې هلته پاتې شوی و. نو بيا چا اسلام قبول کړی، چا د جزيي حکم ته غاړه ايښې، خو د يو صحابي په اړه هم داسې نه دي راغلي چې د حربي کفارو سره د سفير په توگه په دار الکفر کې دايمي پاتې شوی وي لکه څنگه چې اوسني سفيران په کفري هيوادونو کې ميشت دي، او نه هم يو حربي کافر د سفير په توگه په دار الاسلام کې هميشه ميشت شوی دی بلکې دواړه لور ته سفيران د ورسپارل شوي خدمت ترسره کولو وروسته خپلو ساحو ته ستانه شوي دي. نو دا خو په اسلام کې د سفير او د ډيپلوماسۍ حال و.

اوس د بين الملل په اصطلاح ډيپلوماسۍ ته کتنه کوو: بين الملل قانون کې ډيپلوماسي اړيکي د جنگي ستراتېژۍ څخه يو جدا او مستقل بخش لري چې بين الدول يا په نړيواله سطحه د

سياسي نمايندګانو په منځ کې مصلحت اميزو خبرو اترو ته چې د حرفه يي دېپلوماتانو لخوا په جنګ، صلحه، اقتصاد، سياست، فرهنګ او داسې نورو موضوعاتو باندې خبرو کولو او يا تړونونو لاسليک کولو ته دېپلوماسی ويلای شي. نو په بين الملل قانون کې دېپلوماتيکي اړيکي محدودي نه دي او نه يې هم اهداف محدود دي بلکې ډير عام او شامل دي. له همدې امله د دې زمانې دپلوماسي اړيکي مونږ په دپلوماتيکې جګړې سره نومولی شو ځکه چې د دې مفهوم او اهداف ډير عام او د اسلام سراسر خلاف دي. د خلاف لاملونه يې دا دي چې په اسلام کې د دپلوماسۍ اصول له قران او حديث څخه سرچينه اخلي، خو په بين الملل قوانينو کې دېپلوتيک اصول له اسلام څخه سرچينه نه اخلي بلکې د کفارو له وضعه کړو قوانينو څخه سرچينه اخلي نو هر څوک چې سفارتي خدمات ترسره کوي د بين الملل په اصولو کې به يې ترسره کوي هغه اصول چې د اسلام خلاف او منل يې کفر دی. په اسلامي نظام کې د سفير صلاحيت تر درې خبرو رابند دی چې د اسلام دعوت، د جزيه دعوت او يا جنګ ته تياريدل خو په بين الملل قوانينو کې د اسلام او د جزيې خبره بيخي مطرح نه ده بلکې د دوه هيوادونو تر منځ د سولې،ثبات

او دوستانه اړیکو په اړه خبرې کېږي. په اسلام کې سفیر محدود وخت لپاره وي خو په نړیوال قانون کې دایمي وي.

بل لامل دا هم دی چې د بین الملل قوانینو کې سفیر د خپل هیواد د وګړو سیاسي، اقتصادي او ټولنیز امنیت او هوسایي لپاره د مقابل لورې څخه د حفاظت ژمنه تر لاسه کوي خو په اسلام کې هغه کفارو ته چې د اسلام او یا جزیي دعوت قبول نه کړي سر او مال ته یې د حفاظت ژمنتیا نشته څوک چې په دغه حال کې کفارو ته ژمن واوسي هغوی د کفارو په موالات کې اخته، کرایي جګره ماران بلل کېږي. لکه نن چې په دغه موالات کې د نړۍ ټول طاغوتي حاکمان اخته دي، دوی د ډیپلوماتیک اړیکو تر عنوان لاندې د کفارو ګټې او امنیت خوندي کوي او حربي کافرانو ته په خپل هیواد کې د امنیت فضا برابروي، څوک چې یې امنیت ته ګواښ وي هغوی نیسي او د بدو، بدو سزاګانو سره یې مخ کوي،

بل لامل یې دا دی چې دوی د یو بل سره د مسلمانانو په خلاف همکاري، طرحې او مشورې لاسلیک کوي. دغه قونسلګرياني په اصل کې د کفارو استخباراتي مراکز دي چې له همدې لارې مسلمانان تعقیبوي، د څه وخت نه چې

مسلمانانو، د کفارو په اصولو استواره دیپلوماتیکې اړیکې منلې دي نو له هغه وخت راهیسې د اسلام او مسلمانانو زوال شروع شوی، تاسو د عثماني دولت تاریخ رایاد کړئ هغوی چې کله کفارو سره دغه امتیازات لاسلیک کړل او په خپله خاوره کې یې د دوی قونسلگریانو ته آزادي ورکړه نو په نتیجه کې یې ډېر کم وخت وروسته عثماني امپراطوري رانسکوره او پرچه پرچه شوه.

الغرض د بین الملل په قوانینو استواره دیپلوماتیکې اړیکې په پوره معنا موالات مکفره دي او د اسلام له اصولو سره په ټکر کې دي. اوس د رسالې لیکوال څخه مونږ دا پوښتنه کوو چې آیا په موجوده دیپلوماتیکو اړیکو کې د اسلام دعوت، د جزیې دعوت او د کفارو سره قتال ته لاره هوارېږي او که مخه یې نیول کېږي؟ که چېرې د دې خبرو ځواب یې د دوی په دیپلوماتیکو اړیکو کې مثبت ثابت کړی شو نو مونږ به ورسره دغه روابط اسلامي ومنو خو چې دا تر قیامته هم نشې ثابتولی نو بیا ورته څنگه جایز وایاست او موالات یې نه گڼئ، تاسو د کوم دین پیروان یاست چې هر کفر ته له اسلام څخه دلایل تراشئ او جواز ورته ورکوئ؟

دا خبره مخکې په دلایلو ثابته شوې چې د کفارو په قانون کې تابعداري کول او د هغوی قانون پلی کول هم موالات دي، نو د دوی دا موالات تر نظامي بخش رابند نه دي بلکې مرکب دي: هم د کفارو سره د اسلام ضد په نظامي موالات کې اخته دي او هم د هغوی قانون پلې کولو موالات کې اخته دي، الله عزوجل داسې خلک د کفارو په ډله کې شمارلې او د مرتد په نوم يې نوملې دي لکه فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ [سُورَةُ المَائدة : ٥١].

ژباړه: اې مؤمنانو! يهوديان او نصارا خپل ملګري مه نيسئ، دوی په خپلو منځو کښې سره ملګري دي. او که ستاسي څخه څوك هغوی خپل ملګري نيسي، نو بيا هغه هم په هماغو کښې شمېرل کېږي. په دې کښې شك نشته چې الله تعالی ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي.

او په بل آيت کې فرمايي: إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱرْتَدُّوا۟ عَلَىٰٓ أَدْبَٰرِهِم مِّنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ ٱلْهُدَى ٱلشَّيْطَٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَىٰ لَهُمْ؛ ذَٰلِكَ

بِأَنَّهُمْ قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي بَعْضِ الْأَمْرِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ إِسْرَارَهُمْ [سُورَةُ محَمَّد : ٢٥، ٢٦].

ژباړه: حقيقت دا دی کوم کسان چې د هدايت له روښانه کېدو څخه وروسته په شا وگرځېدل، د هغو لپاره شيطان دغه کړنلاره ښايسته کړېده او د درواغجنو هيلو لړۍ يې د هغو لپاره اوږده کړېده. له همدې امله دوی د الله تعالی د نازل کړي دين بد گڼونکو ته وويل چې په ځينو چارو کښې به موږ ستاسي (حُکم) منو. الله تعالی د دوی په دغو پټو خبرو ښه پوهيږي.

نو په آيت کې په ځينو خبرو کې د کفارو تابعدارۍ ته ارتداد ويلی شوي دي نو د هغه چا به څه حال وي چې د ديپلوماتيکو روابطو په پلمه کفارو سره د اسلام ضد ډېرې خبرې مني، او د اسلام ضد ډېر تړونونه ورسره لاسليک کوي، او هم د هغوی په اصولو استواره ديپلوماتيکو اړيکو ته وده ورکوي؟ خامخا به د آيت په حکم کې داخل وي او موالات به يې مکفره وي.

دا خو يې د ديپلوماتيکو اړيکو پاللو وضاحت و.

## د مرتد حاکم سمع او طاعت نشته.

د رسالې ليکوال بيا وايي: **منهج السلف في التعامل مع الحكام، وولاة أمور المسلمين:**

**السمع، وَالطَّاعة في الْعُسْرِ، واليُسْرِ، وَالمَنْشَطِ، وَالْمُكْرَهِ، ا.هـ[المنهج المتفق عليه ٣٢].**

په دې باب کې چې کومې خبرې راوړې دي دا ټولې د مسلمان حاکم په اړه دي که څه هم فاجر فاسق هم وي په نيکيو کې اطاعت واجب دی، خلاف يې ناروا دی، خيرخواهي او د اصلاح دعا ورته پکار ده، په دغه خبرو او حقونو کې يې هيڅ شک نشته.

خو دغه رساله چې ليکوال د موجوده طاغوتي حاکمانو په دفاع کې ليکلې ده او د ولاة أمور المسلمين څخه يې دغه کمونستې، سيکولر، غالي صوفيه او اشتراکي نظريه لرونکي حاکمان په دغه ټولو امورو او حقونو کې مراد دي نو دلته بايد لږ وضاحت وشي، ځکه هر کس چې د مسلمانانو په مشر ونومول شي د اطاعت مستحق نه دی بلکې په اسلام کې د مشرۍ لپاره تر ټولو مهم شرط اسلام دی که مشر د مسلمانانو په انتخاب سره وي نو هم به مسلمان وي او که په زور او غلبې

سره ولکه ترلاسه کړي او د اطاعت مستحق ګرځي نو هم به مسلمان وي که چېرې په دواړو حالاتو کې حاکم مسلمان نه وي سمع او طاعت یې جایز نه دی او نه هم د هغو حقونو ادا کول یې جایز دي کوم ته چې د رسالې لیکوال اشاره کړې ده ځکه د کافر حاکم مشري په مسلمانانو له ابتداء څخه صحیح نه ده الله تعالی فرمایي: وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَٰفِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا [سُورَةُ النِّسَاء : ١٤١].

ژباړه: هېڅکله الله تعالی کافرانو ته په مسلمانانو د برلاسه کېدو لار نه جوړوي.

او حدیث کې راځي: **الْإِسْلَامُ يَعْلُووَلَا يُعْلَى** [رواه الدارقطني والبيهقي وذكره البخاري تعليقاً بصيغة الجزم].

ژباړه: اسلام به له پاسه وي او بل دین به ورباندې له پاسه نه وي.

نو کله چې کافر حاکم مقرر شي په دې سره کافر په مسلمانانو له پاسه کېږي چې دا کار جایز نه دی، همداراز که د خلفاء راشدینو او د سلفو زماني ته فکر وکړو نو هغوی کله هم مرتد نه دی حاکم کړی، بلکې په دې یې اجماع کړې ده

چې مرتد به نشي حاكمولی خو كه حاكم وروسته مرتد شي نو معزول كول او په خلاف يې پاڅون واجب دی. دغه اجماع قاضي عياض رانقل کړی هغه وايي: **فلو طرأ عليه كفر وتغيير للشرع أو بدعة خرج عن حكم الولاية وسقطت طاعته ووجب على المسلمين القيام عليه وخلعه ونصب إمام عادل إن أمكنهم ذلك فإن لم يقع ذلك إلا لطائفة وجب عليهم القيام بخلع الكافر [شرح مسلم: ١٢/ ٢٢٩].**

ژباړه: كه چېرې په (حاكم) کې وروسته كفر او د شريعت د احكامو بدلول يا بدعت (مكفره) راښكاره شو؛ د مشرۍ حكم نه ووت، طاعت يې ختم شو او په مسلمانانو د هغه په خلاف راپاڅېدل او له مشرۍ څخه لرې كول يې واجب دي او بل عادل امام مقررول واجب دي كه چېرې ورته د دې امكان و، خو كه دا كار ټولو مسلمانانو نشو كولی مگر يوې ډلې كولی شو نو په هغوی واجب دي چې د كافر حاكم د لرې كولو لپاره پاڅون وکړي.

او د دې اجماع استناد په دې حديث شوی چې په کې راغلي دي: **عن عبادة بن الصامت رضى الله عنه قال: بَايَعَنا رسول الله ﷺ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا ،**

**وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا، وَ أَثَرَةٍ عَلَيْنَا، وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ، إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِندَكُمْ مِنَ اللهِ فِيهِ برهان. [متفق عليه].**

ژباړه: د عباده بن صامت رضی الله عنه څخه نقل دي هغه وايي: مونږ د رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره بیعت وکړو په حکم منلو او اطاعت کولو په خوشحالۍ او خفگان کې، په تنگسیا او آسانتیا کې او په نورو غوره کولو کې په مونږ باندې او په دې چې مونږ به د امیرانو سره اختلاف نه کوو، مگر که تاسو په کې ښکاره کفر ولیده، چې تاسو سره یې په اړه د الله تعالی له طرفه واضح دلیل وي.

نو په دې حدیث کې د امیر د اطاعت نه وتلو لپاره کفر بواح شرط شوی دی هغه چې د دې زماني په طاغوتي حاکمانو کې په ډېرو وجو سره موجود شوی چې مخکې مو د وضعي قانون حاکم د ارتداد په لاملونو کې د قران، حدیث، اجماع، دلالت لغوي، دلالت عرفي او په نورو دلایلو سره د دوی کفر ثابت کړی او په اړه یې د هر ډول شبهاتو ازاله شوې ده بحمد الله. نو له دې امله دا ویلی شو چې مسلمانان دې د مرجئه وو په دغه عبارتونو نه دوکه کیږي بلکې د دغو عبارتونو اصلي محمل دې وپیژني او بیا دې عملي کړي هسې نه چې په چا باندې

د امیر، سلطان او حاکم نوم پریوت هغه به د دغه ټولو حقونو مستحق وي، نه، د مرتد حاکم په مسلمان هېڅ حق نشته او نه يې په مسلمان مشري صحیح ده بلکې د مرتد حاکم سر به جنګ کېږي او په خلاف به يې جهاد کیږي. په سلفو کې د مرتد حاکم په اړه هېچا داسې نه دي ویلې چې طاعت يې واجب او خروج وربانديې ناروا دی، دا خبره یوازې د دې زمانې تش په نوم سلفیان چې د طواغیتو سره مینه لري او کفر بواح ته ورله ځانه دلایل تراشي؛ کوي دوی سره په دې خبره هېڅ دلیل نشته.

## د مرتدو حاکمانو په خلاف خروج فرض دی.

**بیا په همدغه باب کې وروسته وايي: ولا یرون الخروج علیهم بالقول والسیف، مهما ارتکبوا الکبائر، والأمور العظام "إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بواحا، عِنْدَكُمْ مِنَ اللَّهِ فِيهِ بُرْهَان"مع شرط القدرة، والاستطاعة، ولا يجوز إزالة المنكر بما هو أنكر منه.**

دلته يې دا حديث په دې خبره راوړی چې د کافر حاکم په خلاف پاڅون پکار دی خو کله چې دې وس وي خو چې وس دې نه وي ازاله د منکر به په انکر سره نه کوي یعني ځان به نه شرموي غلې به په یو ګوډ کې کینې او د حاکم خلاف به پرېږدي. دا يې د عبارت خلاصه مقصد دی چې د دې په اړه دوی

په رسنیو کې چغې هم وهي او دا يې د کافر حاکم څخه په دفاع کې آخري وس دی ځکه له دې مخکې يې ډېر کوښښ همدا وه چې د دغه حاکمانو اسلام ثابت کړي خو کله چې په دغه هڅه کې ناکام او له نا امیدۍ سره مخ شي نو بيا يې بله حربه دا وي چې که بالفرض مرتد وي او د دغه حدیث حکم هم ورته شامل وي خو ته به د خپل وس مطابق په حدیث عمل کوې او وس دې نشته، طیاره او ټانک درسره نشته، په زرهاوو او لکونو پوځ درسره نشته کوم ملک دې په حمایت کې نشته امریکا یا د روس ملګرتیا درسره نشته، نو ځان به نه شرموې او غلې به کینې، له تا څخه د دغه حدیث حکم ساقط دی، بس دعاګانې کوه الله به غیبي خلک راولېږي چې هغوی به قرباني ورکړي او اسلامي دولت به قایم شي... دا د دوی آخري خبره ده نو ځکه خو يې د مرتدو حاکمانو په خلاف شرعي جهاد ته په انکر سره اشاره کړې ده ـ العياذ بالله ـ

مسلمانانو ورونو!

جهاد انکر نه دی بلکې جهاد د انکر او منکر زایله کولو لوی سبب دی او انکر حد ته چې د ځینو خلکو په نزد رسیدلی نو هم د دې مرجئه وو د دعوت په نتیجه کې رسیدلی کنه جهاد

خو امت ته عزت وربښي او د ظالم کافر ښکر ورماتوي جهاد چې انکر وی او له وس څخه بهر وی نو الله تعالی نه فرض کوو، نبي عليه السلام غاښونه مبارک نه زخمي کېدل، صحابه نه شهيدانېدل، ښځې يې نه کونډې کېدلې، بچي به يې نه يتيمان کېدل، څومره صحابه د مرتدينو په جهاد کې شهيدان او زخميان شوي دي؟ له هېچا څخه دا خبرې پټې نه دي، نه هم جهاد د هغوی زمانې پورې خاص و چې اوس انکر وګرځيد او نه هغه زمانه رارسېدلې چې په ګوډ کې کېنه او تسبې اړوه که چا هر څه کول، نا، بلکې جهاد به تر قيامته د خپل وس مطابق فرض وي او د وس په اړه داسې نه دي راغلي چې دښمن سره به په هر څه کې مساوي اوسې بلکې په فرض عين جهاد کې هيڅ شرط نشته لکه څنګه چې دا خبره شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ کړې ده، هر انسان الله تعالی په خپل وس مکلف کړی که د چا د ايمان اندازه ډېره لوړه وي هغه استشهادي او انغماسي کوي همدغه يې وس دی که چا ته الله تعالی علم ورکړی وي هغه د جهاد او مجاهدينو په اړه د شبهاتو ازاله او د حق منهج بيان کوي همدغه يې وس دی، او که چا ته الله تعالی په اقتصادي اړخ کې وس ورکړی وي انفاق کوي او ځينې داسې

وي چې ړوند، کوڼ او شل وي نو دعا يې وس دی، دا يو اجتماعي عمل دی چې په مختلفو صلاحيتونو او کارونو ترسره کولو مخ ته ځي، د دې استطاعت لپاره په شريعت کې څه خاص اندازه نه ده بيان شوې چې مونږ د هغې التزام وکړو بس هر څوک د خپل وس په اندازه رانيول کېږي. صحابه هم په اول کې بې وسه او بې کسه خلک وو خو کله چې يې د الله تعالی په لار کې تکليفونه وګالل الله تعالی ورته عزت ورکړو او په ټولو کفارو يې برلاسي کړل، لکه الله عزوجل فرمايي:

وَاذْكُرُوٓا۟ إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِى الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَـَٔاوَىٰكُمْ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِۦ وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ [سُورَةُ الأنفَال : ٢٦].

ژباړه: هغه وخت (در په زړه کړئ) چې کله تاسي لږ وئ، په ځمکه کښې تاسې کمزوري ګڼل کېدئ، تاسي وېرېدلئ چې خلك مو له منځه يونسي. بيا الله تعالی تاسې ته د پناه ځای برابر کړ، په خپله مرسته يې ستاسي مټ قوي کړ، او ښه روزي يې در ورسوله. ښايي چې تاسي شکر ايستونکي اوسئ.

نو د تمکین، امن او راحت لپاره مخکې تکلیفونه، ویرې، غمونه، شهادتونه، جیلونه ګالل ضرور دي چې د همدې حالت سره اوس هم مجاهدین مخ دي او نېژدې ده چې الله تعالی ورسره مدد وکړي او دا حالت په راحت او فتحو سره بدل کړي. خو جهاد د الله تعالی عبادت دی، که فتح راځي او که نه راځي په هغې مونږ مکلف نه یو مونږ د الله تعالی په عبادت مکلف یو، نو د خپل وس مطابق به د الله تعالی عبادت کوو او په داسې وخت کې دا عبادت ترسره کول چې فتحه نه ده راغلې اجر یې ډېر زیات دی، هیڅ عمل د دې سره برابر نه دی، لوی تجارت دی او لوی فرصت دی چې الله عزوجل یو انسان ته روغ صحت او استعداد ورکړی وي او دا یې د الله تعالی په لار کې خرچ کړي، که مجاهد نور هیڅ هم ونکړای شي خو یوازې خپل برائت کفارو ته وښایي نو دا هم غټ جهاد دی او د ایمان قوي کېدلو لوی لامل دی، په دې وخت کې له کفر څخه بېزاري او د مجاهدینو سره مینه هم د روغ منهج او عقیدې دلیل دی. نو مسلمانانو ورونو د مرجئه وو په داسې خبرو چې دوکه نشئ په دې امت کې داسې ځوانان شته چې د مرجئه وو پشان ذلیله او بزدله نه دي خپل سرونه د الله تعالی د دین لپاره شیندي او د

صحابه وو تاريخ راتازه کوي، تاسو په مسلمانانو بد گومانه نشئ الله تعالی د خپل دين لپاره خلک پيدا کوي او د دې دين حفاظت او ساتنه به کوي که په دې دنيا کې ښکاره عزت ورپه برخه نشو د اخرت عزت يې بس دی، د اخرت کاميابي يې بس ده، د اخرت سرلوړي يې بس ده هغه چې الله تعالی يې وعده کړې ده. خو د الله تعالی واسطه تاسو ته درواړندې کوم چې د مرتدينو سره جهاد ته د انکر په نظر مه گورئ کنه هلاک به شئ.

## د دار (علاقو) حکم.

**د رسالې ليکوال بيا وايي: ويرون الدار دار الإسلام، لا دار الكفر، كما رأته المعتزلة، ما دام النداء بالصلاة والإقامة ظاهرين، وأهلها ممكنين منها آمنين.ص٣٥.**

دلته يې په دار يوازې د لمونځ او اقامة او په دې باندې د قدرت لرلو له وجې د دار الاسلام حکم کړی دی حال دا چې د شرعي دلايلو سره موافق خبره همدا ده چې دار په اصل کې دوه ډولونو ته ويشل شوی دی: دار الاسلام او دار الكفر، دار الاسلام هغه علاقې ته وايي چې احکام د اسلام په کې حاکم

وي، قوت او غلبه په کې د مسلمانانو وي که څه هم ډېرى اوسېدونکي يې کافران هم وي.

او دار الکفر دې ته چې احکام د کفر په کې حاکم وي او قوت او غلبه هم په کې د کافرانو وي که څه هم ډېرى اوسېدونکي يې مسلمانان هم وي.

علماوو دغه اصطلاح په خپلو عبارتونو کې راوړې ده چې د ځينو اقوال په دې ډول دي:

امام ابن مفلح رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **فكل دار غلب عليها أحكام المسلمين فدار الإسلام، وإن غلب عليها أحكام الكفار فدار الكفر ولا دار لغيرهما.[الآداب الشرعية ١/ ٢٣١].**

ژباړه: هره علاقه چې د مسلمانانو احکام پکې غالب وي، دار الاسلام به وي او که د کفارو احکام پکې غالب و، نو دار الکفر به وي او له دې پرته بل دار نشته.

علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **قال الجمهور: دار الإسلام هي التي نزلها المسلمون، وجرت عليها أحكام الإسلام، وما لم تجر عليه أحكام الإسلام لم يكن دار إسلام، وإن لاصقها، فهذه الطائف قريبة**

**إلى مكة جدا ولم تصر دار إسلام بفتح مكة، وكذلك الساحل.[أحكام أهل الذمة ٢/ ٧٢٨].**

ژباړه: جمهورو ويلي دي: دار الاسلام هغه ځای ته وايي چې مسلمانان ورته راغلي وي او د اسلام احکام پکې جاري شوي وي او په کومه علاقه کې چې د اسلام احکام نه وي جاري شوي، نو دارالاسلام نه ده که څه هم دارالاسلام سره پيوسته هم وي، نو طائف چې مکې ته ډېر نژدې دی، خو د مکې په فتحې سره دار الاسلام و نه ګرځېده او دغه شان د ساحل ساحه.

امام ابو يوسف او محمد رَحِمَهُمَاٱللَّهُ څخه نقل دي وايي: **إذا أظهروا أحكام الشرك فيها فقد صارت دارهم دار حرب؛ لأن البقعة إنما تنسب إلينا أو إليهم باعتبار القوة والغلبة، فكل موضع ظهر فيه حكم الشرك فالقوة في ذلك الموضع للمشركين فكانت دار حرب، وكل موضع كان الظاهر فيه حكم الإسلام فالقوة فيه للمسلمين، [المبسوط ١٠/١١٤].**

ژباړه: کله چې مشرکين احکام د شرک په يوې علاقه کې راڅرګند کړي نو د دوی دار به دار حرب وي، ځکه د يوې علاقې نسبت چې مونږ يا هغوی ته کېږي نو په اعتبار د قوت

او غلبې سره کېږي، نو هغه ځای چې د شرک حکم په کې راڅرگند شي، قوت هم په دغه ځای کې د مشرکينو وي نو دغه علاقه به دار حرب وي او هر هغه ځای چې د اسلام حکم پکې راڅرگند وي، قوت به هم په کې د مسلمانانو وي.

امام ابن حزم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **وقول رسول الله صلى الله عليه وسلم «أنا بريء من كل مسلم أقام بين أظهر المشركين» يبين ما قلناه، و أنه - عليه السلام - إنما عنى بذلك دار الحرب، وإلا فقد استعمل - عليه السلام - عماله على خيبر، وهم كلهم يهود. وإذا كان أهل الذمة في مدائنهم لا يمازجهم غيرهم فلا يسمى الساكن فيهم - لإمارة عليهم، أو لتجارة - بينهم: كافرا، ولا مسيئا، بل هو مسلم حسن، ودارهم دار إسلام، لا دار شرك، لأن الدار إنما تنسب للغالب عليها، والحاكم فيها، والمالك لها.[المحلى بالآثار١٢/ ١٢٦].**

ژباړه: د نبي عليه السلام دا وينا: "زه له هر هغه مسلمان څخه بېزاره يم چې د مشركينو په منځ کې اوسېږي"؛ زمونږ د خبرې بيان کوي چې نبي عليه السلام په دې سره دار حرب اراده کړې دی او که داسې نه شي نو بيا خو نبي عليه السلام خپل واليان په خيبر مقرر کړي دي او هغوی(د خيبر اوسېدونکي) ټول يهود وو او کله چې ذميان په خپلو ښارونو کې وي چې نور څوک ورسره گډ نه وي نو د دوی تر منځ اوسيدونکي ته

چې په دوی باندې د مشرۍ یا د تجارت لپاره پاتې کېږي؛ کافر او ګناهګار به ورته نه ویلی کیږي بلکې دا به ښه مسلمان وي او د دوی علاقه به دار الاسلام وي نه دار شرک، ځکه د دار (علاقې) نسبت به په هغه دار غلبه موندونکي ته کېږي او د هغې حاکم او مالک ته به کېږي.

امام شوکاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **الاعتبار بظهور الكلمة فإن كانت الأوامر والنواهي في الدار لأهل الإسلام بحيث لا يستطيع من فيها من الكفار أن يتظاهر بكفره إلا لكونه مأذونا له بذلك من أهل الإسلام فهذه دار إسلام ولا يضر ظهور الخصال الكفرية فيها لأنها لم تظهر بقوة الكفار ولا بصولتهم كما هو مشاهد في أهل الذمة من اليهود والنصارى والمعاهدين الساكنين في المدائن الإسلامية وإذا كان الأمر العكس فالدار بالعكس.[السيل الجرار المتدفق على حدائق الأزهار ١/ ٩٧٦].**

ژباړه: اعتبار؛ د خبرې غلبې ته دی که چېرې اوامر یا نواهي په یو دار (علاقه) کې د مسلمانانو چلېدل په دې توګه چې د هغه ځای میشت کافرانو خپل کفر نشو ښکاره کولی پرته له دې چې د مسلمانانو له خوا ورته اجازه شوي وي نو دا به دار الاسلام وي چې د کفري کارونه راښرګندېدل به په کې هېڅ ضرر نه ورکوي ځکه چې دا د کفارو په قوت او غلبې

سره نه وي راڅرګند شوي لکه څنګه چې دا خبره په ذميانو کې ليدل کېږي چې يهود، نصارا او معاهد کافران دي هغه چې په اسلامي ښارونو کې اوسېږي خو کله چې خبره د دې په عکس وي نو دار به هم د دې په عکس وي.

له دې څخه معلومه شوه چې يوې علاقې ته د دار الاسلام يا دار الکفر نسبت د دوه لاملونو په اساس کېږي:

**١ـ القوة والغلبة، قوت او غلبه.**

**٢ـ نوع الأحكام المطبقة فيها**، نوع د هغه قوانينو چې په دغه علاقه کې تطبيق دي. يعني د علاقې حکم به د ځواک او د قانون تابع وي که ځواک او قانون دواړه اسلامي وو نو دار الاسلام، او که دواړه کفري نو دار الکفر به وي. چې په دې سره به اوس مونږ ته د علاقو پېژندنه آسانه شي خو دا صفات لازمي نه دي بلکې عارضي دي، ډېر کرت به يوه علاقه دار الاسلام وي خو د کفارو په غلبې سره به دار الکفر وګرځي چې داسې ځای ته دار الکفر طاري وايي، خو يوه علاقه چې دار الکفر وي د مسلمانانو په نيولو سره دار الاسلام ګرځي لکه شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **فإن كون الأرض داركفر أودارإسلام أوإيمان**

**أو دار سلم أو حرب أو دار طاعة أو معصية أو دار المؤمنين أو الفاسقين أوصاف عارضة؛ لا لازمة. فقد تنتقل من وصف إلى وصف كما ينتقل الرجل بنفسه من الكفر إلى الإيمان والعلم وكذلك بالعكس.[مجموع الفتاوى ٢٧/ ٤٥].**

ژباړه: کېدل د يوې زمکې دار کفر، يا دار اسلام، يا ايمان يا دار سلم(د صلح علاقه) يا حرب يا دار طاعة يا معصية يا دار المؤمنين يا فاسقين؛ دا عارضي اوصاف دي لازمي نه دي، کله نا کله دا اوصاف يو نه بل ته انتقالېږي لکه څنګه چې يو سړی پخپله د کفر نه ايمان او علم ته انتقالېږي او همداسې خبره د دې په عکس هم ده.

نو له دې څخه معلومه شوه چې دار په اصلي ويش سره همدغه دوه ډؤلونو ته ويشل شوی دی دريم په کې نشته، نو اوس چې کله مونږ د سلفو په ذکر شوو عبارتونو کې فکر وکړو نو دا ترې جوتېږي چې موجوده اسلام ته منسوب هېوادونه دار الاسلام نه دي که څه هم ډېری ميشت وګړي يې مسلمانان هم دي، دا ځکه چې دغه دوه علتونه چې ځواک او قوانين دي دا يې اسلامي نه دي بلکې قوانين يې کفري دي او حاکم ځواک يې هم مرتد دی، که څه هم دا حکم يې ميشتو

مسلمانانو ته شامل نه دی، خو د مسلمانانو د میشت کېدلو له امله دا علاقې دار الاسلام نه ګرځي، نو همداسې یوازې په آذان، اقامة او په دې د توان لرلو له امله هم یوه علاقه دار الاسلام نه ګرځي ځکه چې بیا به دار الکفر اصلي لکه امریکا او نور کفري هېوادونه چې مسلمانانو ته په کې د آذان، اقامة او لمونځ اجازه وي هغه به هم دار الاسلام شي حال دا چې دا خبره به راسره د رسالې لیکوال هم ونه مني نو چې داسې امکان نه وي باید شرعي اصطلاح په ناقص تفسیرونو تفسیر نه شي او د سلفو د فهم خلاف ونشي. خو د دې مسئلې ذکر کولو اصلي لامل یې همدا ښکاري ـ والله أعلم ـ چې له مسلمانانو څخه د حقیقي دار الاسلام مفکوره ختمه کړي او دغه موجوده مخلوط نظام تر واک لاندې ساحو ته د دار الاسلام لقب ورکړي او په همدې یې تنده ماته کړي چې د بدیل مطالبه یې ونکړي او نه دغه فکر څوک وکړي، د رسالې لیکوال اول نه په همدې خبره تمرکز کړی دی چې څنګه وکولی شي د مسلمانانو له ذهنونو څخه د حقیقي اسلامي نظام مفکوره وباسي نو دې لپاره یې ورته موجوده مخلوط نظامونه د اسلامي نظام د بدیل په توګه معریفي کړل چې خیر که هاغه د صحابه وو او د سلفو د زمانې

خلافتونه نه وي نو دا هم څه کفري نظام خو نه دی خلک وروندې راجمعه دي او ښه امنيت يې تأمين کړی دی داخلي او خارجي سياست يې د اسلام(!) د اصولو سره برابر دی که کومې نيمګړتياوې په کې وي لکه په وضعي قوانينو فيصله او نور، نو هغه به يې د کفر دون کفر په درجه کې وي څه باک خو نه کوي اوسيدونکي يې ټول مسلمانان دي کلمه وايي لمونځ کوي آذان او اقامة ته په کې آزادي ده او ځينې نورو شعايرو ته په کې آزادي ده نو دار الاسلام اطلاق هم ورباندې صحيح دی، نو نظام هم اسلامي علاقه هم اسلامي نور څه غواړئ!! جهاد له چا سره کوې، سره انګريزان يا بريتانويان او روسان خو دلته نشته که قوانين يې دلته وي نو هغې ته که يو څو دلايل نور وتراشل شي سوچه به اسلامي شي کار شروع دی د سلفيانو(!) شوری ناسته ده وخت په وخت به درته ذهن کې د غربيانو قوانين د اسلام په نوم درپيچکاري کوي تاسو څه تادي کوئ!! العياذ بالله. ګويا که د دوی لسان الحال همدا خبره کوي. خو الله تعالی دې دوی اصلاح کړي او د مفسدينو مخه دې الله تعالی ونيسي، اسلام ته چې په اوله درجه کې ضرر رسوي ناکار ملايان يې رسوي، هغه خلک يې رسوي چې ظاهراً ورباندې د شيخۍ

او د پيرۍ لباس پروت وي خو په حقيقت کې شيخ چلي وي دا خلک اوس کوم طرفته روان دي سړی حيران شي.

## د مرجئه وو حکم.

د رسالې ليکوال بيا وايي: **والخوارج على قسمين: المقاتلة، والقعدية.**

**والقعدية: الذين يزينون الْخُرُوج على الْأَئِمَّة، و لا يباشرون ذلك وهم أَخْبَثُ الخوارج. صـ٣٦.**

دلته يې د خوارجو په اړه تفصيل کړی دی دوه ډلو ته يې ويشلي دي ناست او جنګېدونکي. جنګېدونکو په اړه يې بيا وروسته د وژلو حکم کړی دی ويلي دي: **ويحل قتال الخوارج إذا عرضوا للمسلمين في أنفسهم، وأموالهم وأهاليهم ا.هـ صـ٣٨.**

او بيا يې بل ځای کې ويلي دي چې د خوارجو او باغيانو سره جنګ فتنه نه ده: **وليس من الفتنة قتال الفئة الباغية، والخوارج، مع الأئمة والسلاطين صـ٤٢.** او بيا يې ځينې اقوال د علماوو پيش کړي دي.

دلته مونږ وايو: د خوارجو په اړه چې د رسالې ليکوال کومه خبره کړې او کوم حکم يې بيان کړی دی همدغه صحيح

دی خو دومره ده چې د خوارجو نه يې څوک مراد دي؟ حقيقي خوارج او که د دوی په اصطلاح کې خوارج؟ که حقيقي خوارج يې ترې مراد وي يعني هغه خلک چې يقينًا هم د خوارجو صفات او عقايد ولري نو بيا يې خبره په ځای ده او مونږ يې ورسره منو خو ارمان چې دغه حکم يې ريښتيا هم حقيقي خوارجو پورې رابند کړی وی خو دا خبره مونږ په يقين سره کوو چې د دوی دا خبره حقيقي خوارجو پورې رابنده نه ده بلکې له دغه عبارتونو څخه يې هغه مظلوم، کړيدلي، دردېدلي مجاهدين مراد دي چې د دوی طاغوتي حاکمانو ته، هغه چې دوی ورته شرعي اميران وايي، طاعت يې په مسلمانانو واجبوي؛ هغوی ته مرتد وايي، جهاد ورسره واجب ګڼي، هغه حاکمان چې کفر بواح ورڅخه صادر شوی او د اسلام په ډېری منصوصي او اجماعي نواقضو کې اخته دي، د هغوی حاکميت نه مني، له ډيموکراتيک قانون، له وضعي محکمو هر څه نه يې ورله برائت کړی، تحاکم ورته نه کوي، د الله تعالی لپاره ورسره بغض او دوښمني کوي او د ابو بکر صديق رضي الله عنه سنت يې په اړه راژوندی کوي د هغوی سر او مال حلال ګڼي، نو داسې مجاهدينو ته په اشاره دوی د خوارجو او تکفيريانو

ټاپه لګوي او وينه يې حلاله ګڼي؛ دا ډېر لوی ظلم دی چې د قيامت په ورځ به يې حساب ورکوي د دوی د دغه بې ځايه فتوو له امله مظلوم مجاهدين د څومره کړاؤنو تکليفونو سره مخ دي، بچيان او کورنۍ يې په اورونو کې کباب شول، په زندانونو کې زورېږي او هېڅ د ترحم آواز ورباندې نشته، نو دا به څومره غټ جنايت وي چې د يهودو نصاراو او د هغوی د ملاتړو حاکمانو تر څنګ نن د اهل حديثو(!) شورا چې ځانونو ته شيخان او پوهان وايي؛ د دغو وحشيانو په څنګ کې د اسلامي دولت مجاهدينو ته په اشاره داسې فتواوې ورکوي او په وژلو او زورولو يې ټينګار کوي انا لله وانا اليه راجعون. مونږ د غيبو علم نه لرو د غيبو علم يوازې الله تعالی ته دی خو د دوی د رسالې د طرز نه دا خبره جوتوو ځکه دوی دا رساله په اصل کې د وضعي قانون حاکم په دفاع کې ليکلې ده او همدغه يې مرکزي نقطه ده، د دوی مخالفت يې حرام بللې او اطاعت يې ورله واجب ګڼلی، او په هره مسئله او هر ځای کې يې ورنه مرګوني دفاع کړې، د دوی کفري کړنو ته يې دلايل تراشلي او ان تر دې چې په دغه طاغوتي حکومت کې يې په شرکي انتخاباتو کې د ډېرو رايو په ترلاسه کولو سره د برخې

اخستلو جواز هم ورکړی چې دا خبره به وروسته ذکر شي ان شاء الله. نو ځکه دا خبره مونږ په یقین سره کوو چې د دغه فتوې هدف یې یوازې او یوازې د اسلامي دولت مجاهدین دي او بس! دا د دوی په سختې کرکې او دوښمنۍ دلالت کوي او طواغیتو ته په کلکې وفادارۍ دلالت کوي نو له همدې امله مونږ هم شرعي احکامو ته په کتو خپلې ذمې فارغولو لپاره داسې حکم صادروو او وایو: چې د دې زمانې مرجئه په دوه ډولَه دي:

**یو ډول**: هغه مرجئه دي چې د ارجاء عقیده خوښوي او خلک دې ته رابلي نور کوم نواقض د اسلام په کې ښکاره نه وي یوازې دغه عقیدي ته خدمت کوي، نو داسې خلک مبتدعین ګڼو خو مرتدین یې نه ګڼو، د فاسقانو په څېر تعامل ورسره جایز ګڼو او د دوی د اصلاح کوښښ کوو او د هدایت دعاګانې ورته غواړو.

**دویم ډول**: هغه مرجئه دي چې د ارجاء عقیدي تر څنګ د طاغوتي دولتونو سره په حکومت کې سهیم او وظیفي لري که څه هم د اوقافو په وزارت کې د یو امام یا داعي په نوم وي، او که د یو قضا محرر یا د یو معلم په نوم وي که د افغانستان،

پاکستان، سعودي او نور، د هر حکومت تنخواه خور وي؛ مونږ يې مرتد ګڼو، سر او مال يې حلال ګڼو، لمونځ ورپسې ناروا، جنازه يې ناروا، خپلوي ورسره ناروا د مسلمانانو په مقبره کې يې ښښول ناروا ګڼو او د ارتداد لاملونه يې د کفارو او مرتدينو سره موالات، د عصر په تاتاري نظام کې غړيتوب او د هغوی په لښکر کې شامليدل ګڼو او په ځينې مواردو کې د حکومت د عسکري قوې نه غليظ مرتدين ګڼو ځکه چې د دوی ارتداد لازمي نه دی بلکې متعدي دی نور خلک هم دغه فاسدې عقيدې ته رابلي په دې اړه د اسلامي دولت له خوا نشر شوې يوه رساله چې د طاغوتي تعليمي ادارو حکم په کې بيان شوې په هماغې حواله درکوو تفصيل هلته کتلی شئ که څه هم هغه رساله د عراق او شام د تعليمي ادارو په اړه ده خو الکفر ملة واحدة، ټول په يو ډير طاغوتي دولتونه دي او د ارتداد په لاملونو کې هم شريک دي [اوګورئ: مجموع رسائل ومؤلفات مكتب البحوث والدراسات ج ١/ صـ ١٩٨ ـ ٢٣٤] چې عنوان يې دی [رسالة توضيحية في بيان الحكم المنظومة التعليمية التابعة للحكومة النصيرية]، د قتل په مسايلو کې يې امير بايد د مصلحت مفسدت قاعدې ته په کتو اقدام وکړي.

**خبرداری:** ځيني معلمان يا مدرسين چې د افغانستان د صوفيه وو دولت له خوا په ناخوښۍ سره يې مدرسې رسمي شوي دي او تنخواوې ورله په غاړه اخستي او په اړه يې دا معلومات يقيني وي چې دا په دغه رسميت او تنخوا راضي نه دي او د دغه روږو د لګښت ځخه يې ځان حتی الوسع ساتي نو هغوی د اکراه له امله د ياد حکم څخه مستثنی ګڼو او د هغوی لپاره د الله تعالی څخه په حق د تثبت او استقامت دعاګانې غواړو خو که دا حال يې نه وي بلکې د هغوی سره په سند ارزيابي کولو، د مدرسې په رسمي کولو، د هغوی تعليمي اداره کې په شموليت راضي وي نو هغه په يادې استثنا کې داخل نه دی بلکې حکم يې مخکې واضح شو.

## مرتد پسې لمونځ جائز نه دی که حاکم وي که محکوم.

**د رسالې ليکوال بيا وايي: وقد أجمعت العلماء من أهل الفقه والعلم و النسك و العباد، والزهاد من أول هذه الأمة إلى وقتنا هذا..ا.هـ صـ٣٨.**

دلته يې ځينې اجتماعي عبادات راوړي دي لکه لمونځ، اخترونه، حج او نور، بيا يې ويلي دي چې دا کارونه په اجماع سره د اميرانو په قيادت او طاعت کې جايز دي خو مونږ

لوستونکو ته د دې يوې خبرې يادونه کوو چې دا اجتماعي عبادات او نور چې کوم د امير حقونه دي نو د مسلمان امير په قيادت کې يې ترسره کول جايز دي او کله چې مسلمان امير نه وي نو بيا هم د الله تعالی عبادت کول واجب دي د چا د کفر له وجې به عبادت نه پريښودل کېږي خو ځيني عبادات لکه پنځه وخته لمونځ يا د اخترونو لمونځ، دا د دغه اميرانو او د دوی د غړو په امامت کې صحيح نه دي ځکه چې دوی د ډېرو نواقضو له امله مرتد شوي دي او مرتد پسې لمونځ جايز نه دی چې په دې خبره د علماوو اجماع ده.

اقوال يې په دې ډوّل دي:

**١ـ قال الإمام الشافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ: الْكَافِرَلَا يَكُونُ إمَامًا فِي حَالٍ ، وَالْمُؤْمِنُ يَكُونُ إمَامًا فِي الْأَحْوَالِ كُلِّهَا ، إلَّا أَنَّهُ لَيْسَ لَهُ أَنْ يُصَلِّيَ إلَّا طَاهِرًا وَهَكَذَا لَوْ كَانَ رَجُلٌ مُسْلِمٌ ، فَارْتَدَّ ، ثُمَّ أَمَّ وَهُوَ مُرْتَدٌّ : لَمْ تَجْزِ مَنْ خَلْفَهُ صَلَاتُهُ حَتَّى يُظْهِرَ التَّوْبَةَ بِالْكَلَامِ قَبْلَ إمَامَتِهِمْ ، فَإِذَا أَظْهَرَ التَّوْبَةَ بِالْكَلَامِ قَبْلَ إمَامَتِهِمْ أَجْزَأَتْهُمْ صَلَاتُهُمْ مَعَهُ. [ "الأم" للشافعي ١/ ١٩٥].**

ژباړه: امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: کافر هېڅ وخت امام نشي کېدلې او مؤمن په هر حال کې امام ګرځېدلې شي مګر

دومره خبره ده چې بې اودسې په حال کې ورته لمونځ جائز نه دی. او همدا راز که يو سړی مسلمان و او بيا مرتد شو او د ارتداد په حال کې يې خلکو ته امامتي وکړه نو د مقتديانو لمونځ ورپسې نه جائز کېږي ترڅو چې يې توبه په خپلې خولې سره نه وي راښکاره کړې مخکې د امامت نه، کله چې توبه په خپلو خبرو سره راښکاره کړي مخکې له امامت څخه نو د مقتديانو لمونځ پسې جائز کېږي.

**٢ـ وقال الشيرازي في [المهذب ١ /١٨٣]: وَلَا تَصِحُّ إمَامَةُ الْكَافِرِ لِأَنَّهُ لَيْسَ مِنْ أهل الصلاة ، فَإِنْ تَقَدَّمَ وَصَلَّى بِقَوْمٍ لَمْ يَكُنْ ذَلِكَ إسْلَامًا مِنْهُ ، لِأَنَّهُ مِنْ فُرُوعِ الْإِيمَانِ فَلَا يَصِيرُ بِفِعْلِهِ مُسْلِمًا ، كَمَا لَوْ صَامَ رَمَضَانَ أَوْ زَكَّى الْمَالَ ، وَأَمَّا مَنْ صَلَّى خَلْفَهُ : فَإِنْ عَلِمَ بِحَالِهِ لَمْ تَصِحَّ صَلَاتُهُ ، لِأَنَّهُ عَلَّقَ صَلَاتَهُ بِصَلَاةٍ بَاطِلَةٍ ا.هـ**

ژباړه: امام شيرازي په مهذب کې وايي: د کافر امامت نه صحيح کېږي ځکه چې هغه د لمونځ اهل نه دی که چېرته لمونځ ته مخکې شو او يو قوم ته يې لمونځ وکړ نو دا به د ده په اسلام راوړلو دلالت نه کوي ځکه امامت ته مخکې کېدل د ايمان د فرعي احکامو څخه دي چې په ادا کولو سره يې مسلمان نه ګرځي لکه څنګه چې په روژه نيولو يا زکات ورکولو سره د

اسلام اطلاق ورباندې نه کېږي او چا چې ورپسې لمونځ وکړ نو که چېرې يې د حال (ارتداد) نه خبر و، لمونځ يې پسې نه صحيح کېږي ځکه چې ده خپل لمونځ په باطل لمونځ پسې وتړلو.

٣ـ وقال ابن قدامة رَحِمَهُ ٱللَّهُ : الْكَافِرِ لَا تَصِحُّ الصَّلَاةُ خَلْفَهُ بِحَالٍ سَوَاءٌ عَلِمَ بِكُفْرِهِ بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنْ الصَّلَاةِ، أَوْ قَبْلَ ذَلِكَ، وَعَلَى مَنْ صَلَّى وَرَاءَهُ الْإِعَادَةُ ، وَبِهَذَا قَالَ الشَّافِعِيُّ وَأَصْحَابُ الرَّأْيِ، وَقَالَ أَبُو ثَوْرٍ، وَالْمُزَنِيُّ : لَا إعَادَةَ عَلَى مَنْ صَلَّى خَلْفَهُ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ؛ لِأَنَّهُ ائْتَمَّ بِمَنْ لَا يُعْلَمُ حَالُهُ، فَأَشْبَهَ مَا لَوْ ائْتَمَّ بِمُحْدِثٍ ا.هـ [المغني ٢ /١٦].

ژباړه: ابن قدامه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: کافر پسې هېڅ وخت لمونځ جائز نه دی برابره ده که په کفر يې د لمونځ نه وروسته خبر شي او که مخکې خبر شي او چا چې پسې لمونځ وکړ نو راګرځول يې لازم دي او دا قول د شافعي او د اهل الرأی دی او ابو ثور او مزني ويلي دي: چې د لمونځ راګرځول په مقتدي نشته کله چې ورته د هغه د کفر معلومات نه وي ځکه ده هغه چا پسې اقتداء کړې ده چې حال يې ورته معلوم نه دی نو داسې شو لکه بې اودسه امام پسې چې اقتداء وکړي.

او داسې نور ډېر اقوال د علماوو په دې باره کې شته دی چې مرتد پسې لمونځ نه کېږي. نو فلهذا کوم امام چې د طاغوتي حکومت عضوه یا غړې وي که د هغوی په وزارت اوقاف کې کار کوي لکه د مکتب یا د مدرسې معلم وي یا په تنفیذي یا تشریعي یا قضایې قوه چې هر یو کې کار کوي نو دغه امام مرتد دی چې لمونځ ورپسې په هیڅ حال کې جائز نه دی او که چا پسې وکړو نو بېرته به خپل لمونځ راګرځوي.

همداراز مرتد حاکم دا حق نه لري چې د مسلمانانو مالونه د زکات، عشر، خمس او فئ په نوم واخلي او نه به یې مسلمانان ورته ورکوي دا حق یوازې مسلمان حاکم لري چې له مسلمانانو څخه زکاتونه او عشرونه راټول کړي، ځکه چې دا دولت د مسلمانانو نه دی حاکم یې د مسلمانانو شرعي نماینده نه دی نو مال ورته ورکول په خپله خوښه او اختیار هم جایز نه دي.

## طاغوتي نظام محکمې ته فیصلې وړل کفر دی.

**اوبیا وایې: والمحاکمة إلى قضاتهم، صـ ۳۹.**

اسلامي محاکمو ته فیصلې وړل لازم دي هغه کې د چا اختلاف نشته خو مونږ د رسالې لیکوال د فاسد فکر د رد کولو

په اساس په داسې مجمل عبارتونو کې وضاحت کوو دې لپاره چې مسلمانان ورباندې دوکه نشي نو وایو: د وضعي قانون محکمو قاضیانو ته فیصلې وړل پرته له شکه کفر دی چې مخکې د دې خبرې تفصیل شوی دی او حل لارې هم ښودل شوي دي، فیصلې وروړونکی یې د دغه دوه آیتونو په حکم کې داخل دی چې الله عز وجل فرمایي: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا [سورة النساء:٦٠]،

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا [سورة النساء:٦٥].

د دې آیتونو تفصیل او د علماوو اقوال مخکې ذکر شوي دي بېرته یې نه راګرځوو. خو د رسالې لیکوال همدې کوښښ کې دی چې د اسلامي نظام ډانچه ټوله په سیکولر نظام ورفیټ کړي چې هېڅ زره توپیر یې تر منځ ونشي، قاضیان یې هم اسلامي معریفي کوي او محکمو ته یې خلک هم رابلي، او د

حقيقي اسلامي نظام نه يې په هېڅ شي کې کم نه ګڼي ـ العياذ بالله ـ نو ځکه خو دې طرفته هيڅ اشاره هم نه کوي چې د کوم نظام محکمو ته بايد فيصلې راجع شي او کوم ته نه، بلکې دا خبره مطلقه او په زړورتوب سره کوي چې د حاکم نظام قاضيانو ته به فيصلې راجع کېږي داسې ښکاري لکه په ذهنونو کې چې د طاغوت ستنې پيچکاري شوي وي او اعصاب يې له لاسه ورکړي وي نو ځکه خو داسې بې باکه خبرې کوي او خلک د هلاکت کندې ته ورګوزاروي. أعاذنا الله منه.

خبرداری: دا يوه خبره مونږ مخکې هم کړې ده اوس يې بيا هم کوو چې څوک دې دا ګومان نه کوي چې مونږ د دوی سره په دې کې وران يو چې دا خلک د فاسقانو حاکمانو حکومت مني مونږ ورسره دغه کې هيڅ اختلاف نه لرو زمونږ هم دغه نظر دی چې د مسلمان حاکم فسق فجور مونږ د هغه له اطاعت څخه نه منعه کوي او نه هم مونږ ته په شريعت کې د فاسق يا فاجر امير په خلاف د پاڅون اجازه شته ځکه چې فسق اصغر، کفر اصغر، نفاق اصغر، شرک اصغر؛ د اسلام سره جمعه کېږي خو فسق اکبر، کفر اکبر، نفاق اکبر او شرک اکبر چې دغه اوسني حاکمان يې مرتکب شوي دي د اسلام سره په

هیڅ وخت کې نه جمعه کیږي نو له دې وجې د فجور یا فسق تهکې دې تاسو دوکه نه کړي چې کنه دوی د فسق له وجې د حاکمانو سره وران دي مونږ ورسره په غټو خبرو وران یو د دین په اړه ورسره اختلاف لرو د الله په اړه ورسره اختلاف لرو د پیغمبر په اړه ورسره اختلاف لرو، قانون سازي د رب صفت دی مونږ يې الله تعالی ته خاص کوو بل څوک ورسره نه شریکوو دوی د الله تعالی سره په دغه صفت کې د پارلمان اعضاء او قوه مقننه شریکوي مونږ یوازې اسلام خپل دین ګڼو او د دنیا په ټولو چارو کې ورته خلک رابلو خو دوی د دین الملک قائل دي مونږ خپل امام او پیشوا محمد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ګڼو خو دوی په غیر مستقیم طریقې سره خپل امامان جستنیان او نابلیون ګڼي نو زمونږ اختلاف دوی سره بنیادي دی هسې په فرعي مسایلو کې نه دی.

## موجوده طاغوتي حاکمان جهمیه وو نه په کفر کې زیات دي.

**بیا وايي: والصلوات الخمس جائزة خلف من صليت خلفه إلا أن يكون جهميا، فإنه معطل وإن صليت خلفه فأعد صلاتك صـ٤٢.**

مونږ د دې په شرح کې وایو: چې دغه موجوده حاکمان او د دولت غړي يې د معطله وو نه پسې اخوا ته دي څکه دوی

هم د الله تعالى ډېر صفات نهارا جهارا معطل کړي دي بلکې د الله تعالى قانون يې ټول د تحکيم څخه معطل کړی دی بلکې د دې له پاسه په خلاف يې ورله قوانين وضعه کړي دي او د دې له پاسه فوځ، پوليس، استخبارات، وزارت داخله،وزارت دفاع يې د تطبيق لپاره ورله ګمارلي دي جيلونه او سزاګانې يې مخالفينو ته تيار کړي دي، نو دوی خو په څو چنده د جهميه معطلة الصفات نه زيات دي دوی خو د دې ډېر لايق دي چې لمونځ پسې ونشي د دې ډېر لايق دي چې سخته دوښمني ورسره وشي له دوی او د دوی له قانون څخه کامل برائت وشي.

## د فتنو څخه ډډه کول.

**بيا وايي: وإذا وقعت الفتنة فالزم جوف بيتك، وفرمن جوار الفتنة اهـ.صـ٤٢**

زمونږ هم د عبد العزيز او د هغه مل پلاوي ته دغه توصيه وه او ټولو مسلمانانو ته مو همدغه توصيه ده چې د فتنو څخه ځان لرې وساتي خو ارمان که عبد العزيز او مل پلاوي يې د اهل السنة والجماعة په دغه اصل عمل کړی وی او کورونو کې غلي ناست وی خپلو شاګردانو ته يې مدرسو کې په صحيح معنی قران او حديث تدريسولی او له کفارو او طواغيتو يې برائت

کړی وی د هغوی خدمت او چاپلوسي يې پريښې وی خو داسې يې نه دي کړې بلکې د فتنې سر وگرځيدل په هغو مسايلو يې جرائت وکړ چې ډېرو مسلمانانو ويني په کې تويه شوي دي ډېر په جيلونو کې پراته دي ډېرې ښځې کونډې شوي ډېرې ميندې بورې شوي دي، دوی د طواغيتو په دفاع کې کانفرانسونه کوي چې په کې له مسلمانانو څخه برائت او طواغيتو ته خپله وفاداري او ملاتړ اعلانوي؛ هغه فتنه نه گڼي، گويا که له نبوي منهج څخه دفاع کوي العياذ بالله، دوی به د دې ډېر دروند قيمت پرې کوي او دا د طواغيتو دوستانه او محبت او مرگوني دفاع به دوی ته هېڅ گټه ورنکړي باذن الله.

## انتخاباتو کې برخه اخستل کفر دی.

**بيا وايي: والديمقراطية : مادامت هي حكم الشعب، وإعطاء الإنسان حق التشريع الذي هو حق الله كما قال تعالى : إن الحكم الا لله، ليست لها حظ في الإسلام، ولو ضم معها كلمة إسلامية، ومزاحمة أهل الديمقراطية لتقليل شرهم في الانتخابات العامة، و غيرها أمر جائز مع مراعات الضوابط الشرعية.**

**والحاصل أن الدخول في الانتخابات ليس على إطلاقه والأصل ألا يدخل فيها إلا إذا حصل في الدخول مصلحة، بأن كان الأمر دائراً بين شرير وطيب، أو بين شريرين أحدهما أخف من الآخر،**

**وكان ترك المشاركة يؤدي إلى تغلب من هو أخبث وأشد؛ ففي هذه الحالة لا بأس بذلك من أجل ارتكاب أخف الضررين في سبيل التخلص من أشدهما.صـ٤٢، ٤٣.**

ژباړه: ډيموكراسي چې تر څو له ولسواکۍ څخه عبارت وي او انسان ته په کې د قانون سازۍ حق ورکول کېږي هغه چې د الله تعالی حق دی لکه الله تعالی فرمايي: واک اختيار يوازې الله تعالی ته دی؛ په اسلام کې يې هېڅ برخه نشته که هر څومره ورسره اسلامي کلمه هم يوځای شي او له ډيموكراتانو سره د هغوی د شر د کمولو لپاره په عامو انتخاباتو او نورو، کې شرعي قوانينو ته په پام کې نيولو سره سيالي جايز ده.

خلاصه دا ده چې په انتخاباتو کې برخه اخستل جواز يې مطلق نه دی، اصلي خبره دا ده چې په انتخاباتو کې دې څوک برخه نه اخلي مگر چې په برخه اخستلو کې مصلحت وي په دې طريقه چې مشري د دوه کسانو تر منځ داير وي چې بد او

ښه سړی وي یا دواړه لور ته بد سړي وي چې د یو بدي په کې له بل څخه کمه وي او د برخې نه اخستلو له امله هغه څوک کامیابي ترلاسه کوي چې ډېر پلیت او سخت انسان وي نو په دې حالت کې انتخاباتو کې برخه اخستل جایز دي، دې لپاره چې ارتکاب د سپک ضرر وشي چې له غټ ضرر څخه نجات ومومي.

نو دلته یې شرکي انتخاباتو ته اجازه ورکړې هغه چې د ډیموکراسۍ یو مهم اصل دی، ډیموکراسي چې له ولسواکۍ څخه عبارت ده په یو څو اصولو ولاړه ده چې له هغو څخه: عقیدوي آزادي، د بیان آزاداي، فردي آزادي د مساوات اصل او په سوله آییزه طریقه د واک انتقال. دا د ډیمکراسۍ اصول دي. په سوله آییزه طریقه د واک انتقال لپاره انتخابات کېږي.

د نورستاني نه سوال کوو که یو محفل د رقص او د لوڅو زنانه وو د ګډا وي او دلته انتخابات وشي چې اول صف کې څوک کېني نو دلته د نورستاني په شان ملایان ووایي چې هله انتخاباتو کې ګډون وکړئ کنه اول صف ته به بې دینه او خراب کسان راشي نو آیا دې انتخاباتو کې ګډون د دې لپاره چې د رقص محفل ته اول صف کې خراب کسان رانشي صحیح دی؟

انتخابات د سياسي ډلو تر منځ د سيالۍ په توګه ترسره کېږي بيا د رای په ډېر والي سره کانديدان پارلمان ته رسېږي چې هلته ترې د قانون په وفادارۍ کې حلف اخلي چې لوړه او قسم هم ورته وايي، بيا له هغې وروسته په پارلمان کې د شريعت خلاف قوانين تصويبوي او د قانون د عملي کېدلو نظارت کوي تر دې که يو وزير هم د قانون خلاف وکړي نو احضار کوي او حساب ورسره کوي نو دغه کانديد چې د شريعت خلاف قانون سازۍ مقام ته رسېږي د انتخاباتو په ذريعه رسېږي، هغه انتخابات چې ډېری خلک په کې برخه اخلي. انتخابات د اسلام له اصولو سره په ټکر کې دي چې بيان يې په دې ډؤل دی:

۱ـ په انتخاباتو سره هر کافر او مرتد ته د رايې موقع حاصلېږي حال دا چې په شريعت کې کافر ته د مشر په انتخاب کې د رای اجازت نشته که څه هم ذمي کافر هم وي چې مسلمانانو ته جزيه (ټکس) ورکوي.

۲ـ په انتخاباتو کې زنانه ته هم د رای اجازه وي حال دا چې په اسلام کې د مشر په ټاکلو کې له زنانه څخه رای اخستل نشته.

۳ـ په انتخاباتو سره زنانه او کافر هم مشرۍ ته رسېدلی شي حال دا چې په اسلام کې د زنانه مشري او هم د کافر مشري په اجماع د امت جایز نه ده.

۴ـ په انتخاباتو سره د کافر حاکم خلاف جهاد لغوه شوی او د مسلح پاڅون مخه نیول شوې هغه چې علماوو پرې اجماع کړې چې کله یو مشر مرتد وي؛ نه به ټاکل کیږي او که وروسته په کې ارتداد راپیدا شي نو لرې کولی به شي او په خلاف به یې مسلح پاڅون کیږي چې دا اجماع قاضي عیاض نقل کړې او مونږ مخکې ذکر کړې ده.

**نو انتخابات د یو څو لاملونو له امله کفر دی چې بیان یې په دې ډول دی:**

۱ـ په انتخاباتو سره قانون سازان ټاکل کیږي چې دا د الهه وو په معنا دي ځکه قانون سازي د الله تعالی ځانګړی صفت دی چې دغه د پارلمان اعضاء یې د ولس په نمایندګۍ ترسره کوي نو د الله تعالی ځانګړی صفت چا ته ورکول یا ورته څوک انتخابول شرک دی فلهذا انتخابات هم شرک دی.

شيخ شنقيطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **ويفهم من هذه الآيات، كقوله: وَلَا يُشرك في حكمه أحدا، أن متبعي أحكام المشرعين غير ما شرعه الله أنهم مشركون بالله اهـ[أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن ٣/٢٥٩].**

ژباړه: او له دې آیتونو څخه چې الله عزوجل فرمايي: او الله تعالى په حکومت کې څوک نه شريکوي؛ دا فهمېږي کوم خلک چې د الله تعالى د قانون په خلاف د قانون سازانو په حکمونو پسې روان وي؛ دوی له الله تعالى سره برخه داران جوړوي.

٢ـ انتخابات منل په ډيموکراتيک اصل اقرار کول دي او په ډيموکراتيک اصل اقرار کول کفر دی ځکه ډيموکراسي د اسلام ضد يو مستقل دين دی چې هېڅکله له اسلام سره نه جمعه کېږي د چا په زړه کې چې په الله تعالى ايمان وي هغه به له ډيموکراتيکو اصولو څخه انکار کوي خو د چا په زړه کې چې په ډيموکراسۍ ايمان وي هغه به يې اصولو ته ژمن وي چې اسلام ورسره هېڅکله نه يوځای کېږي الله عزوجل فرمايي: وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْـءَاخِرَةِ مِنَ الْخَسِرِينَ. [سُورَةُ آل عِمرَان : ٨٥].

ژباړه: له اسلام څخه پرته چې هر څوك كوم بل دين طلب كړي، هېڅكله به ورڅخه قبول نكړی شي او په آخرت كې به هغه ناكام او زيانمن وي. نو په آيت كې د دين اطلاق په باطل دين شوی دی معلومه شوه چې ډيموكراسي هم يو باطل دين دی چې د دين اطلاق وربانديې كېږي.

٣ـ انتخاباتو كې برخه اخستل د كافر حاكم په كفر د رضا دليل دی ځكه كانديد او ډله يې د كفر په ډېرو مراحلو ورتېرېږي چې له امله يې سوچه كافر شوي وي او د برائت مستحق جوړ شوی وي چې د دغه مراحلو بيان وروسته راځي. او د شريعت له نصوصو دا خبره ثابته ده چې رضا په كفر هم كفر ده. قاضي عياض رَحِمَهُ ٱللَّهُ ويلي دي: **والرضا بالكفر كفر**. ژباړه: په كفر راضي كېدل كفر دی.

نو دا چې څوک انتخاباتو كې رایه وركړي د هغه كانديد چې قانون سازۍ ته رسېږي او د الله تعالی سره په دغه صفت كې ځان برخه دار جوړوي په دغه شرک يې راضي دی، د شريعت خلاف خومره قوانين چې هم تصويبوي دا وربانديې راضي دی.

۴ـ د انتخاباتو ټیم د کافرانو سره په تولّي کې اخته دی ځکه د تولّي یوه معنا د کافرانو د قانون تابعداري کول دي نو څوک چې د کفارو سره د هغوی په قانون کې موالات کوي هغه کافر دی چې انتخابات یې څرګنده بیلګه ده نو د دې آیت عموم ورته شامل دی چې الله عزوجل فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ [سُورَةُ المَائدة: ۵۱].

ژباړه: اې مؤمنانو! یهودیان او نصارا خپل ملګري مه نیسئ، دوی په خپلو منځو کښې سره ملګري دي. او که ستاسې څخه څوك هغوی خپل ملګري نیسي، نو بیا هغه هم په هماغو کښې شمېرل کېږي. په دې کښې شك نشته چې الله تعالی ظالمان له خپلې لارښوونې څخه بې برخې کوي.

۵ـ د انتخاباتو ټیم او د هغوی کاندیدان د ارتداد په یو څو مراحلو ورتېرېږي چې بیان یې په دې ډؤل دی:

اوله مرحله: **الموافقة على الدستور**، په وضعي قانون موافقه کول. نو څوک چې انتخاباتو کې برخه اخلي یا د

انتخاباتو لپاره يو ګوند جوړوي له ټولو ښخه مخکې ورباندې د ملک اساسي قانون منل لازم دي چې پرته له موافقې ورته د ګوند جوړولو اجازه نه ورکول کېږي، اوس د هغه چا په اړه د علماوو اقوال ذکر کوو چې د شريعت خلاف قانون باندې موافقه کوي او مني يې:

شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **ومعلوم بالاضطرارمن دين المسلمين وباتفاق جميع المسلمين أن من سوغ اتباع غير دين الإسلام، أو اتباع شريعة غير شريعة محمد -صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ- فهو كافر، وهو ككفر من آمن ببعض الكتاب وكفر ببعض الكتاب. [الفتاوى الكبرى ٢٨/ ٥٢٤].**

ژباړه: له اسلام دين ښخه په اضطراري توګه او په اتفاق د ټولو مسلمانانو دا خبره معلومه (ثابته) ده: چا چې له اسلام دين ښخه پرته د بل دين تابعداري جائز کړله يا يې د محمد صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ له شريعت ښخه پرته د بل چا د شريعت تابعداري جائز کړله، نو دا به کافر وي پشان د کفر د هغه چا چې ايمان يې په ځينې برخه د کتاب راوړی وي او په ځينې برخه يې کفر کړی وي.

شيخ محمد بن ابراهيم بن عبد اللطيف آل الشيخ رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې د شيخ محمد بن عبد الوهاب په لمسو کې راځي هغه په "تحکيم القوانين" رساله کې وايي: **فكما أن للمحاكم الشرعية مراجع ومستندات مرجعها كلها إلى كتاب الله وسنة رسوله صلى الله عليه وآله وسلم فلهذه المحاكم مراجع هي القانون الملفق من شرائع شتى، وقوانين كثيرة كالقانون الفرنسي، والقانون الامريكي، والقانون البريطاني، وغيرها من القوانين، ومن مذاهب بعض البدعيين المنتسبين إلى الشريعة وغير ذلك. فهذه المحاكم الآن في كثير من أمصار الإسلام مهيأة مكملة مفتوحة الابواب، والناس إليها أسراب إثر أسراب، يحكم حاكمها بينهم بما يخالف حكم الكتاب والسنة من أحكام ذلك القانون، وتلزمهم به وتقرهم عليه، وتحتمه عليهم، فأي كفر فوق هذا الكفر، وأي مناقضة للشهادة بأن محمدا صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رسول الله بعد هذه المناقضة[فتاوى الشيخ محمد بن إبراهيم آل الشيخ ١٢/ ٢٨٩، ٢٩٠].**

ژباړه: لکه څنګه چې د شرعي محکمو لپاره سرچينه قرآن او حديث دی نو د دې طاغوتي محکمو لپاره هم سرچيني هغه قانون دی کوم چې له مختلفو شريعتونو او قوانينو څخه راخستل شوی وي لکه د فرانسي قانون، امريکايي قانون، بريتانوي قانون او نورو، قوانينو څخه او له ځينې بدعي

مذهبونو څخه چې شریعت ته منسوب دي او له دې څخه پرته نور، دغه (طاغوتي) محکمې چې په ډېرو اسلامي هېوادونو کې په پوره توګه شتون لري، دروازې یې خلاصې وي او خلک ورته ډلې، ډلې ورځي چې فیصله کوونکی یې د خلکو ترمنځ د قرآن او د حدیث په خلاف د دې قانون په حکمونو فیصلې کوي چې دغه قانون پرې لازموي او اقرار وربانديې کوي نو له دې څخه بل غټ کفر څه کېدلی شي؟ او له دې څخه بل غټ مخالفت د محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رسالت له ګواهۍ سره څه کېدلی شي؟.

د دې قول مقصد دا دی چې څوک دغه وضعي قوانین ومني نو دغه کس د اسلام غټ ناقض اختیار کړ او غټ کفر ته یې راتګ وکړ.

شیخ احمد شاکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ وایي: **إن الامر في هذه القوانين الوضعية؛ واضحٌ وضوح الشمس؛ هي كفرٌ بَواح، لا خفاء فيه ولا مداورة. [عمدة التفسير (١/ ٦٩٥ – ٦٩٧)].**

ژباړه: د دې وضعي قوانینو په اړه خبره د لمر په څېر واضحه ده چې دا ښکاره کفر دی چې هېڅ پټوالی په دې حکم کې نشته او نه پکې څه دوکه شته.

نو څوک چې په دغه قانون باندې موافقه وکړي په باطل دين يې موافقه وکړه چې اوصاف يې دا دي:

په هغه دين يې موافقه وکړه چې د شيطان په وحې سره جوړ شوی دی الله عزوجل فرمايي: وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ [سُورَةُ الأنعَام: ١٢١].

ژباړه: شيطانان د خپلو ملګرو په زړونو کې شکونه او اعتراضونه اچوي چې هغوی له تاسې سره شخړه وکړي. خو که تاسې د هغوی اطاعت ومانه، نو بېله شکه به تاسې مشرکان ياست.

په جاهلي دين يې موافقه وکړه الله عزوجل فرمايي: وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ؛ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ [سُورَةُ المائدة: ٥٠ – ٤٩].

ژباړه: او دا حقيقت دی چې له دې خلکو څخه ډېری فاسقان دي. (که دوی د الله تعالى له قانون څخه مخ اړوي) نو آيا بيا د جاهليت فيصله غواړي؟ په داسې حال کې کوم خلک

چې پر الله تعالی باور لري، د هغوی په نزد له الله تعالی څخه بل غوره فیصله کوونکی هیڅ نشته.

په هغه دین یې موافقه وکړه چې د یهودو او نصاراو د خواهشاتو په اساس جوړ شوی دی الله عزوجل فرمایي: وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ ۗ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ﴾ [سُورَةُ البَقَرَة: ١٢٠].

ژباړه: یهود او نصاری به هېڅکله له تا څخه خوشحاله نشي، ترڅو ته د هغو په لاره (دین) لاړ نشې. دوی ته په کلکه ووایه چې سمه لاره یوازې هماغه ده چې الله تعالی ښودلې ده. او که ته له هغه علم څخه وروسته چې درکړای شوی دی، د هغو په خواهشونو پسې لاړ شې؛ نو ستا هیڅ دوست او مرستندوی نشته چې د الله تعالی له نیونې څخه دې وژغوري.

په هغه دین یې موافقه وکړه چې له الله تعالی پرته نورو اربابانو جوړ کړی دی الله عزوجل فرمایي: اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ [سُورَةُ التّوبَة: ٣١].

ژباړه: دوی خپل عالمان او روحانیون له الله تعالی پرته خپل ارباب نیولي دي.

له اسلام پرته په بل دین يې موافقه وکړه ځکه د دين اطلاق په باطل او حق دين دواړو باندې کېږي لکه الله عزوجل فرمايي: أَفَغَيْرَ دِينِ اللهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ [سُورَةُ آل عِمرَان: ٨٣].

ژباړه: اوس، آيا دا خلک د الله تعالی د اطاعت طريقه (دين الله) پرېږدي، کومه بله طريقه لټوي؟ - په داسې حال کې چې د آسمانونو او ځمکي ټول شيان، خوښ وي که نا خوښ، یوازې د الله تعالی د فرمان تابع دي او د هماغه لوري ته د ټولو ورگرځېدل دي.

نو "**غيردين الله**" ته هم دين ويل شوي دي چې په بل آيت کې تعبير ترې په "**دين الملك**" سره شوی دی لکه فرمايي: مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ. [سُورَةُ يُوسُف: ٧٦]

ژباړه: د هغه دا کار نه ؤ چې د باچا په دين (د مصر په باچاهي قانون) کې يې خپل ورور نيولای وای.

او په دغه قانون موافقه کول دليل د استحلال هم دی ځکه چې دوی ته پرته له قانون منلو د ګوند جوړولو اجازه نه ورکول کېږي بيا دې ته نور خلک هم رابلي او کمپاينونه ورته کوي او بيا وروسته يې کانديد قانون ته په وفادارۍ لوړه هم کوي او بيا قانون سازي او د قانون د تنفيذ مراقبه هم کوي چې دا ټول کارونه په استحلال دليل دي نو که څوک استحلال په دې باب کې شرط کوي د هغوی په نزد هم د انتخاباتو ټيم مرتد دی.

**دويمه مرحله: الإيمان بالتعددية الحزبية؛** په څو ګونديزه نظام باور لرل. څوک چې د انتخاباتو په ټيم کې برخه اخلي هغه به په څو ګونديزه نظام باور لري، يعني هغه نظام چې تشکيل يې له مختلفو ګوندونو شوی وي لکه د کمونستانو ګوند، د سيکولرانو ګوند، د يهوديانو ګوند، د نصاراو ګوند، د اشتراکيانو ګوند او ټول هغه ګوندونه چې په هيواد کې ميشت دي که څه هم د اصلي کافرانو ګوند هم وي؛ د دوی ټول فعاليتونه به مني او د هېڅ فعاليت خلاف به يې نه کوي لکه د دوی د بيان آزادي، د رسنيو آزادي، د عقيدي دعوت او په حکومت کې د برخې ورکولو؛ دا ټول فعاليتونه به يې مني چې په اسلام کې ورته هېڅ اجازه نشته بلکې د دوی دغه فعاليتونو

ته جواز ورکول د ولاء براء عقيدي خلاف، د شرعي سياست خلاف د صريحو نصوصو خلاف دي او هم د هغوی کفر ته لاره هواره ول او د هغوی سره په کفر کې همکاري کول دي چې صريح کفر دی.

اوس له دغه مرجئه وو څخه چې د ووټونو د جواز قايل دي او د مصلحت په پلمه په ډيموکراتيک نظام کې چې له څو گونديزه نظام څخه عبارت دی او دا يې د نورو اصولو په څير يو اصل دی؛ برخه اخستل په کې رواه گڼي، مشران يې شرعي حاکمان گڼي، په خلاف يې پاڅون، بغاوت او خروج گڼي؛ مونږ ورڅخه دا پوښتنه کوو او وايو: که چېرې د څو گونديزه نظام اصل په اساس د رای په ډېروالي سره يو اصلي کافر لکه يهودي، نصراني، يزيدي يا بل بې دينه کافر مشری ته ورسېږي نو آيا تاسو به يې شرعي حاکم گڼئ، طاعت به يې واجب گڼئ، په خلاف به يې خروج نارواه گڼئ، کفر ته به ورله کفر دون کفر واياست او که نه؟ که ځواب مو مثبت وي نو دا خو ډېر لوی کفر دی او که منفي وي نو بيا پوښتنه دا ده چې د دغه دواړو حاکمانو تر منځ توپير په څه کې دی؟ د دواړو قانون يو دی وظيفه يې يوه ده، دواړه د رای په گټلو سره دغه کرسۍ ته

رسېږي او دواړه همدغه يو قانون حاکموي نو چې د يو په اړه کوم نظر لرئ د بل په اړه به يې هم مجبورا او اضطرارا لرئ، د يو طاعت چې واجب ګڼئ او په خلاف يې پاځون بغاوت او خروج ګڼئ د دې بل په اړه به يې هم مجبورا لرئ چې دا ډېر لوی انحراف دی او د عقيدې په فساد دليل دی، بيا چې له دغو اقراراتو ستاسي خلاصي نشته نو پکار ده چې د اروپا حاکمان هم شرعي اميران وګڼئ، اطاعت يې واجب وګڼئ، په خلاف يې پاځون بغاوت وګڼئ، ځکه هغوی هم د څو ګونديزه نظام په اصل باور لري، ډيموکراسي يې حاکمه کړې او د ووټونو او رای حق يې هر چا ته ورکړی دی او د ډيموکراسۍ ټولو اصولو ته ژمن دي او همدغه يې د قانون په توګه حاکمه کړې لکه څنګه چې اسلام ته منسوب حاکمانو حاکمه کړې او هر اصل ته يې احترام لري؛ تر منځ يې هېڅ توپير نه ليدل کيږي!!

**دريمه مرحله: الإيمان بمبدء التداول السلمية للسلطة.**

په سوله آييزه طريقه د واک انتقال په اصل ايمان لرل، دا هغه اصل دی چې په نتيجه کې يې انتخابات ترسره کيږي چې مخکې يې بيان شوی دی.

**څلورمه مرحله: اليمين الدستوري.**

د قانون په عملي کولو او هغې ته په وفادارۍ او دفاع قسم کول چې لوړه یا حلف ورته وایي او دا یې د کاندیدانو مرحله ده کله چې د دوی د رایې په ډېروالي سره پارلمان ته کامیاب شي نو بیا د ډیموکراسۍ د قانون په اړه لوړه کوي چې په کې د دغه شرکي، د یهودو نصاراوو د خواهشاتو په اساس جوړ شوی جاهلي قانون؛ د دې په دفاع او عملي کولو باندې قسم کوي او هغې ته د وفادارۍ ژمنه کوي. چې دا غټ کفر دی ځکه د الله تعالی د دین په مقابل کې د بل دین په منلو او تطبیقولو قسم کوي هغه دین چې له بوت پاله اروپا څخه یې اسلامي نړۍ ته سرایت کړی، چې خپل ځانګړي اصول او احکام لري، خپل حل حرم لري، خپل کتاب او پیغمبر لري، د اسلام له مبین دین سره په هېڅ وخت نه یو ځای کېږي، نه د عقیدې په اصل کې، نه د بیان آزادۍ او نه د شخصي یا فردي آزادۍ او نه د مساوات په اصل کې او نه هم په ټولنیز، اقتصادي، مدني او جزایي اصل کې، او نه د واکمن په ټاکنو او معزول کولو کې او نه د سیاست په باب کې؛ په دې هېڅ کې ورسره نه یو ځای کېږي چې دلته یې تفصیل نه کوو د العزایم ادارې څخه نشر شوی کتاب "البراعة في تبيان شرک الطاعة" چې د الشيخ ابو علي الانباري

تقبله الله له دورې څخه پښتو ته ژباړل شوی؛ مطالعه يې مه هیروئ په دې باب کې ډېر مفيد او ګټور دی.

**پنځمه مرحله: الحکم بالدستوروبالقانون.**

دغه کاندیدان چې کله د رای په ګټلو سره پارلمان ته ورسېږي نو په وضعي قانون فيصله کوي او ټول مسایل د وضعي قانون په رڼا کې حل کوي، په اسلامي قانون هېڅکله فيصله نه کوي او په وضعي قانون فيصله کول خو کفر دی چې مخکې يې تفصيل شوی دی، دلته به د علماوو په اقوالو بسنه وکړو:

شيخ شنقيطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل کتاب أضواء البيان کې د سورة الكهف د آيت په تفسير کې وايي: **وأما النظام الشرعي المخالف لتشريع خالق السماوات والأرض: فتحكيمُه كفرٌ بخالق السماوات والأرض، كدعْوى أن تفضيل الذكَر على الأنثى في الميراث ليس بإنصاف، وأنهما يلزم استواؤهما في الميراث، وكدعْوى أن تعدد الزوجات ظلم، وأن الطلاق ظلمٌ للمرأة، وأن الرَّجم والقَطع ونحوَهما أعمالٌ وحشيةٌ، لا يَسوغ فِعلها بالإنسان، ونحو ذلك..!**

ژباړه: او هغه شرعي نظام چې د زمکې او آسمانونو د پيدا کوونکي ذات د قانون خلاف وي؛ حاکمول يې په هغه ذات کفر کول دي چې زمکه او آسمانونه يې پيدا کړي دي، لکه

داسې دعوه کول چې نارينه ته په ميراث کې له ښځې څخه زياته برخه ورکول انصاف نه دی، او دوی دواړه (سړي او ښځې) ته به په ميراث کې يو شان برخه ورکول لازم وي او يا داسې دعوه کول چې ډېر نکاحونه کول ظلم دی او ښځې ته طلاق ورکول ظلم دی او د زاني (زنا کوونکي) رجم کول او له غل څخه لاس غوڅول او د دې پشان نور حدونه نافذول د وحشت کړنې دي چې له يو انسان سره داسې او دې ته ورته (مشابه) کړنې ترسره کول جائز نه دي.

بيا وايي: "**فتحكيمُ هذا النوع من النظام في أنْفُس المجتمع، وأموالهم، وأعراضهم، و أنسابهم، وعقولهم، وأديانهم: كفرٌ بخالق السماوات والأرض، وتَمرُّد على نظام السماء، الذي وضعه مَن خلقَ الخلائق كلَّها، وهو أعلمُ بمصالحها، سبحانه وتعالى عن أن يكون معه مُشرِّعٍ آخر علوًّا كبيرًا [أضواء البيان ٣ / ٣٦٠].**

ژباړه: نو دا ډوّل نظام د خلکو په نفسونو، مالونو، عزتونو، نسبونو، عقلونو او دينونو حاکمول، په هغه ذات کفر کول دي چې زمکه او آسمانونه يې پيدا کړي دي او له هغه آسماني نظام څخه سرکشي کول دي چې د مخلوقاتو پيداکوونکي وضعه کړی دی او هغه ذات د مخلوق په گټو ښه

پوهيږي، پاک دی هغه او لوړ دی له دې چې له هغه سره بل قانون جوړونکی شريک شي په لوړوالي دېر سره.

شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د هغه چا په اړه چې په يوه مسئله کې د الله تعالى او د هغه د رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم پرېږدي او د يو حاکم هغه قول پسې ځي چې د قرآن او حديث خلاف وي؛ وايي: **ومَتى ترَك العَالِمُ ما عَلِمَه، من كتاب الله، وسُنَّةِ رسولِه، و اتَّبع حُكمَ الحاكمِ المُخالف لحُكم اللهِ ورسِوله كان مرتدا كافرًا يَستحقُّ العقوبةَ في الدنيا والآخرة، قال تعالى: المص. كِتابٌ أُنْزِلَ إلَيْكَ فَلاَ يَكُنْ فِي صَدرِكَ حَرَجٌ مِنْهُ لِتُنْذِرَ بِهِ وَذِكْرَى للمُؤْمنينَ. اتَّبِعوا ما أُنْزِلَ إلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَلاَ تَتَّبِعوا مِنْ دونِهِ اولياءَ قَلِيلاً ما تَذَكَّرونَ [الأعراف: ١، ٢، ٣] [مجموع الفتاوى ٣٥/ ٣٧٢].**

ژباړه: او کله چې يو عالم د قرآن او حديث يو معلوم حکم پرېږدي او د يو حاکم امر پسې روان شي چې د قرآن او حديث خلاف وي نو دا به مرتد، کافر وي چې په دنيا او آخرت کې به د سزا مستحق وي. الله تعالى فرمايي: (المص. دا يو کتاب دی چې تا ته درلېږل شوی دی، نو (اې محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)ستا په زړه کې دې له ده څخه څه اندېښنه نه وي. د ده له نازلولو څخه هدف دا دی چې ته د ده په وسيله (منکران) ووېروې او

د مؤمنانو لپاره يادونه وي. اې خلکو! څه چې ستاسې د رب له لوري پر تاسې نازل شوي دي، د هغو پيروي وکړئ او له خپل رب څخه پرته د نورو سر پرستانو پيروي مه کوئ. خو تاسې نصيحت ډېر لږ منئ.

**شپږمه مرحله: وضع التشريعات للمستجدات؛**

د نوو راپيدا شوو موضوعاتو لپاره قانون سازي کول. د دوی کانديد چې کله د رای په ډېروالي سره پارلمان ته ورسېږي نو هلته بيا دوه وظيفې اجراء کوي يو: د نوو پيدا شوو مسايلو لپاره قانون جوړول، دويم: د قانون د تطبيق څار کول، چې دا وظيفې يې د قانون په کتابونو کې ذکر دي. دا ځکه چې د قانون سازانو کميسون خو د وخت د اړتياوو په اساس قوانين ليکلي وي او داسې قوانين خو نه وي چې تر قيامته د عمل وړ وي نو د نوو راپيدا شوو حادثو لپاره د قانون سازۍ حق يې د پارلمان غړو ته ورکړی دی چې دوی بيا نوي قوانين تصويبوي، او دوی خو هېڅکله د شريعت موافق قوانين نه تصويبوي بلکې د شريعت خلاف قوانين تصويبوي خو کومه د شريعت کلمه چې د قانون په کتابونو کې راوړي او وايي: زمونږ د قانون بنياد يا سرچينه اسلامي شريعت دی(!) نو په دې يې بايد څوک دوکه

نشي، دا يې د مسلمانانو دوكه كولو لپاره ليكلي وي، حقيقت دا دى چې د دوى قانون د اسلام سره په هېڅ شي كې نه جمعه كېږي، نه د عقيدې په باب كې او نه په نورو مسايلو كې، ځينو ته يې دلته اشاره كوو:

**د عقيدې په باب كې يې د شريعت خلاف:** د عقيدې په باب كې د شريعت خلاف په دې ډول دى چې د عقيدې آزادي يې مطلقه ده هر كافر، ملحد او مرتد ته شامله ده، او هم په كې د حربي او غير حربي تميز نه دى شوى خو په اسلام كې د عقيدې آزادي خاصو كافرو ته ده او هغه هم مقيده ده په عمري شرطونو او نورو سره.

په منصوصي جرمونو كې يې سزاګانې د شريعت خلاف دي، تاسو يې د عقوباتو قوانين كتلى شئ.

په قانون كې يې د ډېرو مسايلو په اړه تحليل تحريم شوى دى لكه زنا يې د رضا په شرط جايز كړې، سود يې جايز كړى، همجنسبازي يې جايز كړې، شراب يې جايز كړي دي، د كفارو سره يې موالات جايز كړي دي او نور. د شريعت ټول احكام يې له عمل څخه معطل كړي دي. د مساوات اصل، فردي آزادۍ

اصل او نور اصول يې د شريعت خلاف دي، بلکې که چېرې مونږ په ځينو مسايلو کې دا خبره هم ومنو چې دا يې د شريعت سره موافق دي نو هم ورته شرعي حکم نشو ويلی، بلکې د دغه قانون په جوړولو هم دوی ته مرتد وايو او دغه تشريع يې د ارتداد لامل ګڼو، دا ځکه چې:

دوی دغه قانون د الله تعالی په نوم او قران او حديث ته په نسبت نشي صادرولی.

د دوی دغه قانون کې تغير تبديل په مرور د وخت سره راتلی شي چې د شريعت احکامو ته تغير نشي راتلی.

د دوی د شريعت موافق قانون تصويبولو باندې په پارلمان کې ناست هر کافر ملحد او نورو څخه رای اخستل کېږي چې دا د قانون په توګه ومنو او که نه؟ حال دا چې د شريعت ثابت حکم په اړه له هېڅا څخه رای نه اخستل کېږي بلکې يوازې د عملي کولو اختيار يې له مونږ سره دی.

نو له دې امله د دوی د شريعت موافق قانون ته هم شرعي قانون ويل صحيح نه دي بلکې د شريعت سره مشابه (ورته) قانون نوم ورکول صحيح دي.

نو له همدې امله وايو چې د دوی د پارلمان غړو ارتداد د ينځو لاملونو څخه مرکب دی هغه چې د وضعي قانون حاکم د تکفير په لاملونو کې مو ذکر کړي وو چې لنډيز يې په دې ډول دی: تشريع مالم يأذن به الله، تحليل تحريم، تولّي الکافرين، اتخاذ دين غير الاسلام، عدم الحکم بما أنزل الله چې تفصيل د دغه لاملونو مخکې شوی دی بيرته يې نه راگرځوو.

**اوومه مرحله: التحاکم إلی هيئة الأمم المتحدة؛** د ملگرو ملتونو کميسون ته مسئلې حواله کول. ځينې هغه داخلي يا خارجي مسايل چې دغه پارلماني حکومت يې له حل کولو څخه عاجز شي نو د ملگرو ملتونو طاغوتي شوری چې له اصلي کافرو تشکيل شوې ده هغې ته يې راجع کوي لکه د وطن د فرضي کرښو په اړه مسايل، د جنگ يا د صلحې مسايل او نور، د هر دولت ډېری مسايل د دغه طاغوتي شوری سره پراته وي. حال دا چې الله عزوجل مونږ ته دا قاطع امر کړی چې د اختلاف پر وخت مسايل د هغه شريعت ته راجع کړو لکه فرمايي: وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ [سُورَةُ الشّورىٰ: ١٠].

ژباړه: په هره چاره کې چې ستاسې ترمنځ اختلاف وي، د هغه فیصله الله ته وګرځوئ.

بلکې مونږ ته يې د دې امر کړی دی چې د یهودو او نصاراوو تر منځ هم د الله تعالی په حکم او قانون فیصله وکړو کله چې مونږ ته فیصله راوړي لکه فرمايي: وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ اللهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَآ أَنزَلَ اللهُ إِلَيْكَ [سُورَةُ المائدة: ٤٩].

ژباړه: او د دوی تر منځ د الله تعالی له نازل کړي قانون سره سمه فیصله وکړه او د هغو د خواهشاتو پیروي مه کوه. پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې وانه چوي، يوه ذره قدر دې هم له هغه هدایت څخه وا نه ړوي چې الله تا ته درلېږلي دي. او داسې امر په نورو آیتونو کې هم شوی دی، خو دا چې مسلمانان د کافرانو محکمو ته فیصلې راجع کوي؛ د دې هېڅ اصل په شریعت کې نشته بلکې دا صریح کفر دی چې مخکې يې تفصیل شوی دی، د دې آیتونو په وعید کې داخل دي چې الله عزوجل فرمايي: فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ

بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا[سُورَةُ النِّسَاء : ٦٥].

ژباړه: نه، اې (محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)، ستا په رب قسم چې دوی هېڅکله مؤمنان کېدای نه شي، تر څو چې په خپل منځي شخړو کښې تا فېصله کوونکی ونه مني. بیا چې ته څه فیصله وکړې، پر هغې باندې په خپلو زړونو کښې هم څه تنګي احساس نه کړي؛ بلکې سر تر پایه یې ومني.

او په دې آیت سره چې الله عزوجل فرمایي: أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓا إِلَى الطَّٰغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوٓا أَن يَكْفُرُوا بِهِۦ وَيُرِيدُ الشَّيْطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَٰلًا بَعِيدًا [سُورَةُ النِّسَاء: ٦٠].

ژباړه: اې پیغمبر (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) آیا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې ګومان کوي چې: مونږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه وړاندې نازل شوي ول ایمان راوړی دی؟ خو غواړي چې خپلې چارې د فیصلې لپاره د طاغوت لورې ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغوی

ته له طاغوت څخه د منکریدو حُکم شوی ؤ. شیطان غواړي هغوی وغولوي او له سمې لارې څخه یې ډېر لرې وباسي.

شیخ محمد بن ابراهیم رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپله رساله "تحکیم القوانین" کې وایي: **فإنّ قوله عزوجل: "يزْعُمُوْنَ" تكذيب لهم فيما ادعوه من الإيمان، فإنه لا يجتمع التحاكم إلى غير ما جاء به النبي صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ مع الإيمان في قلب عبد أصلاً، بل أحدهما ينافي الآخر [راجع: رسالة "تحكيم القوانين" للشيخ محمد بن إبراهيم بن عبد اللطيف آل الشيخ].**

ژباړه: د الله وینا: "یزعمون"؛ د دوی د ایمان دعوه دروغجنوي ځکه چې د نبي علیه السلام له راوړي قانون څخه پرته بل قانون ته فیصله وړل له ایمان سره په یو زړه کې هیڅکله نه جمعه کیږي بلکې یو بل لره نفي کوي.

امام شنقیطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د ذکر شوي آیت په اړه وایي: **ومن أصرح الأدلة في هذا: أن الله جل وعلا في سورة النساء بين أن من يريدون أن يتحاكموا إلى غير ما شرعه الله يتعجب من زعمهم أنهم مؤمنون، وما ذلك إلا لأن دعواهم الإيمان مع إرادة التحاكم إلى الطاغوت بالغة من الكذب ما يحصل منه العجب.[أضواء البيان للشنقيطي ج ٣/ ٢٥٩].**

ژباړه: په دې اړه ډېر ښکاره دليل دا دی چې الله عزوجل په سورة نساء کې دا خبره بيان کړې ده چې څوک اراده لري د الله تعالی له قانون پرته بل قانون ته فيصله يوسي نو الله تعالی د دوی د ايمان له گومان څخه تعجب کوي او د دې بل لامل نشته مگر همدا لامل چې طاغوت ته د فيصلې وړلو اراده کول، د دوی د ايمان له دعوې سره په درواغو کې مبالغه کول دي چې له امله يې تعجب پيدا کېږي.

دا آيتونه او اقوال مخکې څو ځای ذکر شوي، تفصيل د مسئلې شوی، دلته په همدې بسنه کوو.

**اتمه مرحله: الإلتزام للتحريمات الدولية؛** د نړيوالو د تحريماتو پابندي کول او هغې ته ژمن پاتې کېدل.

د نړۍ زورواکو کفري هېوادونو ځيني شيان له ځانه حرام کړي دي او په کمزورو هېوادونو يې بند کړي دي چې يو له هغو څخه: امتلاك الأسحلة المحرمة الدولية، يا أسلحة الدمار الشامل، ده يعنې په نړيواله کچه منعه شوې اسلحې، يا د ډله ايزې ويجاړۍ اسلحې درلودل. چې له دې څخه يې ايټمي اسلحې او نورې د تباهۍ اسلحې مراد دي هغه چې زورواکي

هېوادونه لکه امریکا، فرانس، چین، روس او بریتانیا یې پریمانه لري. خو په نورو هېوادونو یې قاطع بندیز لگولی دی چې له دغو هېوادونو څخه اسلام ته منسوب د کفارو د قوانینو اسیر د عرب عجم هېوادونه هم دي د دغه هېوادونو حاکمانو ورسره په دغه تحریم موافقه کړې ده او دا خبره یې ورسره د قانون په توگه منلې ده او هم یې نور تحریمات د قانون په توگه منلي دي او له سرغړونې یې ځان ساتي چې دا د دوی د کفر لوی لامل دی ځکه الله تعالی د اسلحو جوړول مباح کړي دي بلکې امر یې ورباندې کړی دی فرمایلي دي: وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ [سُورَةُ الأنفال: ٦٠].

ژباړه: او تاسې تر خپلې وسې ډېر زیات طاقت او تیار زین کړي آسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ. ترڅو چې په دې وسیله د الله تعالی پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هیبت راولئ، چې تاسې یې نه پېژنئ خو الله تعالی یې پېژني.

نو له الله تعالی پرته د بل چا د تحلیل تحریم پابندي کول او دغه تحریمات ورسره د قانون په توګه منل شرک اکبر دی چې د شرک الطاعة په حکم کې داخل دی، مخکې یې پوره تفصیل شوی دی هلته رجوع وکړئ.

همداسې د بین الملل هغه قانون مراعات کول چې وایي باید یو هېواد د بل هېواد د کور د ننه (داخلي) مسائلو کې مداخله ونکړي لکه چین به په ایغور مسلمانانو هر تعرض او بې عزتي کوي خو نور تش په نوم مسلمان هېوادونه به دا حق نلري چې د چین دې ظلم لاس نیوی وکړي بلکې د نړیوالو قوانینو مطابق دا د چین داخلي مسئله ده او باید نور تش په نوم اسلامي هېوادونه یې په مړه غوږونو ومني همداسې نن سبا د غزې حال ته اوګورئ هغه هېوادونه چې د نورستاني په شان بلاعمه وو د هر قسم تایید او مرستې نه برخوردار دي دوی هم حق نلري پرته له کلکو ټکو غندنو نور هېڅ عملي کومک او مرسته د غزې مسلمانانو ته وکړي ځکه نړیوالو قوانینو ته باید دوی ژمن وي چې دا د فلسطین داخلي موضوع ده او دا تش په نوم اسلامي هېوادونه همدې بین الملل ته ډېر د ادب په چوکاټ

کې دا شکایتونه کوي چې باید اسراییلو باندې فشار واچوي ترڅو له خپل ظلم څخه لاس واخلي.

او دې مرتدو حکومتونو د غزې مسلمانان یې د امریکا او اسراییل رحم ته خوشې کړي دي چې یو طرف همدا امریکا اسراییلو ته په ټن ټن بمونه ورلیږي بل طرف بیا له هوا د کومکونو کڅوړې د غزې مسلمانانو ته فراشوت کې خوشې کوي خو یو اسلامي (مرتد) هېواد حتی د کومکونو رسولو اجازه هم نلري دا ټول دلیل او شواهد دي په همدې چې دې مرتدو هېوادونو د بین الملل ټول قوانین منلي او هغوی خپل مشران او فیصله کوونکي حسابه وي.

نو د ذکر شوو لاملونو په اساس دا خبره په قاطع توګه ثابته شوه چې په انتخاباتو کې برخه اخستل یا ووټ/رای ورکول کفر دی چې د مصلحت، ضرورت او نورو پلمو په اساس نه جایز کېږي ځکه توحید تر ټولو لوی مصلحت دی او شرک تر ټولو لوی مفسدت دی الله عز وجل د توحید په اړه فرمايي: **وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ [سُورَةُ الذّارِيَات : ٥٦].**

ژباړه: ما پېريان او انسانان له دې پرته چې زما بندګي وکړي د بل څه کار لپاره ندي پيدا کړي.

نو توحيد د ټولو پيريانو او انسانانو د پيدايښت غايه ده. چې د همدې غايه لپاره الله تعالى ټول پيغمبران راليږلي دي لکه الله تعالى فرمايي: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ [سُورَةُ النّحل : ٣٦].

ژباړه: موږ هر اُمت ته يو پيغمبر ليږلى او د هغه په وسيله مو ټول خبر کړي چې: د الله تعالى بندګي وکړئ او د طاغوت له بندګۍ څخه ځان وژغورئ.

نو دغه غايه چې په ډيموکراتيک نظام کې له منځه تللې او اهميت يې ختم شوى په خلاف يې د بوت پاله اروپا له قوانينو څخه راخستل شوى نظام حاکم شوى، شرک ته چې تر ټولو لوى مفسدت دى په کې وده ورکړل شوې؛ د مصلحت يا د شر د کمولو په پلمه په انتخاباتو کې يې برخه اخستل؛ کفر دى، ازاله د منکر په انکر سره ده، او همدلته بايد دغه قاعده وکارول شي، نه د طاغوتي حاکم په مقابل کې د جهاد په اړه. او څنګه به دا ازاله د منکر په انکر سره نه وي چې انسان په کې له ايمانه

خلاصيږي، د اسلام د لسګونو نواقضو مرتکب ګرځي، د طاعت او حاکمیت په شرک کې اخته کیږي د کفارو سره په موالات مکفره کې اخته کیږي او نور د ډیرو ګناهونو مرتکب ګرځي، او څنګه به انکر نه وي چې الله عز وجل شرک ته له قتل څخه لویه فتنه ویلي دي فرمايلي دي: وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ [سُورَةُ البَقَرَة : ٢١٧].

ژباړه: او فتنه(شرک) له وینو تویولو څخه لویه ګناه ده.

او په بل آیت کې دي: إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ [سُورَةُ لقمَان : ١٣].

ژباړه: شرک تر ټولو لوی ظلم دی.

شیخ سلیمان بن سحمان رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالی چې قول یې مخکې ذکر شوی و هغه وايي: **إذا عرفت أن التحاكم إلى الطاغوت كفر فقد ذكر الله في كتابه أن الكفر أكبر من القتل، قال: (والفتنة اكبر من القتل)، وقال (والفتنة أشد من القتل). والفتنة هي الكفر، فلو اقتتلت البادية والحاضرة حتى يذهبوا لكان أهون من أن ينصبوا في الأرض طاغوتا يحكم بخلاف شريعة الإسلام التي بعث الله بها رسوله** صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ... **فلو ذهبت دنياك كلها، لما جاز لك المحاكمة إلى الطاغوت لأجلها، ولو اضطرك مضطر وخيرك بين أن تحاكم إلى**

**الطاغوت، أو تبذل دنياك، لوجب عليك البذل، ولم يجز لك المحاكمة إلى الطاغوت" [الدرر السنية ١٠/ ٥١٠].**

ژباړه: کله چې ته په دې پوهه شوې چې طاغوت ته فیصله وړل کفر دی نو الله عز وجل په خپل کتاب کې فرمایلي دي چې کفر له قتل څخه لوی جرم دی فرمایي: او کفر /شرک له وژلو څخه لوی جرم دی، او الله تعالی فرمایي: کفر/شرک له وژلو څخه سخت دی. او "فتنة" کفر ته وایي، که چېرې د بانډو او کلو والا په خپل منځ کې جنګ وکړي تر دې چې ټول ختم شي نو دا به له دې څخه ډېره آسانه (سپکه) وي چې دوی په زمکه کې یو طاغوت مقرر کړي چې د اسلامي شریعت خلاف فیصلې کوي هغه چې الله تعالی پرې خپل پیغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راليږلی... که چېرې ستا ټوله دنیا ختمه شي تا ته د هغې له وجې طاغوت ته فیصله وړل نه جایز کېږي. او که چېرې تا څوک مجبوره کړي او اختیار درته درکړي چې یا طاغوت ته فیصله یوسه یا دې ټول مال خرچ کړه نو په تا لازم دي چې ټول مال دې خرچ کړې خو طاغوت ته فیصله وړل درته جایز نه دي.

دا یې څه ناشنا خبره کړې چې ویلي دي: که چېرې د بانډو او کلو والا په خپل منځ کې جنګ وکړي تر دې چې ټول ختم

شي نو دا به له دې څخه ډېره آسانه (سپکه) وي چې دوی په زمکه کې يو طاغوت مقرر کړي چې د اسلامي شريعت خلاف فيصلې کوي هغه چې الله تعالی پرې خپل پيغمبر ﷺ راليږلی... دا د سلفو فهم وو چې له شرعي نصوصو څخه يې اخستی و، په خلاف د زمونږ زماني سلفي دعوو کوونکو چې د سلفو د فهم څخه يې په ډېرو مسايلو کې خلاف کړی دی، حتی چې د دوی ابن عثيمين انتخاباتو ته واجب ويلي دي، نو په داسې سلفيانو څه چې شرک او کفر په خلکو واجبوي العياذ بالله، له همدې امله د دې زماني ډېری سلفيان چې په دې مسايلو کې خطا شوي دي اصلي لامل يې همدا دی چې دوی شرعي نصوص د ابن عثيمين، ابن باز، الباني او ځينو نورو په فهم اخلي هغه چې د اهل السنة والجماعة له اصولو څخه يې په ډېری مسايلو کې نه جبرانيدونکی خلاف کړی، داسې خلاف يې کړی چې په زلات العالم سره نشي توجيه کېدلی بلکې د عقيدې په انحراف او فساد يې دليل دی، د مصلحت او ضرورت په پلمه يې هر کفر او ارتداد ته اجازه ورکړی او د ارتداد بنګلې يې پرې جوړې کړې دي حال دا چې د ضرورت او مصلحت له وجې هېڅ وخت کفر نه جايز کېږي لکه شيخ الاسلام ابن تيميه

رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: إن المحرمات منها ما يُقطع بأن الشرع لم يُبح منه شيئا لا لضرورة ولا غير ضرورة كالشرك والفواحش والقول على الله بغير علم والظلم المحض ، وهي الأربعة المذكورة في قوله تعالى: قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُوا بِاللّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَن تَقُولُوا عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ. (الأعراف: ٣٣) فهذه الأشياء محرمة في جميع الشرائع وبتحريمها بعث الله جميع الرسل ولم يبح منها شيئا قط ولا في حال من الأحوال ولهذا أنزلت في هذه السورة المكية [مجموع الفتاوى ١٤/٤٧٠].

ژباړه: ځيني هغه حرام دي چې په قاطع توګه شريعت د هغې هيڅ اجازه نه ده ورکړې، نه د ضرورت له امله او نه پرته له ضرورته لکه شرک، بې حيايي او پرته له علم نه په الله تعالى دروغ جوړول او خالص (سوچه)ظلم. او دا څلور ګناهونه د الله تعالى په دې وينا کې ذکر دي چې فرمايي: "ورته اوايه اى پيغمبره زما رب بې حيايي حرام کړې ده هغه چې پټه وي او که ښکاره وي او ګناه او ظلم په ناحقه توګه او دا چې د الله تعالى سره هغه څوک برخه دار جوړ کړئ چې الله تعالى يې په اړه هيڅ دليل نه دى رالېږلى او دا چې په الله تعالى باندې هغه خبرې

جوړې کړئ چې په اړه يې تاسو نه پوهيږئ". نو دا شيان په ټولو شريعتونو کې حرام دي او د دې په حراموالي الله تعالی ټول پيغمبران راليږلي او له دې څخه يې هيڅ شی، هيڅ وخت، په هيڅ حال کې نه دی جايز کړی نو له دې وجې په دې مکي سورت کې نازل شوي دي.

دا د الله تعالی خبره ده چې سلفو ورڅخه دغه فهم اخستی دی خو اوسني تش په نوم سلفيان د حالاتو د بدليدو له امله بدلون طرفته روان دي او شرکي ډيموکراسۍ او انتخاباتو کې برخه اخستل يې د مصلحت يا د ضرورت په پلمه جايز کړي دي او د دوی د اصطلاح مطابق د منکر رد لپاره يې د انکر اجازه ورکړې ده، د شرير کس مشري دا يو منکر دی خو د دې د شر کمولو په خاطر انتخاباتو کې کم شرير يا طيب(!) پاک کس ته رايې ورکول يې جايز کړي دي او د طيّب په نوم يې هم دغه کانديدان نومولي دي سبحان الله، مشرک کافر او د دوی په اصطلاح د کبيره گناه(!) مرتکب طيب شو!! دا څومره د بې ايمانۍ، د بې عقلۍ، د بې دينۍ خبره ده چې دغه کانديدان اوس طيب (پاکان) وگرځېدل، دوی چې طيب وگرځېدل نو دغه تش په نوم سلفي شيخان چې دوی ته طيبين وايي بايد په خپل حال

وژاړي خپل عمر يې په مدرسو کې هسې په تدريسونو او وظيفو راټولولو او تر سعودي پورې په چندو او سوالونو تباه کړ، ذلك مبلغهم من العلم، دا د دوی د علم، تقوی او ايمانداری آخري نتيجه ده چې آخر يې کافر مشرک خبيث ته طيب وويل هغه کس چې د الله تعالی په شريعت کې يې داسې اوصاف بيان شوي دي:

لکه مخکې مثال بيان شو چې د شراب خوری او رقص يو محفل ته دوه کسان کانديد وي او دا انتخابات هم د نورستاني په اصطلاح د طيب او شرير کس تر منځ وي نو د نورستاني په فتوا بايد دې طيب کس ته رای ورکړل شي ترڅو د ټولو نه مخکې د هغه مجلس او محفل اول صف ته ورسيږي چې د رقص او شراب خوری لپاره جوړ شوی دی. نو آيا دا صحيح لاره ده چې دې مجلس ته نورستاني په شان کسان په رای سره ورسول شي او کنه دا مجلس او دا محفل د بنياد نه ونړول شي او لمنځه لاړ شي؟

د پارلمان مجلس او داسې نور د شرکي انتخاباتو له لارې چې څوک د يو سيکولر او ديموکرات حکومت مشری ته رسول کيږي په دې کې گدون ندی پکار بلکې دې سره مبارزه

پکار ده تر څو له بېخ او بنياد څخه دا شرکي مراسم له منځه لاړ شي.

الغرض دغه د شرکي پارلمان منتخبين چې د الله تعالى د شريعت خلاف قانون سازۍ لپاره پارلمان ته انتخاب شوي؛ په شريعت کې دوى د الله تعالى سره انداد بلل شوي ځکه "ند" شبيه او مثيل ته وايي، دوى هم د الله تعالى سره د قانون سازۍ په وصف کې ځانونه شبيه او مثيل ګڼي او د الله تعالى ځانګړې وظيفه کې ورسره ځانونه شريکان ګڼي حال دا چې د حاکميت صفت يوازې الله تعالى پورې خاص دى الله تعالى فرمايي: إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ [سُورَةُ يُوسُف: ٤٠].

ژباړه: حکم يوازې الله تعالى ته خاص دى، هغه حکم کړى دى چې تاسو يوازې د هغه عبادت کوئ، همدا سم دين دى خو ډېرى خلک نه پوهيږي.

حکم تکويني، تشريعي، تقديري، جزايي؛ دا ټول يوازې الله تعالى پورې خاص دي څوک چې هم د دغه صفت دعوه

کوي هغه د الله تعالی سره ځان برخه دار ګڼي. نو له همدې امله کاندیدانو ته انداد ویل صحیح دي.

**د کاندیدانو دویم وصف:** دوی"أرباب من دون الله" دي یعنې له الله تعالی پرته معبودان بلل کېږي، دلیل وربانديې دا آیت دی چې الله عزوجل فرمایي: اتَّخَذُوٓا۟ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَٱلۡمَسِيحَ ٱبۡنَ مَرۡيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓا۟ إِلَّا لِيَعۡبُدُوٓا۟ إِلَٰهٗا وَٰحِدٗاۖ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ سُبۡحَٰنَهُۥ عَمَّا يُشۡرِكُونَ [سُورَةُ التّوبَة: ٣١].

ژباړه: دوی خپل عالمان او روحانیون له الله تعالی پرته خپل اربابان نیولي دي او همدغه راز مسیح علیه السلام د مریم زوی یې هم. په داسې حال کې چې دوی ته له یو معبود (الله) څخه پرته د بل هېچا د بندګي کولو حکم نه ؤ کړای شوی. هغه ذات چې له هغه پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نشته، الله تعالی له هغو شرکي خبرو څخه پاک دی چې دوی یې کوي.

د دې آیت په تفسیر کې چې الله تعالی فرمایي: اتَّخَذُوٓا۟ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ[سُورَةُ التّوبَة : ٣١] ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ حدیث د عدي بن حاتم راوړی دی چې هغه له نبي علیه السلام څخه پوښتنه کړې وه ویلي وو: دوی خو به یې عبادت

نه کاوه، نبي عليه السلام ورته فرمايلي وو: **بلى إنهم أحلوا لهم الحرام وحرموا عليهم الحلال فاتبعوهم؛ فذلك عبادتهم إياهم [تفسير ابن كثير ط دار الكتب العلمية ٣/ ٢٩٥].**

ژباړه: ولې نه، دوی ورته حرام حلال کړل او حلال يې پرې حرام کړل نو تابعداري يې ورله وکړه، همدغه د دوی عبادت و.

شيخ الاسلام ابن تيميه د عدي بن حاتم د حديث په شرح کې وايي: **فقد بين النبي عليه الصلاة والسلام أن عبادتهم إياهم كانت في تحريم الحلال وتحليل الحرام لا في أنهم صلوا لهم وصاموا لهم ودعوهم من دون الله؛ فهذه عبادة الرجال، وقد ذكر الله أن ذلك شرك بقوله (لا إله إلا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ) اهـ [مجموع الفتاوى ٧/ ٧٦].**

ژباړه: نبي عليه السلام دا خبره بيان کړې چې د دوی د خپلو مشرانو عبادت د حلال په حرام ګڼلو او حرام په حلال ګڼلو سره و، نه په دې توګه چې دوی ته يې لمونځ کړی وي، روژه يې ورته نيولې وي او له الله تعالی پرته يې رابللي وي؛ دا خو د خلکو عبادت دی چې الله تعالی ورته په دې وينا سره شرک ويلي دي فرمايلي دي: له الله تعالی پرته هېڅ حقدار د

عبادت نشته هغه ذات پاک دی له هغه څه چې دوی يې ورسره شريکان جوړوي.

**د کانديدانو دريم وصف دا دی: أن هولاء معقّبون لأحكام الله؛**
دوی د الله تعالی د احکامو رد کوونکي او ماتوونکي دي، الله تعالی د فيصلو ردولو او ماتولو حق هېڅا ته نه دی حاصل الله عزوجل فرمايي: وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِۦ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ [سُورَةُ الرّعد: ٤١].

ژباړه: الله تعالی حکومت کوي، هيڅوك د هغه د فيصلو ردونکی نه شته؛ او د هغه په حساب اخيستلو کې څه ځنډ نه راځي.

د "تعقيب" معنا امام بغوي رَحِمَهُ ٱللَّهُ داسې کړې ده: "**أی لا راد لقضائه ولاناقض لحكمه**"د الله عزوجل د فيصلې څوک رد کوونکی او ماتوونکی نشته. امام آلوسي رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم دې ورته معنا کړې ده نو د تعقيب معناګاني داسې شوې: ردول، ماتول، باطلول معطل کول.

دغه کاندیدان هم په پارلمان کې د الله تعالی فیصلې ردوي، ماتوي، باطلوي او معطل کوي یې او د الله تعالی د هر حکم تعقیب کوي.

**د کاندیدانو څلورم وصف: "أنهم شرکاء لله"** دوی د الله تعالی برخه دار (شریکان) بلل کیږي.

دلیل: الله عزوجل فرمایي: أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُا شَرَعُوا لَهُم مِّنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَن بِهِ اللَّهُ [سُورَةُ الشّورىٰ: ٢١].

ژباړه: آیا دغه خلک له الله تعالی سره داسې شریکان نیسي، چې د دوی لپاره یې د دین داسې طریقې غوره کړي چې الله تعالی د هغې اجازه نه ده کړې؟

نو څوک چې هم د شریعت خلاف قانون سازۍ وظیفه ترسره کوي هغوی د الله تعالی سره شریکان بلل کیږي.

**د دغه کاندیدانو پنځم وصف: "أنهم أولیاء للشیطان"** دوی د شیطان دوستان دي.

الله تعالی فرمایي: وَإِنَّ الشَّيَٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجَٰدِلُوكُمْ [سُورَةُ الأنعَام: ١٢١].

ژباړه: شیطانان د خپلو ملګرو په زړونو کې شکونه او اعتراضونه اچوي چې هغوی له تاسې سره شخړه وکړي.

د دې آیت وضاحت چې مخکې شوی دی، حدیث د ابن عباس کې د دې آیت شان نزول بیان شوی دی چې مشرکینو اعتراض کړی و چې څه وجه ده کوم څاروی تاسو په خپلې چړې حلال کړئ هغه حلال وي خو چې الله تعالی یې ووژني هغه حرام وي نو بیا دا آیت نازل شو او په دې کې د دې تصریح شوې ده چې څوک د الله تعالی حکم پرېږدي او د بل چا قانون پسې لاړ شي نو مشرک به وي. نو دغه کسان چې د الله تعالی د قانون په خلاف نور قوانین جوړوي دوی د شیطان دوستان او اولیاء دي.

دغه پنځه اوصاف د پارلمان د غړو/ کاندیدانو / د قانون سازۍ کمیسون په قران کې بیان شوي دي نو دوی ته طیب ویل به ډېر لوی حماقت وي او د شریعت له نصوصو څخه ډېره لویه ناخبرتیا به وي او د طواغیتو سره هیڅ نه توجیه کېدونکی محبت به وي، دا چې طیب او خبیث دې خلکو تر اوسه ونه پېژندل نو د دوی نه دې عام مسلمانان نور هیڅ طمع نکوي بلکې دوی باندې د طواغیتو محبت غالب شوی او دې محبت د

دوی په عقلونو باندې پرده خوره کړې ده چې يو خبيث، مشرک، کافر او نجس ته هم د طيب نوم ورکوي.

حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمايې: **لا تقولوا للمنافقِ سيد، فإنه إن يكُ سيدًا فقد أسخطتم ربَّكم عزوجل. [رواه أبو داود برقم: ٤٩٧٧].**

ژباړه: تاسو منافق ته سردار/جناب مه وايئ ځکه که دا ستاسو سردار شي نو خپل رب به غصه کړئ.

خو نن دوی دغه په نفاق اکبر کې اخته مرتدين د شرعي حاکمانو او د طيب په نوم نوموي او په دې کې مصلحت ګڼي چې رای ورته ورکړی شي!! په همدې فتوه باندې ځومره خلک ګمراه شول، ځومره اهل حديث چې مخکې يې له ووټونو څخه ځان ساتلو اوس يې په انتخاباتو او رای اچونه کې برخه ښه نهارا جهارا او اعتقادا واخسته، الله تعالى به د دې حساب د دغه شورى سره کوي چې مسلمانانو ته يې کفر جايز کړی او د خپلې فتوې او په فتوه د عمل کوونکو ګناه به يې په اوږو بار وي.

الغرض دا د هغه فتوي شرعي ارزونه وه چې دوی د ووټونو په جواز کې او په ډيموکراتيک حکومت کې د برخې اخستلو په جواز کې ورکړې وه چې په دلايلو سره دې نتيجې ته ورسيدلو چې ووټونه ورکول شرک اکبر دی په هېڅ صورت او هېڅ وخت کې جواز نه لري، دې ته چې کوم کانديدان ولاړ دي هغه طيب نه دي بلکې کافر، مشرک ، نجس او پليت دي. نو هر څوک چې د خپل ايمان غم ورسره وي بايد چې د تش په نوم سلفي شيخانو په دغه کافرانه فتوو دوکه نشي د الله تعالى نه ووېرېږي او ځان د دغه طواغيتو نه وساتي او که څوک په دغه کفر متلبس شوی وي غسل دې وکړي او نوی ايمان دې راوړي. قسم په الله که دغه گمراه شوي شيخان د قيامت په ورځ ستاسې ځواب ووايي، د الله تعالى سره خپله معامله صفا کړئ، او د دوی په منحرفو فتواوو پسې مه ورځئ.

د دې زمانې طاغوتي حاکمانو کفر د مانعينو د زکات نه سخت دی.

**د رسالې ليکوال بيا وايي: وأول بدعة ظهرت في الدين التفريق بين الصلاة، والزكاة، فتصدى لهم الصديق وقاتلهم، وقضى عليهم، وفي عهد عمرظهرت بعض البدع الصغيرة، ولكن لم تستطع أن ترفع**

**رؤوسها، وفي زمن عثمان حدثت أوائل الفتنة الكبرى، وهي الخروج على الإمام الحق بالسيف، وانتهت بمقتله ، و هذه بداية فتنة الخوارج إلى يومنا.صـ ٤٩.**

مونږ دغه خبرې ته په اشارې وایو: دغه د صحابه وو سیرت و، چې مانعین د زکات یې یوازې د زکات په نه ورکولو او له دغه حکم څخه په زور سره منعه کېدلو له امله، که څه هم ځینو یې انکار نه کاوه ،بلکې تأویل یې کاوه خو بیا صحابه چې د روغ سیرت، طیب خلک، د پاکو زړونو والا او جنتي خلک وو ټول په یوه خوله د دوی په ارتداد او په قتال متفق شول او دوی ته یې داسې درس ورکړ چې په تاریخ کې ولیکل شو، هغه جنتي صحابه وو ته چا هم خوارج نه دي ویلې او نه یې ورته متشددین ویلي دي بلکې دغه کار یې د اسوة حسنة په توگه ذکر کوي خو افسوس زمونږ د زمانه د مرجئه وو په حال، دغه نصوص او د صحابه وو سیرت یې مخې ته پروت دی، صحابه وو چې کوم ډؤل خلک تکفیر کړي وو د هغوی نه څو چنده زیات په کفر کې سخت طواغیت، هغه طواغیت چې کفر او ارتداد یې د ډیرو لاملونو څخه مرکب دی، هغه طواغیت چې یوازې د الله تعالی د یو حکم نه په زور سره نه

دي بند شوې بلکې د لسگونو او سلگونو احکامو نه په زور سره بند شوي دي، د دې له پاسه تشریع تبدیل د احکامو یې کړی، د دې له پاسه تحلیل تحریم یې کړی، د دې له پاسه د کفارو سره یې موالات په قانون کې او هم یې تحالف او اعانة د مسلمانانو په خلاف له هېڅا پټ نه دی، د دې له پاسه د اسلام په مقابل کې یې نوی دین د ډیموکراسۍ په نوم راویستی، ټول شریعت یې معطل کړی، د کفر، ارتداد، فسق فجور آزادي یې ورکړې، زمینه سازي یې ورته کړې، شپه او ورځ د الله تعالی په دښمنۍ د الله تعالی د اولیاوو موحدینو مومنانو سره جنگېږي، مدرسې جماتونه بمباروي د مسلمانامو عزتونه لوټوي او... خو د دې هر څه باوجود د تش په نوم سلفیانو په نزد دوی شرعي حاکمان، طیبین، واجب الاطاعة، د دعا مستحق دي، خلاف کوونکي یې خوارج، باغیان او د فتنې ښکار شوي خلک، شر الخلق والخلیقة دي!! سبحان الله! دا موازین څومره بدل شوي، کومو کارونو باندې چې د صحابه وو سیرت روڼ و، نن چې څوک هغه کار کوي، د ابو بکر صدیق رضي الله عنه سنت په دغه مرتدینو کې راژوندي کوي، هغه خلک په

مختلفونو شنیعو القابو نومول کېږي. سبحان الله. نشكوا إلى الله من هؤلاء المرجئة الأغبياء.

## ډیموکراسي ، قومیت ، وطنیت... د بدعت مکفره له ډؤلونو څخه دي.

**د رسالې لیکوال بیا و ایي: منهج السلف في الصلاة والترحم على أهل البدع:**

**البدعة قسمان: بدعة مكفرة، و بدعة مفسقة، إن كانت بدعته مكفرة فلا يجوز الصلاة خلفه، ولا عليه، ولا الترحم عليه وإن كانت بدعته مفسقة، فالأولى ألا يصلى خلفه.ا.هـ صـ ٥١.**

د بدعت مکفره په تعین کې باید ووایو: چې د بدعت په دغه ډؤل کې یوازې جهمیه اخته نه دي بلکې د دې زمانې د بدعت مکفره بیلګې: ډیموکراسي ده، د قومیت او وطنیت عقیده ده، د سوسیالیزم یا اشتراکیت عقیده ده، له شرک او غلو څخه ډکه صوفییزم عقیده ده نو څوک چې هم په دغه ګنده افکارو کې اخته وي په بدعت مکفره کې اخته دي چې هیڅ ډؤل اړیکه پالل ورسره نشته، او نه ورپسې لمونځ جایز دی، که څه هم د ډیموکراتیک نظام په وزارت اوقاف کې کار کوي د امام، مؤذن، معلم یا داعي په نوم کار کوي که د سعودي دولت

مربوط وي هغه چې د ډيموکراسۍ اصولو، د نړيوالو کفري قوانينو ته ژمن دولت دی، او که د بل طاغوتي دولت مربوط وي که د شيخ په نوم وي که د دکتور يا په بل نوم وي لمونځ پسې نه کېږي،جنازه يې جايز نه ده د مسلمانانو په هديره کې يې خښول جايز نه دي او نه ورله د ترحم دعا غوښتل جايز دي.
دا ټول د دې عصر د تاتاری دولت غړي دي، د دوی نظام له تاتاري نظام څخه په هېڅ کې کم نه دی بلکې له هغې څخه وراخوا ته دی، ځکه هغوی د چنگيزخان قانون په خپل منځ کې نافذ کړی و په عامو مسلمانانو يې د دغه قانون په اړه زور نه و کړی بلکې مشر به يې خپلو واليانو ته چې په اسلامي علاقو مقرر وو؛ په شريعت باندې د فيصلو کولو، د عدل او د انصاف امر کاوه، چې په دې اړه مو د [وثائق الحروب الصليبية والغزو المغولي للدکتور محمد ماهر حمادة صـ٤٠٦] يو خط نقل کړې و چې قازان د شام علاقې والي ته لېږلی و، په دغه خط کې يې د شريعت د نافذولو امر ورته کړی و خو بيا هم علماوو په اتفاق سره هغوی تکفير کړل نو د دې زمانې دغه طاغوتي حاکمان او د هغوی غړي خو له هغوی څخه څو چنده سخت دي بايد له دوی سره هم د هغوی په څېر معامله وشي او بدعت

ته يې غير مكفره يا د كفر دون كفر نوم ورنكړى شي بلكې بدعت ته يې مكفره وويل شي او د دغه حكم مطابق چلند ورسره وشي.

## د استشهادي او انغماسي بريد په اړه دفعه د يو وهم.

د رسالې ليكوال بيا وايي: **من قتل نفسه بحديدة فحديدته في يده خالدًا مُخَلَّدًا يتوجأُ بها في بَطْنِهِ في نارجهنم فيها أَبَدًا، ومن شَرِبَ سَمًّا فَقَتَلَ نَفْسَهُ فهو يَتَحَسَّاهُ في نار جهنم خالدًا مُخَلَّدًا فيها أَبَدًا، ومن تَرَدَّى من جَبَل فقتَل نَفْسَهُ، فهويَتَرَدَّى في نارجهنم خالدًا مُخَلَّدًا فيها أبدًا صـ٦٣.**

دلته دفعه د يو وهم كوو او وايو: استشهادي يا انغماسي بريد د شريعت په نورو دلايلو سره له انتحار/خودكش حكم څخه مستثنى دى او د انتحار تعريف ورته شامل نه دى لكه امام قرطبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د "ولا تقتلوا أنفسكم" آيت په تفسير كې د انتحار په تعريف كې وايي: **أجمع أهل التأويل على أن المراد بهذه الآية النهي أن يقتل بعض الناس بعضاً ثم لفظها يتناول أن يقتل الرجل نفسه بقصد منه للقتل في الحرص على الدنيا وطلب المال بأن يحمل نفسه على الغرر المؤدي إلى التلف، ويحتمل أن يقال (ولا تقتلوا أنفسكم) في حال ضجر أو غضب؛ فهذا كله تناوله النهي.اهـ**

ژباړه: د ټولو مفسرينو په دې اجماع ده چې په دې آيت سره له دې څخه منعه ده چې ځيني خلک ځيني نور ووژني بيا يې لفظ دې ته شامل دی چې يو سړی خپل ځان په خپلې ارادې سره د دنيا د حرص او د مال د طلب له امله ووژني په دې توګه چې خپل ځان داسې هلاکت ته چې تباهۍ ته رسوونکی وي وړاندې کړي او دا احتمال هم شته چې وويلی شي "خپل ځان مه وژنئ" دا کار په وخت د نفس تنګۍ يا غوصه کې کوي، دې ټولو ته آيت شامل دی.

نو دغه تعريف ورته هېڅکله شامل نه دی. بلکې استشهادي يا انغماسي خو د خپل عزتمند نفس سودا د الله تعالی سره کوي هغه چې هر څوک يې نشي کولی لکه علامه ابن القيم رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **مهر المحبة بذل النفس والمال لمالكها الذي اشتراهما من المؤمنين فما للجبان المعرض المفلس وسوم هذه السلعة. [زاد المعاد - ٣/٦٣].**

ژباړه: بدله د ميني داده چې نفس او مال د خپل هغه مالک په لاره کې خرج کول چې دغه دواړه يې له مؤمنانو څخه اخستي دي، نو يو بزدله، اعراض کوونکی، مفلس کله دا سودا کولی شي!!

په كفارو يا مرتدينو استشهادي د شريعت په نصوصو ثابت اعلى جهاد دی او د كفارو او مرتدينو د شر دفعه كولو لپاره تر ټولو ښه علاج دی خو په دې شرط چې: مجاهد به د توحيد په عقيده او روښانه نبوي منهج سنبال وي، په نيت كې به يې اخلاص وي، او دوښمن ته به د نقصان اړولو امكان وي.

د دې آيت عموم ورته شامل دی چې الله عز وجل فرمايي:
**إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ** الاية. [سورة التوبة: ١١١]

ژباړه: يقيناً الله تعالى له مؤمنانو څخه نفسونه او مالونه د جنت په بدله كې اخستي دي دوی به د الله تعالى په لاره كې جنګ كوي نو كافر به وژني او دوی به هم وژل كېږي.

ددې آيت يو قرأت چې د الدوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ څخه نقل دی هغه كې داسې دي: "**فَيُقْتَلُونَ ويَقْتُلُون**"، دوی به وژل كيږي او كافران به هم وژني.

نو د نفس وژل د كافر په وژلو مخكې شول.

امام ابن کثیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ وايي: **حمله الأكثرون على أنها نزلت في كل مجاهد في سبيل الله.**

ژباړه: دا آیت ډېرو علماوو په دې حمل کړی چې د هر مجاهد په اړه نازل شوی دی. یعنې حکم یې عام دی. او همداسې نور ډېر دلایل له قران، حدیث، اجماع او د صحابه وو سیرت څخه ورباندې دلیل دي خو دلته یې نه راوړو، دلته مو یوازې دفعه د وهم غرض وه ځکه چې دغه رساله په خطا نیت لیکل شوې نو چې څوک دغه صحیح ثابت حدیث بې ځایه توجیه نکړي.

## د معاهد کافر په اړه دفعه د یو وهم.

**د رسالې لیکوال بیا وایي: من قتل معاهدا لم يرح رائحة الجنة، وإن ريحها توجد من مسيرة أربعين عاما صـ٦٤.**

دلته هم دفعه د وهم کوو او وایو: چې د معاهد کافر وژل په یقیني توګه حرام دي او هېڅ شک په کې نشته خو معاهد کافر چا ته وايي آیا هغه کافر چې دغو مرتدو حاکمانو ورسره د اسلام په بیع وعدې کړي وي او د اسلام په سر یې ورسره په ډېرو مسایلو کې معامله کړې وي او که نه یو مسلمان شرعي حاکم ته دغه اختیار حاصل دی او د هغه د عهد لحاظ به کیدلی

شي؟ د دې په اړه د "**طالبان بين الإسلام والديموقراطية**" كتاب څخه چې د طالبانو د نظام ډانچه په کې واضحه شوې او له العزايم ادارې څخه نشر شوی؛ په عبارت رانقلولو يې بسنه کوو په هغې کې دي:

" دا خبره ياد ساتل پکار دي چې کفارو سره د صلحې، امن او ذمې تړون کول د هر چا کار نه دی بلکې د دې لپاره خپل شرطونه دي چې ځيني يې په تړون کوونکي کې يا د مسلمانانو په نماينده کې لازم دي چې ترټولو مهم شرط يې اسلام دی او ځينې شرطونه په همدغه تړون کې لازم دي چې له هغو څخه يو شرط دا دی چې تړون به له هر ډول فاسدو شرطونو خالي وي لکه د دښمن دا شرط چې د مسلمانانو بنديان به نه آزادوي، يا د مسلمانانو غصب شوی مال کفارو ته پريښودل، يا ترې ټکس د شرعي اندازې نه کم اخستل، يا ورته د مسلمانانو په وړاندې له ځيني ديني او دولتي واجباتو څخه ورتېرېدل او يا پرته له ضرورته هغوی ته مال ورکول؛ په دې شرطونو سره تړون لغوه گرځي چې دا شرطونه په [مغني المحتاج جلد٦/ صـ٨٨ مكتبه شامله] کې په اجمالي توگه ذکر دي، او همداراز ځيني شرطونه د تړون د مودې په اړه لازم دي چې موده به يې

تر يو وخته پورې محدوده وي او تړون به دايمي نه وي چې په دې خبره د فقهاو اتفاق دی. او همداراز د ځينې شرطونو لحاظ د تړون د بقا لپاره ضرور دی لکه په "بدائع الصنائع" د "کاساني رَحِمَهُ ٱللَّهُ" کې راغلي دي: **وقال الجمهور: تنتقض الهدنة إذا نقضها العدو بقتال أو بمناصرة عدو آخر، أو قتل مسلم، أو أخذ مال، أو بسب الله تعالى أو القرآن الكريم أو رسوله صلى الله عليه وسلم، أو التجسس على المسلمين، أو الزنا بمسلمة ونحوها،**[ البدائع: ١٠٩/ ٧، آثار الحرب: صـ ٣٨٠ وما بعدها]،

ژباړه: جمهورو علماو ويلي دي: د صلح تړون په دې سره ماتيږي چې دښمن کله جنګ پيل کړي، يا د مسلمانانو د بل دښمن سره کومک وکړي، يا مسلمان ووژني، يا د مسلمان مال واخلي، يا الله تعالی، قرآن کريم او د الله رسول صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ته کنځل وکړي، يا په مسلمانانو جاسوسي وکړي او يا د مسلمانې زنانه سره زنا وکړي او داسې نور.

له دې څخه معلومه شوه چې د موجوده مرتدو حاکمانو تړون ته اعتبار نشته ځکه د دوی اسلام د ډيرو نواقضو له امله مات شوی دی، او که چيرې د دوی تړون ته د تړون نوم هم ورکړل شي خو بيا هم د ډيرو فاسدو شرطونو درلودلو له امله

لغوه شوی دی، او بل دا چې د دوی دغه تړونونه دایمي دي چې په شریعت کې هېڅ جواز نه لري او همداراز دوی چې کومو کفارو ته د معاهدینو یا مستأمینینو په نظر ګوري نو هغوی ورله تړون په وار، وار مات کړی دی او د تړون ډېرو نواقضو (ماتوونکو) ته یې راتګ کړی دی، نو له دې امله د طاغوتي حاکمانو او په ځانګړي توګه د طالب چارواکو مشران چې د اسلام ډېر نواقض په کې راجمعه دي؛ تړون یې لغوه او بې معنا دی، د دوی په تړون سره د کافرانو سر او مال نه حرامېږي بلکې په اصلي حکم به پاتي وي چې مباح الدم والمال دي یعنې سر او مال یې مباح دی.

**[كذا في كتاب "الطالبان بين الإسلام والديموقراطية"صـ ١٣٤. ١٣٥]** یاد کتاب کې نورې هم ډیرې ګټورې خبري شته مطالعه یې مه هیروئ.

## وطن پرستي لوی طاغوت دی.

**د رسالې لیکوال بیا وایي: حب الوطن والحنين إِلَيْهِ، والنسبة إليه، والدفاع عنه من جميل صفات السلف. صـ ٦٦.**

دلته یې د سلفو په صفاتو کې د وطن محبت او شوق او له هغې څخه دفاع هم داخل کړي دي په دې سره یې خپلې

فاسده عقيدې ته د دليل پيدا کولو هڅه کړې ځکه وطن پرستي، قوم پرستي، نژاد پرستي په اسلام کې نشته او نه هم د وطن لپاره تعصب شته بلکې وطني، قومي، نژادي تعصبات نبي عليه السلام په ډېرو احاديثو کې په کلکو ټکو رد کړي دي لکه په حديث د مسلم کې راغلي دي: **عَنْ جُنْدَبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ يَدْعُو عَصَبِيَّةً أَوْيَنْصُرُعَصَبِيَّةً فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ [رواه مسلم: ١٨٥٠].**

ژباړه: د جندب بن عبد الله البجلي رضي الله عنه څخه نقل دي هغه وايي رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: څوک چې د ړوند بيرغ لاندې ووژل شو چې عصبيت ته يې خلک رابلل يا يې د عصبيت مرسته کوله نو مرګ به يې د جاهليت وي.

په حديث د بخاري کې راغلي دي چې صحابه يوې غزا ته تللي وو نو د دوه صحابه وو خپل منځ کې جنګ شو هر يو خپلې ډلې ته آواز وکړ، انصاري انصارو ته او مهاجر مهاجرينو ته آواز وکړ نبي عليه السلام چې کله خبر شو نو ويې فرمايل: **مَا بَالُ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ؟ قَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ كَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ رَجُلًا مِنْ الْأَنْصَارِفَقَالَ : دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ [رواه البخاري: ٤٩٠٥].**

ژباړه: ځنګه د جاهليت آوازونه کوئ؟ صحابه ؤ وويل: يو مهاجر يو انصار د شاه نه په لته وواهه، نبي عليه السلام وفرمايل: دا چغي پرېږدئ دا بد بويه دي.

امام نووي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په شرح د مسلم کې د دې حديث لاندې ليکي: **وَأَمَّا تَسْمِيَته صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّة فَهُوَ كَرَاهَة مِنْهُ لِذَلِكَ؛ فَإِنَّهُ مِمَّا كَانَتْ عَلَيْهِ الْجَاهِلِيَّة مِنْ التَّعَاضُد بِالْقَبَائِلِ فِي أُمُورالدُّنْيَا وَمُتَعَلِّقَاتهَا، وَكَانَتْ الْجَاهِلِيَّة تَأْخُذ حُقُوقهَا بِالْعَصَبَاتِ وَالْقَبَائِل، فَجَاءَ الْإِسْلَام بِإِبْطَالِ ذَلِك، وَفَصَلَ الْقَضَايَا بِالْأَحْكَامِ الشَّرْعِيَّة.اهـ**

ژباړه: هر چې نبي عليه السلام دې ته د جاهليت چغه ويلي دي نو دا يې د دغه کار بد ګڼلو له وجې ويلي دي ځکه جاهليت والاو به د دنيا په اړوندو کارونو کې په قبيلو سره مرسته حاصلوله او جاهليت والاو به خپل حقونه په خپلو عصبه او قبيلو سره اخستل نو اسلام دا هر څه باطل کړل او مسئلې يې په شرعي احکامو فيصله کړې.

همداراز په دې معنا نور هم ډېر احاديث شته چې په هغو کې د قومي تعصب، وطني تعصب بدي بيان شوې ده. خو د رسالې ليکوال وطني تعصب ته خلک رابللي دي او دا يې د سلفو

یو ښه صفت بللی دی حال دا چې سلف له دغه مرض څخه پاک وو هغوی د قوم، وطن هیڅ دفاع نه ده کړې او نه هم دا د هغوی صفت و خو د هغوی د وطن سره فطري مینه په دې دلالت نه کوي چې هغوی د وطن لپاره ولاء براء کړي وي لکه څنگه چې دغه طواغیت کوي بلکې هغوی له اسلام څخه او د دار الاسلام څخه دفاع کړې ده خو د داسې وطني کرښو دفاع یې نه ده کړې چې یهودو او نصاراو کش کړي وي او نه یې هم له داسې وطن څخه دفاع کړې چې په هغه کې هر ډول کفر شرک او ارتداد ته آزادي وي فسق او فجور ته آزادي وي، د کفارو موالات ته آزادي وي، بلکې هغوی د دار الاسلام دفاع کړې، د هغه علاقې دفاع یې کړې چې شریعت په کې سل په سله حاکم و، د موحدو مؤمنانو دفاع یې کړې، د اسلام د مرکز دفاع یې کړې، د هغوی په دفاع به د دې زمانې د طاغوتي حکومتونو او د دوی د پولو دفاع نشي قیاس کېدای، د هیرا منډی دفاع به ورباندې نشي قیاس کېدای ځکه له دې څخه دفاع کول د دغه کفري قانون څخه دفاع کول دي، له دې څخه دفاع کول د ډیموکراسۍ څخه دفاع کول دي، د دوی د سود، زنا، شراب، همجنسبازۍ، د عقیدې آزادۍ، فردي آزادۍ، د

مساوات اصل، او نور پليتو قوانينو څخه دفاع کول دي، په دغه لسگونه موالات کې اخته کافر او مشرک حاکمانو څخه دفاع کول دي چې دا هېڅکله د مسلمان طريقه نه ده دا ډؤل دفاع دې د لشکر خبيثه مرتدينو ته چې د سلفيانو نوم ورباندې پروت دی مبارک وي چې د کشمير بنے گا پاکستان تر عنوان لاندې د پاکستان په دفاع کې جنگېږي، او خپلې مردارېويني په دغه لار کې تويوي خو د سلفي شيخانو(!) په نزد داسې خلک چې د وطني کرښو، د جاهلي قانون، د يهودو نصاراو د خواهشاتو په اساس جوړ شوي قانون مدافعين، د مشرکو روافضو مدافعين، د غالي صوفيه وو مدافعين، د حسينيو، گوردوارو، د شرکي مزارونو مدافعين؛ اعلى مجاهدين او په دغه لار کې مردار شوي يې اعلى شهيدان دي، جنازه ورباندې کوي او نور گڼ مراسم يې ترسره کوي حال دا چې د نبي عليه السلام په زمانه کې داسې خلکو ته مجاهدين او مړو ته يې شهيدان نه دي ويل شوي. بلکې د عصبيت مړي ورته ويل شوي دي. د شريعت په مقابل کې د وطن دفاع هېڅکله اسلامي نشي کېدای او نه هم د سلفو دغه کړنه او صفت و بلکې وطن پرستي د دې زمانې يو لوی طاغوت دی چې دغه ټول وطن پاله او قوم پاله

حکومتونه يې په عبادت کې اخته دي، وطني پرېکړې يې په شریعت مخکې کړي، وطني کافر يې د بل وطن په مسلمان مخکې کړی، او د اسلام په خلاف د وطن څخه دفاع يې خپله وجیبه گرځولې، له هر څه نه ورته وطن مخکې دی د الله تعالی د کتاب نه، د نبي علیه السلام د سنتو نه، د شعایرو د احترام نه، د پاکو مؤمنانو د عزت نه؛ دې هر څه نه ورته وطن مخکې دی نو ځکه خو يې د سب سے پہلے پاکستان شعار په اساس نن تش په نوم سلفي شیخانو د وطن دفاع لازم کړله او د دغه طاغوتي حاکمانو په کفر او ارتداد يې سترگې پټې کړې، گویا که د دوی په دغه کفر، شرک او کفري کړنو باندې د الله تعالی له طرفه وحي نازله شوې!! گویا که نبي علیه السلام د همدغه کفارو له خوا وضعه شویو وطني کړښو باندې رالیږل شوی!! العیاذ بالله.

که په دې رساله کې د سلفي شیخانو شصتونه نه وای مونږ به داسې تاویل کړی وی چې دا رساله د پاکستان مرتد فوځ یا اې ایس اې لیکلې او ترتیب کړې ده خو د دوی دغه شصتونه( لاسلیکونه ، گوتې لگول) په دوی گواهي کوي نو ځکه يې فوځ ته نه منسوبوو خو داسې په یقین سره ویلی شو چې دا

رساله يې د مرتد فوځ او اې اېس اې په اشاره ليکلې او هغه خلکو ليکلې چې فکري غلامان دي هيڅ آزادي نه لري نو ځکه خو يې ډېرى هغه مسايل په کې راوړي چې د شريعت د نصوصو سره هېڅ تړاو نه لري د سلفو د فهم سره هېڅ تړاو نه لري د نبي عليه السلام روښانه منهج سره هېڅ تړاو نه لري، بلکې د ډيموکراسۍ په اساساتو بنا شوي مسايل يې اسلام ته منسوب کړي او ډيموکراسي يې اسلام معريفي کړې ګويا که اسلام له ډيموکراتيک دين څخه عبارت دی!! العياذ بالله، نو ځکه خو يې مشران ورله شرعي حاکمان ګڼلي، د قانون اطاعت يې واجب کړی، د ملک دفاع يې واجب کړې او دغه د ډيموکراسي دين اساسات يې په آخر کې سلفو پسې تپلي دي. العياذ بالله.

له دې څخه وراخوا ته نور تحريف څه کېدلی شي، نوره جفا څه کېدلی شي نور ظلم څه کېدلی شي چې تش په نوم سلفي شيخان په کې اخته دي. انا لله وانا اليه راجعون.

داسې نه ده بلکې په دې اړه الله عزوجل مونږ ته ښايسته قانون رالېږلی هغه فرمايلي دي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ

وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓا۟ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ [سُورَةُ الحُجرَات : ١٣].

ژباړه: اې خلکو! موږ تاسي له يوه نارينه او يوې ښځې څخه پيدا کړئ او بيا مو تاسي قومونه او قبيلې وګرځولئ، تر څو چي تاسي يو او بل سره وپيژنئ. په حقيقت کښي د الله تعالى په وړاندي ستاسې څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دى چي په تاسې کښې تر ټولو زيات پرهېزګار وي. په باوري ډول الله تعالى په هر څه پوهېدونکى او باخبره دى.

نبي عليه السلام فرمايي: **يا أيها الناس، ألا إن ربكم واحد، وإن أباكم واحد، ألا لا فضل لعربي على عجمي ، ولا لعجمي على عربي، ولا أحمر على أسود، ولا أسود على أحمر، إلا بالتقوى [رواه أحمد في مسنده حديث رقم: ٢٣٤٨٩].**

ژباړه: اى خلکو خبردار ستاسو رب يو دى، پلار (ادم عليه السلام) مو يو دى، خبردار! د عربي په عجمي او عجمي په عربي هيڅ غوره والى نشته او نه سور په تور او تور په سور څه غوره والى لري پرته له تقوى څخه.

نو د ولاء، نصرت، دفاع، محبت اساس؛ تقوی ده هر څوک چې د توحید په عقیده او نبوي منهج برابر وي که عجم وي که عرب، که د غرب وي که د شرق؛ په مسلمان یې دفاع لازم ده، د هغه په درد درد من کېدل او په خوشالۍ یې خوشالېدل لازم دي، د هغوی علاقې د کفارو له هر ډول اشغال څخه که نظامي وي که سیاسي او فکري وي یا د هغوی د قانون تر اشغال لاندې وي؛ آزادول یې په مسلمان لازم دي، مونږ ته نبي علیه السلام د همدې ډول موالات توصیه کړې، صحابه وو خپل سیرت په همدې ډول موالات رنګین کړی او له دې پرته یې مونږ ته د سیکولر نظامونو د کرښو تعظیم، د هغې په دفاع کې جنګېدل او د هغې له امله موالات معادات کول؛ دا عقیده یې مونږ ته نه ده پرېښې، مسلمانان باید په دې خبر اوسي، دا د اسلام بنیادي خبرې دي په دې سره ستا لار جدا کېږي، نو هېڅکله د چا په منحرفو فتواوو دوکه کېدل نه دي پکار بلکې نبوي منهج او تګلاره اختیارول پکار دي. و ماعلینا الا البلاغ.

## د المنهج المتفق عليه رسالې د بحث لاندې نيول شوو مسايلو خلص نتيجه:

په آخر کې د هغه مسايلو سرټکي، چې مونږ پرې بحث وکړ او يوې سالمې نتيجې ته ترې ورسېدو، د اهل السنة والجماعة له عقيدې سره د تقابل په توګه راوړو چې بيان يې په دې ډول دی:

**پاملرنه:** (م) د مرجئه مخفف دی چې د مرجئه وو منهج ته به پرې اشاره کوو او (س) د سلفو مخفف دی چې د سلفو صالحينو منهج ته به پرې اشاره کوو.

**اوله مسئله:**

م ـ د توحيد په ډولونو کې له توحيد الحاکمية څخه مطلق انکار.

س ـ د توحيد الحاکمية مضمون حتمي ګڼل او له مضمون څخه يې انکار کفر ګڼل.

**دويمه مسئله:**

م ـ په ډېرى ګناهونو کې د مکفره او غير مکفره تر منځ توپير نه کول او د مرتد حاکم مکفره ګناه هم د کفر لامل نه ګڼل.

س ـ په ګناه کې مکفره او غير مکفره ويش کول يو يې د کفر لامل ګڼل او بله نه ګڼل.

**دريمه مسئله:**

م ـ تکفير د نوع مطلق او په هر ځاى کې ويل او د معين تکفير څخه ډډه کول که څه هم اسباب د کفر ظاهر او موانع منتفي وي.

س ـ تکفير د نوع تر څنګ تکفير د معين هم کول کله چې اسباب ظاهر او موانع يې منتفي وي.

**څلورمه مسئله:**

م ـ تکفير مسئله يوازې تر علماء الکبار رابندول.

س ـ تکفير يو شرعي حکم دى په اسبابو او موانعو يې له علم لرلو وروسته هر څوک کولى شي.

**پنځمه مسئله:**

م ـ په باب د شرک اکبر کې مطلق جهل مانع د تکفیر ګڼل.

س ـ په باب د شرک اکبر کې معتبر جهل مانع د تکفیر ګڼل.

**شپږمه مسئله:**

م ـ په اقامة د حجت کې بلوغ د حجت تر څنګ فهم د حجت هم شرط کول.

س ـ په اقامة د حجت کې یوازې بلوغ د حجت شرط کول او فهم د حجت په داسې معنا نه شرط کول لکه څنګه چې وربانديې د مسلمانانو زړونه او ذهنونه خلاص وي.

**اوومه مسئله:**

م ـ په موانعو د تکفیر کې د مسائل ظاهره او مسائل خفیه تر منځ توپیر نه کول.

س ـ په موانعو د تکفیر کې د مسائل ظاهره او مسائل خفیه تر منځ توپیر کول.

**اتمه مسئله:**

م ـ د تكفير د خطر په بهانه د كافر له تكفير څخه سكوت ته ترجيح وركول خو مؤمنان په خوارجو، باغيانو نومول.

س ـ مرتكب د كفر بواح تكفيرول چې كله موانع منتفي وي خو په مسلمانانو له بې ځايه تهمت څخه ډډه كول.

**نهمه مسئله:**

م ـ په ډېرى مكفره گناهونو كې د تكفير لپاره استحلال قلبي او اعتقاد شرطونه لگول.

س ـ په مكفره گناهونو كې د تكفير لپاره استحلال قلبي، جحود او اعتقاد قيدونو ته اعتبار نه وركول.

**لسمه مسئله:**

م ـ وضعي قوانين چې له سيكولريزم، كمونيزم، سوسياليزم ، صوفييزم، رافضي او نورو، څخه عبارت دي؛ حاكم

يې پرته له استحلال قلبي، نه تکفیروول بلکې د يو مسلمان شرعي حاکم په حيث سمع او طاعت يې واجب ګڼل.

س ـ د وضعي قوانينو حاکمان که د شريعت خلاف هر ډول نظام نافذوي پرته له استحلال، جحود او اعتقاد قيدونو يې تکفيرول.

**يوولسمه مسئله:**

م ـ تقنين د حرام کارونو چې تشريع او تبديل د احکامو په کې شوې وي کله چې له زړه څخه حلال نه ګڼې فسق دی.

س ـ تقنين د حرام کارونو چې تشريع او تبديل د احکامو په کې شوې وي کفر ګڼل که څه هم استحلال قلبي هم نه وي.

**دولسمه مسئله:**

م ـ هغه کفري کړنې چې طاغوتي حاکم ته په کې ضرر نه وي د تکفير لپاره يې قيد د استحلال نه شرط کول.

س ـ هره کفري کړنه د کفر لامل ګڼل چې کله اسباب ظاهر او موانع يې منتفي وي او په دې اړه د چا تر اغيزې لاندې نه راتلل.

**دیارلسمه مسئله:**

م ـ د قانون په توګه د چا په حرامه خبره کې تابعداري چې کله یې په زړه کې له الله تعالی سره برابر نه ګڼي فسق یا د ګناه سره سم حکم ورباندې کول.

س ـ د قانون په توګه د چا په ګناه کې تابعداري کول د طاعت شرک ګڼل که څه هم په زړه کې یې له الله تعالی سره برابر هم نه ګڼي.

**څوارلسمه مسئله:**

م ـ د مسلمانانو په خلاف کافرانو سره کومک له زړه څخه د کفر د غلبې ارادې لرلو پرته موالات مکفره نه ګڼل.

س ـ د کافرانو سره د مسلمانانو په خلاف هر ډؤل کومک ؛ موالات مکفره ګڼل او د زړه څخه د کفر د غلبې ارادې ته په کې اعتبار نه ورکول بلکې ظاهر ته اعتبار ورکول.

**پنځلسمه مسئله:**

م ـ د موجوده بین الملل په کفري اصولو ولاړ ډیپلوماتیکو اړیکو ته جواز ورکول او موالات یې نه ګڼل.

س ـ د موجوده بين الملل په کفري اصولو ولاړ ډيپلوماتيکې اړيکې حرامې او موالات مکفره يې ګڼل.

**شپاړسمه مسئله:**

م ـ د مطلق حاکم سمع او طاعت واجب ګڼل که څه هم د وضعي قوانينو چې د سيکولريزم، کمونيزم، سوسياليزم ، صوفييزم، رافضي او نورو؛ حاکم هم وي چې په مکفره ګناهونو کې اخته وي.

س ـ يوازې د مسلمان حاکم سمع او طاعت تر هغه واجب ګڼل چې کفر بواح ترې نه وي صادر شوی او دفسق له امله يې له طاعت څخه نه وتل.

**اوولسمه مسئله:**

م ـ د وضعي قانون چې له سيکولريزم، کمونيزم، سوسياليزم ، صوفييزم، رافضي او نورو، څخه عبارت دی؛ حاکم په خلاف يې پاڅون خروج، فتنه او بغاوت ګڼل.

س ـ د هر ډول خلاف شرع وضعي قانون حاکم په خلاف پاڅون فرض عين، شرعي او سپېڅلی جهاد يې ګڼل.

**اتلسمه مسئله:**

م ـ په یوه علاقه باندې د دار الاسلام حکم یوازې په لمونځ او اقامة د توان لرلو له امله کول، تطبیق د شرعي قوانینو او د اسلامي ځواک غلبې ته په کې اعتبار نه ورکول.

س ـ په یوه علاقه باندې د دار الاسلام حکم د شرعي احکامو د تطبیق او د اسلامي ځواک د غلبې له امله کول او په دې حکم کې یوازې په آذان او اقامة توان لرلو باندې بسنه نه کول.

**نولسمه مسئله:**

م ـ مطلق حاکم که څه هم د وضعي سیکولریزم، کمونیزم، سوسیالیزم صوفییزم، رافضي قانون حاکم هم وي؛ په اطاعت کې یې ټول نیک اعمال ترسره کول او لمونځ پسې کول.

س ـ تر څو چې ممکن وي یوازې د مسلمان حاکم په طاعت کې نیک اعمال ترسره کول او د وضعي قانون مرتد شوي طاغوتي حاکم له طاعت څخه ځان ساتل او لمونځ ورپسې نه کول.

**شلمه مسئله:**

م ـ د وضعي قانون حاكم محكمو ته مسئلې راجع کول جایز ګڼل.

س ـ د وضعي قانون حاکم محکمو ته فیصلې راجع کول کفر ګڼل.

**یویشتمه مسئله:**

م ـ وضعي قانون حاکم ته د زکات، فی او غنیمت مالونو حواله کول شرعي وجیبه ګڼل.

س ـ وضعي قانون حاکم ته د زکات، فی، غنیمت او د مسلمانانو ملي منابع حواله کول حرام ګڼل.

**دویشتمه مسئله:**

م ـ نور هر ډول جنګ فتنه ګڼل پرته له هغو مسلمانانو له جنګ څخه چې د سیکولر، کمونسټ، اشتراکي، غالي صوفي او رافضي حاکمانو په خلاف جنګیږي، د دوی وینه او وژل رواه ګڼل.

س ـ د وضعي قانون په خلاف راپورته شوي د سلفو په منهج برابر، جنګېدونکي خلک مجاهدين ګڼل، د دوی وينه، عزت او مال حرام ګڼل.

**دروېشتمه مسئله:**

م ـ ډيموکراتيک او په دې معنا نور کفري نظامونو کې د مصلحت له امله وظيفه او انتخاباتو کې يې برخه اخستل جايز ګڼل.

س ـ ډيموکراتيک او په دې معنا ټولو کفري نظامونو کې وظيفه او انتخاباتو کې يې برخه اخستل تر ټولو لوی مفسدت او لوی کفر ګڼل.

**څلروېشتمه مسئله:**

م ـ ډيموکراتيکو کانديدانو کې تميز په طيب او شرير سره کول.

س ـ ډيموکراتيک کانديدان پرته له تميز او تنويع څخه ټول له الله تعالی سره انداد، شريکان، د الله تعالی د احکامو رد کوونکي پليت مشرکان يې ګڼل.

**پنځه وېشتمه مسئله:**

م ـ د ابو بکر رضي الله عنه د مانعینو د زکات سره جهاد تاید کول خو د دې زمانې د مانعینو، مبدّلینو، مشرّعینو سره د جهاد تاید نه کول.

س ـ د دې زمانې مانعین، مبدّلین، مشرّعین حکّام د ابو بکر رضي الله عنه د زمانې د زکات له مانعینو څخه په کفر کې زيات ګڼل او جهاد ورسره واجب ګڼل.

**شپږویشتمه مسئله:**

م ـ د وطن دفاع کول ښايسته سلفي سنت ګڼل او په دې اړه د حقیقي دار الاسلام او دار الحرب تمیز نه کول.

س ـ وطنیت عقیده طاغوتي او شرکي عقیده ګڼل او له دار الکفر څخه دفاع کفر ګڼل.

## مسلمانانو ته پیغام

مسلمانانو ورونو!

که د اهل السنة والجماعة له هر مذهب سره اړیکه لرئ که اهل حدیث یاست، که احناف، شوافع، مالکیان او حنابله یاست تاسو ته له خیر خواهۍ څخه ډک پیغام پرېږدو، داسې

پيغام چې تاسو ته په کې د فکر سوچ او تدبر موقع هم شته، داسې پيغام چې د قران او د حديث له اصولو او د نبوي منهج سره موافق ستاسو د دنيا او د آخرت د کاميابۍ راز په کې پروت دی او هغه پيغام عبارت دې له دې آيت څخه چې الله عز وجل فرمايي: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَكُونُوا مَعَ ٱلصَّٰدِقِينَ [سُورَةُ التّوبَة : ١١٩].

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله څخه ووېرېږئ او د رښتينو خلکو ملګري شئ.

صادقين څوک دي؟ تفسير يې په بل آيت کې داسې شوی دی الله عزوجل فرمايي: إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَٰهَدُوا بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ [سُورَةُ الحُجرَات : ١٥].

ژباړه: په حقيقت کې خو مؤمنان هغه دي چې پر الله تعالی او د هغه پر پېغمبر يې ايمان راوړ. بيا هغوی څه شك ونکړ او په خپلو مالونو او سرونو سره يې د الله تعالی په لاره کې جهاد وکړ. همغوی رښتيني خلك دي.

او په بل آيت کې د صادقون تفسير داسې شوی دی:

لِلْفُقَرَآءِ الْمُهَٰجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَٰرِهِمْ وَأَمْوَٰلِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَٰنًا وَيَنصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُولَٰٓئِكَ هُمُ الصَّٰدِقُونَ [سُورَةُ الحَشر: ٨].

ژباړه: (همداراز دغه مال) د هغو غريبو مهاجرينو لپاره دی، چي له خپلو کورونو او جايدادونو څخه ايستل شويدي. دوی د الله تعالی فضل او د هغه رضاء غواړي او د الله تعالی او د هغه د پيغمبر بري ته ملاتړلي اوسيږي. همدغه رښتيني خلك دي.

مونږ تاسو همدغه خبرې ته رابلو کومې ته چې الله تعالی مونږ او تاسو ټول رابللي يو چې صادقين شو او د صاديقينو ملتيا وکړو، په خبرو کې ريښتني، په عمل کې ريښتني، په تګلاره او منهج کې ريښتني، په عقيده کې ريښتني، په دعوه کې ريښتني، د الله تعالی سره ريښتني، د خلکو سره ريښتني او په ريښتني د الله تعالی دين ته خدمت وکړو او د ريښتنو خلکو ملتيا وکړو، همدا له مونږ او تاسو څخه مطلوب دي، په تشو دعوو، د تقوی او د علم او د شيخۍ او د دنيا په نورو ډؤل، ډؤل دعوو کار نه کيږي او نه هم په کې نجات پروت دی، په کږو منهجونو، د

پاچا د دربار تابع منهجونو کې هېڅ خير نشته، راځئ د قران او د حديث سپيڅلي منهج څخه دفاع په خپل مال ځان او قلم سره وکړو او د قران په اصطلاح د صادقينو لار اختيار کړو، د صادقينو ځانګړې صفت: **وَيَنصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ**، بيان شوی چې د الله تعالی او د رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دين حفاظت به کوي، اوس دغه صفت تاسو وګورئ په چا کې دی چې د صادقينو اطلاق وربانديې وشي؟ آيا په دغه طاغوتي حاکمانو چې کمونسټ، سيکولر، اشتراکيت، صوفييزم او رافضيت او نورو پليتو عقيدو خاوندان دي د کفارو سره د مکفره موالات په مختلفو ډؤلونو کې اخته دي آيا دوی د قران په اصطلاح صادقين کېدلی شي چې ملتيا او دفاع يې يا عملاً او يا هم قولاً وشي؟ آيا د صادقينو صفت د دوی په مدافعو وکيلانو کې شته هغه چې د شيخۍ، پيرۍ او پرهيزګارۍ ګوډي ځان ته وايي او د دوی کفر په اسلام سره توجيه کوي؟ نه، هېڅکله نه، تاسو د دغه طواغيتو د دين، عقيدې او د عمل حال وکتلو، او هم مو د دوی د مدافعينو مرګوني دفاع وکتله دا دواړه ځای هېڅکله صادقين نشي کېدای او نه يې هم د نبوي منهج په لارويانو نومولی شو، د دعوو او د عمل تر منځ يې ډېر توپير راووت، نو تاسو ته وايو ای د الله

تعالی نه وېرېدونکو، حقپرستو، د الله تعالی د دين خير خواهان، او د الله تعالی په دين خفه کېدونکو مسلمانانو! هېڅکله چې د الله تعالی د دين د دوښمنانو او د هغوی د مدافعينو په تشو شعارونو دوکه نشئ، د حق منهج تالاش وکړئ، تحقيق وکړئ، قران او حديث د هغه سلفو په فهم عملي کړئ چې د روغ سيرت والا، آزاد او با احساسه خلک وو، ظاهري او فکري غلامي يې نه ده قبوله کړې او د تاتاري حاکم په څېر طاغوتي حاکمانو او د هغوی کړو منهجونو ته يې سرټيټې نه ده کړې، حق يې ويلی دی او په حق تر مرګه پاتې شوي دي، د هغو سلفو په نقش قدم لاړ شئ او د الله تعالی د دين رينښتوني مدد وکړئ.

**اللهم أعز الإسلام والمسلمين وأذل الشرك والمشركين ودمر أعداءك أعداء الدين و انصر عبادك الموحدين الصادقين، اللهم أهلك الكفرة والمرتدين و أهلك أعوانهم ومن سار على دربهم يارب العالمين امين. وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.**

# مسلمانانو ته پیغام

**مسلمانانو ورونو!**

که د اهل السنة والجماعة له هر مذهب سره اړیکه لرئ که اهل حدیث یاست، که احناف، شوافع، مالکیان او حنابله یاست تاسو ته له خیر خواهۍ څخه یو پیغام پرېږدو، داسې پیغام چې تاسو ته په کې د فکر سوچ او تدبر موقع هم شته، داسې پیغام چې د قران او د حدیث له اصولو او د نبوي منهج سره موافق ستاسو د دنیا او د آخرت د کامیابۍ راز په کې پروت دی او هغه پیغام عبارت دي له دې آیت څخه چې الله عز وجل فرمایي: يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّدِقِينَ [سُورَةُ التَّوبَة : 119].

او د الله رسول علیه الصلاة والسلام فرمایي: وعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَرَقَتْ الْيَهُودُ عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِينَ فِرْقَةً فَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ وَافْتَرَقَتْ النَّصَارَى عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً فَإِحْدَى وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ وَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَتَفْتَرِقَنَّ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَثِنْتَانِ وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ هُمْ قَالَ الْجَمَاعَةُ [ابن ماجة: 3982] وفي رواية: ما أنا علَيهِ وأصحابي، والحديث حسن بشواهده.

